

# بیرغ

(د بېلابېلو لیکنو ټولګه)



Ketabton.com

لیکوال

محمود طرزی

ژباړن

ډاکټر محمد داود جنبش

۱۳۹۴ لمریز کال

ketabton.com - The Digital Library

# بــیــرغ

## (د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

لیکوال:

**محمود طرزی**

ژباړن:

**ډاکتر داود جنبش**

**۱۳۹۴ل کال**

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: بیرغ

لیکـــوال: محمود طرزی

ژباړن: ډاکتر داود جنبش

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېــبپــاڼه: www.melitahrik.com

ډیزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) كال په پيل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهير كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ كې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحريك په ياده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهير كې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ كړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير كې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا كړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى كړى، د زړه له كومې مننه كوي او كور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

ketabton.com - The Digital Library



# لومړۍ خبرې

حضرت عزیز الملک العلام ته د مننې په ویلو، او حضرت سید خیرالانام و مناقب آل و اصحاب کرام ته د درود په استولو، او د اسلام نیاو پالي ټولواک ته د دوعاوو په ویلو[،*] د موخې د روښانولو له پاره دا ډول پر خبرو پیل کېږي.

دا ښکاره او څرګنده ده چې (ورځپاڼې) [(اخبارونه)*] په اوسني مهال کې د هېوادونو او ولسونو ژبې ګرځېدلې دي. اوس مهال له وحشي او بدوي ولسونو پرته په ټولنیز جوړښت کې داسې یو دولت او ولس نه شته چې د ورځپاڼې څښتن نه وي.

اخبار د (خبر) جمعه ده چې ضد یې (بې خبري) ده. نو اوس ددې فلسفي قضیې په حکم چې (هر څیز د هغه د ضد له مخې پېژندل کېږي) روښانه جوتېږي چې له خبرتیا څخه د بې خبرۍ څومره توپیر دی!

زموږ ستر هوښیار پرمختګپال ټولواک (اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان) چې څښتن دې یې دولت پر ځای لري[،*] هغسې چې د افغانستان د لوړ خپلواک سلطنت لوړبختي تخت [پلاز*] ته د بریالۍ نېکمرغه ختنې له لومړۍ ورځې تر دې مهاله یوه شېبه هم د هېواد او دولت د پرمختګ او تمدن وسایلو له چمتو کولو پر ځنګ تېر شوی نه دی. او لکه د یوه مینه خپروونکي او مهربانۍ پالونکي پلار په دود یې د خپلو رېښتینو شاهانه وګړو د ظاهري او معنوي پالنې او روزنې له پاره شپه او ورځ هاند کړی دی. نو څرنګه چې یې ډېرې نیمګړتیاوې په خپلو لوړو شاهانه پېرزوینو سمې کړې. د وګړو د بې خبرۍ نیمګړتیا یې هم د (سراج الاخبار) د خپرېدو په امر سره پوره او لرې کړه [،*] نو دادی چې د هغې په لارښوونکو وړانګو د ملت وګړي د هېواد له کورنیو پېښو، او له بهرنیو شاوخوا خبرونو او ډېرو مسلکي او ادبي او اخلاقي، معلوماتو څخه خبر او آګاه کوي[.*]

ketabton.com - The Digital Library

سره له دې چې د لوړ سلطنت په پلازمېنه کې د ورځپاڼې د چاپ او خپرېدو هيله د نېکمرغه پلاز ختنې له هماغه پيله وه[،*] خو څرنګه چې هر څيز په خپل وخت او مهال پورې تړلی دی[،*] نو له دې امله تر دا اوسه وځنډېده.
هغه ګټې او ښېګنې چې ورځپاڼې يې لري[،*] د ستړګو د پټېدو نه دي چې که په دې اړه هرڅه ووايو نو دا د جوت جوتول او د حاصل شوي حاصلول بلل کېږي. خو بيا هم د هغې له ځينو ښکاره او جوتو ګټو څخه. يوه څنډه بيانوو چې ټولو ته روښانه شي چې زړونو ته زموږ د راتېر ټولواک له مهربانيو ډکه دا اجازه تر کومې کچې لويه پېرزو او مهرباني ده.
(ورځپاڼه) داسې يوه نړۍ ښوده هېنداره ده چې انسان په کور کې ناست د نړۍ له احواله خبروي. آن د خپل کور حالاتو ته هم چې هماغه (وطن) دی[،*] سړی د ورځپاڼې له ژبې ښه او غوره غوږ نيسي.
ورځپاڼه داسې يوه ايستلې او تېره چاړه ده چې وطن ته د بدو هوډونو او بدو فکرونو د څښتنانو ژبې پرې کوي. څومره زغم سوځوونکی حالت دی چې سړی د ځان په اړه له دوست او غليم له لرې او نژدې نه ډېرې دروغ او رېښتيا خبرې اوري[،*] خو د ردولو ژبه او د مخنيوي وس يې ورسره نه وي! نو پر دې بنسټ ورځپاڼه د دفاع يوه کوډګره ژبه ده چې د بد ژبو بې ځايه خبرې ردوي او داسې يو سم محَک دی چې د وطن او ملت په اړه د ويل شويو خبرو سم او ناسم رېښتيا او دروغ د رېښتياوو ډګر ته راباسي.
(ورځپاڼه) داسې يو ادبي ښوونکی دی چې سړي ته له قيد او زور پرته د ډېرو لوړو پوهو او پوهنو د لاسته وړلو او زده کولو شوق او مينه وراچوي، هو سره له دې چې سړی پوهه او پوهنه په سمبالو کتابونو کې زده کولی شي، خو ورځپاڼه لکه د يوه هوښيار طبيب چې ورو ورو او پرله پسې خپل رنځور ته درمل ورکوي[،*] د بېخبرۍ رنځوران د خپلو معلوماتي خبرونو په ګټورې درملنې رغوي.
(ورځپاڼه) له هاره ډک يو ګلزار دی چې هر څوک ترې له خپلې خوښې سره سم ګل ټولولی شي. او له خوندورو ميوو ډک بڼ دی چې هر څوک ترې له خپلې طبعې سره سم خوندونه اخلي، اولنده دا چې د ورځپاڼې له لوستلو د وګړو ټولې ډلې ګټه کولی شي.

ketabton.com - The Digital Library

(سراج الاخبار) دا مهال چې اوس نوی جوړ شوی[،*] په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځل پر ډېرین چاپ خپرېږي، خو زموږ د ستر پرمختګپال ټولواک تر مهربان او پوهنپال سیوري لاندې يې د پرمختګ او بشپړتایه وسایل ورځ تر بلې چمتو کېږي او په راتلونکې کې به په الهي مرسته او پېرزو په اوونۍ کې یو ځل په سرُبي حروفي چاپ او غورو زینکوګرافي تصویرونو سره د چاپ په ګاڼه ښکلی او د خپرېدو ډګر ته راووځي.

نو په دې ډول د نړۍ او په هغې کې د شتو موجوداتو د خورا ستر هستوونکي پردربار د بنده ګۍ تندي سولوو او د خپل دې نیاومن خیر غوښتونکي نېک عمله ټولواک د لوړ دولت د پرمختګ او پایښت غوښتنه کوو، او ځان ته د الهي توفیق غوښتونکي یو چې ددې سپېڅلي دندې د سرته رسولو وس چې د خپلو هېوادنیو وګړو د خبرولو [؟*] له پاره مو پر غاړه اخیستې[،*] ومومو، و من الله التوفیق [.*]

ketabton.com - The Digital Library



# (لارې او پلونه)

## او د ګلبهار د سراج پله د پرانستې مراسم

که یو هېواد له یوه وجود سره ورته وبولو منظمو لارو ته کــه ددغــه وجــود رګونــه او شریانونه، او پلو ته یې که مَفّصلونه یعنې بندونه ووایو نو هېڅ د مبالغې خبره به مو نه وي کړې.
څکه که په رګو او شریانو کې یوه ګډوډي یا بې نظمي رامنځته شي[،*] د وینې جوهر چې د ژوندانه یواځینی ماده بلل کېږي[،*] په یوه بشپړ نظم چې اړتیا یې ده د زړه له پلازمېنې نه د وجود هرې برخې ته بهېدلی او جاري کېدلی نه شــي [او*] وجــود لــه خطر سره مخامخ کېږي. دغه راز که په مفصلونو یعنې د وجود د غړو په بنــدونو کــې ماتوالی او ګډوډي راشي د غړي او بل غړي ترمنځ تړاو او پیوستون له منځه ځي پــه خورا خطرناکو ستونزو اخته کېږي[.*]
د یوه هېواد لارې او پلونه کټ مټ همدا ارزښت او ښېګڼې لري چې د نظم او ســمون نشتوالی یې د هېواد د بېنظمۍ او ناسمۍ سبب ګرځي او د لارو نشــتوالی او د پلونــو نشتوالی هماغسې چې د هېواد واردات او صادرات چې لکه وینه په بدن کې ده[،*] له ناوړه ځنډ سره مخامخوي[،*] د عسکرو په [جګړه ییزې*] استونې او لېږد کې هم له غمه ډک خطرونه رامنځته کوي چې بېلګې یې د تاریخ پاڼې رنې راښیي.
زموږ د هوښیار نیاومن د عقل څښتن حکیم پرمختګپتال ټولواک اعلیحضرت (سراج الملة والدین) د بختورې پلازکېناستنې له بریالۍ ورځــې راهیســې دا دوه خطرنــاک عیبونه او دا دوه وژونکي رنځونه زموږ د ګران هېواد له وجوده لېرې شــوي او پورتــه شوي دي.
اوس مهال د لوړ افغان دولت پلازمېنه د هغه کلک هاند او زیار له برکته چې زموږ ستر پرمختګپال ټولواک د لارو د جوړولو په برخه کې کړي او پېرزو کړي[،*] د هېواد لــه

ketabton.com - The Digital Library

**هر هر لوري سره نښتي او لګېدلي ده، ځيني دغه لارې پاخه او ټينګ سرکونه دي چې ګاډی او موټر پرې تګ راتګ لري، او ځيني يې هغه لارې دي چې تر پخې رغونې لاندې دي. او ځيني يې هغه پاکې او هوارې لارې دي چې تر اوسه پخې شوې نه دی.**

**هغسې چې د شاهانه هېواد اړوندو سيمو د سمبالو لارو له برکته وده کړې[،*] پر ځينو ارزښتناکو او باوري پلونو يې هم لوی رونق او ارزښت موندلی چې په دې ډله کې يو هم د نيلاب پر سين پُل دی چې (د سراج په پله) مشهور شوی. دا دی مرحمت او خير غوښتنه.**

**ددغه پله د پرانستنې د مراسمو تفصيل زموږ ښاغلي سر څارونکي چې له (همايوني اعليحضرت) سره په ملګرتيا ددغو مراسمو وياړمن شوی[،*] اداري ته راستولی چې کټ مټ د هغوی همدا ليکنه دلته راخلو:**

**««د نيل آب د پله د پرانستنې بيان»»**

**د نيل آب سرچينه د هندوکش د غره له واورو او کنګلونو او چينو څخه [ده*] د خاواک له پولې څخه چې د کابل شمالي خوا ده د پنجشېر منځ ته بهېږي[،*] د باګرام شاوخوا له نورو سينونو سره ګډېږي د ختيځ لور ته درومي- په مخکنيو کلونو کې پر دې سيمه چې اوس پرې نوی پُل جوړ شوی[،*] د پله اصلاً نښه نه وه [او*] کوهدامن او کوهستان ته تلونکي راتلونکي خلک په تېره بيا ددغو سيمو اوسېدونکي په خواری او کړاو پر نيل آب پورې وتل او د اوبو د ډېرېدو پر مهال دغو پورې وتونکو ته د سر ډېر زيان اوښته- څرنګه چې اعليحضرت سراج الملة والدين د ګلبهار سيمې ته ورغلی او دا يې ليدلي و نو پر دغه ځای يې د ودانی خيال او هوډ وکړ. څرنګه چې پر ۱۳۲۹ هجري کال د خدای ورکړي دولت د چارواکي عزتمند مسټر (هاليډي) انګرېز په انجنيری دغه پُل جوړ شو- د چارشنبې په ورځ د شوال المکرم مياشتې پر ۱۷ چې د تلې مياشتې ۱۸ او د انګرېزي اکتوبر مياشتې ۱۱ کېږي[،*] د نيل آب پُل پرانستل شو- پر دغه ورځ خورا سپېڅلي ذات لوړ اعليحضرت د حضور له يو شمېر خدمتګارانو او عَمَلې سره دغې سيمې ته تشريف يووړ او د کوهستان او کوهدامن يو شمېر خانان او مخور وګړي چې شمېر يې ډېر وو هم دغه ځای ته ورغلي وو[.*] ددغو کسانو او نورو خدمتګارانو له پاره هر ډول خوراک او څښاک او خواږه چمتو وو-**

ketabton.com - The Digital Library

ددغې ورځې پر یوولسو بجو لوړ اعلیحضرت د پله خواته ورغـی- دغـه پُـل د لـوړ اعلیحضرت تر راتګه کولپ [قفل*] و او چې لوړ اعلیحضـرت تشـریف وروړ ملکـي ایشیک آقاسي [د تشریفاتو رییس*] د کولپ کونجي په درنښت او درنـاوي مبـارک حضور ته وړاندې کړه- لوړ اعلیحضرت د کولپ کونجي پر مبارک لاس نیولې دا ټکي يې وفرمايل- هر انسان چې کومه وداني په ذهن کې انځور کړي[،*] نو د خپل تصور د پلي کېدو هڅه کوي[.*] کتونکي لا په شک کې وي چې دا وداني به څه پایله او ګټـه ولري او هرڅوک په خپل ذهن کې یو تصور لري تر هغـو چـې دغـه ودانـۍ بشـپړه شي[،*] وروسته چې لیدونکي يې په کتلو ګټه او نېکه پایله ويني نو د هر يـوه زړه ولګېږي- هسې چې مو لومړی دې ځای ته تشریف راوړی او د وګړو کړاو مو لیـدلی و اړینه وبلل شوه او د يوه نوي پله د ودانولو فکر را پیدا شو او د هغه د چمتـو کولـو او جوړولو په فکر کې وم- ځینې زموږ له تکله بې خبره وو- نن چې الحمد لله زمـوږ دا لاربښوونه پلې شوې او دا پُل جوړ شوی نـو ښـکاره شـوه چـې د نیـل آب پـر پلـه تېرېدونکو او اوښتونکو ته څومره هوسایي پېښه شوې ده[.*] یو څوک چې ددې پله تر ودانۍ دمخه پر دې سین پورې وتی وي[،*] په خپل حالت کې د هوسايۍ په راتګ پوهېدلی شي- سره له دې چې ددې پله د ودانولو په څېر زموږ په اعلیحضرت فکـر کې زرګونه خیالونه ټوکېدلي چې دا ودانۍ يې له زړو يوه هم نـه شـي کېـدلی[.*] د عالمیانو ښتن ته هیله ده څرنګه چې زموږ خیالونه د وګړو د سوکالۍ او د افغانستان د هوسايي له پاره دي[،*] ځنډ به په کې نه راځي او ټول به پلـي شـي او لـه کـریم ښتنه غواړم چې د دولت ټول ولس او خدمتګاران زما له هوډونو سره همغږي او هم ژبې شي او د حضرت سید المرسلین پر مبین دین ټینګ ودرېږي- مستوفي الممالک چې د مبارک حضور لـه خـوا د شـمالي د خلکـو خـان او مشـر دی د کوهـدامن او کوهستان له خانانو سره په يوه ژبه د مبارک وجود د سلامتۍ په غوښـتلو د شـاهانه پېرزوينو شکرانه په خورا ښه بڼه ترسره کړه او لوړ اعلیحضرت د پله د دروازې کولپ پرانسته- موجودې باجه خانې او ددغې سیمې نورو دود سازونو په ګـډې خوښـۍ او خوږو غږونو چې تل دې وي زموږ ټولواک د سلامۍ ادا ترسره کړه- خورا لوړ سپېڅلي ذات تر نورو دمخه پر هغه مبارکه پښـه کېښـوده او د حضـور لـه خـدمتګارانو او د

ketabton.com - The Digital Library

کوهستان له خانانو او ملکانو سره پر دغه پله تېر شول ورپسې نور عادي وګړي پر پله واوښتل د شاهانه پېرزوګانو شکرانه يې پر ځای کړه وروسته شهرياري اعليحضرت د موټر په سپرلۍ تشريف وفرمايه او پر پله تېر شو- د افغانستان د خدای ورکړي دولت چارواکي مسټر هاليډی ته د هغه د تېرو کارونو له املــه چــې لــه څــو کلــو يــې پــه افغانستان کې چوپړ کړی او دغه راز پر دې خدمت چې په دې پله کې يې ښودلی[،*] د پېرزو او مهربانۍ او خوښۍ څرګندونه وشوه- او هغه ټکي او وينا چې اعليحضرت د پرانستنې پر مهال واورول ډېر اغېزناک او هڅوونکي او د اورېدو وړ وو همدومره[.*] (علي احمد)

ketabton.com - The Digital Library



# و من الماءٍ کل شیً حی

**[او هر شی په اوبو ژوندی دی*]**

**««د کابل اوبه»»**

په لوړه افغان پلازمېنه کې سره له دې چې ډېرې جاري اوبه شته[،*] آن د (کابل سین) چې تل بهاندې اوبه لري چې لکه د اوبو د ټکي په څېر چې د نامه په جوړښت کې یې نغښتی دی[،*] تل د ښار په منځ کې بهېږي. خو دا اوبه په کروندو او کرنه کې د لګولو او له هغه نه د ډېرو ویالو د بېلولو له امله چې کله ښار ته راورسېږي هم ډېرې لږېږي او هم د څښاک له پاره ډېرې ګټورې او سمې نه وي. یو شمېر چینې او څاه ګانې چې شته هم د وګړو د اړتیاوو له پاره بس نه بلل کېږي. حال دا چې اوبه د انسان له خورا اړینو اړتیاوو څخه دي چې د ځمکو او آسمانو یواځینې هستوونکي د انسانانو د ژوندانه بنسټ پر هغه درولی دی.

طب جوته کړې چې د هغو ښارونو د وګړو مړینه چې د څښاک اوبه یې بې خونده او کاربدلې او له میکروپو [میکروبو*] ډکې وي د هغو ښارونو پرتله چې خوندورې او پاکې او رڼې اوبه لري[،*] خورا لوړه وي.

پر دې بنسټ په کابل کې د اوبو د نشتوالي مسالې زموږ د ګران زړونو ته راتېر ټولواک څیر پام چې د مهربانیو ډک پرمختګپال شاهانه افکار یې تل د هبواد ودانۍ او د وګړو او مخلوقاتو هوسایۍ ته اوښتي وي[،*] ځانته وروااړاوه او کابل تـه یـې د (پغمـان) د خورا خوږو او رڼو اوبو د راوستلو همایوني هوډ او فرمان د صادر بدو ویاړ وموند.

(پغمان) له کابله د نهو کروهو یعنې شپاړلسو میلو په واټن شمال لوېدیځ پلو د پغمان د غرونو په لمن کې چې د (هندوکوه) د غرونو له لړۍ څخه چې په هندوکش اوڅار شوی[،*] پر یوه لوړه او خورا سړه او د خوندورې هوا درلودونکې سیمه پروت دی چې تودې ورځې یې اعلیحضرت شاهانه ذات پـه (سـهیل) مـانۍ کـې چـې د سـراجي پرمختګپال پېر له ماڼیو څخه ده. تېروي. لنډه دا چې پغمان د لوړې پلازمېنې کابل دولتي پارک دی.

ketabton.com - The Digital Library

د پغمان اوبه د خورا جګو ځايونو له هغو چينو څخه چې د غرنيو څوکو له واورو راوځي[،*] په خورا رڼوالي او پاکۍ او سړوالي او خوند رابهېږي.
نو ځکه زموږ زړه سواند او مهربان ټولواک داسې طرحه جوړه کړه چې دغه اوبه په يوه پاخه او ټينګ بند په يوه سيمه کې ايسارې او ټولې او په اوسپنيزو نلونو کې ښار ته راورسول شي او د ښار پر مشهورو ځايونو او معروفو برخو وويشل شي.
په دې اړه تېر کال چې کله يې پغمان ته په شاهانه تشريف ويـاړ وربښـلی و[،*] لـه ښاغلي مېلر اسکاټ لنډي [سکاټلنډي*] سره چې د ټوکر اوبدلو د فابريکې په برخه کې د افغانستان په خدای ورکړي دولت کې کار کوي[،*] خبرې وکړې او د لګښت او د اوسپنيزو نلونو د راوړلو له پاره يې دغه ښاغلي ته د يو لک او پنځوسو زرو کلـدارو روپيو د ورکولو هوډ وکړ.
د هغه باوري خبر له مخې چې تر لاسه کړی مو دی[،*] دغه اوسپنيز نلونه پلازمېنـې کابل ته رسېدلي او پر دغه خورا نېک کار به په دې نژدې راتلونکې کې پيل وشي.
په حقه چې زموږ د خيرسنجوونکي او عدالت خوښوونکي ټولواک (اعليحضرت سراج الملة والدين) دا مهرباني او پېرزو زموږ د ښاري وګړو ترې زړونه خړوبوي. نـو ځکـه (سراج الاخبار) له خپلو ټولو همښاري ورونو سره په ګـډه د خپـل سـتر ټولـواک د پېرزوګر وجود د روغتيا او سلامتيا د دوام دوعا د ورځو او شپو د څښتن لوړ دربار ته کوي.

ketabton.com - The Digital Library



# د منني وړاندې کول

سبحان الله! موږ د افغانستان ولس څومره نېکمرغه او بختــور یــو چــې پــاک خــورا سپېڅلي الهي ذات موږ ته د اسلام د مبین دین ویاړ رابښلی او موږ ټول یې یو ملت او یو مذهب ګرځولي او د داسې یــوه هوښــیار خیرغوښــتونکي او پرمختګپــال مینــه خپروونکي ټولواک په رعیتی او غاړه ایښودنه ویاړلي یو چې پېرزوګر افکار یې شپه او ورځ د هېواد د ودانۍ او د وګړو د هوسایۍ لور ته دي.

که چېرې خپل تېر حالت ته لږ د عبرت په نظر وګورو او خپل اوســنی حــال ورســره پرتله کړو نو څومره لوی توپیرونه په کې وینو؟

له نور خبرو تېر: یوازې د همدې نیلاب سین پخوانی حالت راسره انځور کړو:

دا سین هغه اوبه دي چې زموږ د ګران هېواد ستر ښېرازه او د خوندورې هوا ځښــتن (کوهستان) او (کوهدامن) ولایت یې په خپلې چټکې بهیدنې دوه ځایه کاوه[او*] تګ راتګ ته یې د مجرا د څرنګوالي له امله چې مخ پر ځوږ درومي [او*] اوبــه یــې هــم ډېرې او چټکې او د تېرېدو راتېرو وړ نه دي[،*] یو لوی خنډ جوړاوه.

همدغه ځای ته څېرمه چې اوس پــرې د (ســراج) دا پــرتمین او بّرَمّــوال پُــل جــوړ شوی[،*] د لرګیو او څانګو مانګو یو پُل درېدلی و. سره له دې چې پلې پرې په ډېره وېره او ترهه تېرېدلی شوای[،*] خو بار او څاروي پرې د اوښتو نه وو او آن دغه پُــل هم هرکال سیلابونو ړنګاوه او د ورځو ورځو له پاره د خــدای د بنــدګانو تــګ راتــګ بندېده.

تصور وکړئ: یوه بېوزلې له پښو لوېدلې کونډه ده چې د پېښو تر اغېز لانــدې یــې د سین د پورې غاړې له ځمکو سره اړیکي شکولي او غواړې چې دې خــوا راواوړي[.*] خپل خوار کنډول او لېمځی او غوټه او چپن یې پر یوه خره بار کړي او دوه درې یتیم کوچنیان یې ورسره له لاسه نیولي سترې ستوړې د سین غاړې ته رارســېږي. دلتــه

ketabton.com - The Digital Library

ګوري چې د نيلاب شـنېدونکي بهانـدې ځپـې لار نـه ورکـوي. خـوراکی حيرانـه پاتېږي [:*] نه مخ ته د تلو لار نه شاته د ستنېدو پار!!
خوراکی څه وکړي؟ د لرګيو او خزلو پر پله اوښتلی شي!
آه، څومره دهشتناک حالت! د پله خزلې او څانګې د بېـوزلې مېـرمن د خـره د بـار درندوالي ته ټينګېدلی نه شي [او*] خر له باره سره سين ته لوېږي، ښځه او کوچنيان بغارې وهي، څه چې يې لرل يا نه لرل له منځه ځي!.....
دلته دی چې زموږ د زړه سواند وګړپال مهربان پلار پېرزوګانو دا ناخوالې ونه زغملــې [او*] دا ټينګ اوسپنيز پُل يې د نيلاب پر سين جوړ کړ، او په خپلې دې پېرزو يې يو مفّصل يعنې د خپل شاهانه هېواد يو غړی چې جلا پاتې شوی و[،*] [لـه نـورو غـړو سره*] وتاړه. او د پغمان د جنت وزمه اوبو پـه راوسـتلو سـره يـې د خپلـې لـوړې پلازمېنې ژوند خړوب کړ. (تل دې وي زموږ ټولواک).
د ورځو شپو د هستوونکي له دربار نه د خپل نېـک عملـه ټولـواک د عمـر او بخـت اوږدېدل او د برم او پرتم ډېرېدل غواړو چې تر پرمختګپـال سـيوري لانـدې يـې د شاهانه هېواد او ملت د ودانی او پرمختګ دا ډول خورا ډېرې نښـې رامنځتـه شـي.
آمين [محمود طرزي*] لاسليک

ketabton.com - The Digital Library

# ((نصیحـــت))

**ای ګرانو همښاریانو**

**زموږ سترحق حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم (الدين النصــيحه) فرمــايلي دي. يعنې (دين نصيحت دی)[.*] له يواځيني څښتن سره شريک مه نيسه، پر پرښـــتو او کتابونو او پيغمبرانو او قيامت ايمان راوړه[،*] لمونځ کوه[،*] روژه نيسه، او نور ټـول ديني حکمونه هر يو[،*] يو نصيحت دی چې ددغــو نصــيحتونو منونکــواو لارويــانو ژغورنه او سلامتي وګټله، او پر بله تلونکو او سرغړوونکو ته يې تلپــاتې کوزګــوري او مختوري په برخه شوه[.*]**

**(نصيحت) کول يوازې د ځينو ځانګړو کسانو له پاره نه وي بلکې هــر مســلمان ورور خپل بل مسلمان ورور ته د نصيحت حــق لــري[،*] نيمګړتيــا يــوازې د بېســاري او يواځيني څښتن په پاک ذات کې نه شته نور نو د بشري ټولنې هــر غــړی پــه خــورا نيمګړتياوو ککړ دی. هغه ملتونه او ټولنې چې پرمخ تللي او د (مدني) وګړو نــوم يــې ګټلی د خپلو ځينو ځينو نيمګړتياوو له ليدلو او د ځينو ځينو له پرېښودلو پرتــه يــې نور څه نه دي کړي.**

**داسې هم نه ده چې (نصيحت) کول دې يوازې بې نيمګړتياوو خلکو ته ځــانګړی وي! ځکه هېڅوک هم له نيمګړتياوو خلاص نه دی. خو خپله تشه هر څوک ليدلی نه شي او د بل عيب ژر ويني[.*] که څه هم د نيمګړتياوو پټول يو لوی اخلاقي صفت دی خو ځينې داسې څيزونه شته چې که ياد نه شي زيان ترې راوځي.**

**نو ځکه يې يادوو ايسته نو (ستا زړه چې له خبرو مې پند اخلې که خواشيني)[.*]**

**ای ګرانو همښاريانو! راځئ ټول په ګډه لــه ځــورونې ډک دې عــادت نــه چــې د عــامو لارو او سړکونو او له ګنې ګوښې ډکو بازارونو په منځ کې دربړو او لکه په خپل کور کې چــې يــو ســره خبرې او مرکې کوو لاس واخلو. د سر په سترګو وينو چې الحمدلله زموږ د پرمختګپال ټولواک تر پېرزوګر سيوري لاندې زموږ د ښې هوا او خوندورې فضا خاوند ښار ورځ تر بلې وده کوي او ودانېږي[.*] سړکونه[،*] بازارونــه[،*] پلونــه او ودانــۍ جــوړ ېږي، ګــاډی[،*] موټرونــه[،*]**

ketabton.com - The Digital Library

بايسكلونه په کې ځغلي. نو که موږ د لارې په منځ کې د دريدو همدا عـادت پسـې اوږد کـړو
ثومره خطرونه او ثومره زيانونه به پخپله موږ او نورو ورونو ته پېښ شي؟
لږ انصاف ښه دی! لاره عامه لاره ده ټول ترې برابره ګټه اخيستلی شي. کـه چېـرې مـوږ درې
څلور تنه په لار کې ودرېږو او په بنډار کېوځو نو آيا د ډېرو نـورو ورونـو حـق بـه مـو نـه وي
خوړلی؟ په تېره بيا چې زموږ ځينې کليوال ورونه چې شالونه او څادرونه، او کله کلـه پنډونـه
هم ورسره وي هغه هم خپلو پښو ته پر سړک ږدي او ګرم بنډار جوړوي.
نو که دغه مهال يوه ګاډی يا بايسکل يا يو موټر راشي[،*] او که په لاره کې کړلېچ هـم وي نـو
تر هغو چې دربېږي او که چلوونکی يې ځان هم وساتي يوه مصادمه - يعنې لګېدنـه [ټکـر*]-
رامنځته کېږي چې خدای مه کړه له دې ډول پېښو ثومره انسانان له خطر سره مخامخېږي! د
سر پر زيان سربېره ډېر مال هم له منځه ځي. يوه ګاډی لـه اس او انجـامې[؟*] سـره لـه زرو
[تر*] پنځو زرو روپيو بيه لري[.*] يو بايسکل يا موټربايسکل هم همدغه شان پـه تېـره بيـا
موټر! چې نژدې زموږ د يوه لوی ځمکوال د ټولې ځمکوالی د بيې هومره بيه لري!!!
اوس راځئ لږ ځير شو: د ساري په ډول يوه ګاډی چې يو چټک ځغلېـدونکی اس يـې چټکـه
څکوي. همدا چې غواړي له پيچومي واوړي د بنډار له يوې ډلې (د سـړک لـه مجلـس) سـره
مخامخېږي. تر هغو چې بنډاريان غواړي شالونه او څادرونه او غوټې موټې سره ټـولې کـړي او
څنګ ته شي[،*] او تر هغو چې ګاډيوال خپله ګاډی ګوښه کوي[،*] يا ټکر پېښـېږي چـې د
سر زيان ورسره ملګری دی او يا د ګاډيوال ګاډی ماتېږي چې دا هم د مال ضايع کېدل دي.
نو څکه ګرانو همښاريانو! راځئ ټول په ګډه د لارې په منځ کې د درېدو او غږېدو دا له ځورونې
ډک عادت پرېږدو والسلام (محمود طرزي) [لاسليک*]

ketabton.com - The Digital Library

# (بسپنه)

(((ــــــ يعنې چنده ــــــ)))

په دې اړه چې انسان (په ختېه مدني) [مدني بالطبع*] دی ټولــو مخکنيــو او اوســنيو پوهانو او حکيمانو د ډېرو کتابونو په ليکلو ښکاره او جوته کړې چې انساني ژوند بــه شونی نه وي مګر په ټولنه او يووالي او خپلمنځي لاسنيوي سره چې په (ختــه مــدني والی) همدا دی.

او په دې تړاو ډېر معقول او منقول دليلونه راوړل شوي دی چــې پــه دې ډلــه کــې د انسانانو د ضروري اړتياوو د پوره کولو په اړه د ټولې بشري ټولنې د ګډو هڅو او زيــار خورا ښېلګې او دليلونه راغلي دي. د ساري په ډول له نورو ټولو اړتياوو تېر: د اورلګيت د يوه ډبلي له پاره چې له ډېرې بې ارزښتۍ مو نظر ته نه راځي، او د پېر له پاره پيسې يې په شمېر کې هم نه راولو[،*] ميليونو وګړو هڅه او هاند کړی چــې رامنځتــه يــې کړي.

آيا له کان نه د اومه ګوګړ ايستل او د هغه پاکول او له لرې واټنو ښارو او فــابريکو تــه رسول او د هغه د خميرې جوړول او له ځنګله يې د لرګيو پرې کول او له هغو نه د دړو [تختو*] ايستل او بيا يې دومره نري نري غوځول د څومره انسانانو په يووالي او ګــډ زيار او هاند شوني شوي دی؟

که يوازې يې له ځنګله نه د لرګيو پر لېږد لږ غور او فکــر وکــړو نــو د حيرانتيــا پــه بوربوړکۍ به کېوځو او د هغو لاسونو پوله او شمېر به رانه ورک شي چې پــه دې کــې تناکې شوې دي. که نور هېڅ نه وي په همدا لومړي سر کې يوې ارې او تېشې ته اړ يو چې لرګي پرې غوڅ کړو. آيا پوهېږئ چې له کان نه ددې ارې او تېشې د اوسپنې پــر ايستلو او د لويو ښارونو فابريکو ته يې پر رسولو او ويلــي کولــو، او اوبــه ورکولــو او فولادولو او غاښونو جوړولو زموږ څومره ميليونو هم نوعو زيار ايستلی دی؟

له نورو چارو يې تېر: له کان نه تر ښاره د ارې او تېشې د اوسپنې د لېږد له پاره لږ تر لږه يوې ګاډۍ ته اړتيا پيدا کېږي چې د هغې ګاډۍ د جوړولو له پاره د ګڼو څيزونو د جوړولو اړتيا پرېوځي[.*] د ساري په ډول د انجامې[؟*] او پټۍ او جوټ[؟*] او کړۍ

ketabton.com - The Digital Library

او مېخ او پېچ او سګک او څرخ او نورو له پاره زرګونه لاسونه او سلګونه پېشې او صنعتونه په کار بوختېږي چې ببرته د هر یوه دغه څیز له پاره هم په کروړونو انساني وګړي ګډ هڅه او زیار باسي او همداسې نور درواخله!

دا بسپنه او لاسنیوی له یو بل سره د ټولو انسانانو عامه ځانګړتیا ده چې ددې بسپنې او لاسنیوي محرک او هڅوونکی هماغه اړتیاوې او ضرورتونه دي چې انسان ورته د ژوندانه له پاره اړ دی.

پر دې عامې بسپنې سربېره یوه بله ځانګړې بسپنه هم په انساني نړۍ کې دود او رایجه ده چې هغې ته زموږ د ګران هېواد په فارسي اصطلاح کې چنده وایي. ددې چندې خوځوونکی او محرک یو تر بله د انسانانو د وجداني مهربانۍ او زړه سوي احساس دی.

د ساري په ډول په یوه هېواد کې قحطي راځي، یا سېلاب راوځي او یا زلزله، یا اور یا کوم بل ډول آفت پېښېږي او د هغه هېواد وګړي په خورا یوه بدمرغه حالت کېوځي. ددغو بدمرغو د نورو همېنو [هم نوعانو*] د وجداني زړه سوي او مهربانۍ حس راپارېږي او ایشېږي او د خپل همېنې د خواخوږۍ او لاسنیوي له پاره نغد او جنس او غَلې نه سپموي چې تر ټولو غوره انساني ځانګړتیا هم همدا خورا لوړ حس دی چې د انسان غوره والی او بشپړتیا پرې ښکاره او جوتېږي.

یو بل ډول بسپنه یعنې چنده هم شته چې یو څه ځانګړې او محدوده ده. د ساري په ډول هر هېواد ډېرو داسې څیزونو ته اړ وي چې تر څو یې وګړي لاسونه سره ورنه کړي، او د یو بل د لاسنیوي هڅه و نه کړي، یوازې شخصي شتمني او وسمني یې د پوره کولو پېتی نه شوای پورته کولی[.*] د اسلام مبین دین د انسان د لاسنیوي او بسپنې له پاره د سید خیرالانام د شریفې شرعې د حکمونو له مخې د (زکات) خورا غوره عمل لکه یوه سیده روښانه لار ټاکلې چې که د یوه هېواد ټول وګړي یې په ګډه له مشروطو قاعدو سره سم ولاړ شي[،*] د یوه هېواد د اړتیاوو ډېرې بنې به پرې ورکې او له منځه ولاړې شي.

د ساري په ډول تر ناروغیو او رنځونو بد ناوړه حالت د انسانانو له پاره تصور کېدلی نه شي. په تېره بیا چې ناروغ کس بېوزلی او پردېس هم وي.

ketabton.com - The Digital Library

تصور کړئ: یوه غملړلې کوډله چې له پوزکي پرته بل فرش او په اړینو وسایلو کې لـه یوې ماتې ختینې کوزې او یوې شوندماتې کاسې او د خامتا له یـوه زاړه او شـکېدلي خّت پرته بل هېڅ ونه لري. آن هوا او رڼا هم چې ژوندبښونکې ګڼه یې ټولو تـه وړیـا رسېږي[،*] دا کوډله د روزان د نشتوالي له امله له پاکې هوا او تودوخې راوسـتونکې رڼا نه بې برخې کړې ده! ددې کوډلې په یوه ګوټ کې پر یوه بوین بستر چـې لـه زړو ټوټو او وچو وښو جوړ دی[،*] یو بېوزلی او بې کور او اوره سړی د کمزورۍ او غمجنۍ او ناروغۍ په حالت کې په زګېرو یو او زګېرو یو او نارو او نارو پروت وینو. نه یې یار شته او نه ملګری[*؛] نه یې رنځمل شته او نه رنځورپال!
دلته دی چې ددې ډول بېوزلو وګړو له پاره، د دوی نور شتمن او مالدار او د وجـداني زړه سوي او مهربانۍ ښښتن همښاریان له غیرته راخوځېږي او هر څوک له خپل حال سره سم او د خپل مال په اندول پیسې سره راټولوي، او پر دغو راټولو شویو پیسو یو (روغتون) رامنځته کوي[،*] هم په خورا ثواب کې ورګډېږي او هـم د وګـړو دا ډول اړتیا د خپلمنځي لاسنیوي په زور له هېواده پورته کوي او له منځه وړي.
او لنډه داچې ددې ډول بسپنو او (چندو) پر مټ ګڼې دا ډول چارې ترسـره کېـدلی شي چې نه په کې د هېواد د وګړو شتمنۍ ته زیان اوړي او نه د هېواد په مالي وس کې لړوالی راځي.
د ساري په ډول یو هېواد چې د شپېته اویا لکو وګړو درلودونکی وي، که چېرې یې هر کس یوه یوه روپۍ یوه صندوق ته واچوي نو شپیته اویا لکه روپۍ ټـولېږي چـې پـر دومره پیسو د ټولنې بېوزلو رنځورانو ته روغتونونه، او د هېواد بې سرپرسته یتیمـانو ته (پالنځي) او د وطن بچیانو ته د پوهې او پوهنې د ښودلو له پاره ښـوونځي او نـور جوړېدلی او ټوکېدلی شي او هغه پیسې چې پر دې لاره لګېـږي پـر وګـړو هـم نـه درنېږي[.*] همدومره محمود طرزي [لاسلیک*]

ketabton.com - The Digital Library



# ملکي روغتون

زموږ په ګران هېواد کې لومړنی بنسټ چې د خيرات او ثواب له پاره له بسپنې يعنې (چندې) رامنځته شوی همدا د پلازمېنې کابل (ملکي روغتون) دی چې ددې بنسټګر هم پخپله زموږ زړونو ته د راتېر ستر زړه سواند پاچا اعليحضرت ذات دی چې لا يې په شهزاده توب کې سلطنت ته د شاهانه چمتووالي په پېر کې ددې لوړ انسانپالي فکر پر لور ګام پورته کړی او اقدام کړی و.
په خپله دې ګڼه کې يوازې د خبرتيا د هغه ليک متن چې د اعليحضرت شهرياري او د دوی د درانده ورور لوړ نائب السلطنه صاحب په لاسليک خپور او اعلان شوی و[،*] د خپلې ادعا د شاهد په توګه خپروو او که څښتن غوښتل په راتلونکو ګڼو کې به د هغه چمتووالي او ګټورو پرمختياوو په اړه چې له هغه مهاله تر اوسه په کې راغلي دي[،*] يو په يو معلومات وړاندې کوو.

,,,,,,

**د ملکي روغتون د جوړولو او بنسټ ايښودلو په اړه د خبرپاڼې متن**

**نېټه: د ۱۳۱۶ کال د ذيقعدې د مياشتې (۱۶)**

,,,,,,,,,,,,,,,,,,

د پلازمېنې کابل د ټولو مسلمانو وګړو له دينپالو ضميرونو دې پټه او پوښلې پاتې نه شي- څرنګه چې هر انسان کله روغ رمټ وي او کله ناروغ او رنځور وي او يو وجود هم له روغتيا او ناروغتيا خلاصون نه لري[،*] خو هغوی چې خپل خپلوان او کوډله او کور او درمل لري که چېرې پر بستر ناروغه پر بوځي نو پالنه او درملنه يې په ښه ډول کېږي او درمل او خواړه يې سم وررسېږي، خو هغوی چې پردېس او بېکسه او بېوزلي او بې وسه او ورځنۍ مړۍ او درملو او خوړو او کوډلې او د اوسېدو ځای ته اړ دي[،*] نه ځای لري چې شپه په کې هوسا سبا کړي او نه پالندوی چې د رنځورۍ پر مهال يې غم وخوري[،*] نه کور نه کورشريک[،*] نه يې درمل او نه پرهېزانه ملګرې[،*] آه او

ketabton.com - The Digital Library

ملګری يې ساه ايستونکی درد[،*] په څه نهيلۍ به يې شپه سبا او ورځ بېګا کېږي[.*] هر څوک چې د مسلمانانو په ډله کې وي بويه چې ددغو بېوزلو پر حال يې د زړه له تله رحم راشي او ددغسې رنځورانو پالنې ته ورودانګي چې د (الشفقة على خلق الله) [د څښتن پر مخلوق زړه سوي*] کلمې له ويلو ګټه ورورسېږي.

«««ـــــ هر انسان د بل انسان دی لکه غړی ـــــ»»»

«««ـــــ خته يوه ده، مشترک د وصل پړی ـــــ»»»

ځکه نو د څښتن د بندګانو له مهربانيو ډک تکل ددې غوښتنه وکړه چې خاص د الهي جناب د رضا او د حضرت رسالت پناه د سپېڅلي روح د خوشحالۍ له پاره يو روغتون جوړ او د طبيب او درمل ورکوونکي او درمل او خوړو او د روغتون د نورو اړتياوو غم وخورو چې د بېوزلو او پردېسو او بې وسو درملنه په ښه ښه او ډول ترسره شي[.*] يوولس زره کابلۍ روپۍ د صمدي دربار محتاج سردار حبيب الله خان او اته زره پخې کابلۍ روپۍ د صمدي دربار محتاج سردار نصرالله خان د روغتون د جوړولو له پاره او دغه راز د کال هر يو [په وار سره*] پنځه زره او څلور زره روپۍ چې ټولې نهه زره روپۍ شي د خوړو او درملو او د روغتون د وسايلو، او د طبيب، او درمل ورکوونکي او کارکوونکو د تنخواه له پاره له خپلو شخصي حسابو څخه ورکوو او غوښتنه لرو چې تاسې مسلمان وګړي چې زموږ ديني ورونه ياست هم له دې ثوابه بې ګټې او بې برخې پاتې نه شئ[،*] هر څوک دې د خپل وس هومره او په خپله غوښتنه او رضا د روغتون د ودانۍ د لګښت له پاره چې سږکال يې د درملو او خوړو د لګښت له پاره [او بيا يې*] کال په کال نغد يا جنس ډېر يا لږ د خپلې وسې هومره او په خپله خوښه او غوښتنه په دې کتاب کې خپل نوم او هغه نغد يا جنس چې د ودانۍ د لګښت او درملو او خوړو او نورو له پاره ورکوي[،*] وليکي او مُهر کړي [چې*] که خدای غوښتل د څښتن په خاطر او د رسول په خاطر به ولګېږي او ضايع به نه شي[.*] هغوی چې تنخواه لري په کتاب کې دې په خپله خوښه او رضا لاسليک وکړي چې سږکال د روغتون د ودانۍ له پاره دومره پيسې ورکوو او وروسته بيا هرکال له خپلې تنخواه نه د تشخيص دفتر او يا د نظام دفتر ته د دومره پيسو ليک ورکوو چې د درملو او خوړو او نورو د لګښت له پاره يې ورسوي او هغوی چې تنخواه نه لري په دې کتاب کې

ketabton.com - The Digital Library

لاسليک او مُهر کوي چې کال پر کال تــرې واخيســتل شــي او رســيد ورکــړ شــي همدومره[.❋] که څوک څه نه ورکوي هم خپله خوښه يــې ده هــېڅ کــړاو ورتــه نــه شته[.❋] دا څو کرښې يوازې ستاسې دينې ورونو د خبرتيا له پاره وليکل شــوې کــه ځان په دې ثواب کې راوستل غواړئ هم مو خپله خوښه ده او که نه يې غواړئ هم مو زړه خپل دی[.❋] همدومره

ketabton.com - The Digital Library



# نصیحــت

**«»ــ ای ګرانو همښاریانوـ«»**

که ټول عمر د خپل عظیم الشان څښتن د شکر په سجدې ولګــوو لا بــه مــو د هغــه سبحانه تعالی د شکر یو بځرکی هــم پــر ځــای کــړی نــه وي. لیــدونکې ســترګې، اوریدونکي غوږونه، وسمن وجود، روڼ وجدان، ټینــګ عقــل یــې را پیــرزو کــړی او رالورولی دی. په تېره بیا چې یې موږ د ایمان په نعمت سرلوړي کــړي، او د حضــرت خاتم الانبیا محمد مصطفی صلی الله علیه واله وسلم په مبین دین ممتاز کړي یو چې د مهربان څښتن له خورا سترو نعمتونو څخه دی.

د هغه مبین او ډېر کلک او متین دین ټول سپېڅلي حکمونه چې موږ یې پرې ټینــګ درولي یو[،*] په خپله بنه کې یو حکمت دی. او ددغو حکمونو په پلــي کېــدو کــې د دونیا او آخرت ثوابونه او خیرونه نغښتي دي. د محمدیه غراِ شریعت په هر حکم کــې زرګونه حکمتونه او سلګونه ګټې پټې دي. او هر امر او نهې یې د بشر وګړو ته د پېرزو او خوندیتوب لارښود.

ای ګرانو همښاریانو! زموږ د حق پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سترو صفتونو کې یو (عظیم خُلق) دی چې خورا سپېڅلي الهي ذات په خپل قدیم کلام کې هغوی په (وَإِنَکَ لَعَلَی ٰ خُلُقٍ عَظِیمٍ) صفت تر نورو بر کړي دي. حسنه اخلاق یعنې د ښو او منلو خویونــو او عادتونو درلودل، او له قبیحو او ناوړه چارو نه ډډه کول موږ محمدي ناجي اُمت ته له اړینو دیني لوازمو څخه بلل کېږي. د شرم او حیا په آدابو ځان پسولل او له بې ادبۍ او بې حیایۍ نه لرې والی لوی څښتن ته زموږ د منلي حضرت رسول په پله د روانېدو او غاړې ایښودو تر ټولو غوره وسیله ده. د حضرت کبریا د پاک ذات په مخلوقاتو کې تر ټولو درونډ او حیاناک د رسولانو لارښود حضرت محمد مصطفی علیه افضــل التحایــا دی چې په دې شریف حدیث یې چې (اَدّبّنی رَبِی فَاَحّسَنَ تادَیَبیّ) د سپېڅلو ادابــو د پاکوالي پوړۍ تر څه ځایه جوتېدلی شي.

ketabton.com - The Digital Library

«ادب زده کړه له هغه ګرانه ادیبه»
«چې زده کړی یې ادب دی له ښښتنه»
ای ګرانو همښاریانو، او ای د تمیز ښښتنو وروڼو! ستاسې ددې عـاجز موخـه لـه دې دومره سریزې او بیانونو چې وړاندې شول یوه یادونه ده چې اوس یې راوړم. مخکــې مې ویلي و چې د محمدي مبین دین حکمونه له یوې مخې حکمــت، او ګــرد ډک لــه ګټې او منفعت دي. وګورئ یوه بېلګه درته وړاندې کوم:
د بېساري او یواځیني ښښتن عبادت فرض شوی دی. عبادت پر اوداسه یعنې پاکوالي ولاړ دی. که یې په ساده او رانه ډول ووایم نو داسې به ووایم چې لمونځ فرض دی او د لمانځه ادا کول په استنجا او اوداسه کولو پورې اړه لري. هغه ارزښتناک حکمت چــې په استنجا کې شته په هېڅ ډول ترې سترګې نه شي پټېدای. ځکه کــه د میتیــازو د راوتلو ځای په وچه خاوره لومړی ښه وچ شي او وروسته په اوبو پرېول شي نو ښــه او غوره اودس یعنې پاکوالی به شوی وي. نو ځکه اړینه او ضروري ده چې لومړی پر لوټه استنجا وشي، او وروسته په اوبو پرېول شي او اودس وشي.
خو زرځله افسوس موږ ښاریان په دې نېک کار کــې هــم پــه یــو ډېــر نــاوړه او زړه بدوونکي کار روږدي شوي یو چې له یوې مخې د انساني ادابو مخالف او زموږ د اُمت د لارښود د آدابو له پلي کېدو سرغړونه ده .
ای همښاریانو، ای وروڼو! انصاف وکړئ! نو تر دې به ډېر ناوړه او زړه بدوونکي څه وي چې په لارو او سړکونو او کوڅو کې له داسې یوه چا سره مخامخ شئ چــې پرانســتې پرتوګانې یې په ښی لاس نیولی او کیڼ لاس یې دننه په پرتاګه کې له هغه غړي سره چې قلم یې د نامه له اخیستلو شرمېږي په لوبو بوخت وي؟... سمه ده چې د اســتنجا وچول اړین دي، خو نه په دې ډول! بلکې هماغلته چې خپل حاجت پوره کــوي ځــان ښه وچ کړي او څو ځله خپله کینه پښه پر ښی او ښی پښه پر کینه کېکاږي، او خپل پرتوګانې وتړي او بیا روان شي.
په خورا خواشینی چې ډېرئ ښاریان وینو چې په لار او کوڅو او د وګړو د تېرېدو پــه ځایونو کې په همدغه حال او بڼه چې بیان شول پر لاره ځي، او هېڅ باک او پروا هم نه کوي، او آن له یو بل سره بنډار او خبرې هم کوي. او تر ټولو عجیبه خو یې لا دا چــې

ketabton.com - The Digital Library

**که له چا سره د سترګي مشئ اړتيا پېښه شي: د «معذور يم» په ويلو عذر هم وړانــدې کوي چې په خپلې دې خبرې اقرار کوي او دا ثابتوي چې زه په داسې ناوړه يــوه کــار بوخت يم چې د سلام سنت پر ځای کولی نه شم.**

**افسوس افسوس! د انسانيت له ادابو څومره لــرې ده چــې پــر عامــه لاره چــې زاړه، ځوانان، واړه، او په تېره بيا مخپټې مسلمانې مېرمنې تېر بــرې راتېر بــرې ســرې پــر داسې يوه ناوړه چلند چې په ويلو يې انسان ته شرم دربېږي[،*] بوخت وي!**

**ای ګرانو همښاريانو! زما دا خبرې خپل پاک وجدان او راتله زړه ته حواله کــړئ. خپــل عقل قاضي کړئ [او*] په انصاف او بې غرضی حُکم وکړئ چې دا ښه کار دی که بــد؟ که بد دی نو راځئ ټول په ګډه له دې شرموونکي عادت نه لاس واخلو[.*] والسلام**

**محمود طرزي [لاسليک*]**

---

ketabton.com - The Digital Library



# پالنځی (دارالیتاما*)

سبحان الله! داسې څیزونه اورو چې غوږونه مو په یوه خواږه سلطاني ترنم نري نــري خوځوي او زړونه مو  له خوښی مستی او خوشحالی سره غاړه باسي.
پالنځی [دارلیتاما*] یعنې (یتیم تون) دا څه ډول عجیب او ناویات ټکی دی؟
د چا په خیال او خاطر کې به تېره شوې وای چــې پــه افغانســتان کــې روغتونونــه، پالنځي، ښوونځي، ماشینونه، ټیلېفونونه، بر ېښنایان [برقی هــا؟*]، رامنځتــه شــي؟ یخې لارې، اوسپنیز پلونه جوړ شي؟ ګاډی، بای سیکلونه، موټرونه پرې روان شي؟
افغانستان یادوم، نه بل ځای! که لس کاله دمخه چا داسې خبرې کــړې وای چــې پــه افغانستان کې داسې کارونه راروان دي[،*] په عقل پورې به یې ورخندل. خو څرنګه چې د حضرت خالق لم یزلي ازلي اراده په کار کې وي له کایناتي ځواکونو څخــه یــو ځواک یې هم مخه نیولی نه شي.
هوا! زموږ ببساري حضرت ښتن غوښتل چې زموږ د سپېڅلي هېــواد (افغانســتان) خاوره په رڼا وځلېږي، نو ځکه یې د ۱۳۱۹ هجري کال د جمادی الثــاني میاشــتې پــر پنځلسمه یو ستوری [سراج*] راوخېژاوه، دین، ملت، وطن یې ورسره رڼا کړ!
هوا! د اعلیحضرت (سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان) له نېکمرغی ډک پېر چې ښتن دې یې دولت اوږد لري د هېواد د پرمختګ پېر، د تمدن پېر، د عدالت پېــر، د خواخوږی پېر، د پوهې پېر، د کمال پېر، د ودانی پېر، او د خوښی او خوشــحالی پېــر دی.
د خیرات او مبرات له هغو ښنو چې په دې سراجي پېر کې راڅرګندې شوې یوه هم د هېواد له بچیانو نه د بې پلاری، او بېکسی او بې اسری لرې کول او له منځه وړل دي.
زموږ ستر هوښیار ټولواک له پوهنې یو ډېر خبر او د کمالونو ښتن ټولــواک دی. لــه ډېرئ پوهو او هنرونو خبر دی. آن په ډېرئ ښکلو هنرونو کې د بشپړو معلوماتو خاوند

ketabton.com - The Digital Library

دی. له هغې ډلې یې د فوتوګرافی، یعنې عکاسۍ هنر د بشپړتابه خورا لوړې لوړې پوړۍ ته رسولی دی. آن که ووایم چې دا لوړ فن چې د اوسني پېر تر ټولو ارزښتناک ښکلی هنر بلل کېږي[،*] په افغانستان کې تر نورو دمخه زموږ ستر اعلیحضرت ټولواک ذات په خپل نفیس شاهانه نفس رامنځته کړی او بیا ژوندی کړی دی[،*] نو هېڅ مبالغه به مو نه وي کړې. هغه انځورونه چې له سپېڅلي پاچايي (ستودور) [ستوډيو؟*] نه راوځي په حقه چې د اوسني مهال په خورا ښکلو عکاسیو کې شمېرل کېږي.

له همدې امله و چې څو میاشتې دمخه د مبارک ارګ په بڼ کې یو نندارتون جوړ شوی و چې زرګونه نوي او ښایسته چوکاټ شوي او بې چوکاټه عکسونه[،*] زرګونه ډوله نوي او ښایسته عجیب او غریب عکسونه ننداري ته وړاندې شوي وو. د ښار ټول مخور او خانان دغه ډېر ښکلي او ښایسته نندارتون ته وربلل شوي وو. اعلیحضرت شاهانه ذات په هغه ننداړتون کې د عکاسۍ هنر، او ددې ننداړتون له جوړولو څخه د خیررسوونکي شاهانه مقصد په تړاو یوه ډېره اوچته اغېزناکه وینا واورولــه [او بیا یې*] ننداړتون پرانست.

د پاچايي وینا پایله دا وه هغه پیسې چې ددې عسکونو له پلورلو تر لاسه شي د ټولنې د بېوزلو او خوارانو د یتیمو کوچنیانو په پالنه او روزنه لګول کېږي او یو سمبال (دارالیتاما) یعنې پالنځی پرې جوړېږي چې ددغو کوچنیانو ټولې مادي او معنوي اړتیاوې راونغاړي. نو په دې راټولو شویو کسانو کې چې هر یو په خپله خوښه ددغو عکسونو د پېرلو لېوالتیا وښیي هم به د ښکلو او نویو عکسونو خاوند شي او هم به د انسانپالو کارونو په ثوابونو کې راشي.

دې خیر سنجوونکي پاچايي وینا د راټولو شویو پر زړونو ژور اغېز وکړ او هر چا له خپل حال او د شتمنۍ له اندازې سره سم په دې نېک او خیر کار کې برخه واخیسته.

له دې پلوه راټولې شوې پیسې چې لا هم راروانې دي[،*] په یوه ځانګړي صندوق کې راټولېږي او د (پالنځي) له نېکیو پر ډکه چاره لګول کېږي.

په رښتیا چې دا ارزښتناک اعلیحضرت شاهانه خیریه بنسټ له هغو خیر رسوونکو دینپالو پلرنیو بنسټونو څخه دی چې د دوی د شاهانه هېواد او ولس له پاره د

ketabton.com - The Digital Library

نېکمرغۍ او مدنيت يو غوره فال ګڼل کېږي. په متمدنو هېوادو کې دا ډول انســانپالې چارې چې د ولس د بېوزلو بچيانو له پاره ترسره کېږي پوله او شمېر نه لري. خو او په خواشينۍ سره چې زموږ د وطن وګړي سره له دې چې په طبيعي ډول يې خيراتونــه خوښېږي، خو پر غورو او ګټورو چارو يې د هغو د لګولو لارې لا نه دي زده کړې.
نو ځکه زموږ خيرسنجوونکي او زړه سواند پاچا په دې تړاو د (يتيمانو د پالنځي) پــه جوړلو سره د مرحمت يو ور، او د مدنيت يو واټ پرانست. له احديت دربار نه د دوی د شاهانه عمر او بخت د اوږدېدو غوښتونکي يو چې له دې ډول ډېرو ډېرو نېکو شاهانه چارو څخه يې وطن او ملت ته ناپايه ګټې ورسېږي[.*] امين همدومره

---

ketabton.com - The Digital Library



# نصیحت

**ای ګرانو همنباریانو**

د سپېڅلي ښښتن ډول ډول نعمتونه مورِ له غفلتونو ډکو بندګانو ته د شمېر له کچې پورته دي. زمورِ تر ټولو سپېڅلي پالونکي پاک بې ساري ذات په خپل قدیم واجب التعظیم کلام کې فرمایلي چې«وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ فَلَا تُحْصُوهَا ۗ» [په ورځپاڼه کې: فَانْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّه فَلَاَ تُحْصُوهَا ۗ راغلی دی*] یعنې که وغواړئ چې د ښښتن نعمتونه وشمېرئ هېڅکله به یې ونه شئ شمېرلای. په حقه چې زمورِ د یواځیني علیم ښښتن دا کلام د غفلت له خوبه زمورِ د ویښولو له پاره د شوق او غیرت یوه متروکه بلل کېږي چې د هغه سبحانه تعالی بې شمېره ستر نعمتونه یو یو د خپل عبرت نظر ته راولو[،*] په طاعت او عبادت، او د انساني کمالونو په لاسته راوړو کې هڅه او غیرت وکړو، او د (انسان) د لوړ نامه وړ وګرځو.

(انسان) څومره یو نوښتي جوهر دی چې نه په شکل او صورت، او نه په بڼه او خوځښت، او نه د ژوندانه په ډول، او نه د فضیلت په ګټلو کې نورو مخلوقاتو ته هېڅ ورته والی نه لري. هو سره له دې چې په خوړلو، او ښښلو، او بېدېدلو، او څغستلو او غوسه او شهوت او توالد او تناسل یعني توکم او نسل جوړولو کې له نورو څلوربولو ځارویو سره نژدې والی او ګډوالی لرو خو خوراک مو او ښښاک مو او ویدېدل مو او نسل او توکم مو د ډېرو سمبال قاعدو او قوانینو دننه ترسره کېږي چې له نورو ځارویو سره هېڅ ورته والی نه لري.

له نورو تېر یوازې په یوه (توالد او تناسل) یعنې بچي راوړلو او نسل جوړولو کې ځیر کېږو:

نور ځاروي په دې برخه کې د هغه طبیعي حس له مخې چې الهي ذات یې په فطرت کې راوستي چلند کوي[،*] د خپلو بچو د ډېرولو، او د خپل جنس د توکم د اوږدولو کومه اندېښنه، او کوم هنر او بڼه نه لري[،*] حال دا چې انساني توالد او تناسل د

ketabton.com - The Digital Library

**ډېرو رباني حکمونو، او انساني قاعدو او دندو له مخې سمبال او په يوه منظم چـارډود او اصولو ترسره کېږي.**

**څاروي تر هغه وروسته چې بچي يـې د شـيدو لـه عمـره واوښـتل[،*] هـېڅ ډول پېژندګلوي او حقونه يې ترمنځ نه پاتېږي هر يو په خپله مخه ځي. حال داچې انسان دا ډول نه دی: بلکې انسان چې کوم توکم جوړوي په هغه کې ډېر څه سـنجوي، او د خپل هېواد د راتلونکي هيلې ورپورې تړي.**

**ای ګرانو همښاريانو! غواړم لږ څه پر خپلو بچو يعنې د خپل ژوندانه پر ميوو يـو څـه خبرې وکړم او وغږېږم:**

**اولاد، د (هېوادني) چمنښ تنکي او زرغون نيالګي دي چې که ښه وروزل شي، او ښه پالنه يې وشي، وطن ته ډېرې خوږې ميوې کوي. او که د روزنې او خړوبولو دنده کـې يې پام او غور ونه شي[،*] له وچ لرګي پرته ترې بله ګټه نه ترلاسه کېـږي چـې پـر داسې مهال يې يوازې وبال پر مور [نه راځي*] چې د مضرت له پايلو يې دولت، ولس او هېواد ته زيان اوړي. بچيانو ته مو د پوهې رسول، د هنر او صـنعت زده کـړه[،*] د اخلاقو روزنه، د ادب ښودنه د هغوی د کاليو، او خوړو تر چمتو کولو مورږ ته ډېر اړين او ارزښتناک ګڼل کېږي. ځکه چې که پوهه او هنر زده کړي، او اخلاق او اداب يې بشپړ شي[،*] سربېره پر دې چې خپلې او د خپلې کورنۍ او د مور او پلار اړينـې اړتيـاوې پوره کولی شي[،*] د پوهې هنر له ثمره يې دولت، ملت، وطن هم ګټه پورتـه کـولی شي. او که مورږ د مال او زرو او دينارو ټولول د خپلو بچيانو د استقبال يعنې راتلونکې له پاره د نعمت او راحت بنسټ وبولو نو تېروتي يو. ځکه چې د نعمت او وسمنۍ اصلي تومنه کمال دی نه مال! مال د پوهې او ادب په نشتوالي، او د هنر او صنعت په فقدان کې په لږه موده کې له منځه ځي. حال داچې پوهه او هنر هغسې يوه پانګـه ده چـې هېڅ خلاصېدل نه لري.**

**ای ګرانو همښاريانو! بويه چې د خپلو بچو د ښوونې او روزنې دنده تر هر څـه دمخـه وبولو: زمورږ زړونو ته د رانژدې نياومن خير رسوونکي ټولواک اعليحضرت (سراج الملة والدين) تر رحمتونو ډک پوهنپال سيوري لاندې الحمدلله زمورږ د ښارو په هره محلـه**

ketabton.com - The Digital Library

کې د کوچنيانو لومړني ښوونځي پرانستل شوي، نو بويه چې تر وسه وسه خپلو بچيانو ته لومړنی ليک لوست وښيو.

ای ګرانو همښاريانو! که څه هم زموږ ګران هېـواد د پـوهې او هنـر سـرچينو يعنـې لومړنيو او نورو ښوونځيو ته تر حده ډېره اړتيا لري، او زموږ سپېڅلی متبوع دولت يې په ډېرولو کې خپلې هڅې کوي خو دا هم بويه هېره نه کړو چـې پـه دې برخـه کـې يوازې د دولت هڅې بس نه دي. بلکې موږ د ولس وګړي هم که په دې برخه کې هڅه او زيار وکړو، او د خپل خورا مهربان او زړه سواند غمخور پلار د هوډونو او تکلونو پـر لاره ولاړ شو[،*] د يووالي لاسونه سره ورکړو او د همت ملاوې وتړو او يوازې هماغـه پيسې چې شريفې شرعې مو د مال د زکات له پاره پر موږ غوڅې ايښـې، او د زکـات ورکړه يې د صلاه [لمانځه*] د ادايني هومره راباندې فرض کړې يو ځای راټولې کړو او په رانه زړه او نره هوډ يې په غوره لار د وطن د بچيانو پر ښوونه او روزنه ولګوو[،*] د نوي ډول ګڼ ښوونځي به پرې جوړ او ودان کړی شو[.*] خو زر ځله افسوس چې موږ لا تر اوسه د پوهې او پوهنې قدر او د هنر او صنعت ارزښت نه پېژنو!

ای ګرانو همښاريانو! کله چې پر لاره ځئ په کومه کوڅه يا ميدان کې د کوچنيانو لـه کومې ډلې سره چې غوزان [جوزبازي*] کوي مخامخ شوي ياست که نه[؟*] « البتـه چې مخامخ شوي ياست[،*] ځکه داسې کومه پيڅکه او ګوټ نه شته چې د غوزانو له پاره دې د هلکانو يوه ډله نه وي راټوله شوې. اوس راځئ لږ غوږ کېږدو، او لږ تم شو او وګورو چې څه کوي او څه وايي!....

نه نه! غوره به دا وي چې تېر شو او وانه ورو! سبحان الله! څومره له رذالته ډک ټکـي، څومره ناموس ويجاړوونکې کنځاوې، څومره کرکجنې خبرې چې سړی يې له اورېدو په رېږدېدا راځي!

بېوزلې مورا! په زرو کړاوو کالي ورپربوي، د کاليو خيري ځايونه او سوري ورګنډې، پلار د تندي په زرګونو خّوَلو دا کالي چمتو کوي[،*] زر افسوسه چې هلک د ناپوهۍ او بې هنرۍ له امله د غوزانو په يوه لوبه چې که رښتيا شي د جوارګرۍ يوه بڼه ده[،*] دغه کالي په خاورو او ختو لړي، او له نورو هم بڼو سره په کنځلمارې لاس اچونې کې کالي خيري خيري کوي!

ketabton.com - The Digital Library

**خومره له افسوسه ډک يو حال!!...**

**اى گرانو همښاريانو! که نور هېڅ نه وي راځئ ددې کنځلمارو ټکو د ورکولو او له منځه وړلو له پاره چې زموږ بچيان يې يو بل ته کاروي[،*] يو څه وسنجوو. زه وايـم راځـئ چې په گډه خپلې ژبې له داسې سپکو کنځلمارو رذيلو کرکجنو ټکو وساتو چې بچيان مو زموږ پېښې ونه کړي!....**

««««««««««««»»»»»»»»»»»»»»

ketabton.com - The Digital Library



# د همايوني وينا متن

[د امطلب د نورو گڼو خلاف د دوو پر ځای په يوه ستن [ستون] کې راغلی دی*]

د (افغانستان) تر واک لاندې شاهانه هېواد د ټولو اوسېدونکو د هرې ډلې او پاټکي د ټولو مخورو او اشرافو، او ربښتين صفته وګړو له دينپالو ضميرونو څخه دې پټه نه وي. هر انسان چې په دې فاني نړۍ کې اوسېدنه او ژوند لري په خپلو ټولو چارو او اعمالو کې دوه موخې په پام کې نيسي: يوه مادي يعنې جسماني، دويمه معنوي يعنې روحاني[.*] انسان په دواړو حالاتو کې د خپلې هرې چارې له پاره په گڼو کارونو بوخت، او د گڼو چارو سرته رسولو ته گومارلی دی چې د هغه بروالي او لوړوالي د غوښتنې له مخې چې د حضرت (احسن الخالقين) جل وعلا تر ټولو سپېڅلي ذات پر انسان پېرزو کړي ددغو دندو په بشپړولو او ددغو چارو په کولو سره هم د خپلو جسماني اړتياوو او غوښتنو پر لرې کولو بريالی کېږي، او هم له خپلو اُخروي روحاني ثوابونو برخمنېږي.

لکه هغسې چې د معبود رب طاعت او عبادت انسان د لوړو روحاني درجو په ترلاسه کولو سرلوړی کوي[،*] دغسې له خپلو هم بنو سره د انسانانو لاسنيوی هغوی د خپلو گډو ستونزو پر لرې کولو اوچتوي.

دلته يو دوې ببلگې راوړو: که يو ښار فرض کړو چې درې لکه وګړي لري، او پاکې او رڼې اوبه چې د څښاک، او کارونې له پاره اړينې دي په کې نه وي خو شېږ کروه وړاندې ترې ډېرې رڼې او خوږې اوبه وي چې روغتيا ته يې سمې او گټورې وي[،*] البته چې ددغه ښار وگړي اړوځي چې خپل منگي راواخلي شپږ کروه لاره ووهي، او خپل منگي له دغو اوبو ډک کړي او راوړي. پر دې مهال دوه زيانونه پېښېږي چې يو په کې د بدن کړاو او خواري دي او بل د (وخت) بې ځايه ضايع کېدل[.*] حال دا چې د وخت په ضايع کېدو سره د انسانانو د ډېرو اړينو اړتياوو پوره کېدل هم ځنډېږي، ځکه بنيادم د ژوندانه له پاره يوازې د اوبو څښاک ته نه چې گڼو نورو شيزونو ته هم اړ

ketabton.com - The Digital Library

دی، نو که انسان د ورځې څلور پنځه ساعته يوازې د خپلو اوبو په چمتو کولو لګوي نو د نورو اړينو اړتياوو د پوره کولو  له پاره به څه وخت ومومي؟

نو پر دې بنسټ که ددغه ښار وګړي خپله (طبيعي مدني) دنده ترسره کړي او په ګډه سره لاسونه ورکړي [او*] هر وګړی دوه دوه روپۍ سره واچوي شپږ لکه روپۍ ټولېږي چې ښار ته ددغو اوبو په رسولو، او د ځړوبيو، او ويالو په بهولو کې پــه ډېـره آسـانۍ بريالي او موفق کېږي. حال دا چې په دا ډول مالي مرسته بې له دې چې ددغــه ښــار وګړو ته کوم تکليف او کړاو واوړي له يوه لوی احتياجه هم ځان ژغوري. د ساري پــه ډول ددغه ښار ډېرئ وګړي د کال اووه اته روپۍ په ميوې خوړلو  لګوي چې که يوازې دا ميوه خوړل لږ را ټيټ کړي [او*] د کال د پنځو روپو مېــوه خــوړل بــس وبــولي او راټولې شوې پيسې د خپلو ګډو اړتياوو په لېرې کولو ولګوي[،*] ګڼې ګټورې او غوره چارې به ترسره شي.

بله بېلګه دا چې انسانان د وچې او اوبو د خالق په ازلي اراده له يوې مور او يوه پــلاره پيدا شوي، او په بېلو بڼو او ټبرونو ويشل شوي دي چې په ټوله کې يــو وجــود ګڼــل کېږي. په تېره بيا چې د ورته والي او مذهبي يووالي تړاو هم په کې وي. نــو پرداســې مهال ددغه جنس او مذهب له وګړو څخه هر وګړی د يوه وجود په غړو کې يو غــړی بلل کېږي چې د يوه غړي په خواشينۍ او غم نور تــول غــړي خواشــيني او نــاکراره کېږي. د ساري په ډول که د بنيادم له پنځګونو حواسو څخه په يوه حس کې خّــوَږ او غم پيدا شي نور څلور غړي ټول غمجن او اغېزمنېږي. سترګې کــه خّــوَږ وي [نــو*] غوږو ته خوږې نغمې لکه د اغزيو څوکې بربښې چې د غوږ پردو کې ننوځي، پــوزه د ګلونو د خوږو وږمو په راتلو کږېږي، په څکلو کې خوږ خوند  تريخ ايســي، پــر خّــوَږ شوي غړي د پنبې او وربښمو لګېدل [ته وا*] د غم سوهان چلوي. يوازې په پنځګونو حواسو کې نه چې د بدن په ټولو برخو کې همدا چاره روانه وي.

ای دينپاليه رښتينی ولسه، او دنېکو عقيدو افغان ملته! له دې دومره سريزې څخــه زموږ شاهانه موخه داده چې تاسې ته د يوه ډېر نېک او لــه خيــر او ګټــې ډک عمــل يادونه وکړم او يوه ډېر سم او انسانپال کار ته مو وهڅوم چې له معنوي او مادي پلــوه په کې تاسې ته د دونيا او آخرت خير وي. پخپله د ښښتن د پېرزو او مهربانۍ شــکر

ketabton.com - The Digital Library

کوم چې تر اوسه مې تل د خپل رېښتوني او دينپال ملــت لــه روحــاني او جســماني ښېگڼو او نېکيو پرته بل فکر نه دی کړی او نه به يې وکړم.
ای ملته! خبر شئ چې دا مهال لوړ عثماني دولت چې زموږ هم جنسه او هم مذهبــه دی له يوه ناڅاپي ناحق او ناروا يرغل سره مخامخ شوی دی چې فلاکت او دهشت غم او خپگان يې موږ هم خواشينې او غمجن کړي يو. ددغو دينــي ورونــو لاســنيوی او مرسته له ديني او انساني پلوه پر موږ واجب او اړين دي. د واټن ډېروالي موږ د هغوی له مخامخ او عملي مرستې څخه بې برخې کړي يو خو په پيسو له هغوی سره مرسته راباندې لازمه شوې ده. څرنگه چې تاسې تر اوسه هغه خوند چې ددې ډول مرستو او خواخوږيو له گټو تر لاسه کېږي نه دی څکلی[،*] نو ځکه دا لــومړی ځــل دی چــې تاسې ته مخامخ پخپله ددې ډول نېک او گټور کار د کولو سپارښتنه او لارښوونه کوم او د (بسپنې) يعنې چندې دفتر يې په خپل همايوني لاس پرانيزم. او لومړی ورته لــه خپل شخصي شاهانه صندوق [عين المال*] نه (شل زره) کابلۍ روپۍ اچوم او ثبتوم.
او ستاسې رېښتوني شاهانه ولس له ديني غيرت او ملي ځوانۍ نه مې تمه داده چــې هېڅوک دې هم د خپل حال او احوال او د مال او منال د وس هومره د خير په دې کار کې ناغېړي نه کوي.
په دې برخه کې پر تاسې امر او جبر نه شته. ځکه چې دا داسې يو کــار دی چــې پــر وجدان او انسانيت اړه مومي. د وجدان هر خاوند او د ايمان هر څښتن هر څومره چې د خپلې کورنۍ او بچيو له نفقې پورته اضافي مال څخه دې برخــې تــه ورکــوي[او*] خپل نوم په دې دفتر کې ثبتوي دوه کارونه به يې کړي وي: يو دا چې د څښتن تعالی په لاره کې به يې په خپل مال باندې هڅه او زيار کړی وي چې د الهي امر پر ځای کول او له هغه نه د روحاني خوندونو اخيستل دي. دويم دا چې د خپلــو همبنــو همــدينو لاسنيوی به يې کړی وي چې د انساني عادت ترسره کول او له دې لارې د ملي غيرت او درنښت پر ځای کول دي.
ای رېښتونی ولسه! ددې کتابچې نوم: (د لوېديځ طرابلس د شــهيدانو لــه يتيمــانو او تپيانو سره د بسپنې کتابچه) ده. د غيرت جېبونه مو پرانيزئ، زړونه مو د ورورگلويزې مهربانۍ په اوبو خړوب کړئ، د خپلو همدينو مغدورو [له خيانت سره مخامخ شويو*]

ketabton.com - The Digital Library

شهیدانو له یتیمو بچو او سقیمو [رنځورو*] کونډو سره چې د خپــل هېــواد او ملــي درنښت د ساتلو لار کې یې سرونه ښندلي د وس تر کچې یوه مرسته وکړئ. د ټپیانو د ټپونو له پاره یې یوه پټۍ چمتو کړئ. په ډېر او لږ پسې یې مه ګرځئ[،*] په هر هغه څه چې په لاس درځي هڅه وکړئ او نوم مو په دې دفتر کې ثبت کړئ. څــوک چــې لیکل کولی شي خپل نوم او هغه اندازه پیسې چې په وجداني خوښه او ایماني مینــه یې ورکوي او خپله دنده او منصب او د اوسېدو ځای دې روښانه او مُفَسِره [رڼه*] پــه خپل لیک ولیکي، او په خپل لاس دې یې لاسلیک کړي. او چاته چې لیک نه وي زده بل دې یې ورته ولیکي، او که لاسلیک یې کولای شو لاسلیک دې یې کړي، او که نــه یې شوای کولی مُهر دې یې کړي، او که مُهر یې نه درلود خپله ګوته دې په رنګ کړي د مُهر پر ځای دې یې تر دغې لیکنې لاندې ولګوي. نور نو په هره چاره کــې ځــان او تاسې او ټولو همدینو او آن ګردو انسانانو ته ښېګنې او نېکې چارې او خیر او صــلاح غواړم[.*] همدومره

ketabton.com - The Digital Library



# اوسنۍ جګړه

د روس او جاپان تر جګړې وروسته زموږ غوږونو بیا د توپ او توپک غږ نه و اورېدلی. بشریت په چوپتیا او هوسایۍ کې ژوند کاوه. ناڅاپه د (لوېدیځ طرابلس) لــه لــوري د جګړې او تګۍ هنګامه راپورته شوه. خو څنګه یوه جګړه! داسې جګړه چې د انسانانو د وحشت د پېر له لرغونو نکلو پرته د تمدن او پرمختګ په دې پړاو کې یې په اړه چا نه و اورېدلي.

نو دا څه ډول جګړه ده؟ یو سړی دې پاڅي او بل ته دې ووایي چې کور مې وړوکی دی او زما وګړي، او مالونه او شته په کې نه ځایېږي، زه دې کور درنه په زور اخلم چــې د وګړو او مالونو له پاره مې ځای پیدا شي. او چې وپوښتي: ولې؟ ووایي ځکه چې تر تــا زورور یم!

هو! سره له دې چې (زور) یې پر (حق) لوړ بللی خو په خواشینۍ سره چې دا حکم هم زورورو کړی، حال دا چې د ایټالیا دولت د هغو متورو زورورو په ډله کې هم نه دی چې پخپله یې ځانته تمه پیدا شوې وه. ښومره ناسمه دعوه! ښومره اوُم خیال!

د ایټالیا دا ناوړه کړنه د تمدن نړیوال حقوق خورا سپک کــړل. آن لا دا چــې د یــوې ډېرې ارزښتناکې پوهې (حقوقو) پر لړمون یې چې د نړۍ د ټولو عدلي ادارو بنسټ او چورلیز بلل کېږي[،*] یو خورا ویجاړوونکی ګوزار وکړ. د اروپا په څېر په یــوه بســیا لویه وچه کې، او د حقوقو په یوه پېژندونکي متمدن ولس لکه یوروپینانو [اروپاییانو*] کې دداسې یوه حق نه پېژندونکي او خپلسري ملت لکه ایټالویانو شتوالی په حقه چې یوه کرغېړنه رَټه [داغ*] بلل کېږي.

ایټالیا په خپل دې ناوړه او وحشي حرکت سره د درې سوه میلیونــو مســلمانو وګــړو کرکه او لعنت چې د ځمکې پر کُرې مېشت دي[،*] وګاټه. لا که یې مسالې ته دیني او

ketabton.com - The Digital Library

**مذهبي رنګ نه واى ورکړى[،*] هر څه چې و[،*] و به. خو د خپلو جنګي ببړيو پر بازوګانو د ښاغلي پاپ د تسپو [تسبيحو*] راځړولو، او مسلمانانو ته د وحشي او نامتمدنه خطاب کولو، او پر اسلامي کلاوو د صليبي بيرغونو پر ځړېدو د قيسانو او پاپاسانو [د ختيځ مسيحي راهبانو*] له خوا يو بل ته د مبارکيو ويلو او د مسلمانو ښځو او سړيو او کوچنيو د يومخيزې وژنې روا بللو[،*] اوسنى جګړې ته يو ديني رنګ ورکړى دى چې د اوسني تمدن په دې شلمه پېړۍ کې يې په دې جاهلانه کړنې سره د مخکنيو پېړيو د صليبي جنګونو خاطرې بيا را په زړه کړې.**

**له همدې امله و چې پر ټولو مسلمانانو يوه لويه وېره راخپره شوه. زموږ مصري، او يمني، او هندي او ايراني ورونو چيغې او فريادونه او نارې وکړې. البته چې افغاني ورونو يې هم چوپ پاتېدل روا ونه بلل. د هغې ډېرې اغېزناکې او اوچتې وينا له امله چې د سراج الاخبار د (۵) ګنې لومړي مخونه پرې وپسولل شول[،*] ګرد زړور او ستر افغان ملت په يوه ژبه او يوه زړه د خپل سپېڅلي او درانده پاچا، او د دينپالي افغان ملت د ټولو وسله والو ځواکونو د اعلى سرقوماندان پر پله له روانېدو سره سم ټولو خپل ځانونه يو لوى پوځ او برى وباله او په خورا ولولو او ايشېدو په عملي ډول د خپلو عثماني ورونو مرستې ته چمتو شول. او که چېرې د ملي روح، ولسي هستۍ، د هېواد د زړه يعنې زموږ د سپېڅلي متبوع (اعليحضرت سراج الملة والدين امير حبيب الله خان) له فيوضاتو ډک کلام چې ويې فرمايل: « د واټن ډېروالي موږ د هغوى له مخامخ او عملي مرستې څخه بې برخې کړي يو خو په پيسو له هغوى سره مرسته رابانـدې لازمه شوې ده.» عمومي ولولې سړې کړې نه واى او د لارې د نشتوالي څرنګوالى يې په ډاګه کړى نه واى. د دوى يو کروړ ريښتونى شاهانه ملت د خپل سپېڅلي ستر زړونو ته راټېر قوماندان په يوه قومانده د خپل ديني پت د ساتنې له پاره هرډول سرښندنې ته چمتو او سترګې پر لاره وو. افغانان ټول پېژني چې يو وطنپال، ټولواک پلوى او پر دين ډېر ټينګ ولس دى. پاچا خپله ساه او ځانونه جسم بولي. پر اولوالامرۍ ټينګ پاتېدل د پټمن افغان ولس هومره بل هېڅوک نه لري. له همدې امله وه چې د لوېديځ طرابلس د شهيدانو يتيمانو او ټپيانو ته د بسپنې په اړه همايوني وينا د ولس پر زړه ژور اغېز وکړاود مالونو په ښندلو د خپلو ديني ورونو لاسنيوي ته**

ketabton.com - The Digital Library

راوړاندې شول. او د همايوني وينا تر پايه يوازې په هماغه غونډه کې اتيــا زره کــابلۍ روپۍ راټولې شوې او لاهم راټولېږي.
د مسلمانانو ددې ټولو هيجانو، او ايشېدنې، او ولولو پړه پر ايټالويانو راځي. د تمدن په دې روښانه پېر کې د هغوی خرافات پالنې د ختيځ او لوېديځ ټلواله وربږدولــه. ټولــو سترو مدنيت پالو دولتو په تېره بيا د بريتانيا ستر دولت ته چې مورږ ټول يې پــه حــق پېژندنه او نياومنۍ او د نورو پر حقونو په نه تيري مشهور بولو[،*] په کــار وه چــې د ايټاليا خپلسری ماشوم چې د مدنيت د حقوقي قوانينو دښــوونځي پــر خــلاف روان دی[،*] له لاسه ونيسي او د تاديب يوه کړنگېدلې څپېړه پر مــخ وروهــي، او د حــق ماتونې له تېريو يې راستون کړي.

ketabton.com - The Digital Library



# له ټُرکي ورځپاڼو څخه

**د هغه لیک ژباړه او متن دی چې د (سید امیر علي) په لاسلیک**

**په تایمس ورځپاڼه کې خپور شوی دی**

**صاحبانو!**

که د عمومي سولې او صلاح له پلوه وي، او که د هغو جنایتکارو کړنو له امله چې ایټالیا په ختیځو هېوادو کې ځانته غوره کړي دي[ـ*] په دې دواړو دلیلونو بویه چې برتانیا په هېڅ ډول پر دې جگړې خوشحاله او منندویه نه شي. ځکه برتانیا ته هېڅ ډول مادي او معنوي گټه او فایده نه لري. لا دا چې روښانه ده چې د گڼو ضررونو سبب گرځي. په دې مساله کې دوه مهم ټکي شته چې په رېښتیا سره د څېړنې او یادونې وړ دي:

لومړی: ددې جگړې له امله ټول مسلمانان ایشېدلي او پاڅېدلي او قهرېدلي او غوسه شوي دي [او*] په ډاگه او ښکاره ایټالیا ته د جنایتکار او لاس وهونکي په سترگه گوري چې په دې برخه کې ټول مسلمانان ښکاره حق هم لري. ځکه سره له دې چې د ایټالیا حکومت د نړیوالو حقونو ټولې قاعدې، او ټول وضع شوي مدني قوانین تر پښو لاندې کړي [نو*] خورا تعجب دی چې اروپایي دولتونو د حق او حقیقت په التزامي کولو کې بې قیدي او بې غوري غوره کړې ده.

ټولو مسلمانانو چې په بمبئي، لاهور، کلکته، لکنهو، او د هندوستان په ټوله لویه وچه، او مصر او نورو اسلامي هېوادو کې اوسېږي[،*] د ایټالویانو پر دې بېځایه کړنو په ډاگه خپله کرکه او ترهه څرگنده کړې ده چې دا هم زما د مدعا د اثبات له پاره چې برتانیا ته په کې د گټې د نشتوالي په اړه ده[،*] بس دي. په همدغو ځایو کې چې یادونه یې

ketabton.com - The Digital Library

وشوه لويې غونډې او ټولنې جوړې شوې [او*] په ډېرو اورنيو نطقونو او ويناوو يــې د خپلو زړونو احساسات بيان کړي او په يوه اغېزناکه او له ټگيو پاکه ژبه يې د برتانيا له دولت غوښتنه او هيله کړې چې ايټاليا له خپل دې ناحقه او بې لارې کړنې راوگرځوي.

دويم: دا ده چې ايټاليا د خپل دې ناحقه او ناوړه کړنې له امله دا جگړه يوې بلې بڼــې او شکل ته اړولې [او ورسره يې*] اسلامي احساسات راخوځولي او ولوله ييز کړي دي چې له هغې سره يې دا جگړه (د اسلاميت او نصرانيت) جگړې په بڼــه راڅلــولې ده، حال د اچې د وېرې او اندېښنې اصلي ځاى هم همدا ټکى دى.

په تېره بيا د ايټاليا د جنگي بېړيو پر بازوگانو د راځړولو له پاره د پاپ له خوا د خپلــو تسپو [تسبيحو*] استول په رېښتيا چې د هېښېدنې او ترهېدنې سبب بلــل کېــږي. هغه پادريان چې د پاپ استازيتوب کوي د طرابلس کلا پــر دېوالونــو يــې د صــليبي بيرغونو د ټومبل کېدو مبارکي پاپ ته ويلې ده. په دې هم بسنه نه ده شوې [،*] څه موده وړاندې په لندن کې د ايټاليا په سفارت کې يو جشن جــوړ شــوى [او*] ډېــرې ايشېدلې خبرې يې په کې کړې دي چې په دې ډله کې د (اروپــا) لــه لــويې وچــې د ترکانو شړل او د يهودانو په څېر د ځمکې کُرِې نورو برخه ته خپاره واره کول په کــې ياد شوي او څېړل شوي دي چې دا خبرې له چټياتو او لېونتوب پرته بل څه نه دي.

له هغو کسانو چې د برتانيا گټې سپېڅلې بولي، او د هغوی دفاع او ساتنه د ځــان لــه پاره يوه پاکه دنده بولي ددې ټکي په پوښتلو اړ کېږم چې: «آيــا ددې حالــت پــاى او پايله د برتانيا له پاره ښه او نېک بولئ او که نه؟»!

په داسې حال چې د برتانيا دولت ځان د يوه خپلواکې پلوي دولت او ولس پــه توگــه ټولو ختيځو هېوادو ته پېژندلى دى، او ځان يې هر مهال په حق او حقانيــت مشــهور کړى دى نو څنگه کېداى شي چې پر دې ناحق او رذيل حالت غلى پاتې شي؟ او کــه پوښتنه وشي چې «که چوپتيا يې غوره کړه نو څه به وشي؟» په ځواب کې يــې وايــم چې د برتانيا چوپتيا ناشونې ده ځکه د برتانيا دولت د نــړۍ د (۴۰۰) ميليونــو وگــړو

ketabton.com - The Digital Library

واکمن او آمر دی چې څلورمه برخه یې مسلمانان دي. او دې مسلمانانو له اوږدو کلونو د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ د یوه ټینګ تړاو له پاره هلې ځلــې کــړې دي، او ددې دوو خواوو د مینې او محبت د ډېروالي له پاره یې هڅې او غیرت کړی دی. نو که د برتانیا دولت چې د ټولو مسلمانانو له نظره تر ټولو دولتونو خورا اوچت او ډېر حقپــال ګڼــل کېږي[،*] د ایټالیا ددې خیانت په وړاندې څه ونه وایي نو ځان به یې پخپله تر پښــو لاندې کړی وي. نو ځکه ددغو ښکاره دلیلونو له مخې چې وړاندې شول بویــه چــې د برتانیا دولت له خپلو جنګي ببرړیو سره په مېړانه راوړاندې شـــي او دا کــار پــای تــه ورسوي. او په دې ډول روښانه کړي چې نصارایان حق او حقیقت ته ارزښت ورکوي او د کمزورو د لاندې کولو خیال نه لري. د وجدان، انصاف، انسانیت غوښتنه هــم همــدا ده.

[دا مطلب چې د پېښو [خبرونو] په برخه کې راغلی اصلاً مقاله ده او ځکه یې یوه کاپي هغه ځای ته هم ولېږدول شوه]

«««««««««««««««««««««««

## ډاګ [پوسته]

یو روښان او ځلاند ټکی چې د اوسني مهال پر هسک وړانګې ښندي[،*] د ډاګ ټکی دی. ډاګ او ډاګخونې اوس مهال د مدنیت په غوړولو کې خورا ډېره ونډه لري.

دا څو جوتې او ښکاره ګټې یې بیانولی شو چې ووایو که ډاګ نه وای[،*] او که وای خو سمه قاعده او سمبالښت یې نه درلودای[،*] دولتــي پولیتیــک یعنــې سیاســتونه د بېخبرۍ په ډنډ کې ایسارېدل [او*] دوستانه مکالمې، سیاسي مخابرې[،*] اقتصادي مذاکرې او نور له یوې مخې ګډوډېدل.

د سوداګرۍ نړۍ پر داسې یوه ناوړه حالت کېوته چــې د ســوداګرو د دیــوالي کېــدو [افلاس] اعلان به لکه د کوچنیانو د نانځکو په څېر وای. هــو! ځکــه کــه ســوداګریز شریکان د ډاګ په مټ د سوداګریزونو مالونو او څیزونو د څرنګوالي، او د بیې د ختلو

ketabton.com - The Digital Library

يا لوېدلو او نورو خبر ورنه کړي، او په ړنــدو ســترګو پېــر او پلــور، او لېــږد رالېــږد وکړي[،*] له زيان پرته به بل څه په لاس ورنه شي.

او لنډه داچې ډاګ د يوه هېواد د هوساينې، او شتمنی، او نېکمرغی پــه وســيلو کــې راځي. د ډاګ په ګټو کې به يو وړوکی شاعرانه ټکی هم ورګډ کړم وبه وايم: که ډاګ نه وای نو د يوه بېلتون وهلي[،*] غملړلی له يار بېل شوي مين د بېلتانه ليک به د صــبا کوم باد او د کومې کوترې وزره تر غمشريک ياره رساوه؟......

که څه هم ټلګراف په چټکتيا او ژر رسونې کې تــر ډاګ پــه ځلونــو ګټــور دی، خــو ټلګرافي مخابره د ډاګ تر مخابرې تنګه ده چې ډېر څه په کې نه ځايېږي. څرنګه چې دلته مو د بحث موضوع ټلګراف نه او ډاګ دی[،*] نو ځکه به تر دې وروسته بيــا پــر ټلګراف خبرې وکړو، او تر هغه وروسته به پر لېږدوونکو وسايلو يعنې چټــک تلونکــو شيانو لکه اورګاډي، او موټر او ګاډی چې د ډاګ د ليک رسونې د آســانولو يــواځينی وسيله ده[،*] خبرې وکړو. اوس يو څه د خپل ګران هېواد د ډاګ پر مخينې او اړوندو مسالو تېر ېږو او وايو چې زموږ په هېواد کې زمــوږ زړونوتــه د رانــژدې نېــک خويــه شهريار اعليحضرت تر نېکمرغې تخت کېناستنې دمخه د ډاګ چارو ځانګړی نظم نه درلود. آن يو سم ټکټ يې هم نه درلود. که څه هم پوستي ټکټ لومړی ځل د خــدای بښلي امير (شېر علي خان) د حکومت پر مهال رامنځته شوی، او د زړور خدای بښلي ټولواک (ضياٴالملة والدين امير عبدالرحمن خان) په پرتمين سلطنت کې په يوه بله بڼه اصلاح شوی او خپور شوی دی[،*] خو کومه ښکلا او نظم چې پوستي ټکټونو تــه زموږ د پرمختګپال ترقي غوښتونکي هوښيار اعليحضرت ټولواک په دې پېر کې پــه برخه شوی[،*] زموږ د لوړ متبوع دولت په يوه مخکني ټکټ کې هــم نــه دی ليــدل شوی[.*] هغه رنګارنګ او له هنره ډک ټکټونه چې په همايوني نېکمرغــه پېــر کــې رامنځته شوي[،*] نه په انځورونو او نه په ليک او نه د جوړښت په بڼه او نه په ظاهري ښکلا کې د متمدنې نړۍ له نورو ټکټونو هېڅ لږوالی نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

سملاسي د افغانستان د لوړ سلطنت په ډاګ خونو کې اووه ډوله ټکټونه کار بېږي: يــو مروج ټکټونه دي چې په کوچنۍ کچه په دريو بڼو جوړ شوي[:]، يو يې د يــو مثقــالي ټکټونو له پاره چې يوه عباسۍ بيه لري او بڼه يې لاجوردي ده. دويم يې د عــادي دوه مثقاله ليکونو له پاره دي چې بيه يې دوه عباسۍ او رنګ يې زرغــون دی. دربـيم د درې مثقاله عادي ليکونو له پاره دي چې يوه روپۍ بيه او قهوه يي رنګ لري.

د ټکټونو دويم ډول د پارسل يعنې امانتونو له پاره دی چې تر هغوی لږ څه پــه لويــه کچه په دريو رنګونو جوړ شوي دي.[:] يو د هغو پارسلونو له پاره چې يــو خــورد وزن لري[،*] بيه يې يو قران [نيمکه] او رنګ يې زيره يي دی. دويم يې د هغو امــانتو لــه پاره دي چې له يوه خورد پورته تر نيم پاوه وزن ولري. د هغو بيه يوه روپۍ او رنګ يې طلايي وزمه دی. دربيم د هغو امانتو له پاره دي چې يو پاو وزن لري. بيه يې دوه روپۍ او رنګ يې سور دی. سربېره پر دوی يو بل ډول ټکټ هم رامنځته شوی چې يوازې د دولتي اړوندو چارو ليکونو ته ځانګړی شوی دی.

د ډاګ يو قانون هم د همايوني اعليحضرت په لوړه اراده چاپ او خپور شــوی چــې د ډاګ او ډاګ خونو چارې يې تر يوه ډېر سمبال نظم لاندې راوستې دي. نو ځکه ويــل کېږي چې د افغانستان په خدای ورکړي دولت کې هماغسې چې زمــوږ زړونــو تــه د رانژدې اعليحضرت ټولواک په نېکمنرغه پېر کې د پرمختګ او تمــدن خــورا ډېــرې نښې را ښکاره شوې[،*] د افغانستان د لوړ دولت د ډاګ چارو سمبالښــت هــم ددې (سراجيه پېر) د پرمختګونو له خورا ګټورو ښېګڼو څخه ګڼل کېږي چې پخوا نه و.

په دې برخه کې کوم خدمتونه چې عزتمند (حسن حلمي افندي) طرابزوني د ټکټونو په طرحه او د ډاګ د قانون او نورو اړتياوو په چمتو کولو کې د همايوني فرمان له مخې ترسره کړي[،*] په حقه چې د ستاينې او پېرزو وړ دي.

ketabton.com - The Digital Library

**زموږ پرمختګپال او عدالت خپروونکي اعليحضرت پاچا دا مهال د روپيو د سکې او د خپل لوړ شاهانه دولت د نورو مروجو وسيلو د سمولو هوډ هـم کـړی او فرمـان يـې ورکړی او دغه افندي يې د وسايلو پر چمتو کولو ګومارلی دی.**

**حضرت منان ښتن موږ د افغانستان خلکو ته دداسې يوه پوه او پرمختګپال پاچا تر سيوري لاندې د راحت او نېکمرغۍ هوسايي را په برخـه کـړې چـې د پرمختګونـو شاهانه عصر ته يې د افغانستان د تېرو پېرونـو رخـه [حسـد] راڅـي[.*] د دوی د شاهانه تخت کېناستنې له برياله ورځې راهيسې کال په کال، مياشـت پـه مياشـت [او*] ورځ په ورځ د يوه نوي پرمختګ نښه او د نوي مـدنيت بېلګـه د دوی تـر لاس لاندې شاهانه مملکتو کې راڅلېږي چې (سراج الاخبار) به انشاالله تل خپل لومړني مخونه د هغوی د يادونې او ذکر په ګانه پسولي او درنښت او وياړ به تر لاسه کوي.**

ketabton.com - The Digital Library



# ټېلېفون او موټر

يو دوه لنډ ټکي! چې يو يې له څلورو او بل يې له پنځو {پښتو کې له اوو} او بل يې له څلورو تورو جوړ دی، خو د مدني نړۍ په دغو دوو نويو ټکو کې څومره ګټې نغښتې دي! د مدني اختراعاتو په دغو دوو اغېزناکو آثارو کې د واټن لېرې والی يې د واټ د وهلو په زور له عالمه لېرې کړی او د انسان غږ يې دومره لوړ کړی چې له لېرې واټنو او لارو څخه د يوه غږ بل ته اوروي.

له هغو ګټو چې ټلګراف يې رسوي، سترګې نشي پټېدای. د ټلګراف سيمانو لکه د غنې جال د ځمکې مخ نيولی دی. آن د چاپېرو سمندرونو تل يې هم د يوه اوسپنيز جال په بڼه اړولی که چېرې هغه توري چې د نړۍ ټلګرافونه يې هره ورځ له ختيځ نه لوېديځ او له شمال نه جنوب ته استوي- راستوي، و شمېرو نود حساب علم به يې د شمېر وس ونه مومي او ددغه شمېر لپاره به نوم او عدد ونشي موندلای. خو په ټلګراف او ټېلېفون کې توپير دادی چې ټلګراف دمخابرې او ټېلېفون د مکالمې وسيله ده. که مکالمه(خبرې) له مخابرې (ليکتورو له استولو) څخه ارزښتمند نه وای، نو به هويلچې "المکتوب نصف الملاقات (ليک نيم ليدن دی) يا دا چې "المخابره نصف المشاهده" (ليکتوري استول نيم ليدل دي).

بر ښښنا د دوو تنو د افادې د حرکاتوځرنګوالی او ټکي او خبر د ليد شېبو په چټکتيا د ليک او کتابت په بڼه رسوي چې د بر ښښنا دا صنعت پ ټلګراف کې رابر ښښي. او په عجيبې چټکۍ سره له لېرې واټنو څخه د يوه تن له خولې نه راوتلې خبرې په همدغه بڼه او ټکي په ټکي دبل د غوږ پردو ته په مقناطيسي ټېلېفون کې راڅرګندېږي.

ځکه نو په ټېلېفون کې د بر ښښنايي صنعت مهارت ډېر کار بدلی دی، ځکه چې ټېلېفون له د ليک له منځګړيتوب پرته او د يونکي د خبرو د بڼې له اړولو پرته په هماغه بڼه او ټکي په ټکي د اورېدونکي د غوږ پردو ته رسوي او په خپلې دې چټکۍ سره يې له ټلګراف نه ميدان ګټلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

راغلو رېل (اورګاډي) او موټر ته: په اورګاډي او موټر کې هم چې ددې مدني پېر لـه نويو اختراعګانو څخه دي، يوه ځانګړې او يوه عامه ځانګړنه رابرېښي.
د اوسپنې پټليو د نړۍ د مخ ډېرې وچې د اوسپنې په يوه جـال کـې رانغښـتي دي. اورګاډي چې کومې ګټې مدني نړۍ ته رسولي، د يادولو اړتيا نه لري. د اورګاډي ډبـې (واګونونه) ډېر وګړي او مالونه په ښه چټکتيا سره له يوه ځايه بل ته لېږدوي چې پـه دې ډول سره يې له عامو ګټو څخه سترګې نشي پټېداى.
خو راځۍ اوس داسې وبولو چې په يوه ښېرازه او زرغونه دره کې چې بهاندې اوبه لري او يا په يوه هواره او زرغونه ببديا کې يو پوخ سړک غزېدلی او پر دغه سړک شپږ يـا اووه موټرې چې د يوه خصوصي اورګاډي د ډبو هومره کېږي، پـه بېسـارې چټکتيـا روانې دي. په هر موټر کې پنځه شپږ تنه ناست او د زړه خواله کوي او هم د برېښنا په چټکتيا واټنونه رالنډوي او د شاوخوا ښکلو منظرو له ليدلو خوند اخلي.
که څه هم د اورګاډي د لومړۍ درجې ډبې کې د "فيتن" يا "ليندوی" مورونو پرتلــه د هوسايۍ آسانتياوې بشپړې او ډېـرې دي، خـو زړځلـه افسـوس دی چـې د دغـې هوساخونې واک د هغو څلورو پنځو تنو په لاس کې نه دی چې ددغې خونې څښتنان بلل کېږي. په داسې حال کې چې د ليدنې او ګرځېدنې واک پخپله د سپرليو په لاسو کې دی. نو که څېړې د اورګاډي پر عمومي ارزښتونو سترګې نشي پټېداى، موټر هــم ځينې داسې ځانګړي کمالونه لري چې د هېرولو نه دي.
ددې مدني پېر دا دوه اثره يعنې ټېلېفون او موټر هم د اعليحضرت اميــر حبيــب الله خان سراج الملة والدين د واکمنۍ پر مهال د افغانستان په لوړ دولت کې د پرمختګ د نورو نښو په څېر د ګټې او خير رسونې ډګر ته راوتلې دي.
لومړۍ ځل مبارک ارګ او د پلازمېنې حکومتي اداري د ټېلېفون پـر مـزو ونښـلول شوې چې چارې يې چټکې او آسانې کړې. تر دې تجربې وروسته د ټولواک پرمختګ غوښتونکی نظر دغې ګټورې وسيلې ته ورواوښت او په درې څلورو کلـو کـې يــې د جلال آباد لوی ولايت، د لغمان {لمقان} "سراج کلا"، د کوهستان ولايت جبل السراج او د پغمان {پمقان} ښايسته کلی له مبارک ارګ سره دټېلېفون پـه مـزو ونښـلول شول. او هيله ده چې زموږ د لوی او ترقي غوښتونکي ټولواک له برکته، دده د شاهانه هېواد نور ولايتونه هم په دغو حياتي مزو ونښلېږي او د هېوادو تـولې سـيمې د يـوه مينه ناک محفل بڼه غوره کړي، {داسې} چې د شاهانه هېواد د لېرو سيمو وګــړي د يوه مينه ناک محفل په څېر يوه له بل سره د زړه خواله وکړي

ketabton.com - The Digital Library

د چټکو موټرو راتګ هم د سراجي پېر له پرمختګونو څخه دي چې زمــوږ ســپېڅلي هېواد ته د پرمختګ د خپرېدو په دې پېر کې را رسېدلي چې تفصيل به يې که خدای کول د سراج الاخبار په راتلونکو ګڼو کې د نظر د خاوندانو پام ته وړاندې شي.

زموږ ستر او ګران ټولواک په خپل شاهانه هېواد کې د ټېلېفون د مزو په غزولو سره د پرمختګ او تمدن يو لوی واټ پرانستی چې لويې ګټې او بېشــمېره ښــېګڼې يــې د مدني نړۍ له قدر پېژندونکو څخه پټې نشي پاتېدای. پــر هغــو ګټــو ســربېره چــې ټېلېفون يې سوداګرۍ او سياست ته رسوي، په هېود کــې يــې داســې يــو روحــاني نژدېوالی هم راوستی چې د جسم لېرې والی يې له منځه وړی دی. ددغې وسيلې پــه مرسته د جلال آباد ښار چې له کابل څخه نژدې پنځوس کروه واټن لري، يــو لــه بــل سره غږېږي او خبرې کوي. چټکې موټرې هم د پېښور او کابل ترمنځ د دولسو ورځو واټن چې نژدې سل کروه کېږي، په اتو يا لسو ساعتو کې وهي. او سره له دې چــې د مدنيت دا دوه وسيلې لا هم د ځينو لپاره ځانګړې دي او ټول يې نشي کارولی، خــو د ښار په زړه کې د ټېلېفوني مرکزونو په جوړېدو سره چې د اورېدو له مخې يې کارونه د پيل په درشل کې دي او د "موټري شرکت" د ګاډو په رارسېدو سره چې دغه شرکت د ټولواک په لاسنيوي جوړ شوی او تفصيل يې وروسته راتلونکی دی، که خدای کول دا دوه ګټورې وسيلې به په شاهانه هېواد کې د خبــرو او مخــابرې او تــګ راتــګ او سوداګرۍ په برخه کې عامو وګړو ته ستر چوپړ وکړي.
پر موږ ده چې د خپل سپېڅلي او ګران ټولواک د اوږده عمر او روغتيا دوعــا د ايکــي يوه څښتن دربار ته وکړو او غوښتنه وکړو چې پاچا په خپل پاچايي همــت اوغيــرت سره د خپل شاهانه هېواد او ملت د پرمختګ او رېښتوني مدني ترقۍ لپاره پېرزوينې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



# د درونتې پل

هغوی ته چې د افغانستان پر جغرافيايي موقعيت تر څه ځايه پوهېږي، پټه نده چې زموږ د ګران افغانستان سپېڅلې خاوره د منځنۍ آسيا يوه لويه ټوټه جوړوي او د خپل آزاد سلطنت، يو والي او مذهبي ګډوالي، پرتم او ودې له پلوه په مرکزي آسيا کې يوه لوړه مادي او معنوي درجه لري او د ځکمني موقعيت له پلوه هم ډېر پورته او لوړ پروت دی.

ددې سپېڅلې خاورې ځرنګوالی لکه د يوه لوړ بام دی چې د مرکزي آسيا په لوېديځه خوا کې پرته ده. دا بام له شمال ختيځې خوا څخه د هندوکوه يا په بل نامه د "هندوکش" او له لوېديځ پلوه د "بابا غره" له لړيو او د غور له غرونو سره چې لوېديځ پر لور غزېدلي پراته دي، ترلی دی. په ختيځه خوا کې ورو ورو ټيټ شوی، له "سليمان غره" سره چې له شمال څخه د جنوب پر لور غزېدلی دی، تړاو مومي.

له دې لوړ او ستر بام څخه دوه کړې سطحې جوړې شوې چې د افغانستان ټولې اوبه له همدې کړو سطحو څخه بهېږي. له دې کړو (مايلو) سطحو څخه يوه د جنوب او جنوب لوېديځ پر لور را کوزه شوې چې ټولې هغه اوبه چې د هېواد له ختيځ او شمال څخه را بهېږي، دې کړې سطحې ته راکوزېږي او د "زرې" يا "سيستان" ډنډ {جهيل} ته تويېږي. په هغو سترو سيندونو کې چې دا جنوب لوېديځه حوزه يې جوړه کړې او د "زرې" ډنډ ته تويېږي، د "هلمند سيند" راځي.

بله کړه سيمه د کابل حوزه ده چې ختيځ پلو د "هندوکش" او "سپين غره" تر راغلې ده. هغه ډول ډول او چټک بهېدونکي رودونه چې د "هندوکش" د غرونو له لړۍ څخه د ډاروونکو او بوږنوونکو درو له منځه رابهېږي د "پنجشېر" ، "غوربند" او نورې اوبه له ځانه سره رانغاړي او د "دوآب" په نامه سيمه کې، د کابل له اصلي رود سره ګډېږي او

ketabton.com - The Digital Library

یو لوی سیند ترې جوړېږي چې د "ننګنهار" {ننګرهار} په نامه د "مشرقي" لــه لــوی ولایت څخه تېرېږي او پېښور ته نژدې له اټک سره ګډېږي او د سند په حــوزه کــې سمندر ته لوېږي.

د ابل دې لوری سیند د "ننګنهار" ستر ولایت په منځ دوه کړی، چې د "جــلال آبــاد" لوی حکومت {لویه ولسوالي} یې پر یوه خــوا د "لمقــان" {لغمــان} د ســیمې لــوی حکومت یې پر بله خوا پرېښی دی. ددغو دوو ولایتو ترمنځ له سین څخه د خلکــو او څارویو تېرېدل په جالو او ببړیو کې شونی کېږي. که څه هم کله کله په ځینــو ځــایو کې سین پر خپل سر د تېرېدو لار ورکوي، خو دغه ګودرونه له خطر او وېــرې څخــه تش نه دي. د جالو او ببړیو د تېرېدو سیمه هم معمولاً په درونټه کې وي چې له جلال آباد ښار څخه نژدې یو نیم ساعت واټن لري.

د درونټې دا سیمه د خلقت له عجایبو څخه یو ځای دی چې د طبیعت فرهاد په خپلې پیاوړې ترخځې {تېشې} سره له ټرو ډکې دوه غرنی توټې په یوه شیرین {خواږه} او زړه راښکونکي ډول دوه ځایه کړي او د کابل د لوی سین اوبو ته یې د هغو له منځه د تېرېدو لار ورکړې ده.

له همدې کبله وه چې زموږ سپېڅلي واکمن (سراج الملــة والــدین) او زمــوږ پــوه او دینپالي ټولواک د درونټې په همدې سیمه کې یو پرتمین بې ستنو اوسپنیز پل جــوړ کړی چې ساری به یې د هېڅ نړیوال ګرځندوی سترګو په منځنۍ آســیا کــې نــه وي لیدلی.

داسې دوه غرونه په نظر درولۍ چې د دوو ډبرینو دیوالو په بڼه د طبیعت معمار له دوو خواوو هسک درولي وي. ددغو دوو حیرانوونکو دېوالونو په منځ کې یو لوی او ژور رود په خورا کرارۍ سره ته وا چې ډنډ دی، بهېږي. دغه تنګی چې که "آبنا" هم وبلل شي پر ځای ده، نژدې نیم میل اوږد شوی چې که یو څوک ددې دوو حیرانوونکو طبیعــي دېوالونو په منځ کې ددې تنګي په خوله کېنې ببړۍ ورګډه کړي، نو ځان به ورته په یوه بله دنیا کې وبرېښي د خلقت د رنګارنګو چارو دې کوډګریو ته به یې ګوته پر غــاښ شي او د حیرانتیا په دې نړۍ کې به یې بې اختیاره د "هــوو" یــوه چیغــه لــه خــولې راووځي چې ددغه "هوو" انګازه به ددغې زړه وړونکې درې په ټرو کې زرګونه نــورې

ketabton.com - The Digital Library

چیغې راوزېږوي او سرې ته ددغه حالت په لیدو او ددغو انګازو په اورېدو د خوښۍ او سرمستۍ یو حالت پیدا کېږي.

په زړه مې دي چې د ۱۳۲۴ کال په لومړیو کې له بختور سلطنتي پوځ سره یو ځای په همدغه سیمه کې چې اوس پرې د "درونټې" ستر پل درول شوی، له جلال آباد نــه د "لمقان" پر خوا اوښتو. خو څه اوښتل! یو لوی پاچایي پوځ و چې پلي او سپاره عسکر، توپخانه او ورسره مله پلي او سپاره پوځیان پکې راتلل او شمېر یې نژدې پنځه - شپږ زرو سړیو، او شپږ - اووه زره دواب (؟) او څارویو ته رسېده. د اوښتو لپاره لــه جــالې پرته بل هېڅ نه و. جاله له شنازو (ډکو شــویو مشــکونو) څخــه جــوړه وي او پنځــه ویشت- دېرش شنازونه یې په لرګیو او تختو سره یو له بل سره نښلولي او پر مخ یې د تختو یوه سطحه (ماسدیر؟) جوړه کړې وي چې سړی له اوبو پورې باسي.

اوس نو تصور وکړئ داسې یو څپاند سیند او دومره ګڼ او لوی پوځ او د اوښتو دومره عجیب او غریب وسایل!

دغه ډول راته په زړه دي چې زموږ سپېڅلي اعلیحضرت ټولواک پر یوه لویه ډبره چې اوس پرې د درونټې د پرتمین پله بنسټ ایښودل شوی، ناست و او د خپل ســلطنتي پوځ د اوښتو ننداره یې کوله. د پوځ تر اوښتو وروسته چې د سر له زیان پرته تر سره شول، زموږ زړور او سپېڅلي اعلیحضرت ټولواک دغه ځای ته بیا د مهربانۍ یــو نظــر ورستون کړ او د خپل لوړ نوراني حضور حاضرینو ته یې وویل:

"د ښښتن په غوښتنه به مې په کلک هوډ، د تېرېدو په دې ګران ګــودر کــې د خپــل رېښتوني ولس د اوښتو - راوښتو د لارې خنډونه له لړ مهال وروسیته لېرې شي."

هغه مهال ددغه نېکمرغه پاچا د تخت ناستې څلورم بختور کال و. پروســږکال چــې کله په موټر کې له ټولواک سره پر پله د ګډې تېرېدنې نېکمرغي را په برخه شوه، نــو هغه ځای ته مې ور وکتل او درې کاله دمخه له هغــه څخــه وېروونکــې او خطرناکــه تېرېدنه مې هماغه شېبه را په زړه شوه او بې اختیاره مې ددې خبرې پر رېښــتینولۍ اعتراف وکړ چې "د ټوالواکانو خبرې د خبرو ټولواکانې دي" (کــلا م الملــوک ملــوک الکلام). او د خپل سپېڅلي ټولواک له حکمته ډکې هغه خبرې را په زړه شوې، دده د سپېڅلو شاهانه ټکو ستروالی او پرتم مې په یوه بې ریا دوعا کې یاد کړ.

ketabton.com - The Digital Library

د درونتې پل د درونتې په نامه درې په بهرنۍ خوله کې په څلــورو پــولادي منــارونو باندې په اتو رسیو کې پر هوا ځوړند ساتل شوی دی. دوه ډېرې پیاوړې ستنې (پایې) چې له سمنټو او ډبرو او لویو اوسپنیزو میخونو څخه جوړې دي، یوه د سیند پر دې او بله پر بله غاړه درول شوې دي او پر دغو ډېرو پیاوړو ســتنو دوه ډېــر لــوړ ښــکلي مشبک {په تزییني لیکو ښکلي شوي) پولادي منارونه د سیند پر دې خوا او کټ مټ همداسې دوه نور پر هابلې خوا جوړ شوي چې دا ټول پل له دې ټول اوسپنیز ستروالي سره همدې دوو ستنو او او څلورو منارونو په اتو پولادي رسیو کې نغښتی او پــر هــوا پورته کړیدی. ددې پله اوږدوالی چې د Suspension Bridge (د ځوړند پلــه) لــه ډول څخه دی، ۳۰۶ فوټه { ۹۳متره} او د پله پر مخ د سړک پسور ۱۰ فوټه {درې متــره} دی. ددې ګټور پله انجنیر ښاغلی هالیډی انګریز و چې په حقه یې د مسلک له مخې د صنعت ټول مهارتونه پکې کارولي دي.

پر کابل سیند ددې پله د ترنې په اړه د ټولواک پېرزوینه سربېره پر دې چې زرګونــه سیاسي، سوداګریزې او پوځي ګټې لري، د رېښتیني ولس د وګړو لپاره یې د تېرېدو- راتېرېدو زرګونه آسانتیاوې هم چمتو کړي چې زړونو ته د نژدې او مهربان ټولواک په حق کې د کایناتو د هستوونکي خالق درګاه ته زرګونه زره ګرځنده وګــړي بــې ریــا دعاوې کوي. سراج الاخبار هم د زړه له کومي او د روح له رېښتینولۍ، له لوی ښتن څخه د خپل دې ترقي غوښتونکي سپېڅلي پاچــا د اوږده ژوندانــه او روغــې ســتې غوښتنه کوي چې ډېر کلونه خپلې پانې د دوی د شاهانه مدنیت غزونې او ودانپــالنې په یادولو سره ښایسته کړي.

ketabton.com - The Digital Library



# قلمي مصاحبه

د هند چاپ «ایډیوکېټ» ورځپاڼې چې په انګریزي راوځي او خپرېږي، د سراج الاخبار په اړه یوه اوږده مقاله لیکلې، چې موږ یې پر ځینو فقرو یو څه تفصیل او شرحه وړاندې کوو:

«اټکل دی چې د کابل نوې ورځپاڼه به د هند د مطبوعاتو په څېر آزادي تر لاسه نشي کړای- یعنې هغه آزادي چې د اعلیحضرت امیر صاحب قدرت ګډ وډ کړی شي.»

ددغې ورځپاڼې دا فقره ددې خبرې ښکارندویه ده چې د ورځپاڼې خبریال د افغانستان د ستر اعلیحضرت ټولواک د قدرت پر څرنګوالي او زموږ افغانانو د دینپالنې پر رېښتینولۍ او اخلاقو سم نه پوهېږي او خبر نه دی. نو ځکه مو وړ وبلله چې ددې حالت او حقیقت په اړ یو لنډ معلومات وړاندې کړو: د اعلیحضرت امیر صاحب قدرت داسې شی نه دی چې د کوم خبریال د قلم څوکه یا د کومې خپرونې پاڼې یې مخه ونیسي یا یې ګډه وډه کړي. ځکه چې پخپله ټولواک ذات اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان د اسلام یو پاچا دی او د افغانستان خاوره له اوږدو زمانو راهیسې یو اسلامي هېواد دی. د افغانستان د ولس ډېرۍ مسلمانان دي. تر هغو چې د اسلامیت دا ستر درنښت په دې دریوړ ټکو کې پاتې وي- چې انشاالله تر پایه به پاتې وي- د افغانستان د اعلیحضرت ټولواک ذات واک او قدرت ته هېڅ څیز او هېڅ ځواک زیان نه شي اړولی. ځکه چې د اسلام بنسټ د څښتن، د هغه د استازي او ټوالک پر اطاعت ولاړ دی. د هېڅ مسلمان قلم او د هېڅ مومن زړه او ژبه د خپل دین او مذهب بنسټ ته د زیان اړولو پر لور نه کږېږي او نه راضي کېږي، مګر دا چې د ایمان څښتن نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

له دې فقرې وروسته ليکي: «شونې ده چې دا ورځپاڼه تر يو څه مهال وروسته آزادي تر لاسه کړي (لکه په ايران کې چې له مشروطه حکومت نه وروسته وشـــول)، خـــو د آزادۍ د مخنيوي له پاره د کابل قوانين د هند تر قوانينو کلک او اغېزناک دي».

د ايډيوکېټ ددې فقرې په ځواب کې وايو: د څښتن زرځله ستاينه چې سراج الاخبار يوه آزاده ورځپاڼه ده چې د يوه ډېر آزاد ټولواک تر معارفپال سيوري لاندې يوه خورا آزاد ملت ته په يوه خورا آزاد هېواد کې د پوهې او پوهنې ځلاوې خپروي. که آزادي د الهي حقونو او نواميسو خوندي کول، د محمدی صلی الله عليه وسلم د غراِ شـــريعت، دولتي او ملي خپلواکۍ ټينګوال او د پرديو حکومتو له مرييتوب نه ځان ســـاتل وي- چې له آزادۍ نه د مسلمانانو اصلي اخيستنه همدا ده- نو لله الحمد افغانستان يې په خورا بشپړه بڼه درلودونکی دی. خو که د آزادۍ موخه د انسانانو په «لائل والـــي» [؟] کې وي او د هېواد څپ ځپانده کولو او خوځولو او د ولسي افکارو ګډوډولو تـــه آزادي ووايو، نو له دغسې يوې آزادۍ نه د رېښتوني ساتندوی او مرتسندوی څښتن لور تـــه پناه وړو. په ايران کې بې بنسټه ګډوډې او مشروطه حکومت د افغانستان له پاره نـــه يوازې يوه بېلګه نه ده چې د عبرت درس دی. نژدې څلور کاله کېږي چې له ويجاړۍ او څپ ځپاندۍ پرته ددغې آزادۍ بله ګټه چا ونه ليده. خوندي لارې يې نا امنه شوې؛ هوسايي او سوکالي يې ګډه وډه شوه؛ په هېواد کې يې د پرمختګ او تمدن يوه نښـــه هم رامنځته نه شوه؛ او په پای کې يې نتيجه داشوه چې پردي حکومتونه پرې يرغـــل وروړي. په داسې حال کې چې د ايران وګړي د افغانانو پـــر تلـــه زغـــم لرونکـــي، بـــې خوځښته او پاسته دي او د لوستو کسانو شمېر هم په کې تر څه ځايه ډېر دی. لاسَمَحَ اللهَ اَعُوذُ بالله! که دا ډول واهي او بې بنسټه افکار افغانستان ته رامات شول، د کايناتو له مخ نه د افغانستان له ورکولو پرته به بله نتيجه ونه لري. ځکه د افغانـــانو غـــاړه نـــه ايښودنه، تند خوی او اورپکی مزاج به د هغوی له ناپوهۍ او بې خبرۍ ســـره لاس يـــو کړي او تر هغو چې خبر برې، ځان او وطن به يې په سين لاهو کړی وي. هغه قلم چـــې ددې ډول فتنې او فساد په برخه کې خوځېږي، او ليکنې کوي، د خپل ملت او هېـــواد غليم به وي، چې الحمدلله هغه قلم چې سراج الاخبار راباسي، د وطن مـــين، د ملـــت خواخوږی، ټولواک ته صادق او داسې يو قلم دی چې يواځينی مسلک يې ملت تـــه د

ketabton.com - The Digital Library

خپل ټولواک د ګرانښت او زړه سوي ښکاره کول، د ولس په زړه کې د وطن او پاچـا د مينې ځايول او د وطنوالو ويښول او تر شونې کچې د هغوی په خبرولو کـې هڅـه او هاند دی.

د ايډيوکېټ خپرونه، وړاندې وايي: «پر هنـد د کمپنـۍ د واکمنـۍ پـر مهـال چـې مطبوعاتو پر حکوکت نيوه کې کولې او د کمپنۍ حکومت نيوه کـې ځـان تـه زيـان رسوونکې بللې، نو اعتراض کوونکي تل زندانو ته استول کېدل. په داسې حال کې چې په افغانستان کې سزاوې تر دې هم سختې دي.»

په دې فقره کې، سره له دې چې زموږ ملګرې [خپرونه] ځان په ښکاره زموږ سپېڅلي متبوع حکومت ته خير غوښتونکې او لارښوونکې بر ښيوي، خو ورسره ورسره اشـاره دې ته ده چې حکومت پر سراج الاخبار بدګومانه کړي او له منځه يې يوسي او په دې وينا کې يې د ښکاره او پټ نيت (د اسم او مسمِی) ترمنځ توپير بر ښبني.

هر څه چې دي، له دې به تېر شو او دا به واورو چې وايي: «که څه هم دا نوې خپرونه د لومړنيو زده کړو له پلوه ګټوره پر بوزي او د افغان ولس د فکري ودې له پاره چې نـيم وحشيان (!) دي، په زړه پورې بلل کېدلی شي، خو موږ دا خپرونه د افغانستان لومړنۍ خپرونه نه شو بللی».

اوس نو که افغان ولس نيم وحشي بولئ نو ايټالويانو ته څه واياست؟ البته چې هغـوی خو متمدن بلل کېږي! ځکه چې د اروپا په سترو ځواکونو کې راځي او په اروپا کې بـه له بشپړ تمدن پرته بل څه وي؟

افغان ولس هېڅکله هم، نه په کورنيو شخړو او نه له پرديو سره په جګړو کې انسانان ژوندي په اور نه دي سوځولي؛ د ښځو تيونه، لاسونه او پښې يې پرې کړي او پـه دې دول يې هغوی وژلي نه دي؛ نا بالغه کوچنيان يې نه دي وژلي؛ ناحقـه يـې پـر پـردو ملکونو تېری نه دی کړی؛ که بل تېری کړی يوازې يې د ځانونو دفاع ته ورداننګلي دي؛ عجيب وحشت! غريب مدنيت!!

تر هغو چې د طرابلس پر مسلمانانو د ايټالويانو له خوا راغلی وحشت د يادونو له پاڼو پاک شوی نه وي، شرم دی چې څوک د مدنيت او انسانيت نومونه اخلي. [داسې چـې ده] ټول بشريت يا بشپړ وحشي بلل کېږي او يا نيم وحشي والِسلام!

ketabton.com - The Digital Library

«ایډیوکېټ» چې سراج الاخبار د افغانستان لومړنۍ ورځپاڼه نه بـولي، دلیـل یـې دا راوړي چې ګواکې پنځلس کاله د مخــه د خــدای بښــلي او جنــت تــه تللــي پاچــا اعلیحضرت ضیاءالملة والِدین [امیر عبدالرحمان خان] پــر مهــال لــومړنۍ خپرونــه راوتلې وه او بیا دا هم وایي چې د هغې خپرونې عمر یوازې څو ورځې و او د بندېــدو دلیل یې همداسې تت [ګونګ] بیانوي او د خپلو جملو په پای کــې د پــنځلس کالــه مخکنۍ خپرونې د بندېدو پر دلیل داسې لیکي: «وایي چې افغان ملایانو د ورځپــاڼې راوتل د پیرنګیانو دود باله او کرکه یې ترې کوله او داسې یې ګڼله چــې د ورځپــاڼې خپرېدل به پر افغانانو د هغوی اغېز له منځه یوسي».
لومړی به دا ووایو چې پنځلس کاله دمخه د کومې خپرونې په اړه مو معلومات ترلاسه نشوای کړی. له هغو کسانو څخه مو چې په پلازمېنه کابل کې د مطبعې د جوړېدو لــه لومړۍ ورځې همدلته و، وپوښتل، هېچا په دې اړه معلومات نه درلــودل او ددې ډول خپرونې شتوالی یې رداوه. که په پام کې هم وه چې راووځي، پر هغه مهال د خپرېدو ډګر ته نه ده راوتلې. او[ له بلې خوا] زموږ د ګران هېواد درانه عالمان هېڅکله هــم د خپل متبوع دولت د سیاسي افکارو خنډ شوي نه دي او نه کېږي.
د افغانستان درنو عالمانو هېڅکله هم د ورځپاڼو راوتل د پیرنګیانو کار نــه دی بللــی. هغه خپرونې چې له پیرنګي هېوادو څخه راځي هغوی ته پیرنګي او هغه چې له مصر او سوریې نه په عربي ژبه خپرېږي، هغوی ته عربي او د ترکیې او فارس خپرونــو تــه ترکي او فارسي وایي او سراج الاخبار ته چې نوم یې د برکت له مخې زموږ د سپېڅلي پاچا له نامي نامه (سراج الملة والدین) څخه د اخیستنې ویاړ ګټلی دی، ډېرئ ښه پام لري او په ښه سترګه ورته ګوري، داسې چې له سترو استادانو څخه ځینو په لیکلــې بڼه او ځینو په خولې ستاینې هم ورته ویلي دي.

ketabton.com - The Digital Library



# وحشت او مدنیت

د «وکیل» ورځپاڼې د وحشت او مدنیت پر تولې (توازن) یو په زړه پورې بحث کړی او د اسلامي نړۍ د پخوانیو زمانو د وحشت مقابله یې د اوسني مهال د متمدنو هېوادو له تمدن سره په ښه ډول روښانه کړې او وایي چې د اروپاییانو په ادبیـاتو، تـاریخونو او روایتونو کې د مسلمانانو د وحشت په اړه له مبالغې ډکې افسانې راغلي چې د خپلـو متمدنو اروپایي ملګرو د ډاډ له پاره دا منو چې مورږ مسـلمانان پـه تېـرو زمـانو کـې ظالمان، تېري کوونکي او حشیان وو او د هغوی د تمدن او تهذیب لارویان، خو غواړم د مسلمانانو وحشت او د اروپاییانو مدنیت په لړ تفصیل سره پرتله کړم.

په ۱۳ کال کې حضرت ابوبکر صدیق رضیَ الله عنهُ چې هغه مهال د خلافت پر ګـدۍ ناست و، په شام کې د رومي واکمنو له ناوړه ظالمانه کړنو څخه پـه تنـګ شـو او یـو کوچنی پوځ یې اسلام ته د بلنې په موخه شام ته واستاوه. کله چې پـوځ وخوځېـد، پخپله داحضرت د لښکر له مشر سره چې پر آس سـپور و، یـو میـل پلـی ولاړ او وړ نصیحتونه یې ورته وکړل. کله چې لښکرمشر حالت دا ډول ولید، نو لاس تړلـی یـې داسې عرض وکړ چې ای امیرالمومنین رضیَ الله عنهُ: نور دا حالت زغملی نه شم چې ته به پلی روان یې او زه به پر آس سپور یم. امیرالمومنین رضیَ الله عنهُ و فرمایل چې مه ته کښته کېږه او نه زه سپر بېږم او په رښتیا چې زه داسې بولم چې د ښـتن لـه پاره پلی خوځېږم. او وروسته یې دا لاندې نصیحتونه واورول:

۱ــ هېڅکله به له چا سره غدارې نه کوئ،

۲ــ د غلیم له پوځ نه چې څوک وژل کېږي، د بـدن د غـړو د پـرې کولـو پـه ځېـر د هغوی له مړو سره به ناوړه چلند نه کوئ،

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ زاړه کسان به سره له دې که پخپله یا یې خپلوان په جګړه کې درسره مخامخ وي، نه وژنۍ،

۴ـ پر ښځو به برید نه کوۍ،

۵ـ د شیدو بچیانو او کوچنیانو ته به لاس نه وروړۍ،

۶ـ څاروي به نه ځوروۍ او د وزو او پسونو پښې به نه پرې کوۍ،

۷ـ اوښان به نه ځوروۍ او که چېرې مو غوښې ته محاله اړتیا پیدا شوه، نو بویه چې په روا ډول ترې یو حلال کړۍ،*

۸- هېڅکله هم د کجورو (خرما) ځنګل ونه سوځوۍ او نه زرغونه ونه پرې کړۍ او نه اور وروا چوۍ،

۹- آباد ځایونه ویجاړ نه کړۍ،

۱۰- له غلا او د چا پر مال له تېري ځان وساتۍ او په یوه خبره کې هم ډار او نامردي له ځانه څرګنده نه کړۍ.

* [د ورځپاڼې په اصلي متن کې ددې نصیحتونو پرله پسې شمېره له اوومې وروسته مخامخ نهمې ته اوښتې او اتمه غورځېدلې ده. په دې ډول هلته ټوله شمېره یوولسو ته رسېدلې ده.]

دادي هغه قاعدې چې د اسلام ستر خلیفه جګړې ته تر روانېدو دمخه خپل پوځ ته د لارښوونې په ډول اورولې وې او مسلمانانو هم ټولې په هغه جګړه کې ټینګې په پام کې نیولې وې. د خدای د هغه بندګانو حال ګورۍ چې که چا به غشی درلود د ایښودو چانټه به یې نه وه؛ که چا به نیزه درلوده، توره به یې نه وه؛ که توره به وه ډال به نه و؛ د ونو څانګې به یې رانیولې او غشي به یې ترې جوړول او نه یې زغرې اغوستلې او نه جوشن- ساده او شیرې کالي به یې وو، ز ېرمه به یې کجورې وې او هر چا به خپله برخه پورته کوله او جګړې ته به روانېده. هر کلي او ښار ته چې به رسېدل، نو دا ټکی به یې ویل چې: «راځۍ ای خلکو چې له یوه څښتن پرته د بل چا عبادت و نه کړو او شریک ورسره ونه ونیسو». که به مشرکانو دې الهي بلنې ته په نیزه ځواب ووایه، نو زړورو مسلمانانو به هم تورې له تېکو وایستلې او پرې ور وبه ځغستل او تر جګړې وروسته به سملاسي دا نتیجه برسېره شوه چې د «اللهُ اکَبـرّ» د غـږ لـه سـتروالي او درندوالي به د کفر او الحاد نښې نسکورې شوې او له څـه وخـت وروسـته بـه ټـول مشرکان د باطلو معبودانو له ننګې واوښتل او د لوی څښتن د خوندیتابه تر سـیوري

ketabton.com - The Digital Library

لاندې به چې د ځمکو او آسمانونو خاوند دی، راغلل او د اسلامي جنډې له هسکېدو سره سم به د ښار وګړو خپلواکي تر لاسه کړه او اسلامي بريمنو به خپل بروالي او واکمني ته په پام سره، د نيول شوي ښار وګړو ته هېڅ نه ويل او آن دا چې د هغوی په ساتنه کې به يې خواري کوله او جزيه به يې ترې اخيستله. که به د بل دين کسانو غوښتل چې د اسلامي عبادتځايونو تر څنګ خپل معبودونه جوړ کړي، نو اسلامي بريمنو به په خوښۍ لاره ورکړه. سربېره پردې مسلمانانو به د بېوزلو لاسنيوی کاوه او د کونډو او يتيميانو په پالنه کې به يې هڅې کولې او د سپينږيرو او کمزورو د مرستې له پاره به يې د خيرات خونې جوړولې، بڅيانو ته به يې زده کړې ورکولې او کليساګانو او بتخانو ته به يې ځمکې وربښلې.

تېرې زمانې به پرېږدو، همدې اوسنۍ جګړې ته به چې د عثمانيانو او ايټالويانو ترمنځ پېښه شوې، نظر واچوو: د لوېديځ طرابلس په دې جګړو کې اد ايټاليا اووه زره اسيران د مسلمانانو په لښکرکوټ کې بنديان دي. ددغو اسيرانو د هوساينې او ښېګڼې له پاره، د عثماني لښکرمشر نشأت بېګ په لارښوونه په توقيف ځای کې روغتونونه ودان شوي او ايټالوي ټپيان په منظم ډول درملل کېږي. سربېره پردې د کليساوو پر ځای څلور کېږدۍ درول شوي او له تونس نه ورته پادريان راغوښتل شوي او ټول ايټالوي اسيران پر يکشنبه پرېښودل کېږي چې خپل مذهبي دودونه او فرضونه پر ځای کړي. په داسې حال کې چې اروپايي دولتونه له دې سره سره هم پر مسلمانانو د وحشت تور لګوي. اوس راځئ چې د لوېديځ پر تمدن يو ځير نظر واچوو: ښاغلی فرانسېس ميکلاګ چې د امريکا يو نوميالی قلموال دی، په نيويارک ورکيډ[؟] ورځپاڼه کې ليکي چې د ايټاليا پوځ د وسله والو لاروهونکو يوه غدۍ ده. د مسلمانانو نژدې څلورسوه ښځې او او کوچنيان او څلور زره مسلمان زلميان يې په لوی لاس په نښه کړي او ويشتلي دي او ام دغه ويروونکي صحنې پخپله ليدلي او عکسونه مې يې اخيستي دي. د ايټاليا وينې تويونکي عسکر د عربو پر کورونو له يوه لوري نه بل ته ورختلي او هر عرب نر، ښځه يا د غېږې کوچنی يې چې ليدلی، ډزې يې پرې کړې دي. د ايټالوی افيرانو حالت تر عسکرو لا بد و- د ايټالوي پوځ اخلاق له منځه تللي او د طرابلس د جګړو حالت د ارمښيا تر خونړيو

ketabton.com - The Digital Library

نښتو ډېر خراب دی. جنرال کانیوا حکم کړی وچې موږ له ترکلنو سره په جګړه یو او څرنګه چې عربان د عسکرو په رسمي کالیو کې د پوځ پــه څېــر لــه مــوږ ســره نــه جنګېږي، نو په کار ده هغه ټول عرب چې رسمي کالي ونه لري خو وسلوال وي، ووژل شي، آن که د سپینه جنډه هم پورته کړي. څو عرب مې ولیدل چې د یوه کور په انګړ کې ایسار پاتې وو او بشپړ دولس ساعته یې له خپل سیال سره نښته وکړه. کله چــې یې مهمات خلاص شول، ایټالویانو ونیول او یو ځای یې حلال کړل. د شرارت تر ټولــو یوه ناوړه بڼه یې چې ما لیدلې دا وه چې د عربو د ټولوژنې پرمهال چې یو بېګناه هلک او یوه نجلۍ او دوې سپین سرې مېرمنې د ایټالوي روغتون وره ته څېرمه د مــړو تــر ډېرۍ لاندې د ځنکدن پر حالت وو او کمزورې غږ به ترې راپورته شو. کله چې مې دا غمجن حال ولید نو بېصبره شوم او یوه پوځي ډاکټر ته مې چې دغه روغتون  ته نژدې ولاړ و او په ښکاره داسې بر ښېده چې د ټولوژنې د ډاروونکو صحنو عکسونه اخلــي، له دغوبېوزلو سره د مرستې له پاره زارۍ وکړې، خو ډاکټرانو هېڅ غوږ پرې ونه ګراوه. بل ځل مې د سره صلیب له یوه کارکوونکي نه د مرستې غوښتنه وکړه چې لــه دغــو غمځپلو سره مرسته وکړي، خو هغه په سخت زړه ځواب راکړ او ویې ویل: هېڅ پروا نه کوي، چې مري ودې مري. یوازې دا نه و، هغو ایټالوي پوځیانو چې ددغــو غمځپلــو د خارنې له پاره ګومارل شوي وو، څوک پر ښنښودل چې هغوی تــه یــو څــاڅکی اوبــه ورکړي. دغه مهال دغو مظلومانو د بېوزلۍ په یوه یوه بوږنوونکي حالت کې ساه ورکړه. سربېره پردې، ایټالوي پوځیانو د بېشرمۍ او بې ایمانۍ کړنې هم ترسره کــړې دي او ددې ټولو تېریو پړه د جنرال کانیوا پرغاړه ده. دغه جنرال په یوه کلا کې بند دی چې څلور خواوې یې په«بم پروف» سره خوندي دي (یعنې له داسې مسالو او موادو جوړې دي چې هېڅ بم پرې اغېز نه کوي). جنرال کانیوا له خپلې کلا نه بیخي بهر نه راوځي او په مخامخ جګړو کې ګډون نه کوي، نو ځکه د جنرال په نشتوالي کې د ایټالوي پوځ حالت خورا بد دی او ما په خپلو سترګو لیدلي چې ایټالوي پوځیان د ټولــو کلیــو پــه شاوخوا کې وو او چې عرب به یې لیده، ویشته به یې. ډېرځله یې خپل ملګري چې له لیرې ورته عرب بر ښېدل، په تېروتنه ویشتلي دي. دا وګړي د ډېرو وینو لــه څښــلو مست او نشه و او خبرې او کړو وړو یې د مستۍ نښې بر ښېدې. مــا ولیــدل چــې د

ketabton.com - The Digital Library

ایټالوي پوځ نژدې پنځوس عسکر لګسا وو د لس- دولسو جنګي بندیانو پښو ته یې ځنځیرونه اچول او ترخپلې څارنې لاندې یې بېول. دغه ټول عسکر له خپلو افسرانو سره په نشه کې ډوب وو او چې یو خونې ته ورسېدل ودرېدل، مظلوم عرب یې پر لیکه ودرول او ډزې یې پرې وکړې.
اروپایي دولتونه خپلو دې ډول کړنو ته تهذیب او تمدن وایي او مسلمانان وحشیان بولي. نو د وحشت او مدنیت ددې معیار له مخې ویلی شو چې توپیر له کومه دی تر کومه. همدومره

ketabton.com - The Digital Library



# د جلال آباد نهر سراج

د اعلیحضرت سراج الملة والدین ددې نېکمرغه پېر چې څښتن دې یې واکمني اوږده لري، د سترو او ګټورو آثارو یوه بېلګه د اوبو هغه لویې ویالې دي چې د هېواد په هر ګوټ لکه په بدن کې ساه داسې بهېږي. په دوی کې یوه هم د جلال آباد همدا نهر سراج دی.

له چا نه پټه نه ده چې اوبه د ژوند یواځینی بنسټ ګڼل کېږي. لوی څښتن جَلَّ و علی په خپل ستر لرغوني کتاب کې د ټولو شیزونو د ژوندانه له اوبو څخه بللې ده. اوبه زموږ د مهربان څښتن یو لوی جوهر او یو ستر نعمت دی چې تر مرګ وروسته یې ځمکه پر همدې جوهر له سره ژوندۍ کړې ده. د ځمکې پر مخ بوټي د همدې پر مټ زرغونیږي؛ د ونو میوې د همدې له برکته خوند مومي؛ الوتونکي، ځر بېدونکی او خوځېدونکي ټول له همدې نه ژوند تر لاسه کوي؛ انسان، څاروي او آن جامد شیزونه له هغه ژوند او ښېرازي تر لاسه کوي.

که هغه ستر نهرونه نه وای چې د ځمکې پرمخ غرونه، تړې، بېدیاوې او دښتې د مطلق حکیم ذات جَلَّ و علی د بالغ قدرت له مخې خیروي او بهېږي، له نړۍ نه کر کیله ورکېده او انسان له هوساینې او ژوندانه نه بې برخې کېده. او بیا که چېرې د انساني متو او انساني کمالونو یووالی نه وای ن چا به له دې لوی نهرونو څخه ویالې او کانالونه را ایستل. ورسره به د انسانانو له خوا کر کیله چې په غلو دانو او ځمکنیو محصولاتو ژوند کوي، له پراخېدو وتلې وای. له دې امله به نو د انسانانو د ژوندانه کړۍ ډېره تنګه شوې او ددغو سیندونو او نهرونو تر څنګه به د دوی په راټولېدو پورې محدوده شوې وای چې د ډېرو بدمرغیو سبب ګرځېده.

ketabton.com - The Digital Library

داسې سيندونه هم شته چې زرګونه ميله د ځمکــې مــخ څېــري او تــر ســمندرونو رسېږي. خو له دې سره سره هم تر هغو انسان به خپل کمال سره لــه دغــو ســنيونو څخه ويالې نه دي ايستلې، تر هغو ترې بشپړه ګټه نه ده اخيستل شوې.
د کابل نهر چې د ننګهار [ننګرهار] خلک يې په پښتو ژبه «سين» بولي، سره لــه دې چې پرخې ځمکې ورسره اوبېږي، خو تر اوسه داسې يوه وياله چې زرګونه جريبه شړه ځمکه ورسره اوبه شي، په پېړيو پېړيو له دغــه ســينده نــه ده را ايســتل شــوې. د سپېڅلي نهر سراج په ايستل کېدو سره جلال آباد د يــوې پرمختللــې راتلــونکې او هوسا ژوندانه وړ وګرځېد.
کله چې الهي سپېڅلی ذات وغواړي چې يو هېواد او ولس ښېرازه کړي، نو واګې يې د خپل سپېڅلي رباني ذات په غوښتنه يوه خيرغوښتونکي نياومن واکمن تــه ســپاري. همداسې وه چې افغانستان يې د امير حبيب الله خان په څېر د يوه عــدالتپال، ديــن خوښوونکي او ترقۍ غوښتونکي اعليحضرت ټولواک په شتوالی ســپېڅلی او ويــاړلی کړ.
زموږ دې ستر او سپېڅلي ټولواک د خپلې همايوني تخت کېناستنې له هماغــه پيلــه ورځ تر بلې او کال تر بله د رغونې او مدنيت نوې نوې ببلګې په خپل پاچــايي هېــواد کې رامنځته کړې دي. په دې ډله کې، پروسږکال يې پــه جــلال آبــاد کــې د خپلــې بختورې همايونې اوسېدنې پر مهال، د نهر سراج د کار پيل په پوره پــرتم او ښــاديو سره کړی و. پر هاغې بريالۍ ورځ، ټول لويان، مخور ديني عالمان، درانده سپين روبي او د ختيځو شتمنی زېږوونکو ولايتونو له ګوټ ګوټ نه د قبيلــو مشــران، ملکــان او مخور او د رېښتينو شاهي اتباعو يوه لويه ډله پر همدغه ځای چې [اوس] پرې د نهــر سراج لومړنی پيلېدونکی سربند جوړ شوی، را ټول شــوي وو.د همــايوني [ټولــواک] کېږدۍ او د اوسېدو او دربار خيمې همدلته درول شوې وې. مېوې، خواږه او خواړه پر ټولو وويشل شول. پوځي موزيک غږېدهد ځانګړي ګارډ سرتېري پر ليکه د ردناوي له پاره ولاړ وو. ټول پوځي او عسکري افسران په خپلو نيمه پوځي کاليو کې حاضــر وو. تر هغه وروسته چې اعليحضرت شاهانه ذات ددغې ويالې د ګټو او نېکو پايلو پــه اړه يوه اغېزناکه وينا واوروله، بيا يې له سپينو زرو جوړ يــو يــوم [ببــل] چــې ځــانګړی

ketabton.com - The Digital Library

دهمدې ورځې له پاره جوړ شوی و، په خپل مبارک لاس کې واخيست او د نهرســراج په کيندلو يې پيل وکړ.

د جلال آباد د نهر سراج پيل ټکی د درونټې له پله نه نژدې دوه ســوه ګامــه کښــته پروت دی. ويالې ته د اوبو د ورماتېدو خوله د نوې معمارۍ له اصولو سره سم په پاخه آو ټينګ ډول جوړه شوې ده. دا وياله نژدې څوارلس ميله اوږده ده چې په دې حساب ورسره نژدې پنځوس جريبه شاړه، بې اوبو او بې کرکيلې ځمکه چې له ژوندانــه بــې برخې بلل کېده، اوبېږي او ژوند مومي. تر مجرا لاندې د ويالې پسور پنځلس فوټه او د سطحې پسور يې پنځه ويشت فوټه دی. د اوبو ژوروالی يې پنځو فوټو ته رسېږي چې له دې نه يې د اوبو د ډېروالي کچه تر څه ځايه جوتېدلی شي.

د کيندنو پر مهال د ځينو لرغونو آثارو لکه پخوانيو سکو او ځينو نورو نښــو برســېره کېدو، او د درونټې پله د جوړېدو په ترڅ کې د يوې پخوانۍ ويالې ډ پيل په ټکي کې د پخو جوړښتونو موندنې اعليحضرت شهرياري ذات د هغې پوهې او ســليم عقــل لــه مخې چې لوی څښتن دغه شاهانه ذات ته وربښلی، دې اټکل ته راړست چې ښــايي پخوا به هم دلته کومه وياله جوړه شوې وه. لا رښوونه يې وکړه چې ددغو لرغونو سکو [راز] چې پر سانسکرېټ ليک وې، وسپړل شي. له دغو سکو جوته شوه چې لــه نــن څخه يو زر او څو سوه کاله لرغونتوب لري.

خو د جلا ل آباد نهر سراج نه د پيل په ټکي او نه د خپل ګټورتوب له پلوه له پخــوانۍ ويالې سره چې ځينې نښې يې شتوالی ښيي، ورته والی لري. دا وياله به له کرنيزو ګټو پرته چې تمه يې کېږي، د جلال آباد د هوا په اړولو او د ګرمۍ په کمولو کې لوی لاس وکړي. ځکه چې ددې ويالې پيلېدونکې برخه د ښار د شاوخوا پر وچو او شګلنو سيمو اوړيچې دا وچې او بې اوبو ځمکې له يو څه واټن وروســته کرنيطــو ځمکــو، بڼونــو او بڼګيو ته ځلا او لندوالی وربښي او ځکه به ورسره د ښار هوا ښه شي.

ددې ويالې په کيندلو کې زموږ د ګران او زړونو ته نژدې ستر ټولــواک د نيــاومنۍ او رعيت پالنې مهربانۍ د هغه رېښتونو شاهانه اتباعو تــه ډېــرې آســانتياوې او ګټــې برسېره کړې دي. ځکه که وګړي پخپله مخامخ په دې چاره کې ونډه واخلي، نو شاړه ځمکه به پرې وويشل شي او د کورونو د آبادولو او د ځمکو د ښېرازه کولو له پاره به د

ketabton.com - The Digital Library

نغدو پيسو پورونه هم ورکړل شي او چې کله يې ځمکه په حاصل راغله نو به بــه ورو ورو دا پورونه او د ځمکو ماليه پرې کوي. له دې سره ســره، د ويــالې د خــولې پــوخ سربند اتو يا په هر ځای کې چې پله يا مجرا يا تونل ته اړتيا وي چې د ولس وس پرې نه رسېږي، دا ټول دولت [پخپله] تر سره کوي. نو اوس چې ورته ســړی د... پــه نظــر وګوري، نو د يوې بدني هڅې په بدل کې چې د بشر د سپېڅلې بنې له طبيعي اړتياوو څخه دي، پاچايي رعيت ته مالي، ځاني او روحاني ګټې رسول کېږي.

نو په دې توګه پر موږ ټول ولس واجب ده چې د الهي سپېڅلي ذات ددې ستر نعمــت منندويي وکړو چې موږ يې دداسې يوه ودانپالي او د ويجاړيو د يوه غليم او نياومن او مهربان پاچا تر لاس لاندې کړی يو او دغه راز زړه ته د رانژدې او ګــران او ســپېڅلي ټولواک د عمر او بخت د اوږدېدو دعا پر خپلو ژبو جاري کړو چې د شــاهانه مهربــان لاس د پالنې او روزنې تر سيوري لاندې يې زموږ هېواد او پخپله مــوږ پــه ټينګــو او متينو ګامونو سره د پرمختګ او تمدن پر واټ مخې خواته د تلو په حال کې يو.

ketabton.com - The Digital Library

# نوي سرکونه

زموږ د ستر ټولواک د پرمختيايي پېر د خير رسوونکو آثارو يوه ښه سـرکونه يعنـې کلک پاخه سړکونه دي چې د ژوندانه د رګونو په دود د دوی په شـاهانه هېـواد کـې غزېدلي دي.

که څوک ووايي چې ويجاړې لارې تر روغو ښې دي، دا به داسې وي لکه چـې وويـل شي: د پلي تګ هوسايي په ګاډي او موټر کې تر تګ ډېره ده. هغه وختونه چې د لارو تړل او بندول په کار و، تېر شول، ځکه چې يوازې د ځمکې پر کرِې نه چې په هوا کې هم د تګ راتګ نبغ سرکونه پرانستل شوي چې د هغوی تړل شوني دي خو يـوازې د زورورو هوايي جهازونو [الوتکو] په مرسته!....

د نړی په ټولو دينو کې به يوه هم د اسلام د سپېڅلي دين هومره خپلو لارويانو تـه د خيرات او صالحه باقياتو د مبرات لارښوونه نه وي کړي. «رفع اذای سبيل» يعنـې لـه لارې نه د ضرر او آزار لرې کول او «اماطُة الاذاعَن الطريق» پـه ټينګـار سـره شـوې لارښوونې دي چې د اسلامي نړی عقيـده پـرې ولاړه ده. کـه چېـرې د اسـلام هـر اعتقادي، اخلاقي يا ادبي اثر ته نظر وشي، پرانستې، هوارې، پاکې او خوندي لارې په کې د عدالت له ارزښتنکاو اړتياوو څخه بلل شوي دي. د پلونو پر نشتوالي او پـه لارو کې د ځښتن د مخلوق د کړېدو له امله په شريفه شـرعه کـې واکمـن مسـوول او د پوښتنې وړ بلل شوي دي. ځينو لويو مفسرينو «باقيات الّصالحات» د آبادی پر ښـو، لکه پلونو، لارو، ويالو، سلسبيل ها (؟) او جوماتونو، خيراتځايونو، ښـوونځيو او نـورو تفسير کړي چې تر دې به نو بله غوره ښېګڼه څه وي؟ د دواړو نړيو د ښاغلي سـردار عليه اکمل اِلتحايا په سپېڅلو احاديثو کې «صَدَقه جاريَه» راغلي چې مانا يې تلپاتې او روان خيرات دی چې دغه جاريه صدقه له دغه ډول آثارو پرته چې ګټه يې ټـوليزه او ښېګڼه يې د انام(؟) د هوسايی او سوکالی سبب ګرځي، بل څه کېدلی شي؟ پر همدې

ketabton.com - The Digital Library

بنسټ ده چې مسلمان تولواکان پرله پسې د دا ډول جاري صدقو په برخه کې هڅې او هاند کوي چې نښې يې موږ ته ښکاري.

لږ انصاف په کار دی: د تګ راتګ يوه عامه لاره فرض کړئ چې له يوه ښار نه بل ته او يا له يوه کلي بل ته غزېدلې وي او جوړوونکی يې هم د پليو ګامونه او د آسونو د پښو خاپونه وي او د پښو دا خاپونه هم کاږه واږه په غرونو او بيدياوو کې د مزو [تارونو؟] په دود غزېدلي وي او تيږې، کاڼي، شګې، ګلان، اغزې، ماران او ضرورونه له دغو ليکو سره نښتي تړلي وي او د انساني لاس د هنر يوم او تسکوره او د ماهر مهندس نقاله په کې بيخي کارېدلې نه وي!

اوس نو دغه کړې وړې او اوښتې راوښتې لارې چې شاعرانو له خپل زړه چاودي فرياد سره تشبيه کړي، له هغه پاخه او په ډېرو پوښلې، پرانستې، هوار او پراخ سړک سره [پرتله کړئ] چې غرونه يې څيرلي او له خوړونو او سيندونو نه د څوړنـدو اوسـپنيزو پلونو په مرسته تېر شوی او د جوړوونکي د هندسې نقالې د هندسي اصولو پر بنسټ په غرونو او درو کې څغلولی، نو که شاعران يې د محبوبو د زلفو له تـاو او پـېچ سـره تشبيه کړي، حق لري. که [دا دوه ډوله سړکونه] خوا پر خو کېږدو او په يوه څغلنـده نظر ورته وګورو نو د وجدان، عقل او نقل له مخې به کوم يو د عدالت پر منطـق سـم ومومو؟

تر دې ځايه مو له معنوي اړخه پر لارو يو څه خبرې وکړې، اوس به يـې لـه مـادي او جسمي پلوه ګټو ته کتنه وکړو:

نن که په موږ څوک يوه اروپايي [پېرنګي] هېواد ته ولاړ شي، نو خارق العاده لارو تـه به يې ګوته په غاښ پاتې شي. ددغو ملکونو ټول سيندونه بـه د بېـړۍ د چلـونې وړ ومومي. يعنې هغسې چې په ګاډيو او موټرو کې پر سړکونو تـګ راتـګ کېـږي، پـه سيندونو کې هم په وړو انجني جالو، دواپورها [؟]، بخاري بېړيو، کښتيو او نورو کې له يوه ښار نه بل ته او له يوه کلي نه بل ته نګ راتګ کېدلی شي. د پليو له پاره زرګونـه لارې چارچاپېر لکه د يوې پخې ډېرې په څېر په ښارونو او کليو کې تېر شـوي دي. د تګ راتګ زرګونه زره وسيلې لکه ګاډۍ، ميني بسونه، برېښنايي ترامواى او ډلو ډول موټرونه پر دغو سړکونو تېر بېري را تېر بېري.

ketabton.com - The Digital Library

لويې وچې او سيمې له خپلو غرونو، بېدياوو او ځنګلونو سره د لارو په مرسـتـه- خـو څه ډول لارې! - په اوسپنيزو لارو له يوه بل سره ترلې ليدل کېږي. لوی ښـارونه يـې وينئ چې يوازې پر ځمکنيو لارو بسنه نه کوي، د خپلو ښارونو تـر ځمکـې لانـدې د تونلو له لارې او د ښارو پر ځمکه د ډېرو لوړو اوسپنيزو پلونو په مرسته يـې د خـورا عجيبو او چټکو ځغلېدونکو و سيلو د تګ راتګ لارې کارولې دي. او دا هم لا ورته نه بس نه دي بر ېښېدلي او اوس اوس يې د هوا له ستر، پراخ او ناپايه ډګر نـه هـم کـار اخيستی دی او «اوروپلانونه» [الوتکې] يعنې الوتونکي ماشينونه او بالونونه يـې جـوړ کړي دي چې سر له همدا اوسه د هوا له لارې د ګرځندويی شرکتونه په جوړېدو دي.
اوس به دا وګورو چې دې دومره لارو دغو هېوادو ته څه ګټې ورکړې دي. لومړی يـې ترې د «وخت» ګټه اخيستې چې «سره زر» دي، يعنې که يو سفر چـې مياشـت يـې غوښته اوس په يوه ورځ کې کېږي. د يوې ورځې کار په يوه ساعت ، د يوه ساعت کار ی په يوه دقيقه کې کېږي او په دې ډول شتمني او هوسايی تر لاسه کـوي. دويـم دا چې له دغو هېوادو څخه د قحطی او ګرانی بلا له يوې مخې ورکه شوې ده. همدا چـې په يوه ېاود کې قحطي او ګراني راشي، نو د سترګو په رپ کې غلې او خواړه له هـرې خوا ورمات شي. او که دا حال د خپل سپېڅلي هېواد د ترکستان له ښېرازو بېدياوو او د ځينو غرنيو سيمو له کمو غلو دانو سره پرتله کړو، نو د لارو ارزښت او ګټه به راته تر څه ځايه روښانه شي.
دريېم دا چې ددغو ملکو سوداګری او صنعت ته يې سترې ګټې رسولې، اومه او ارزان مواد له ډېرو ليرې سيمو او اوږدو واټنو څخه په چټکـی او آسـانی سـره رارسـوي او دبېلابېل صنعت په خپلو فابريکو کې يې په ډول ډول ښو راباسـي او بېرتـه يـې پـه چټکی سره دغو ليرې سيمو ته رسوي او په دې ډول د نورو ملکونو نغد سره زر خپلو جيبونو ته راټولوي او په دې ډول نور بېوزلي او اړمن او ځانونه لاس نيوونکي او شتمن ګرځوي. څلورم ټکی چې ډېر مهم هم دی، پوځې ګټه ده: په اوسنيو جګړو کې له بري سره تر ټولو ډېره مرسته دا څو څيزونه کوي چې دلته يې راوړو: په هماغـه لـومړنی شونې شېبه کې تر غليم ډېر ځواکونه په چټک ډول تر خپلې پـولې ورسـوي؛ او تـر غليم دمخه ارزښتناکې سيمې تر ګوتو کړي؛ او د غليم پر کوچنيو ټولګيـو پـه لـوی

ketabton.com - The Digital Library

ځواک سره ګوزار وکړي او لار ترې ورکه کړي؛ په دې ډول نو چې څومره لوی پـوځـي ځواک په چټکۍ سره واستول شي، هومره بری هم چټک تر لاسه کېږي. له روسـيې سره په جګړه کې د ترکيې د ماتې يواځينی دليل او له جاپان سره پـه جګـړه کـې د روسيې د بربادۍ لوی لامل له دې پرته بل څه نه و چې ترکيې سمې لارې نه درلودې چې خپل ځواکونه په چټکۍ تر پولو ورسوي؛ دغه د منچوريا د اوسپنې پټلۍ ددې له پاره بس نه وه چې د روسيې ستر پوځونه پر وړ مهال د جګړې تر ډګره ولېږدوي. که يو هېواد زرګونه توپونه هم ولري، خو چې ښه سمبال پاخه سړکونه چې دغه توپونـه پرې ولاړ شي، ونه لري نو له دغو توپونو هېڅ ګټه نه شته.

نو پر همدې بنسټ و چې زموږ ستر، سپېڅلي، هوښيار او پوه ټولواک پـر تخـت لـه بختورې ناستې له ورځې څخه يې ددې ټکو پر څېړلـو پـام کـاوه او د سـمو او پخـو سړکونو په مرسته يې د خپل سلطنتي هېواد د خپلمنځي نښلېدو په برخه کې شاهانه هڅې او هلې ځلې پيل کړې وې.

په لومړي سر کې يې په يوه زړه پورې بڼه د خپلې پلازمېنې او د هغې د شاوخوا سيمو د سړکونو په سمولو او جوړولو تکل وکړ او په لنډ وخـت کـې زمـوږ د ګـران ښـار د شاوخوا مانۍ او هوساځايونه په پخوا زړه راښکونکو او کلکو موټري سړکونو پخپله له پلازمېنې سره ونښلېدل.

د اسلامي پلازمېنې کابل سړکونه داسې سړکونه نه دي چې په هر هر ځای کـې يـې ځوک ښېلګې وموندلی شي. له هغې خدای ورکړې ښکلا سره چې د طبيعت هنرمنـد خورا ډېره او وړيا پر دې سپېڅلې خاوره پېرزو کړې، د مهندس بوخته نقاله هم غـاړه غړۍ شوې او داسې ښکلي سړکونه ترې جوړ شوي چې پر دواړو غاړو يـې د ولـې او چنار ونې او ويالې په يوه ځانګړې ښـکلا تـر اوږدو واټنـو پـه زړه راښـکونکي ډول همداسې غزېدلې دي. په تېره بيا که ځينې سړکونه يې چمتو ښايسته باغچې وبولـو، نو هم به سمه خبره وي. د ساري په توګه هغه سـړک چـې د سـپېڅلی ارګ لـه وره [دروازې] نه تر لوی جامع جومات (عيدګاه) پورې تللی او بيا له هغه ځايه د لاهـورۍ دروازې تر څلور لارې اوږد شوی، داسې يو ښکلی واټ دی چې زړه راښکونکی انځور يې زړه په خوښيو او ښاديو کېباسي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه پاخه او منظم سړکونه چې «چاردهي» سـيمه کـې د «چهلسـتون» تـر مـانۍ او «ځنګل باغ» او «مهتاب باغه» او نورو ځايو کې جوړ شوي، داسـې سـړکونه دي چـې ساعتونه په کې سړی د بـاغونو او ډول ډول مېـوه والـو ونـود ځنګلونـو او ځړوبيـو (آبشارونو) او شوخو ګلبڼونو له منځه تېر يږي.

د پغمان د «سهيل» او «ستاره» بې عيبه ماڼيو او «بيک تـوت» او نـورو سـيمو پاخـه موټري سړکونه هم دا ډول ښايسته، زړه راښکونکی او خوشـحالوونکي سـړکونه دي چې سړی په ګاډۍ کې د څو ساعتو او په موټر کې د نژدې يوه ساعت په مزله په اوړي کې له تودې هوا نه د لوړو غونډيو خوندورې خورا سړې هوا ته رسوي.

اوس به راشو هغو سړکونو ته چې زموږ د سني سلطنت پلازمېنه د شاهانه هېـواد لـه ولايتونو سره نښلوي:

په دوی کې تر ټولو مهم هماغه د جلال آباد سړک دی چې د کابل له لاهوری دروازې نه پيلېږي او پر بګراميو، بُتخاک، خاک جبار، باريک آب، جګدلک، سرخ پُل، نملـه او باولی جلال آباد ته رسېږي. دا ځايونه چې نومونه يې ياد شول، هر يو يې يو منزل بلل کېږي چې کاروانونه په کې اړوي. په ټوليز ډول د منزلونو تر منځ واټن شپږ «کُرُوهّ» دی چې له يوه پاچايي «منزل» سره سمون خوري او په هر «منزل» کې د همايوني ټولواک د تمېدو له پاره منظمې ودانۍ جوړې شوې دي چې له ټولواک سره د ملګرو کسـانو د استوګنې ټولې اړتياوې په ښه ډول پوره کولی شي. د اعليضرت د تمېدو را «منزلونه» په رېښتيا هم ښايسته ودانۍ شمېرل کېږي چې په هسې يوه هندسي ترتيـب چـې پخپله همايوني اعليحضرت يې سپارښتنه کړې، جوړې شـوې دي. اصـلي ودانـۍ د ډوډۍ خوړلو له يوه سالون او د ناستې له يـوه سـالون او د خـوب لـه ګـنو خونـو او تشنابونو څخه جوړه وي. د ودانۍ يوه څنګ ته پـه خـورا مـنظم ډول د چوپړيـانو د اوسېدو خونې دي چې له اعليحضرت سره د راغلو ځانګړو کسانو له پاره په پام کـې نيول شوې دي. ددې شاهي «منزلونو» يوه بله ښکلا داده چې ډېرئ ودانۍ په هماغـه يوه ډول او بڼې جوړې شوې دي چې سړي يې په ډېرو کې تېروځي.

دا ودانۍ چې يادونه يې وشوه د همايوني اعليحضرت د تمېدنې له پاره ځـانګړې دي. سربېره پر دې په هر «منزل» کې رباطونه جوړ شوي چې د کلا بڼه لري او کاروانونه يې

ketabton.com - The Digital Library

له یوه وره ورننه وځي. ددې رباط چارچاپېر کوټې دي چې د مسـافرو او لارویـو او د هوسایۍ له پاره دي او جومات، اوبه، چایخانه او غله او خـواړه پـه کـې د مسـافرو د اړتیاوو د پوره کولو له پاره شته چې مسافران یې د ورځې په بیه پېرلی شـي. خـو د اوسېدو خونې مسافرو ته وړیا ورکول کېږي.

دا سړک چې د هوساینې او آسانتیاوو یوه برخه یې بیان شوه، یو کلک او پوخ موټري سړک دی چې په خورا سمو هندسي اصولو جوړ شوی دی او ډېرې شـېلې او درې او غرونه او ژورې او لوړې غوڅوي او له ځینو خوړونو څخه پر کلکو پلونو اوړي او د جلال آباد ښار له پلازمېن کابل سره نښلوي. په جلال آباد کې بیا دا سړک دوه ځایه کېږي: یوه برخه یې د درونټـې پـر سـتر اوسـپنیز پلـه اوړي او د لمقـان [لغمـان] ایالـت قلعة‌السراج [سراج کلا] له جلال آباد سره ترې او بله څانګه یـې تـر «ډکـې» پـورې غزېږي چې له پېښور سره راشه درشه خوندی کوي چې کـه د خـدای رضـا وه پـه راتلونکو ګڼو کې به دا او نور سړکونه درته بیان کړو.

په حقه چې د خپل شاهانه هېواد نښلووونکو لارو ته زموږ د ستر، سپېڅلي، او زړونـو ته رانژدې ټولواک پاملرنه، یوه لویه پرمختګ پالنه بلل کېږي چـې دد وی د شـاهانه هېواد د مدنیت، کرنې سوداګرۍ، صنعت او امنیت د پرمختیا یواځینۍ لار بلل کېږي. په تېره بیا که د منظمو او پخو سړکونو ګټه او چوپړ د خپل سپېڅلي هېواد د شـرف او ناموس د ساتنې له مخې په ځیر سره وګورو، نو ځان به راته پر دې مکلـف وبر ېښـي چې له واړه تر زاړه د خپل ستر هېوادپال او نیاو پلنوونکي، زړه تـه رانـژدې ټولـواک ددې خیر رسوونکې موخې له پاره چې یوه شېبه هم د خپل شاهانه هېواد او ولـس د پرمختګ او هوساینې له فکر نه وزګار نه دی، په سر، مال، تن او ځان سره د ټولو هغو سرښندنو هڅه وکړو چې اړتیا یې وي او د هغه د عمر د اوږدوالي او د دولت د لا پرتم له پاره د بې نیازه څښتن دربار ته د دوعا لاسونه پورته کړو او ویې غواړو. همدومره.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال، لسمه ګڼه ۴-۶ مخونه

# د فکرونو سمول

(په افغانستان کې د مخالفو ډلو د شتوالي په اړه د «پایونیر» ورځپاڼې د [تبصرې] ردول)

پایونیر ورځپاڼې زموږ د ګران هېواد افغانستان د کورني حالت په اړه یوه څــه لیکلــې چې د عجیبوالي له امله یې اړ شو چې ددغې تبصرې ځینې برخې وڅېړو او وارزوو او له حقیقت نه یې لرې والی خپلو ټولو درنو لوستونکو ته وښیو او په دې ډول تــر څــه ځایه د عامه افکارو په سمولو کې ونډه واخلو:

ددغې ورځپاڼې ژباړه داسې راځي:

«اوس مهال په افغانستان کې د افغانانو یوه داسې ډله په قدرتي ډول پیدا شوې چې د کابل د امیر صاحب له خوا د خپلو وګړو د ښېګڼې او هوساینې له پاره د پیــل شــویو تکلونو مخالفت کوي.»

دا پاس لیکلې ټوټه له شورماشوره او له اوږدو خبرو پرته له همدې پیلــه ردوو. ځکــه چې په افغانستان کې د ډلو او ډلبازیو او د فتنو او فساد اچولو هېڅ نښه او خبــره نــه شته. او هغه هوډونه چې زموږ په زړونو کې ګران ستر ټولواک د خپلو صادقو وګــړو د

ketabton.com - The Digital Library

ښېګڼې له پاره پلي کوي، ټول ملت ورته په مننه او ناپایه خوښنه ګوري او هېڅــوک یې هم پر خلاف نه خوځېږي. خبریال تر دې وروسته

لیکی:

«دغه ډله چې له محافظه کارو سردارانو او پوځي افسرانو جوړه ده، د موټر او ټېلېفون او د لوېدیځ تمدن د نورو نښو په راتګ اندېښمن شوي او یــوازې د وســلو او پــوځي تجهیزاتو جوړول چې خدای بښلي امیر عبدالرحمان خان خوښول، ښه بولي».

څومره عجیبه! که چېرې د ښاغلي خبریال د قلم څوکې د «رُونتَن ګَن» (؟) د وړانګې ځانګړتیا هم درلودای، بیا یې له دې زرګونو میله واټن څخه زموږ د هېواد د سردارانو او پوځي افسرانو د زړونو دننه راز نه شوای موندی! نو آیا ښاغلی خبریــال د زړونــو د دنننی رازدا سپړنه د کوم لامل او دلیل له مخې توجیه کولی شي؟ نو آیــا دا څــه ډول خبریالي ده چې له دومره ډېرو سردارانو او افسرانو سره شپه او ورځ په یوه خونه کې اوسېدلې او پر یوه دسترخوان ناست دی او بیا د زړونو رازونه ترې را ایستلي دي؟ هو، هېڅ شک نه شته چې له دغو وګړو سره د کتنې اندېښنه یوه داسې مساله ده چې په ما فی الضمیر پورې اړه مومي. ځکه کوم څه چې موږ افغان ولس یې په غوږونو اورو او په سترګو وینو دادی چې ټول سرداران او پوځي افسران او درانده مخــور او د خپــل متبوع او سپېڅلی هېواد او دولت اشراف، په هغه غونډه کې چې پروسږکال د «افغان موټر شرکت»په اړه د اعلیحضرت ټولواک په مشرۍ جوړه شوې وه، ټولو په یوه زړه او یوه خوله او د وجدان په ښه شوق او ذوق په دغه ګټور شــرکت کــې ګــډون وکــړ او خوښې او خوشحالي یې څرګنده کړه او خپل ټولواک ته یې مبارکۍ او مننې وړانــدې کړې. خو د پایونیر ورځپاڼې د خبریال دا خبره ردولی نه شو چې د افغانستان ولس له وسلې او جنګي تجهیزاتو شره مینه لري، ځکه چې له شاه نه تر ګدا پورې هر افغــان

ketabton.com - The Digital Library

پر وسلې او پوځي تجهيزاتو لکه مين داسې دي. ځکه چې خپل هېواد پرې ګران دی او د هېواد ساتنه له وسلې پرته شونې نه ده.

بيا ليکي: «او دغه ډله سربېره پر دې دا وېره لري چې هسې په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ وغزېږي او د انګرېزي انجنيرانو لا نور بوختېدل د هېواد د خپلواکۍ له منځه تلل له ځانه سره راوړي.»

خومره اوم [خام] خيال! د افغانستان د اوسپنې د پټليو اوسپنه لا په کانو کې، انګرېز انجنيران لا په انګلستان کې! نو دا څه ډول وېره ده چې په دې بېوزلو افغانانو پورې تړل کېږي؟ هو، په افغانستان کې د اوسپنې د پټلۍ تېرېدل شونې دي، خو سم بايد ډاډه شو چې دا اوسپنسزه پټلۍ د افغانستان له خپلو کانو څخه ده او د اورګاډۍ انجنيران پردي نه چې د افغانستان له خپلو بچو څخه دي.د افغانستان ټول ولس پر خپل ټولواک ديني اعتقاد او ايماني باور لري او سم د شاهانه ذات په افکارو پوهېږي چې دا شاهانه ذات يو خورا پرمختګ پلوی، هېواد پالی، متدين، او زړور ستر پاچا دی.نو ځکه له دې پلوه يې زړونه ډاډه دي چې د خپل هېواد له بچيانو څخه د کاني انجنيرانو او د اورګاډي د انجنيرانو تر چمتو کولو پورې چې که خدای کول دغه وخت هم لرې نه دی، هېڅکله به هم د اورګاډي په جوړولو کې نور هېوادونه را ښکېل نه شي.

تر دې وروسته خبريال ليکي: «متعصب ديني عالمان او ملايان هم له دې [مخالفو] فکرونو سره ملګري شوي او عادي وګړي د نوي والي او تمدن پر خلاف هڅوي.»

د سراج الاخبار افغانيه خبريال د پايونير د خبريال دا خبره په ډاګه ردوي. د افغانستان درانده علما هومره چې د پايونېر خبريال ګومان کړی، له نړۍ نه بې خبره نه دي. پوهېږي چې د اوسنی زمانې اړتياوې او وښتنې پر څه ښې تړلې دي. نو ځکه

ketabton.com - The Digital Library

هېڅکله هم د خپل ټولواک فعالو هڅو ته د رد یا نه منني په سترګه نه ګوري. د افغانستان عالمان د تمدن هڅونه کوي، نه دا چې مخالفت یې وکړي.

دغه خبریال د افغانستان د مخالفو ډلو د بېلولو په تړاو لیکي: «[...] او ویل شوي چې ایشیک آقاسي [د دربار رییس] عبدالقدوس خان چې په تېر یې خورا ډېر واک درلود، او د پوځ پخوانی مشر ایرمحمد خان او مستوفي محمد حسین خان او نور مخور کسان د لومړۍ ډلې پلویان دي.»

دا هم په هغو بې نوم و بې نښانه او خارق العاده خیالي کشفونو کې راځي چې یوازې د پایونیر د خبریال په «انتریکه» لیکونکي (؟) قلم پورې اړه مومي. لومړی به دا ووایو چې دا یاد شوي شخصیتونه په هغو کسانو کې راځي چې د اوررېدو له مخې یې د افغان سني سلطنت د چوپړ او ټینګښت او له هغه سره د نه مخالفت لوړه هم د خدای ښښلي خاقان [امیر عبدالرحمان خان] د پاچایۍ په کلونو او هم واک ته د همایوني ټولواک د رسېدو پر مهال کړې وه او دوی دینپالي او هوښیار کسان دي او هېڅ ګومان نه کېږي چې خپل سپېڅلي دین ته به له سلطنتي مقام سره په مخالفت او د لوړې په ماتولو سره زیان واړوي. له بلې خوا دا هماغه کسان دي چې د همدې ستر پاچآ په سیوري کې دومره لوړو څو کیو ته رسېدلي دی، داسې چې ایشیک آقاسي عبدالقدوس خان ته د «اعتمادالدوله» او نایب سالار امیر محمد خان ته د «سپه سالار» [د پوځ مشر یا لوی درستیز] او میرزا محمد حسین خان ته د «مستوفی الممالک» منصبونه [ورکړ شوي دي] نو ځکه به یې له خپل پاچا او پالونکي سره مخالفت هېڅکله هم پر وجدان سم رانه شي.

تر دې وروسته د دویمې ډلې نکل راخلي او لیکي: «[د هغوی] خلاف دا بله ډله ده چې د امیر صاحب په پلوۍ زیار باسي او اورېدل شوي چې د کابل والي لوی ناب او د کابل

ketabton.com - The Digital Library

امنسیه قوماندان [کوتوال] او ایشیک آقاسي علي احمد خان او ایشیک آقاسي محمد سلیمان خان ددې دویمې ډلې په مهمو غړو کې راځي.»

او ښاغلی پایونېره!

هغه څوک چې یو څه پوه وي په دې ښار

نو خبر دی چې راځې له کومې لار

که څه هم د مراکش له مسالې دوه ردې کاله تېر شوي او دا خبره چې یوه مو د مولا حفیظ او بل مو د مولا عبدالعزیز ملاتړ کاوه یو څه له خلکو هېره شوې ده، خو نن راته «ایران» پروت دی. ټوله نړۍ خبره شوه او وپوهېده چې یوه درکې د پاچا خوا ونیوله او بل مو د شوراییانو د پلوۍ په جامه کې راغی او شوراییان یې یې ولمسول او هغه دواړه لوري مو په ټګۍ ونه پوهېدل. او ومو کړل هغه څه چې کولی مو شول. سم پوهېږم او په خورا آزادۍ مو خبره ردوم او وایم چې خپل نازولی خاطر مو جمع لرئ. په افغانستان کې یو د بل مخالفې ډلې نه شته. پاچا د ملت خواخوږی دی؛ او ملت د پاچا ملاتړی؛ او دواړه د وطن ساتنې ته هوښیا دي او دا ستاسې په خیالونو کط راټوکېدلې ډلې دي او بس.

او بیا د دویمې ډلې په ستاینه او پالنه کې خپله ژبه اوږدوی او داسندره وایي: «دغه ډله له ځینو نورو پوځي افسرانو سره د مرحوم امیر صاحب [عبدالرحمان خان] پر مهال په هندوستان کې فراري وه او اوسني امیر چې پرتم دې یې تل وي، د افغانستان پلاز ته تر پورته کېدو وروسته، د رحم او زړه سوي له لارې ټول فراریان پر ېښودل چې خپل هېواد ته ستانه شي. دا ډله د افغن ښارونو د سردارانو پر تله ډېر تعلیم کړي او متمدن دي او غواړي چې د افغانستان هرې سیمې ته پاخه سړکونه وغزول شي او موټرې پرې روانې شي او د ټلګراف مزي هم تېر شي.»

ketabton.com - The Digital Library

دا هم هسې یوه ستاینه ده لکه وژنه. ځکه په هغو کسانو کې چې د پایونیر خبریال یاد کړي یو هم ښاغلی لوی نـاب صـاحب دی چـې د افغـان دولـت لـه پخوانیـو درنـو شخصیتونو څخه دی چې د خدای بښلي امیر شیر علیخان له مهاله هم د دولـت پـه مخورو څیرو کې راته او کله چې هندوستالن ته ولاړ نو مبارک عمر یې د ښوونځی له تګ او د علم له تحصیل نه تیر شوی و. ښاغلی امین العسس صاحب یعنـې کوتـوال [امنیه قوماندان] هم د هندوستان یوه ښوونځي ته هم د زده کړوله پاره نه دی تللی.

نو اوس چې دا خبره رڼه شوه نو په کارده بوه شو چې بوهه دوه ډوله ده: یوه «موهبي» [ورکړ شوې] او بله «تحصیلی» [تر لاسه شوې]. مورږ د افغانستان ولس پر دې ټینـګ باور لرو چې «موهبي» پوهه حق ده. زمورږ سپیڅلی او زړونو تـه را نـژدې ټولـواک د موهبی پوهې یو ښکاره ازلي عالم دی. د پرمختګ دا ټولې نښې چې لیدل کیږي، دده د شاهانه ذات د خپلو ټینګو هڅو له برکته دي چې زمورږ به ګران هیواد کې رامنځتـه شوې دي. او ټول سرداران او پوځي افسران، علما او مخور، او ان دا چې ټـول افغـان ملت دا پاچایي اقدامات د دولت و ملت و وطن له پاره ګټور بولي او د خپل ټولواک پر پله پل ږدي او تر اوسه دا کومه مخالفه ډله چې د شاهانه هوډ او نظـر پـر خـلاف دې تللې وي، نه لیدل شوې او نه چا اوریدلې. دغه جلا وطني یوازې د شاهانه زړه شوی له مخې راغوښتل شوي او نه د هیواد د پرمختګ له پاره.

اوس به د خپل هممهالي ملګري له دغو ټګو او ټوکمارو [انتریکه ریزو] خبرو تیر شـو او په وروستي پاراګراف کې به یې پر ریښتیاوو اعتراف ته راشو چې وایي:

«په حقیقت کې د افغانستان اوسنی حالت ډیر په زړه پورې دی. او دا د امیر صـاحب نیکمرغي ده چې په ګاونډیو هیوادو کې یې شخړې، فتنې او شر له منځه تللي دي او

ketabton.com - The Digital Library

د د ترکيې په خبر د يووالي او پرمختګ هېڅ داسې کومه جرګه ګۍ نــه شــته چــې د امير صاحب زورواکي حکومت ته ګواښ پېښ کړي.»

آفرين پر تا ای خبرياله! ستاسې دا خبره رد نه، چې تاييدوو. يوازې دومره وايو چې دا د افغانستان نېکمرغي ده چې د نړۍ لوی ښنتن د اعليحضرت امير حبيب الله خــان په څېر يو دينپالی او ښېګڼوال پوه ټولواک پرور پېرزو کړی دی.

د پايونېر ورځپاڼې وروستی پارارګراف وايي:

«[...] او که امير صاحب ملايان په خپله ولکه کې خوندي کړل نــو «هيــز ميجســتي» يعنې اعليحضرت به د پرمختګ او سمون له پاره خپلو هيلو ته بــه رســېدو بريــالی شي.»

ددې فقرې په ځواب کې يــوازې دومــره ويلــی شــو چــې «هيــز ميجســتي» يعنــې اعليحضرت د پايوتېر د خبريال دې لارښــوونې او سپارښــتنې تــه اړتيــا نــه لــري. همدومره.

ketabton.com - The Digital Library



# د تمدن یوه نښه

ځینې څیزونه شته چې په ښکاره کوچني او بې ارزښته بریښي، خو چې رښتیا شي د تمدن یوه نړۍ، د صنعتونو او حکمتونو یوعالَم په کې نغښتی وي. د ساري په توګه د «ساعت یو برج»! په هغو څیزونـو کـې چې د نړۍ د لویو ښارونو ښکلا او ځلا یې ډېره کړې، ځینې یې هغه څوکې او منارونه وي چې کله په کـې یو لوی ساعت هم ځای پر ځای کېږي چې هم د ښار پرتم او ځلا دوه ځلـه ډېـروي او هـم یـې شـاوخوا کورونه او کوڅې د خواږه زنګ په خوندور او څپه ییز غږ له وخت او د خپل کار او عمل له مهاله خبر ېږي.

زموږ ګران او مشهور ښار د ساعت په هغه برج سره چې د «دل کشا» د بې عیبه لوړې ماڼۍ مخامخ جـوړ شوی، یوه ښکلې او ارزښتناکه ځلا او زړه راښکونکی سینګار تر لاسه کړی دی. د اعلیضـرت د مـدنیت پالنې فیض د مدنیت ددې ویاړمنې او پرتمینې نوې منظرې په لیدو زموږ سترګې روښانه کړي او غوږونه مو هم د هغه له موسیقۍ ډک پاسته غږ په انګازو په شکر او ثنا راغلي دي.

موږ د لمانځه او عبادت له وختونو خبروي، د کارونو او عملونو وخت راته راښیي، د جوړښت پرتمینه بنـه یې زموږ د ښار ښکلا ډېروي، خوږ غږ یې زموږ زړونه په خوښۍ کېباسي، د ګریال (؟) له درانده غـږه مـو خلاصوي، بې ساعته وګړي چې ډېرئ دي، د ساعت له اړتیا ژغوري؛ دا ټولې ګټې د ساعت یو برج چمتـو کوي. نه، نه، دا زموږ زړونو ته د نژدې سپېڅلې ټولواک د مدنیت پالنې ګټه ده چې رارسېږي.

د هغو معلوماتو له مخې چې له مستیر [ښاغلي] میلر څخه مو چې دا ساعت یې راغوښـتی او لګـولی دی، تر لاسه کړي دي، د ساعت دا برج د ځمکې له مخ نه د پوښښ تر کچې، سل فوټه او د ساعت د عقـرب د تنې تر منځنۍ لیکې پورې اتیا فوټه لوړ دی؛ د برج دننني پسور [عرض] دولس فوټه په دولسو کې دی. په دې برج کې لګیدلی ساعت، له خورا لوړو ساعتونو څخه دی. د لندن د جویس شرکت جوړ کـړی دی. شاوخوا د نهه زره او ۵۰۰ کلدارو روپو په بیه پېرل شوی، د ساعت مخ له یوې رڼې مینا (؟) څخه جـوړ دی چې شاته یې د شپې له خوا یو څراغ لګېږي او د ساعت او دقیقو شمېرې روښانوي. ددغه ساعت د زنـګ وزن نژدې دوه خرواره دی چې له دې څخه د هغه د ښکلي غږ هیبت جوتېدلی شي. له لوړوالي سره سره یې غږ پر غوږونو بد نه لګېږي او بلکه د پیانو له غږ سره ورته والی لري. د ښار د ډېـرئ سـیمو وګـړي د شپې او ورځې خپل وختونه د هغه له مخې جوتولی شي. او د وګړو د وړو او زړو د دوعاګانو خواږه غږونـه له شهنازي ترانو سره مخالف رښتیني آوازونه د هغه له غوږ پالونکو غږونو سره غبرګېـږي، د ورځـو او شپو د ایکي یواځینی څښتن دربار ته پورته کېږي [رفع بارګاه... میګردد؟ ] همدومره

ketabton.com - The Digital Library



# د نړیوال سیاست لنډیز

کله چې د نویړالو پېښنو پاڼو ته نظر واچوو، نو نړۍ راته له الو ګولو ډک یو کړکېچ کې وبرېښي، چې له هرې خوا د سیاست د څپاند سیند ویروونکي سیلابونه پــه کــې پــه غړمبا را بهېدلي او د ځمکې په زړه کې د براسونو او غازونو او ویلي شویو او اوبه شویو موادو په دود یې د نړۍ پر هره خوا لړزې او زلزلې راوستې دي. او هغه لویه سیمه چې دا له شورماشوره ډکه زلزله په کې په ویجاړیو کېوتې ده، د عثماني [ترکیې] او ایران اسلامي دولتونه دي او که لږ ور هاخوا سترګې وغړوو، نو د چین پراخې سیمې هــم د کړکېچ په یوه بېساري ګرداب کې نښتې مومو. او چې کله بیا د نژدې لوېدیځ لور تــه ځیر شو نو هغه ځای هم د زلزلو له اغېزه وزګار نه وینو.

عثماني دولت په دوو ډاروونکو او پېچلو کړکېچونو کې ښکېل دی چې یو یې بهرنــی فتنې او بل یې د بېلابېلو کورنیو ډلو اختلافونه دي. په رېښــتیا ســره چــې دا دویــم کړکېچ تر لومړني دا ډېر وېروونکی دی او د اسلامي یووالي ټول پلویان یې اندېښــمن کړي دي. په اوسني وخت کې هغه ټاکلې ډلې چې یو بل یې سره له ستوني او ګرېوانه نیولی، د «یووالي او پرمختګ» او «حریت او ایتلاف» ډلې دي او پر دې سربېره یوه بله ډله هم شته چې «خپلواکه ډله» یې بولي. د ډلو ترمنځ دا توپیرونــه د یــوه مشــروطه عثماني حکومت د ټینګېدو او پر یوه وړ محور د دولتی اداري د راڅرخېدو په مخ کې یوه لویه ستونزه ده.

بهرنۍ غائلې چې د مشروطیت تر اعلان را وروسته یو په بل پســې پــر دغــه دولــت راغلې، د هغو ځواک ماتوونکو غایلو په ډله کې نه دي چې هر متبور او زړور یې مخــې ته د درېدو وس ولري. د ارتجاع مساله، د بوسنیا هرســک [هېرڅــو ګووینیــا] جــلا کېدنه، د بلغاریا د خپلواکی اعلان، د ګرېد (؟) پېچلې لانجه، د ارنادو (؟) بغــاوت او د یمن پاځون بس نه وو چې د اروپا یوه لوی دولت چې د درې ګوني اتحاد له املــه درې

ketabton.com - The Digital Library

دولته بلل کېږي، ناڅاپه او ناحقه یو بې رحمه یرغل وکړ او د هېواد یوه برخه یې یعنې د بدن یوه ټوټه غوښه یې ترې یوړه.
تر عثماني وروسته ایران په یوه لوی اړودوړ او کړکېچ کې وینو چې د روس او انګلیس سیاسي ډاینامیټو په یوې لړزوونکې تبې د مرګ تر پولې رسولی دی. که عثماني ملت د مشروطیت دعوه کړې او د اساسي قانون پلي کېدو غوښتنه یې کړې چې له اوږدو کلونو اجرا وروسته په کې په ځینو دلیلونو ځنډ راغلی و، نو د ایران ملت خو مخکې تر دې چې یو اساسي قانون ومومي او د خپلو ښوونځیو او پوهانو او هوښیارانو شمېر د عثماني دولت تر کچې ورسوي او ځان پر مشروطیت یو څه وپوهوي، د مغنم پېژندنې جَر د سیاسي میکروبونو پر چلونو او ټګیو تېروت [به انتریکه و نیرنګ های میکروبهای سیاسی جَر مغنم شناسی فریب خورده...] او پاڅونونه یې پیل کړل او چیغې او نارې یې سرکړې. او بیا نو ددغو میکروبونو اغېز ددغه کیاني لرغوني دولت پر ښایسته بدن ډول ډول ناروغۍ ورخپرې کړې او د مرګ پر پوله یې ودراوه.
د نژدې لوېدیځ حالت چې یو خپلواک اسلامي هویت و، د جرمني او فرانسوي مېس میریزمي (؟) له خوا په داسې یوه کوډګره بنه حل شو چې پخپله هغه پنځلس شپاړلس میلیونه وګړي ونه پوهېدل چې څه و او څه وشول. او تر هغو چې پوهېږي چې څه کېږي، د یوه مچ په څېر به د غنو په نښلوونکو جالونو کې له سره تر پښو بند شوي وي. سبحان الله! خبرې د خپلواکۍ کوي خو هره شېبه د ملتونو په اسیرولو پسې دي!...
د چین حالت هم که د لرلید په سترګو وګورو، نو دغه لویه برستن د ځینو ګټو له پاره چې که د یوې سپرې هومره هم وي، د ځینو خپلچارو په اوربلوونکو لمبو کې مومو، لکه د روس له خوا د منغولیا (منګولیا] د لاندې کولو تکلونه!...
دا ده د نړۍ د سیاسي حالاتو د لنډیز یوه برخه چې په لنډ ډول مو خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړه. همدومره.
(پورتنی لیکنه چې د بهرنیو پېښو تر سرلیک لاندې راغلې، د نړۍ پر حالاتو د یوې تحلیلي مقالې بڼه لري چې دغه راز یې د مقالو برخې ته هم یوه نسخه لېږدوو)

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال دولسمه ګڼه

# د پوهې او پوهنې ستایل او د افغانستان له برمه ډک تولواک منندویي

پوهه او پوهنه د مهال او مکان د هستوونکي له هغو ځلاندو وړانګو څخه دي چې کله يې رڼوونکې ځلا پر یوه هېواد او ولس او یا قام او ټولنې د ګټې رسولو لـه پـاره وړيـا خپره شي، نو د ناپوهو او بې لارو زړونو تیاره تل کې تور تورتم او د شقاوت او بې لارۍ جهالت ته ورته دهشت له هغه هېواد او ملت او قام او ټولنې نه د تـل لـه پـاره کـډه وکړي، د مدنيت او نېکمرغۍ، ښېګڼو او هوسايۍ او پېرزوينو وړانګې د هغې ټولنې او ولس ټولې خواوې راونغاړي.

پوهه او او پوهنه د حضرت سبحان دومره بېعيديله (؟) ښکلې پېرزو ده چې که يـې ښېرازوونکې او ژوندبښونکې وړمه د یوه هېواد پر ترپ او له اغزو ډکه کرونده ولګېږي او د حکمت او معرفت ګټور څاڅکې يې دانه دانه پرې راتوی کړي، ددغه هېواد د ټولو هيلو کروندې د ښېرازۍ په ازهارو (؟) اود هوسايۍ په نازکو اثمارو (؟) زرغونې اړوي.

پوهه او پوهنه د منان څښتن داسې یو قیمتي نعمت دی چې کـه د ټولـو مخلوقـاتو مطلق روزي رسوونکی د انسانانو پر شريفې بڼې له دغــې خونــدورې ژوندبښــونکې مادې څخه د خوړو او انفاق (؟) پېرزو وکړي، انسان تلپاتې ژوندانه او د نېکمرغــۍ او خونديتوب اصلي مقصد ته رسوي.

له عُجم (؟) څارويو نه انسان پر څه بېلېږي؟ پرعقل او منطق! د عقل او منطق هنداري صيقل څه دی؟ پوهه او پوهنه [علم او معرفت]! د پوهې او پوهنې سرچينه څــه ده او له کومه راوځي؟ له ښوونځيو او مدرسو! له بدويت او وحشــت نــه انســان څــه شــي

ketabton.com - The Digital Library

ژغوري؟ مدنيت! د مدنيت ښېګڼه په څه جوتېږي؟ د حکمت او پوهنې [معرفت] پــه ډېرېدو! د حکمت او معرفت د ډېرولو چاره د چا ده؟ د هوښيار روزونکي او د هېواد او ولس د ټينګ ساتونکي!

د ايکي يواځيني او بېساري ځښتن زرګونه زره شکر او ستاينه ده چې د افغانســتان هېواد او ولس يې د اعليحضرت سراج الملة والدين په څېر د برم او پرتم خاوند او پــه کمال او پوهې سبمال شهرياري ټولواک په سپېڅلي وجود وياړلی او ســرلوړی کــړی چې دده د همايوني فيضونو تر سيوري لاندې هماغسې چې د پرمختــګ او ســرلوړۍ ډېرې نښې را څرګندې شوې، د پوهې او پوهنې د وړانګو د خپرولو له پاره هم هېــواد او ولس ته يو خورا لوی واټ پرانستل شوی دی.

د دوی د همايوني بختورې تخت کيناستنې راهيسې چې په هېواد کې د نېکمرغۍ او هوسايۍ پيل دی، په نويو اصولو د ښوونځيو او مدرســو د پرانســتنې پــه اړه شــاهي حُکمونو او فرمانونو د راوتلو وياړ موندلی، لومړنی ښوونځی چې پــه مســلکي بڼــه د افغانستان د سُني سلطنت په پلازمېنه يعنې زموږ په ګران ښار کابل کې جوړ شــو، د «حبيبيې سپېڅلی ښوونځی» دی چې د دوی په وياړلي ټولواک نامه يې د نومېدو وياړ ګټلی دی.

دا ښوونځی سره له دې چې په لومړي سر کې د ببلګې په ډول کوچنی جوړ شو، خــو ورو ورو د پوهنې د خپل ستر پالونکي د مهربانۍ پاملرنې تر سيوري لانــدې پــراخ او عام شو او د «بيت العلوم مبارکه حبيبيه» وياړلی نوم يې وګاټه او د ښــار پــه [نــورو] سيمو کې يې د لومړنيو صبيانيه (؟) ښوونځيو ډېرې څانګې وغزولــې چــې هېــواد او ولس ته د لومړنيو صبيانيه ښوونځيو د ډېرېدو ګټې هغه څه نه دي چې سترګې پــرې پټې شي، ځکه چې لومړني ښوونځي د يوه هېواد د نېکمرغۍ ماڼې تــه د [ختــونکې] زينې لومړنی پاټکی دی.

تر دې وروسته يو ډېر لوړ عسکري ښوونځی د «مکتب فنــون حربيــه ســراجيه» [«د حربي علومو سراجي ښوونځي»] په نامه د لوړو پوړيو او سلطنتي کورنۍ د بچيانو لــه پاره زموږ د سپېڅلي او معارف پېژندلي اعليحضرت ټولواک تر مخامخ پــالنې لانــدې جوړ شو. په «حضوري چمن» کې د هېواد لويانو او مخورو ته د همايوني اعليحضرت تر

ketabton.com - The Digital Library

پیاوړي او اغېزناکې وینا وروسته د هېواد ټولو لویانو او مخورو د خپل ستر او زړه تــه نژدې ټولواک له سپېڅلتیا ډک پیغام هیلو ته د رسېدو له پاره یو ستر فوز او نجاح (؟) وباله او د پاچايي لارښوونې د پلي کېدو په لړ کې يې دغه لوړ ښــوونځي تــه د خپلــو بچيانو په اچولو کې له یو بل نه د مخکې کېدو سيالي پيل کړه. ستر شــاهزادګان هــم ددغه ښوونځي د زده کوونکوپه ډله کې راغلل. آن پخپله شهرياري اعليحضرت هم د ښوونځي د پرانستنې پر ورځ، خپل ښېګڼوال وجود د ښــوونځي د زده کوونکــو پــه دریشۍ پسوللی او ددغه لوړ ښوونځي په درنښت او پــرتم کــې يــې نــور ډېروالــی راوستی و.

«د حربي علومو سراجي ښوونځي» د پرانستنې پر مهــال د [ورځپــاڼې] ددې خــوار محرر [مسوول مدير] له نيمګړې طبعې يو ټوټه نظم راوتلی او څرنګه چې په دغه نظم کې د ښوونځي د جوړېدو نېټه د هغه د سپېڅلي پالونکي له ستاينې سره راغلې، کټ مټ دلته راوړل کېږي:

## قطعه

پوهنه چې پالي زموږ پاچا سراج الملة والدين
د «ملت ژوندی کوونکی» يې نامه شوه په تاريخ کې د افغان
د انسان ژوندون تړلی په کمال دی، په علم او په عرفان
چې يې علم او پوهه نه وي، بوله يې کاڼي د سارا د بيابان
د «ملت ژوندی کوونکی» يې بولم پر دې چې يې له مينې
د هنر او پوهې ور پرانست هر وګړي ته د افغان
د «حربي ښوونځي» بنسټ يې کېښود په کابل کې
ورته ټول کړئ له هرې خوا او ډلې شاګردان
پر هجرت تېر وو زر و درې سوه هم اووه ويشت کاله
چې جوړ شو دا ښوونځی په لاس د پاچا چې غواړي عرفان
۱۳۲۷

زموږ سپېڅلي او له رېښتياوو خبر پرتمين پاچا د پوهې مبارک مسلک ته يــو زورور پام لري او پوهې او پوهانو ته خورا په درنده سترګه ګوري او درناوی يې کوي. په خپله

ketabton.com - The Digital Library

په پلازمېنه کابل او په پاچايي ولايتونو کې يې ګڼ او ښه ودان او سمبال ښوونځي شته. زموږ د ګران وطن درانده علما تر ډېره د دولت په لوړو ادارو کې له تنخواه سره په بېلابېلو منصبونو او ماموريتونو لګېدلي دي. په سفر او حضر کې د ټولواک د همايوني نوراني حضور غونډې هېڅکله هم د يوه يا دوو تنو علماوو له شتوالي تشې نه وي. د مجيد کلام د حافظانو په هڅونه او پالنه کې هم چې زموږ ستر دينپالي ټولواک کومې هڅې کړي، په رښتيا چې د شکر او وياړ وړتيا لري. د حافظانو لـه پـاره يـوه ځانګړې اداره جوړه شوې او د وحيد هستوونکي د مجيد کلام د حفظولو په برخه کې لا نورې هڅې کېږي. د ستر قرآن حافظانو ته تر ازموينې وروسته يوه ټاکلې انـدازه تنخواه ورکول کېږي او له دې لارې ورځ تر بلې يې په شاهانه هېوادو کې د پاک قرآن د حافظانو شمېر ډېرېږي.

په هغو ارزښتناکو علمي تاسيساتو کې چې په وياړلي سراجي پېر کې رامنځته شوي، [يوه هم] په خپله سُني سلطنتي پلازمېنه کې د ورځپاڼو د چاپ او خپرېدو اجازه ده.

# سراج الاخبار افغانيه

يو داسې لوړ خير رسوونکی ښوونځی دی چې د هيوادنيو ورونو زرګونه يې د پوهې او خبرېدو په ښوونځي کې د ګټورو معلوماتو لوست وايـي او پـر بېلابېلـو مقـالو ځـان خبروي. زوړ او ځوان، ملا او عامي، کبير او صغير، ښځې او نارينه[-] هر ډول وګړي د پوهنې په دې ښوونځي کې د بېلابېلو نړيـو پـه ننـداره بريـالي کېـږي. ددې خيـر رسوونکي ښوونځي پراختيا د ټول افغانستان د پراختيا هومره ده، نه،نـه ددې ګټـور ښوونځي د قلم رږغ د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېږي. بېشکه چې زموږ د ستر زړونـو تـه نژدې خورا مهربان او رحيم پاچا دا پوهنپالنه چې خپلو رښتينو او وفادارو وګړو تـه يې د ورځپاڼې د خپرېدو اجازه ورکړې ده، په هغو احسانمنو او پرمختګپالو پېرزوينـو کې راځي چې په ولس او هېواد کې يې د شکر د ايستلو وس نه شته.

زموږ سپڅلي ټولواک د پوهنې د خپرولو او د نړۍ له حالت نه د خپلو صادقو وګـړو د خبرولو له پاره ورځپاڼه خورا مهمه وسيله بولي چې د خپرولو اجازه يې پر دې خوار او له خاورو سره برابر بنده (محمود طرزي) پېرزو کړه چې تر همايوني عـدل ښـوونکي

ketabton.com - The Digital Library

ظلیل (؟) سیوري لاندې يې په خپلې دې دولسمې ګڼې سره یوه شپږ میاشتنۍ دوره بشپړه کړه او له یو څه

# پرمختللي نوي والي

سره د مطبوعاتو په ډګر کې د ګرانو لوستونکو او درنو ګډونوالو پام ته وړاندې شوه. د سراج الاخبار افغانیه په پرمختللي نوي والي کې دا څو شیان راځي:

لومړی- سر له همدې ګڼې يې د خپلې ورځپاڼې مخونه څلور ډېر کړي او خپلې دولس پاڼې يې اوس شپاړلسو [ته رسېدلې] اعلانـوي او پـه ډول یـې د خپلـو مطـالبو پـه رنګارنګۍ او خوند کې ډېروالی راوستی او له دې وروسته به يې یوه ګڼه هم لـه هغـو پرله پسې مقالو څخه چې پاتې يې بیا راځي، تشه نه وي.

دویم- له دې ګڼې سره د «پوهې او اسلامیت» په نامه یوه ډېره ګټوره رساله هم ګرانو لوستونکو او درنو ګډونوالو ته د ډالۍ په توګه وړاندې کېږي. دا ګټور اثر د دوو دلیلونو له مخې لیکل شوی دی: یو خو دا چې د هغو مخالفینو نظر په کـې رد شـوی چـې د اسلام سپېڅلی دین د پوهې او هنر غلیم انځوروي. بل دا چې ټولو ته روښانه شي چې د اسلام سپېڅلی دین د هغې پوهې او هنرونو چې په اوسمهال کې يې غلیمان پر موږ برلاسي کړي، مخه نه نیسي، بلکې د دین او وطن د چوپړ په خالص نیت ددغو علومو او فنونو لوستل اوزده کول واجب او اړین ګڼل کېږي. او دا هم په دې دلیل چې که لـه دې وروسته له حَکَمي او طبیعي علومو او فنونو څخه کوم څه د سراج الاخبار په پاڼو کې راشي چې دا اثر يې د سپینولو او استدلال وسیله وي.

د پرمختګ دا نوی والی چې سراج الاخبار افغانیه یوازې د خپلو ګرانو لوستونکو د پام اړونې او خوښونې له پاره د شپږو میاشتو په ترخ کې را پیل کړی، هیله لرو چې ګران هېوادوال به يې د بیې د لوړېدو له فکره اړولي وي او سراج الاخبار افغانیه لـه خپلـو ګرانو ګډونوالو سره دا ژمنه هم کوي چې که خدای کول په الهـي فضـل او کـرم او د اعلیحضرت ټولواک په پېرزوینو به په هرو شپږو میاشتو کې د پرمختـګ دا ډول یـو نوی والی راولي او د ګرانو لوستونکو د پام راړونې او ګټې اخیستنې له پاره لا نور چوپړ کوي.

ketabton.com - The Digital Library

دا هر څه زموږ د ستر او سپېڅلي، له رېښتیاوو خبر، پوهنپـال، دینملګـري او نیـاو خپروونکي ټولواک له پام او پېرزو پرته بل څه نه دي چې دې سپېڅلې ورځپاڼې ته د مهربانۍ یو ځانګړی شاهانه نظر لري. نو ځکه د خپل سـپېڅلي، زړونـو تـه نـژدې او پرمختلونکي ټولواک د برم او پرتم د لا ډېرېدا او د روغتیا او بخت د بقا له پاره په بې ریا دوعا سره دا مقاله بشپړوو او د نړۍ ساتونکي ټولواک له پاره صمداني (؟) بریا او د خپل عبیدانه ځان په حق کې یې د پاملرنې زارۍ او هیله کوو چې په دې عاجز قلـم سره د خپل هېواد د ګټې او خبرولو په له پاره یو څه چوپړ وکړی شو. ومن الله التوفیق

ketabton.com - The Digital Library



# بهرنۍ پېښې

د نړیوالو سیاسي پېښو لنډیز

کله چې د نړۍ سیاسي اُفق ته وکتل شي، د آسیا لویه وچه په تیارو او تورتم لړو [غبار] کې پوښلې بریښي چې د تیارو د توپاني وریځو تپو د هغې هر لوری پوښلی، د یوې توپاني بوربوړکۍ نښې یې برسېره کړي، هغه بلا زېږوونکی سیلاب چې له څو پېړیو راهیسې د شمال له لیرې پرتو سیمو نه د هند د پراخې ورشو د ډکولو [نیولو] له پاره راخوځېدلی او د تاتار او ققفاز سیمو او ماوراءالنهر او ترکمان او نورو پراخو بیدیاوو ژورې کندې یې ډکې کړي او په پای کې یې د نړۍ د بام- د پامیر د غرونو لوړې څوکې د خپل ډاروونکي بهیر په وړاندې ببلوونکی خنډ وموند. څرنګه چې د سیلاب طبیعي عادت دی چې که له خنډ سره مخامخ شي نو شاته ګرځي او شاوخوا نورې سیمې او کندې ډکوي. له همدې امله یې چې کله د پامیر او چترال د تېرېدو ګودرونه د بهیدا په لار کې د خپل سیال په مهارت د جوړو شویو خنډو په وړاندې تړلي وموندل، نو عجیب وپړسېد او د سایبریا له لارې د منچوریا پر حوزه توی شو او غوښتل یې چې له آرام سمندر سره ګډ او له دې لارې خپلې موخې ته ورسېږي. بیا یې هڅاند او ماهر سیال د جاپان ټینګ اوسپنیز زغره وال خنډ د پرمختګ د موخې او نښې مخې ته ور ودراوه. په دې سره له هغه ځایه هم نهیلی شو او ناڅاپه یې د اسلامي نړۍ پر ښېرازه، آباده او له هار او ګلزار نه پر ډکه حوزه (ایران) یرغل وروړ. خو څه یرغل! له غدارۍ او بېرحمۍ ډک وینې تویونکی یرغل.....

خو فکر ونه شي چې ددې سیلاب اوبه به رنې، ځلېدونکې او خوږې وي. نه، نه، دا سیلاب له هغو ناولو، بوینو او ساه نیوونکو اوبو جوړ دی چې د دین او ناموس له ویجاړوونکو او د خپلواکۍ له پاره د هېوادونو او ملتونو د حق له ځپونکو سوړو څخه راوځي.

ketabton.com - The Digital Library

ایران دا مهال په بربادی کېوتی، روس په تبریز او رشت او استرآباد او مازندران او مشهد کې تر لسو پنځلسو زرو عسکر راټول کړي دي. په تبریز کې روسي حکومت درول شوی دی. نو دې ته څه نوم ورکړو؟ د برتانیا دولت که څه هم د روس دې تړون ماتونې ته په سړه سینه او صبر سره ګوري، خو دې سړې سینې او زغم ته څه مانا ورکول کېدلی شي؟ آیا دې دولت د ایران د خپلواکۍ او شتوالي په اړه د ایتلاف یو تړون نه و کړی؟ هغه ایتلاف څه شو؟ ښکاره ده چې دا ډول تړونونه او ایتلافونه د توپکو د برچې د قلم پر څوکه او د توپونو د لوګي په رنګ د جګړې د ډګر پر کاغذونو باید ولیکل شي!

د چین اړودوړ او انقلابونه او جمهوریت ته د شهنشاهي نظام اوښتو سملاسي همدا پایله را ایستلې چې د یاد شوي بلامـآب (؟) سیلاب لـه پـاره د منګولیا او چیني ترکستان له لارې، د همالایا په ډاروونکو دَرِو کې شلاَله های عظیمه مهمه (؟) جوړ شي چې د خپلې خوښې بستر ته یې وغوروځوي. خو له دې خبر نه دي چې تر هغو دوی خوځېږي، د هغه زیارکښ او ماهر سیال (دالای لاما) یې ورته په تبِت کې چمتو کړی او بیا یې د هغه د هیلو غشی په ختیو کې ونښلاوه.

راغلو ایټالیا ته: د روم په تاریخ کې مو لوستي و چې په تېرو زمانو کې په روم کې یوډول تیاترې ننداري ترسره کېدې چې «د وینو تیاترونه» یې بلل او هغه داسې وو چې یو وږی زمری یا لېوه یا پړانګ به یې په یوه انګړ کې چې ځانګړی د تیاتر له پاره جوړ شوی و، خوشی کړ. وروسته به یې یو مظلوم، مغدور (؟) محکوم د زندان له خونې راوست او ورته وبه یې ویل چې دې مفترس (؟) ځناور ته په زړورتیا ورغاړې وځه، که بریالی شوی له وژلو خلاصېږې. بېوزلي محکوم به چې د ځان خلاصون په دې کې لیده، تر وروستۍ بشري کچې هڅه کوله او نندارچیانو به یې په پوره خوند او شوق د بدن د ټوټې ټوټې کېدو او د وینو د بهېدو ننداره کوله. ددغه ډول تیاترونو کنډوالې لاتر اوسه د روم ښار له ارزښتناکو لرغونو آثاروڅخه دي چې هره ورځ ایټالویان د ننداري له پاره ورځي. له همدې ځایه ده چې په دې شلمه پېړۍ کې د ایټالویانو مدنیت یو ځل بیا ددغو تیاترونو د دیرکتوری [ډایرکټرۍ] دنده د وحشت په خپلو ماهرو لاسو او له وړتیا ډکو ورغویو کې اخیستې، په سره سمندرګي او سپین

ketabton.com - The Digital Library

سمندرګي کې يې خپل داړونکي عقور شوي (؟) سينګړاوان [سـګماهيان] د يمـن او حجاز له لوري د عاجزانه مدافعې له پاره پر سمندري ښندو ګومارلي دي. د وينو ددې تياتر ننداراچيان په خورا بې پروايۍ سره به نندراه بوخت دي. تر ټولو عجيبه دا چې دا داړونکي سينګړاوان له ډېرې عقورۍ (؟) کله کله پر ننداراچيانو هم بريدونـه کـوي- لکه هغسې چې يې د فرانسې او انګرېز پر بېړيو بريدونه وکړل- ننداراچيان بيا هـم د هغه پوره خوند له امله چې له دې ننداره يې اخلـي، د وينـې توېيـدنې ددې ډرام د پايته رسولو ملاوې نه تړي.

دا و د نړۍ د سياسي پېښو لنډيز چې د خپل نيمګړي فکر له مخې مو يې لنډه بنه په پورته ډول انځور او خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړه.

ketabton.com - The Digital Library



# د لمقان قلعة السراج [د لغمان سراج کلا]

د افغانستان د خدای ورکړي له برمه ډک دولت په اړوندو تودو، ښېراز، له اوبو ډکو او زرغونوسيمو کې يوه هم د لمقان حکمراني ده. د لمقان ځمکنی جوړښت يوه زرغون او ښېرازه مستطيل ته ورته دی چې له يوې مخې له ختيځ نه د لوېديځ پر لور غزېدلی دی. ددې ښېرازې وادۍ شاوخوا لوړو او ټيټو غرونو او غونډيو چاپېر کړې چې په ټوليز ډول خورا يو ښايسته زرغون انځور جوړوي. ددې وادۍ محصولات تر ډېره په شولو (وريجو) پورې محدود دي، سره له دې چې نورې غلې لکه غنم، جوار او اوربشې هم په کې کرل کېږي. خو د لمقان غوره محصول وريجې دي.

د لمقان ښېرازه او پسته (نرمه) وادي دوه ځلاند او راڼه سيندونه اوبوي چې يو يې د «آلنگار» [الينگار] او بل د «اليشنگ» سيندونه دي. د الينگار اوبه د لمقان له شمال ختيځ لوري ددغې سيمې له ليرې پرتو غرنيو سرچينو نه راوځي او د لوېديځ پر لور بهيږي چې د«قرغه يي» کلي شاوخوا له اليشنگ سيند سره چې ددغې سيمې له شمال لوېديځو درو څخه راوځي، گډېږي او يوه لوی سيند ته چې «د کابل نهر» يې بولي، ورتوييږي.

ددې وادۍ په پراخه برخه کې، د اليشنگ او الينگار د دوو سيندو ترمنځ، پر يوه پاکه اوهواره ځمکه، د دواړو درو په خوله کې «قلعة السراج لمقان» [د لغمان سراج کلا] جوړه شوې ده. دا خورا يوه ارزښتناکه ودانۍ ده چې زموږ ستر سپېڅلي ټولواک ذات اعليحضرت سراج الملة والدين يې د ډېر گټورتوب له امله د جوړولو فرمان ورکړی دی.

لومړی د سيمې د موقعيت له پلوه چې د لمقان ايالت يې لري، ددې ډول يوې پياوړې عسکري کلا شتوالی اړين و. ددې کلا له لارې بېلابېلې عجيبې درې چې تر نورستانه

ketabton.com - The Digital Library

چې پخوا «کافرستان» بلل کېده، آن تر چتراله همداسې غزېدلې تللې دي، تر امنيتي [سپر] لاندې راغې او دغه راز د جلال آباد لوی ولايت چې يو حاکم يې په سر کې دی، له شمالي پلوه پياوړی کېږي.

دويم، پر کابل سيند چې د جلال آباد او لمقان ولايتونه يې سره ويشلي، د درونټې د لوی پله تر تړل کېدو وروسته، په طبيعي ډول دغه دوه ولايتونه سره وتړل شول او اړيکي يې پيدا کړل. او څرنګه چې اعليحضرت شاهانه ذات هر کال ژمی په جلال آباد کې تېروي، او دا چې په جلال آباد کې د شاهانه استوګنې پر مهال د لمقان ولايت او د هغه عجيبې زړه راښکونکې درې هم په طبيعي ډول د اعليحضرت د سيل او ګرځېدو په کړی کې راغې، نو ځکه د حکم چلونې يو مرکز او يو شاهانه مَطّرَح (؟) په دې سيمه کې خورا اړين او ارزښتناک بلل کېده. نو پر همدې بنسټ اعليحضرت شاهانه ذات دوه کاله وړاندې ددې ډېرې بديع [نوې؟] ودانۍ «قلعة السراج لمقان] د جوړېدو لارښوونه وکړه چې اوس بشپړه شوې ده.

ددې لوړې [عالي] ودانۍ د جوړونې نقشه هم د همايوني پېر د نورو ودانيو په څېر پخپله اعليحضرت شاهانه ذات تر خپل همايوني څار لاندې ايستلې او يوه پياوړې او زړه راښکونکې ودانۍ يې چې د رزم او بزم [جګړې او هوساينې] ټولې ښېګنې په کې دي، رامنځته کړې ده.

اوس دا  پر تمينه ودانۍ هومره چې تېر کال د اعليحضرت د شاهانه ملګرتيا پر مهال مې ليدلې او په حافظه کې پاتې شوې، خپلو ګرانو لوستونکو ته وريېژنم او انځوروم:

[اين قلعه مرکب از دو سور يک بر ديگر محاط شده ميباشد؟]  دا کلا له دوو يو پر بل چاپېرو سورونو (؟) څخه جوړه ده چې يويې بهرنی او بل يې دننني سور دی. د توپ له يوه ستر وره [دروازې] نه چې د کلا پر شمالي لوري پرانستل کېږي، کلا ته ورننه وځو. د کلا ددې ديوال او د دننني کلا د دېوالو  په منځ کې يو روڼ، هوار او ښکلی ډګر هرې خواته پلن دی چې پوځي ښوونې او روزنې ته ښه جوړ دی. د کلا ديوال ښه پلن او پياوړی دی چې پر يوه خورا ژور بنسټ له ډبرې او چونې راجګ شوی او وروسته پکې خښتې [کارېدلې دي]. پر دغه ډګر بيا له يوې بلې دروازې دننني کلا ته ننه وځو. دا دننني کلا د قلعة السراج په ارګ کې ولاړه ده او ددې دننني کلا دېوال هم د بهرني

ketabton.com - The Digital Library

کلا د دېوال په څېر دی. کله چې سړی پر وره ننه وځي، لومړی څیز چې یې پام ور اړوي، هغه ښکلې لوړه [عالي] او بې عیبه ماڼۍ ده چې د کلا وره ته مخامخ، یعنې د کلا د جنوبي برخې په وروستۍ څنډه کې ولاړه ده. په مهارت جوړه شوې دا سینګار ودانۍ یولوړ دوه پوړیز تعمیر دی چې د نویو اروپايي ودانیو په بڼه[سبک] جوړه شوې چې خورا ګڼ اپارتمانونه [دايرې] لري، چې په هره دايره کې يې د کار خونه، د ناستې خونه، د خوب کوټه، توالت [تشناب] او د ځان مینځلو ځایونه شته. ددې ودانۍ پراخ ښایسته دالانونه او ورسره موازي زړه راښکونکي اوږده دهلیزونه په رېښتیا چې ډېر د خوښېدو وړ دي. لومړی له یوې کفشکن ډوله راوتلې بَرَنډې نه چې له دریو خواوو درې څلور پاټکی زینې لري، یوه اوږده دالان ته ننه وځو چې ددې دهلیز له ښۍ او کینې خوا نه ور ته د هغو آپارتمانو دروازې راخلاصېږي چې وړاندې یې یادونه وشوه. د دهلیز له دواړو خواوو نه دوه خورا اوچتې زینې چې ختل پرې آسان کېدلی شي، د ودانۍ پاسني پوړ ته پورته شوې دي. پاسنی پوړ هم د کوزني په څېر پر همدومره آپارتمانو او دالانو او دهلیزو ویشل شوی دی چې په ټوله کې دې زړه راښکونکې ښایسته ودانۍ په حق سره چې ډېر ظرافت او خوږوالی موندلی دی.

په تېره بیا چې کله یو متفکر کس له بَرَنډو نه ووځي پر شاوخوا سیمو یو ځیر نظر وځغلوي، د طبیعت داسې شاعرانه لوحې (؟) به ووینې چې له حاله ووځي. له ختیځ لوري د الینګار زرغونه او لطیفه وادي له ټولو ښایسته منظرو او له شولو او نورو کروندو سره، له دوو خواوو د لوړو او ټیټو غونډیو په منځ کې تر واورینو اوځنګلي غرونو پورې چې له ډېر واټنه بریښي، غزېدلې پرتې دي. له جنوبي پلوه تر قرغه یې کلي پورې، یو ښکلی هوار ډګر تر سترګو کېږي چې د جلال آباد د موټرو پوخ سړک لکه د یوې نېغې لیکې چې پر زرغون کاغذ کښل شوې وي، پر دغه ډګر غزېدلی او پر یوه ډېر لوی پاخه او منظم پله د الینګار سیند پر سر اوړي او د قرغه یي د غرنیو تړو څنګ څنګ ته د همدغه سیند په خوا خوا کې درومي او هلته ښه وړاندې له سترګو پټېږي. له لوېدیځې خوا څخه یوه ښایسته غونډۍ چې «بي بي غونډۍ» یې بولي او په لمنو کې یې پراته بڼونه او کروندې تر سترګو کېږي او له شمال لوري د الیشنګ اوږده او ښېرازه او له اوبو ډکه درِه نظرونه ځانته ورماتوي.

ketabton.com - The Digital Library

**اوس ددې کلا نورو فرعي برخو ته ورستنېږو:**

**د کلا په لوېدیځه خوا کې له دوو جلا آپارتمانو څخه پرته چې د ګرانو شــهزادګانو لــه پاره جوړ شوي، د مزدورانو د استوګنې له پاره ګڼې نورې خونې هم شته او په منځ کې یې لږ څه د کلا شمالي لورته یو ښایسته جومات جوړ دی او د کلا شمالي خــوا هــم د مزدورانو د استوګنې خونو نیولې ده. ددغو مزدورخونو له پاره یــو ښایســته او لــوی حمام هم جوړ شوی دی. د کلا جنوبي خوا له برِمه ډک همایوني حرمسرا(ی) [د پاچــا او کورنۍ د اوسېدو کور] چې په خورا ښایست او سینګار جــوړ شــوی، نیــولې ده. دا حرمسرا(ی) هم ګڼ اپارتمانونه، مزدورخونې، دالانونه او حمامونه لري چې په یوه پراخ او هواناک انګړ کې راټول شوي دي.**

**دا و د «قلعة السراج لمقان» د حال لنډیز [که بدرجات باقیــات نقــش ضــمیر تصــویر توانستیم؟] له الهی درګاه نه غواړو چې ددې سپېڅلي او همایون بخت پاچا د بختورو قدمونو په برکت دا او دې ته ورته لوړې [عالي] ودانۍ بېشماره کلونه په پوره پــرتم او برم او سلامتۍ [همداسې] آبادې اوښېرازه وســاتي چــې د نــړۍ د لویــو ښــارونو او ښارګوټو حسد پرې راشي. آمین**

ketabton.com - The Digital Library



## ځانګړې مقاله

# اسلامي یووالی

په نړۍ کې هغه کلمه چې د «حاصل تحصیل» په بشپړه مانا رانغاړي، همدا د «اسلامي یووالي» ټکي دي. یعنې د اسلام پیوستون اصلاً او اساساً پر دریو څیزونــو تړلــی دی، چې هغه د «لااله الاالله محمد رسول الله» پاکه او جامعه کلمه او حبل المتــین «مبــین قرآن» او د «سپېڅلې او سترې کعبې» جامعیت دی. د مسلمانانو هر وګړی چې که په ختیځ کې وی یا لوېدیځ کې، د دین او مذهب پر دې معنوي لارو داسې ټینــګ او یــو موټی دي چې بېلتون او جدا والی یې په هېڅ زور او ځواک سره نه شونی کېږی، مګر دا چې پر دغو دریو وسیلواړه ونه لري او چې پر دغو دریو وسیلو اړه ونه لري اسلام نه بلل کېږي چې په دغه حالت کې د «اسلامي یووالي» بلنه هم د هغه له پاره نه ده. حال دا چې له دې دریو بنسټیزو اصولو پرته چې بیان شول، نور ډېر اصلونه چې بیا دا هــر یو خپلې نورې څانګې لري، اسلامي نړۍ سره یو کوی او نه بېلېدونکې یې ګرځــوي او دا تړاوونه هېڅ زور شکولی نه شي.

نو که چېرې د «اسلامي یووالي» بحث موخه همدا معنوی څیزونه وی چې بیان شــول، دا له دیارلسو پېړیو له مسلمانانو سره شته او هغوی ته روښانه دي او ډاګیزه کېــدو او تر لاسه کېدو ته یې اړتیا نه شته. خو که د «اسلامي یووالي» موخه د هغــې مــادي او فعلي اړخونه وي، نو دا هم دوې بڼې لري چې یوه یې قولي او بله یې فعلــي ده. قــولي هغه دي چې پېښلیکونو یې په ډول ډول معقولو او منقولو دلایلو سره بیــان کــړی او کوي او د اسلامي نړۍ مطبوعاتو یې په اړه ګڼ کتابونه او رسالې په بېلابېلو ژبو خپاره کړی او لا خپروي. که څه هم ددې بحثونو او نظریو پر ګټو سترګې نه شي پټېدای، خو په خورا خواشینۍ لیدل کېږي چې موږ یې [په خولې] وایو او نور یې عملاً پلي کــوي. همدا چې له یو بل سره د غړېدو تکل وکړو، سیالان مو په خپلمنځي یووالي هغه دوه ځلي، درې ځلي او څلور ځلي عملاً تر سره کوي؛ همدا چې له یو بل سره پر همدردۍ

ketabton.com - The Digital Library

او لاسنيوي د غږېدو تکل وکړو، په سيالانو کې مو هم سيالي او نفاق عملاً په يووالي او اتفاق اوړي او پر موږ د ډول ډول بلاوو د راوستلو ډاروونکې کړنې پيلوي.
نو نا چاره بربښي دا چې لکه هماغسې چې په ډېرو څيزونو کې وروسته پاتې يو، نو د عملي او فعلي يووالي په برخه کې هم خورا ډېر وروسته پاتې يو. لکه هماغسې چې موږ لا تر اوسه د شوسې [موټري لارو- د.ج.] څښتنان شوي نه يو، خو هغوی پر هوا الوزي، [نو] د يووالي د رښتوني مانا په پوهېدو کې هم همداسې پر ځمکه پاتې يو.
آيا دا څه ډول نوم سباتي (؟) و چې له پېړيو پر موږ لاسبرې ده او موږ يې نه يو پربښي چې خپلې سترګې د ځان لور ته پرانيزو؟ آيا دا څه غفلت او لنډپاري وه چې له آسيا تر اروپا مو سترګې غړولې او نه مو ليدل چې هلته زموږ د ورکولو او پو پناه کولو له پاره کوم چلونه او کومې کوډې کارېږي؟ آيا دا څه لويي او استغنا وه چې د اروپا له لوري مو د عقلونو د تتوونکو وړانګو تر ليدلو او يا اورېدلو وروسته د هغو د لاسته راوړو له پاره په ځان کې يو ټيټوالی او تواضع ونه ليده. او لا تر اوسه يې نه وينو؟ يو مهال و چې له اروپا نه به د پوهې او فن سلګونه زده کوونکي د اندلس، مصر، استانبول او بغداد مدرسو او پوهنتونو ته راتلل او د هغو ځايوپه مدرسو او پوهنتونوکې به يې حکمي او فني علوم زده کول او بېرته به خپلو هېوادو ته ستنېدل او په عملی کولو به يې بوختېدل. هو، هېڅ شک نه شته چې حکمي او فني او ادبي او نور علوم له همدې اسلامي پوهنتونو څخه اروپا ته رسېدلي دی. خو زر ځله افسوس دی چې هغوی دغه علوم او فنون چې له موږه زده کړي، ورځ په ورځ او شېبه په شېبه يې د عملي او نظري پياوړتيا زيار ايستلی او زموږ د ببخ ايستلو له پاره يې ويجاړوونکې وسلې تر لاسه کړې دي. او د دوی پر عکس يې موږ هم ورځ په ورځ او شېبه په شېبه، نه يوازې په عملي کېدو پسې نه ګرځو چې نظري بنه يې هم رانه لګيا ده هېرېږي.
يوازې حکمی او فلسفي علوم او فنون نه بلکې خپل اخلاقي او حياتي او ټولنيز علوم مو د غفلتونو او نفس پالنې له امله بايللي او اوس راته د غليمانو په لاسو کې زموږ د قتل وسيلې ګرځېدلي چې په ډله کې يې يوه همدا د وروګلوی او يووالي مساله راځي.
سبحان الله! په داسې حال کې چې موږيو د بل مرستې، له يو بل سره مينې، له يو بل سره يووالي، له يو بل سره ښې راشې درشې او چلند ته د خدای او رسول او لارښوونکو په وينا د دين له خوا ګومارل شوي او مکلف شوي يو، نور وينو چې لګيا دي زموږ دا مکلفيتونه پلي کوي. د پيرنګ ټول ملتونه د يوې مينه ناکې ډلې په څېر

ketabton.com - The Digital Library

مومو چې د بال [نڅا- د.ج.] په یوه پرتمین او ځلاند مجلس کې د ختیځو هېوادونـو د خوندورو خوړو د تېرولو پر دسترخوان ناست دي او چې هرڅوک یې یـوه ټوټـه لـه ستوني تېره کړي، نور یې په روغتیا د خوښۍ یوه پیاله پر سر واړوي او له ټولـو ملـي توپیرونو، ماهوي جلاوالي او مذهبي بېلتون سره سره، همدا چې د ختیځ یوه مسـاله رامنځ ته شي، هماغه ګړۍ دغه ټول سیاسي، ماهوي او مذهبي توپیرونه یوې خواته کړي او ټول سره په دې تړاو یو وجود او یو فکر شي او دغه مساله د خپلـو ګټـو پـر بنسټ په خپل منځ کې سره غوڅه کړي.
په داسې حال کې چې اوس یې چاړه هډوکي ته تېره کړې او خبره یې د مســلمانانود دین او ایمان د سپېڅلو عبادتځایونو ویجاړولو ته رسولې ده. اوس نو دلته یوه پوښتنه راپورته کېږي چې که وحشي غدار او ناکار ایټالویان پر معظمه مکه او منوره مدینه د بمونود غورځولو دا ګواښ پلی کړي

# نو مسلمانان به څه وکړي؟

هر څوک یو فکر لري او یو اټکل او قیاس وړاندې کوي. که وی او که نه وي خو بیا یـې هم له بیانولو ځان نه شي ساتلی. نو ځکه دا بېوزلی محرر [د ورځپاڼې مدیر- د.ج.] د خپل نیمګړی فکر د بیان په وړاندې کولو کې کوم خنډ نهویني.
لومړی خو دا ووایم چې د ایټالویانو دا ګواښ او وېرول یوه بېځایه او تشه خبره ده چې له څواک نه یې عمل ته اوښتل په سلو کې نوي بیخي ناشوني دي. ځکه چې الوتکې او بالونونه یې د پرمختګ دې پوړۍ ته نه دي رسېدلي چې له روم یا طرابلس او یا مُصَوَع [په اریتېریا کې د سره سمندرګي پر څنډه پروت ښار- د.ج.] نه راوالـوزي او تـر دې سپېڅلو ځایونو پورې را ورسېږي او بمونه وغورځوي. داسې به وګڼو چې دا خیالولی او له شیطانۍ ډک کمال یې هم موندلی، یقین ته نژدې ګومان دادی چــې نــور اروپــایي دولتونه به دا عقل بایللی لېونی سپی د خورا خطرناکو پایلو دې کار ته پرېنږدي ځکه چې د هغوی په اوږدمهال سیاسي فکر کې د ختیځو هېوادونو د غوړې او پستې مړۍ ورو ورو تېرول راځي، نه یو ځلي! ځکه ښه پوهېږي چې هضمولی یې نه شي او په نس خوږی به یې اخته او مړه کړي. په تېره بیا چې ځینې مړۍ یې چړو تــه ورتــه اغــزي [لَشکې- د.ج.] هم لري چې تېرول یې د بنیادم ستونی او ځیګر څیروي!... فرض کړو چې دولتونه هم لکه هغسې چې یې ددغه ناکار غدار پر ډېرو وحشــیانه حــق مــاتونو سترګې پټې کړي، دلته هم همداسې وکړي، هله به نو د نړۍ د مخ ټولو مسلمانانو تــه لکه د روښانه ورځې جوته شي چې له ختیځ سره د لوېدیځ جګړه اعــلان شــوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

ځکه چې چوپتیا یې لکه رضا بللې ده. نو ځکه داسې انګېرنه ده چې مسلمانان به خپله لاره واړوی او یوې ویجاړوونکې افراطي «انارشیستۍ» ته به مخه کړي او لکه چې تر دا اوسه یې د هغوی د مهارتونو او مدني هنرونو د تقلید هڅه کړې، له دې وروسته به د ژمن ماتونې، حق ځپنې، وین تویونې، اورلګونې او ټولوژنې په تقلید او ترویج په تېره بیا په معبد ورانونې لاس پورې کړي چې په یوه دین او یوه قانون کې هم روایت او جواز نه لري او د آنارشیستۍ تګلاره به د هغې له ټولو مفاهیمو او محتویاتو سره پلې کړي او دغه راز اټکل او قیاس دی چې که (خدای مه کړه) ایټالویان دا وحشي او بېباک جرات او زړورتوب په عملي ډول له ځانه وښیي، چې انشاءالله هېڅکله به هم داسې ونه شي- نو دلته به پخپله په هغوی کې په بمونو د معبدونو ویشتل ونښلي. ګومان دی چې د عثماني هېوادو مسلمانان به په سوریه، اناتول او روم ایلی [هغه اروپایي ځمکې چې عثماني ترکانو په جګړو کې لاندې کړې وې- د.ج.] یوه کلیسا، یا معبد او مناستر [عیسوي معبد- د.ج.] هم پرېنږدی او ټول به پر هوا کړي.

نو بیا به د معبد جنګی په دې کړکېچ کې بریالی څوک وي؟ هېڅ شک نه شته چې عثمانیان! ځکه څومره چې د هغوی ښېرازې، آبادې او ښېپړې کلیساوې، مناسترې او معبدونه په عثماني هېوادو کې شته، دومره د هغوی په هېوادو کې د مسلمانانو جوماتونه نه شته. دا دي عاجزانه قیاسونه او اټکلونه چې وړاندې شول، پاتې نو له الهي دربار نه د «اَلَمّ تَرَکَیّفَ... الآیه»د کریم آیت د معجزې د راڅرګندېدو غوښتنه کوو.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال، پنځلسمه ګڼه، ۱۰- ۱۲ مخونه

**ځانګړې مقاله**

# له طبيعي ځواک سره د مبارزې له پاره د انساني يووالي اړتيا

ګران لوستسونکي چې کله دا سرليکه وګوري له ځانه سره به وايي چې دا څه د لېونو خبرې او چټيات دي؟ يووالی چېرته! انسان چېرته! په داسې حال کې چې په انسانانو کې دوه تنه نه په بڼه او عادتونو او نه په طبيعت او ځانګړنو کې يــو ډول نــه مونــدل کېږي. او د بڼې او طبيعت د همدې جلاوالي پــر بنســټ يــې فکرونــه او تصــورونه او خيالونه هم له يو بله جلا او بېل مومو نو بيــا څــه ډول شــونې ده چــې دا ميليونونــه ميليونه انساني وګړي چې په زرګونو ډلو او ملتونو ويشل شوي او بېــل شــوي دي، او [که] يو ملت هم نه په رنګ او طبيعت او نه په عنصر او جنسيت، او نه په فکر او عادت او نه په دين او مذهب کې ها بل ته هېڅ ورته والی او نژدېوالی ونه لري نو ټول اتفاق او يووالي ته رابلل په حقه چې ببخي ناشونې خبره بربښي.

ربښتيا هم چې په لومړي نظر همداسې بربښي چې دا يوه محاله او ناشونې غوښــتنه ده. انسان د پيدايښت له مهاله له ګڼو کورنيو او بهرنيو غليمانو سره ګډ پيــدا شــوی راروان دی چې کورني غليمان يې حرص، تمه، شهوت، غضب، بغاوت، کينــه، لــويي، رخه او دا ډول نور بد او ناپاک اخلاق دي چې تل له بنيادم سره ملګري او پرله پســې يې په غليمۍ او ببخ ايستنې بوخت دي. بهرني غليمان يې ډارونکی طبيعي ځــواک دی چې هره شېبه او هره ګړۍ يې ژوند زببښني او ګواښي لکه لــوږه، بربنــوالی، بــې کوري، سمندري توپانونه، اورلګېدنې، زلزلې او نور. بهرني غليمان پر بنيــادم داســې

ketabton.com - The Digital Library

برلاسي او غاوره شوي چې لاسونه او پښې او سترګې يې ورتړلي او فکري ځواک يې ورمحدود او کوچنی کړی چې له خپلو بهرنيو غليمانو سره د خپلمنځي يووالي مهلت نه ورکوي!

انسان ته «ذاتي مدني» ويل شوی له «ذاتي مدني» ته يې «په ګډه او يووالي د اوسېدو» مانا ورکړې ده. او په دې اړه له پخوانيو زمانو څخه تر ننه پورې په ميليونو کرښې ليکل شوې او په خروارونو رنګونه لګېدلي دي. او دليلونه او برهانونه راوړل شوي دي. او د انسان د ګډې اوسېدنې مساله يې ثابته کړې چې موږ يې دلته د بيا راوړلو او يادولو اړتيا نه وينو. خو دومره وايو چې انسان لا دغې بشپړتيايي (؟) پورې ته نه دی رسېدلی چې په ګډه د اوسېدو او د خپل اتفاق، يووالي او پوهاوي وړ ګرځېدلی وي.

کورنيو غليمانو بنيادم پر داسې کږو وږو او ناپايو لارو سم کړی [چې] د «ذاتي متمدن» له رښتونې موخې زرګونه فرسخه لېرې وتی دی. داسې بر ښېي چې ددې ذاتي مدني احکام يعنې په ګډه او يووالي اوسېدل د پيدايښت په لومړيو کې چې بنيادم له خپلو ټولو لومړنيو اړتياوو بې برخې و جاري او پر ځای وو[،] ورو ورو منسوخ شوي او په اوس مهال کې په ټوليز ډول له منځه تللي دي.

څه پېچلې معما! ښاغلی مدير بيا څه وايې؟ آيا د مدني نړۍ دا ځلانده ويناوې نه ويني [اوري] چې بشريت له ذاتي مدني والي بې برخې بولي؟ که نه يې ويني د يوې جوړې پر ځای دې دوه جوړه سترګۍ [عينکې] ولګوه!...

آه څه ووايم! اصلي بلا په همدې کې ده چې د نظر له کمزورۍ سره سره ښه ليدل کولی شم. خو څه ډول ليدل کوم؟ سراب، د اوبو د سر ځګ، بې بنسټه تر حُباب!!... زر ځله افسوس! ميليون ځله افسوس چې پر طبيعي ځواکونو تر څه ځايه د بشر له دې جوتو بريو سره سره، او د عقلونو له هغو حيرانوونکو اختراعګانو او کشفونو سره سره چې ددغو بريو په پايله کې يې رامنځته کړي دي، دا ټول يې کورني غليمان په زور او جبر له لاسه اخلي او پر دوی يې د ويجاړوونکو وسلو په بڼه کاروي!

آه ای خواره بشريته! څومره کمزوری او رټل شوی مخلوق يې چې يو کورنی غليم دې چې نوم يې ښاغلی «پهلوان تمه خان دی» تر ټولو غوره او ګټور اختراعات چې د ذاتي مدنيوالي له پاره جوړ شوي له لاسه اخلي اوستا د قتل او ورکولو له پاره يې کاروي!

ketabton.com - The Digital Library

آیا تر برېښنا روښانه، تر بېړۍ لامبوزنه، تر اورګاډي چټکه، تر هــوايي الوتکــو لــوړه الوتونکي خارقه به په بشري نړۍ کې بله کومه تصور شي. خو افسوس او حسرت چې د ځان دغه غليم يعنې د «تمې» په نامه اتل چې له دې دريو تورو «ت، م، ه» [په اصل کې طمع = ط، م، ع] نه جوړ دی اود درې واړو تورو منځونه يې داسې تش دي چې پر هېڅ ډکېدلی نه شي دا نوې او ګټورې [اختراعګانې] د خپلو تشو نسونو د ډکولــو لــه پاره د تېرو وختونو د ضحاک د خرافاتي مارانو په دود ستاسې د ککريو د خپلمنځــي خوړلو له پاره کاروي!

کله چې د طبيعي ځواکونو د لاندې کولو له پاره غيرتناکو بشري هلو ځلو ته نظر وشي د بشر ذاتي مدني والی له ټولو ماناوو سره سترګو ته نبغ ودريږي. آيا هغه لويه بشري کتله ولې ذاتي مدني ونه بولو چې اوسپنه، سکاره او زرګونه ډوله نور کانونه د طبيعت په زړه کې له ډکو خزانو او ګنجونو راباسي او د بړاس [بُخار] پــه نامــه د طبيعــت يــو عجيبه توکی په خپلو منګولو او ولکه کې راولي او نــړۍ پــرې رېــږدوي، بهېــدونکې خوځېدونکې، نوم ورکې او ناپېژانده، له سترګو پټه خو په هر څه کې ځلانده برېښــنا پرته له دې چې لا يې هم د هغې رېښتونې ځانګړتيا پېژندلې وي د ځان د خبرولو لــه پاره د سترګو په يوه رپ کې له لوېديځه تر ختيځه کــاروي. خپــل کورونــه، ودانــۍ، منارونه د هغې په مرسته د تندر په نامه له ډاروونکې آسماني بلا نه خوندي کوي؛ او لا نور څومره څيزونه!...

هو هو! هېڅ شک نه شته چې دا ټول له ذاتي مدني راوتلي. که ګډه اوسېدنه او يووالی نه وای دا ټول نوي توکي او دا عجيبه اختراعات کله رامنځته کېدلی شول! مدير نــور څه ويل لري؟

هېڅ ويل نه لري. زر آفرينه پر دې ذاتي مدني (!؟) د سمندرونو لويې څپې يې د زغره والو جنګي بېړيو د ماشينو تر ځرخونو لاندې چې هره يوه يې لکه د يوې اورشــيندې اوسپنيزې کلا په دود ده کوچنۍ کړې په هومره چټکتيا او زور يې د خپل ځان يعنې بشريت د سوځولو، او وّرَکولو او پوپناه کولو له پاره چې جوړوونکی يې دی د «بغض او کينې» په نامه د دوو سختو ګوزاريزو کورنيو غليمانو تر قوماندې لاندې په سمندرونو کې لاهو کړې چې بنيادم دغه ذاتي مدني ته ګوته پر غاښ پاتېږي!....

ketabton.com - The Digital Library

چټک او ځغستونکي اورګاډي پراخې ښېدياوې، لوړ غرونه، ستر سيندونه د «حسد او حرص» په نامه د دوو اورژبو ښامارانو تر قوماندې لاندې په دومره چټکتيا او زور د سوداګرۍ د ورکولو او يا د انساني ملکونو د لاندې کولو په موخه له غوځولو، څېرولو او تېرېدلو سره [مخامخ دي] چې انسان د (ذاتي مدني) ددې نوې چټکې ځغستونکې وسيلې په وړاندې د حيرت د ښېديا په يوه پوونده اړوي!...

په داسې حال کې چې بنيادم د يوې ثانيې هومره پر هوا دربېدلی نه شي ښاغلي ذاتي مدني د خپلې الوتنې له پاره داسې بشپړې الوتکې جوړې کړې چې اوږده واټنونه د هوا په زړه کې وهي. خو خبر ياست چې د ذاتي بشري مدني دا خورا عجيبه اختراع شوی توکی يې د «غضب او جنايت» په نامه دوو کورنيو غليمانو په زور او جبر له لاسه اخيستي او پر ده يې دومره سخت کارولي چې د بمونو د چاودلو ډاروونکي غړونو يې انسان اړ کړی چې د آخرزمان ذاتي مدني په جادوګريو باور وکړي!...

تر ټولو غوره دا چې د (اديسن) په نامه د برېښنايي عجايبو جوړوونکي حکيم د ذاتي مدني (!) په دې ټولو اختراعګانو چې تر دې دمه يې کړې دي بسنه ونه کړه د ورځپاڼو د ليکنو له مخې له څو کلو د يوازيتوب په خپله ذاتي مدني هوجره کې ناست د يوې خارق العاده برېښنايي وسيلې په اختراع کولو لګيا دی چې د جګړو پر مهال د زرګونو توپونو او توپکو کار د سترګو په رپ کې پر دغه وسيله ترسره شي!

واه واه ذاتي مدني! ځار ځار ذاتي مدني!... قه، قه، قه، قه، قه !!!...

مه خاندئ. ځکه: «د زړکې يوه خندا د باز دوه سوه شوکارې دي» بشريت د ځان په ورکولو او پوپناه کولو کې ستاسې د خنداوو پروا نه لري. د هغه ډېر غاور او غښتلي کورني غليمان دده ټولې جلا جلا پوهې او هنرونه او ټولې نوې اختراعګانې او صنعتونه چې د نړۍ هستوونکي دده د خپل نوغي د سمون له پاره پيدا کړې او لګولې د ډاروونکو وسلو په توګه پخپله پر ده کاروي. د کيميا او حکمت پوهنه وده مومي. نتيجه يې دا راوځي چې ډول ډول ډايناميټونه، رنګارنګ بمونه، رقم رقم باروتونه، بېلابېلې اجزاوې او مسالې او نور څيزونه د بشريت د پوپناه کولو له پاره رامنځته کړي! ميخانيکي او انجنيري علوم پر مخ ځي وروستۍ ثمره يې دا راخېژي چې اوربلوونکي توپونه، کلا ويجاړوونکي توپونه، لرواټني چټک ډزي توپکونه او نور ډولونه

ketabton.com - The Digital Library

او د بشریت د وژنې او اعدام نور څېزونه رامنځته کړي. یوازې علــوم نــه چــې دغــه کورنۍ غلیم مو د ادبي لیکوالۍ ځواک هم ستاسې د خپلې ښکلې ساه ایستلو ته اړم کوي. د یو دوه بشرۍ ضد ډلو د ورځپاڼو مقالې ولولئ وګورئ چــې دغــه ســپېڅلی او شریف قلم څه ډول د انساني ستې په ایستلو اخته شوی دی!.

آه بېوزلی بشریته! دا څه وژونکی فلاکت دی چې پر تا راغلی! د کون او مکــان ســتر هستوونکي د ځمکې کُرِه تر سمون وروسته له ټولې شتمنۍ او طبیعي وسایلو سره پر بنیادم ولوروله. خو ګټه یې څه شوه چې دومره کورګډي غلیمان یې هم ورته د وجود پر ملک زرغون کړل، خو بیا یې هم له هغې مهربانۍ نه چې پر ده یې درلــوده ددغــو غلیمانو ترڅنګ ورسره ډېر کورني دوستان او لارښوونکي او خواخوږي هــم ملګــري کړل. (ستر وجدان) یې پرې واکمن وټاکه. د حرص او تمې په وړاندې یــې ښــه اداره ټینګار او قناعت، د کینې او غضب په وړاندې یې د دوستۍ او یــووالي او ښــېګڼې او پوستوالي حس وټاکه. د بغض په وړاندې یې مینه، د رخې [حســد] پــه وړانــدې یــې سرښندنه او لنډه دا چې د هر غلیم په وړاندې یې ورته دوه درې دوستان وټاکل.

افسوس، افسوس! بېوزلې بشریت دا ټول ملګري او لارښوونکي په خپل لاس د خپــل ځان او وجدان دغلیمانو ترقهر او ولکې لاندې کړل له خپل «رېښتوني ذاتــي مــدني» صفت نه فرسخونه لېرې شوا!

د بشریت غلیمانو د لوېدیځ یوه ستره ټولنیزه ډلــه لــه یــوې هیبتنــاکې ډاروونکــې ختیځې ډلې سره داسې اچولې چې د بشریت دوستان او لارښوونکي ورته لاس تړلي ګوري او هېڅ یې له لاسه پوره نه دي.

لوېدیځ پر اوس مهال له ټولو صنعتونو، اختراعګانو او علومو او فنونو سره د حــرص او تمې د اورژبې ښامار تر قوماندې لاندې پر ختیځ پرله پسې نس پالونکي بریدونه کوي. ورسره جوخت یې د رخې [حسد] کینه پال اتل تر خپل منځــه ســیالۍ او غلیمــۍ او کینې او لویۍ راپاروي. یو چې یوه جنګي ببرۍ جوړه کړي هغه بل یې له دې حرصــه چې هسې نه کومه اضافي غوړه مړۍ رانه وتښتوي هماغه شېبه د یو درجن اوبتلونو د جوړلو سپارښتنه کوي!...

ketabton.com - The Digital Library

آه ښوزلیه ختیځه! تا د خپلو دوستانو او لارښوونکو خبرې ته په غوږ نیولو د کورنیو غلیمانو ماتولو ته پام واړاوه خو خبر نه وې چې دغه کورني غلیمان دې درنه تښتېدلي ستا د خپلې لوېديځې بنې له کورنیو غلیمانو سره يې ملګرتيا جوړه کړې او پر تا يې کلک يرغل راوړی دی!

ای بشري ډلو! آيا د ځمکې دا کره او د اوسېدو دا ښايسته ځای ښساري هستوونکي ذات ددې له پاره پر تاسې لورولې چې خاوره يې په خپلو وينو ولړئ؟ آيا که ټول په یوه اتفاق له خپلو کورنیو غلیمانو سره د مبارزې ملاوې وتړئ او د بشر لویې لوېديځې، او ختيځې، او شمالي، او جنوبي کتلې ټول لاسونه سره ورکړئ او د خپلو کورنیو غلیمانو په ماتولو سره د خپلو مېنو په جوړلو بوخت شئ او لاسونه سره يو کړئ او له خپلو بهرنیو غلیمانو سره لاس ګرېوان شئ کوم بري، کومې سوبې، کومې نېکمرغی، کومې کامرانۍ به وي چې په لاس در نه شي؟

له دې چې ډېر په ځان کېوتي ياست د خپلې مېنې يعنې د ځمکنۍ کُرِې پر حال لاس بري شوي نه ياست. د خپلې مېنې جنوبي او شمالي خواوې مو لا هېڅ ليدلې نه دي، او هېڅ خبر نه ياست چې څه دي او کومې خزانې او ګنجونه په کې نغښتې دي! ځکه بهرني غلیمان مو چې د طبيعت ډاروونکی ځواک ناوړه هوا او لوی کنګلونه دي [،] د لارې خنډ دي. که ځانونه په رېښتيا د نړۍ د ودانۍ اتلان او د عالم د سمون له پاره ګومارلي کسان بولئ د عالم ناکشف شوې ځمکۍ وموميئ او ودانې يې کړئ؟ پر داسې مهال چې پخپله په لوېديځ کې میلیونونه مربع کیلومتره ځمکه شاړه وي، د ختيځ ښېرازو ځمکو ته ولې سترګې نيسئ؟ که موخه د ځمکې آبادي وي د نړۍ شاړې او له وګړو تشې ځمکې لږې نه دي. لومړی هغه ښېرازې او له وګړو ډکې کړئ! کورني ملګري او لارښوونکي مو له علم او فن او اختراعګانو نه همدا هيله لري. خو زرځله افسوس چې کورني غلیمان مو د خپلو هم جنسو د مېشتو او ښېرازو ځمکو د نيونې ټېټوالي ته ګوماري.

ای بشري ټولنې! يو ځل وګورئ چې څومره بهرنۍ ډاروونکې بلاوې مو ژوند ګواښي او زور پرې راوړي: وباګانې، طاعونونه، زلزلې، تندرونه، سمندري توپانونه، اورلګېدنې او نور څه شيان! هېڅ شک نه شته که بشريت د خپلو کورنیو ملګرو په خوله ولاړ شي او

ketabton.com - The Digital Library

**لاسونه سره ورکړي او له خپلمنځي جګړو او نښتو لاس واخلي او له دې بهرنيو غليمانو سره د متقابلو ګتو د خالصانه هوډ له مخې په نښته کېوځي زرګونه ډوله بري او کاميابۍ به وګټي. که يوازې هغه اوسپنه چې پر زغره والو بېړيو او توپونو او توپکو او نورو ډول ډول وسلو يې لګوي د اوسپنې پټلۍ غزولو ته بېله کړي نو د کنګل سمندرونو پر سر به واوړي تر قطبي نا پېژندلو ځمکو به ورسېږي!...**

**ماشاءالله مدير صاحب! لا مو هم قلم ستړی شوی نه دی؟ که مهرباني وکړئ او تر هغو کنګلونو ولاړ نه شئ نو ښه به وي! هسې نه چې رنګ مو د قلم پر څوکه کنګل شي چې بيا به ليکل نه شئ کولای! تاسې خپل شريف خاطر تول وساتئ. که دا ډول زرګونه سندرې ووایاست کورني غليمان پر بشري عالم داسې پاخه واکمن شوي نه دي چې دا ډول بې ګټې خبرې دې پرې اغېز وکړی شي.**

**ای ختيځه! د لوېديځ له تېري کوونکو بريدونو عبرت واخلئ! د ځان د خونديتوب په فکر کې شئ. که مو وليدل چې د کورنيو ملګرو له لاسه څه نه راځي تاسې هم له کورنيو غليمانو سره روغه وکړئ هماغه بهير ته غاړه کېږدئ. د خپل ملکيت د شتوالي د خونديتوب له پاره قهر، غضب، کينه، عداوت، خپل مخکښ وټاکئ [او] ګوزار کوئ چې د بشريت نښه هم پاتې نه شي، پاتې نه شي، پاتې نه شي!...**

ketabton.com - The Digital Library



# صنایع

# او د پلازمېنې کابل صنعتي سیمه [ماشین خانه]

ستر حضرت هستوونکي انساني شریف نوغی [نوع] لوښ او برېن، او له هر ډول وسایلو او آلاتو پرته هست او رامنځته کړی[،] د ځمکې کُرِه یې له ټولو شتمنیو او طبیعي وسایلو سره پر هغه پېرزو کړې او لورولې ده. روغ عقل، نېغ حواس، وسمند [توانا] وجود[،] پوهې لټوونکي [معرفت پرا یا پیرا؟] دوه لاسونه یې د هغه سرلاري او لاربشودونکي ټاکلي او پر وچې او لندې، غره او ځنګله یې لاس برى او واکمن کړی دی.

انسان له پیدایښت سره سم ډېرو څیزونو ته اړ او بې چاره هست شوی دی، او روغ عقل له یوه بل سره د یووالي او اتحاد لور ته څکولی، او ځینې یې د کانونو په ایستلو او نور د ټوکرانو په اوبدلو، ځینې یې د ډول ډول تخمونو په کرلو او رېبلو او نور د بېلابېلو صنعتونو او حرفو په چلولو بوخت شوي، د خپل ژوندانه ټولې اړتیاوې یې چمتو کړې دي. او د وخت په اوښتو مدنیت ته رسېدلي او د اختراعاتو د رنګارنګۍ له امله، د بشر اړتیاوو هم رنګارنګ بڼه غوره کړې [،] صنایع او حرفې اوس مهال دومره پراخې شوې چې عقلونه د حیرانۍ ګرداب ته ورپورې وهي.

د بشر صنعتونو سیندونه لکه بېدیاوې د خپل مزله تر پښو لاندې راوستي، هوا یې لکه د سمندرونو د خپلې لامبو ډګر ګرځولی، له طبیعت سره یې منګولې خښې کړې[،] د شتمنۍ زرګونه ډول جواهر یې د حریص ټټر له خزانو ترې را ایستلي، د بخار ځواک په څېر یو لوی نابغه یې د ځان چوپړ ته ګومارلی، پر دې هم لا قانع شوی نه دی چټک تلونکي بر ېښنا یې رویبارۍ ته نیولې ده.

په هر هېواد کې چې صنعت وده کړې شتمني او وزلیتوب، ښکلا او سینګار یې هم په همدې انډول ډېرشوی دی. د اروپا ټول هېوادونه اوس مهال د ځمکې کُرِې د یوې لویې صنعتي سیمې [ماشین خانې] په څېر بلل کېږي چې ددغې لویې وچې نږدې

ketabton.com - The Digital Library

څلوېښت کروړه وګړي ددغې سترې ماشين خانې کارګران او صنعتګران ګڼل کېږي. ټوله نړۍ په اوسني وخت کې ددغې سترې ماشين خانې صنعتونو ته اړتيا څرګندوي. تر اروپا وروسته د امريکا لويه وچه د نړۍ لويه صنعتي سيمه بلل کېږي. که آسيا تـه وکتل شي نو د جاپان هېواد به يو بشپړ صنعت تون ومومو. خو که منځنۍ آسيا يعنـې ايران او خېوه او بخارا او افغانستان په ځير سره وګـورو نـو پـه دې ټولـو کـې بـه د پلازمېنې کابل سپېڅلې ماشين خانه لويه ومومو.
زموږ زړونو ته نژدې ستر نېک خويه اعليحضرت شهريار ذات د سـلطنت د شـهزاده توب د مهال له شاهانه چمتووالي نه تر دې مهاله خپل کيميا وزمـه همـايوني پـام د صنايعو پرمختګ ته اړولی[.] په اوسني مهال کې ترې بشپړ ګټور او نفيس صـنعتونه تر لاسه کېږي. پر همدې بنسټ سراج الاخبار افغانيه چې دا هم ددغې ماشين خانې د صنايعو له محصولاتو څخه ده[،] د هغو صنايعو په اړه خپلو ګرانو لوستونکو ته چـې د خپل هوښيار او ستر ترقي غوښتونکي اعليحضرت ټولواک ذات په پاملرنې سـره پـه مبارکه ماشين خانه کې لګېدلي[،] غرېدل او بيانول اړين وبلل.

## پوځي وسلې

تر ټولو ارزښتناک صنعتي محصولات چې له سپېڅلې ماشين خانې نه راوځي درندې وسلې لکه توپونه او سپکې وسلې لکه توپکې او څيرونکې وسلې لکه کريچونه او وړې نيزې دي. په خپل ذات کې ددې مبارکې ماشين خانې د جوړېدو اصلي موخه د جنګي وسلو چمتو کول دي. اعليحضرت خدای بښلي جنت مېشتي خاقان ذات (ضـياءالملة والدين) [امير عبدالرحمان خان] د خپل سلطنت په لومړيو کې دغـه ماشـين خانـه يوازې د جنګي وسلو د چمتو کولو له پاره جوړه کړې وه. د خدای بښلي خاقان [لـوی ټولواک- د.ج.] پر نېکمرغه همايوني مهال ماشين خـانې تـل زمـوږ د همـدې سـتر سپېڅلي ټولواک تر ادارې لاندې چې هغه مهال د افغانستان د لـوړ سـلطنت مشـر شهزاده و[،] فعاليت کاوه اوله هغه مهاله تر اوسه يوه ګړۍ هم له کاره نه ده درېدلې او ورځ تر بلې يې وده کړې ده.
د پلازمېنې کابل ماشين خانې د جنګي وسلو له ډلې دا څيزونه توليد کړي او توليدوي يې:

ketabton.com - The Digital Library

## اورنی [ناریه] وسله

۱-مخکښ شاړکي [دنباله پُر] سارايي توپونه

۲- د کچرو شاړکي غرني توپونه

۳- د استحکام او کلا لوی توپونه

۴- چټک ډزي غرابين توپونه [يعنې مشينګنې- سراج الاخبار] دوه درې ډوله

۵- د هينري مارتين [ډوله] توپک[،] د پليو او سپرو ډولونه

۶- ۳۰۳ بور ډوله توپک[،] د پليو او سپرو ډولونه.

۷- ځنګ ډکي [بغل پُر] ډوله توپک.

۸- دولس ډزي توپک.

۹- پنځه ډزي ججوروال [جاغوردار] توپک، د رسالې ډولونه.

۱۰- دوه ميله ښکاري توپک.

## ځيرونکې [جارحه] وسله

۱-افسري کريچونه [تورې] د ژړ تېکو [غلاف] ډول، د سروزرو ګلت او سپينو زرو [؟] تېکو ډول، او د اوسپنيزو تېکو ډول.

۲- د رسالې- يعنې سپرو عسکرو کريچونه.

۳- د توپکو له پاره برچې

۴- ډول ډول ډېرې غوره حربې [وړې نيزې] پناه لرونکې او بې پناه [؟] د پليــو او سپرو، او توپچي له پاره، او د عسکرو له پاره خنجرونه او چړې خورا غوره چاقوګان

## وسله تون [جبه خانه]

د وسله تون په برخه کې چې کوم څه د اعلحيحضرت په نېکمرغه شاهانه پېر کې په پوره برې د کابل په ماشين خانه کې په فعال ډول ترسره شوي يو د «فيوز» آزمايل دي چې د شاهانه هڅونو او له مکافاتو ډکې پاملرنې سره يې د هېواد خپلو کاريګرو بچــو په بشپړو تجربو سره جوړ او توليد کړل. بل يې بې لوګي (کاريډ) [ډولــه] بــاروت دي چې دا هم د شاهانه مهربانيو له برکته د درانده انجنير(محمد رضــا بېــګ خــان) پــه لاربښوونه د هغو له لسو اړينو جوړوونکو توکو څخه اووه ارزښتناک او بنسټيز توکي په سمو داشونو کې چې د کابل په ماشين خانه کې ورته جوړ شوي[،] د افغانســتان لــه

ketabton.com - The Digital Library

خپلو کورنیو محصولاتو ښخه چمتو شوي او دوه درې نور توکي يې څرنګه چې مبذول [؟] او وړيا دي او تل موندل کېږي[،] د جوړېدو خنډ يې نه شي ګرځېدلی. د تــوپ او توپک تور باروت هم د دولت په باروت جوړوونکې فابريکه کې توليــدېږي؛ د توپونــو رنګارنګ ګولۍ؛ د ژړو يو ډزي خولونه چې له هر خول سره سلګونه ډزې کېدلی شي؛ د پناپُر [؟] توپکو نري او پنډ ډوله خولونه؛ د ۳۰۳ بور ډوله توپک کــارتوس؛ د څنــګ ډکي توپک کارتوس؛ د ښکاري چره ييز توپک کارتوس او نور.

د شرپنل ډوله پولادي او چودني او نورو توپونو ګولۍ[،] د هرډول يادو شــويو توپکــو ګولۍ.

پټاکۍ جوړونه چې د يادو شويو توپونو او توپکو د ګوليو باروت جوړوي او پټاکۍ ترې ډکوي.

د ژړو اوولس ثانيه يي فيوزونه او نور د رنګارنګ توپونو د ګوليو له پــاره. د توپونــو او هغو خول ډکو [دهن پُر] توپونو د ګوليو لرګين فيوزونه چې په مخکنيو کلو کې دولت توليد کړي وو.

باروت جوړونه چې کارديد ډوله او عادي باروت په کې جوړېږي.

## ډول ډول صنعتونه

هر ډول پوځي کالي د افسرانو او سرتېرو له پاره؛ بيرغونه، مبارک عَلَمونه [عقــاب يــا سپېڅلي جنډې- د.ج.] اود سپرو او پليو او توپچيانو له پــاره پــوځي جنــډې؛ تنــۍ جوړونه چې هر ډول محراب او منبر لرونکې تنۍ د پوځي دريشيو له پاره جوړوي.

د افسرانو او نورو پوځيانو له پــاره ډول ډول کېــږدۍ او پاچــايي کېــږدۍ [بارګــاه] د سيوري له پاره کېږدۍ [شاميانه] او چترۍ او لمــر نيــوونکې چتــرۍ [ســايه بــان] او تجيرونه [پرده يي کېږدۍ] او نور.

رنګارنګ بوټونه د لويو او کوچنيو پښو له پاره او د پوځي بوټونــو لــه پــاره ځــانګړې ماشين شته.

بيرمتي[؟] موزې او لاسکښې او څادر او نور

د موزيک د ډلې [باجه خانې] وسايل لکه جنګي تُرُم او پشتن او ډول [دُهل] او تنبور او جانج [؟] او نور

ketabton.com - The Digital Library

د پوځي جمناستيک وسايل او د تمرين او قاعدو او نښې ويشتنې او نورو وسايل هر ډول افسري او پوځي خولۍ
د اندازه کولو لرليدون [دوربينونه]
چې ډېرئ دا چارې پر هغو ماشينو ترسره کېږي چې بړاس [بخار] يې چلوي.
په هېواد کې جاري صنعتونه دوه ډوله دي.
لومړی هغه صنايع چې په ماشين او بړاس چلېږي [دا بړاس] د انجنونو له لويو نغريــو [آتش خانه ها] نه تر لاسه کېږي چې ماشينونه تاووي او هغه صنعتونه چې په کار دي تر لاسه کېږي.
د ټټاری [آهنگری] صنعت چې په بړاس چلېږي اود دودان [؟] د څټکي [چکش] وزن به چې په بړاس تاوېږي [،] نژدې پنځه خرواره وي. هغه وسايل چې حدادان [؟] يــې په اور اړوي د جرثقيلو په مرسته را ايستل کېږي او وسايل ترې جوړ ېږي. له دې سره سره په فابريکه کې په لاس هم د حدادۍ صنعت جاري دی.
د ترکاڼۍ صنعت چې د بړاس په مرسته د تاوېدونکو لويو ارو په کارولو لرګي اره کوي او په ماشيني رندو يې پاکوي او بيا ترې شيان جوړوي. د ماشــين تــر څنــګ لاســي ترکاڼي هم روانه ده.
د زين جوړونې صنعت [سراجي].
د حلبي جوړونې صنعت.
د ژړو صنعت.
د زرګرۍ صنعت.
د مسګرۍ صنعت.
د ګاډيو او موټرو او نورو د رنګولو صنعت.
د انځورګرۍ صنعت.
د علاقه بندۍ [؟] صنعت.
د [فلزي] پيسو د چاپولو [ضربولو] او ويلي کولو صنعت.
د سيم جوړلو صنعت له سپينو او سرو زرو.
د سيم ګنډنې صنعت.

ketabton.com - The Digital Library

د ګليت [؟] کولو صنعت په سرو او سپينو زرو او مسو او نېکلو کليت [کول].
د صندوق جوړونې صنعت چې اوسپنيز صندوقونه او بکسونه جوړوي.
د بيت [؟] اوبدنې او چغ [؟] جوړونې صنعت.
د ګل جوړونې صنعت چې مصنوعي ګلان جوړوي.
د ډبرين چاپ او سرپي [فلزي] تورو صنعت.
د زينکوګرافۍ [عکس چاپونې] صنعت.
د حکاکۍ صنعت د افغانستان د کانونو پر لعلو او ياقوتو او لاجوردو.
پر سکو د انځور ايستنې صنعت.
د ميز او څوکيو او ګاډۍ جوړولو د ترکاڼۍ صنعت.
د جوراب اوبدنې او لاسکښ اوبدنې صنعت.
د ټغر اوبدنې صنعت.
د غالۍ اوبدنې صنعت.
د کاشي جوړونې صنعت.
د غاښ جوړونې صنعت.
د ودانيو او ماشينو او توپو نو او توپکو د نقشه ايستنې صنعت.
د افغانستان پر کاني ډبرو د حجارۍ صنعت چې ميزونه او لوښي او د ودانيو زينې او آن د تسپو [تسبيح] دانې [په کې راځي].
د چودن ويلونې صنعت چې د برېښنا په اور په لويو بټيو کې چودن ويلي کوي او په جرثقيلونو يې په قالبو کې تويوي او د ماشينو او نورو چودني وسايل ترې جوړوي.
د څرمګرۍ صنعت چې د برېښنا او ماشين په کارولو د غواوو او وزو او پسونو او مېښو پوستکي پخوي.
د رنګ جوړونې [سپېده سازۍ] صنعت د ودانيو د رنګمالۍ له پاره
د هيندار جوړونې صنعت.
د سپرېټ [الکول] ايستنې صنعت د رنګمالۍ او څراغونو له پاره او د پټاکيو باروت او مسالې د ماشين په مرسته ترې د سپرېټ زوښه [عرق] باسي.
د سوهان [سوان] چينۍ صنعت چې د دولت اړين سوهانونه تېره کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د گلابتون جوړونې صنعت.
د وړې اوبدنې فابریکه چې ټول وسایل یې رارسېدلي او ماشینونه یې تړل شوي او لا یې کار نه دی پیل کړي.
په دې ډول تر دې ځایه د ماشین خانې او د هغو صنعتي [محصولاتو] په اړه چې په کې تولیدېږي پر همدومره معلوماتو بسنه کوو د خپل ستر او زړونو ته رانژدې ترقي غوښتونکی اعلیحضرت ټولواک تر سیوري لاندې د خپل سپېڅلي متبوع دولت د ترقۍ او بخت او ورځ تر بلې زیاتېدونکي پرتم او برم له پاره د ورځو او شپو خالق ته له ریا پرته په عاجزۍ دوعا کوو.
د پلازمېنې کابل د ماشین خانو لوی افسر او مسوول ښاغلی برګډ [برید جنرال] محمد سرور خان دی چې د لوړ اعلیحضرت د شهزاده توب له مهاله تر اوسه د همایوني اعلیحضرت له خوښې سره سم په صداقت او ویښتابه په ورسپارل شوې دنده کې خواري او هڅه کوي. او د افغانستان د لوړ دولت د ټولو ماشین خانو سر دفتر [؟] میر محمد هاشم خان دی چې له درنو سیدانو څخه او یو نېک سړی دی.
له الهي درګاه نه د خپل سپېڅلي متبوع دولت د ټولو چارواکو له پاره ښه وس او رېښتینولي او مېړانه غواړو.

ketabton.com - The Digital Library



# بهرنۍ پېښې

## د سیاسي حالاتو لنډیز

کله چې د اروپا سیاسي افق ته نظر واچوو[،] له رازونو ډکو داسې عجیبو [پېښو] سره مخامخېږو چې انسان ته هېښتیا او ورسره ورسره ډار وراچوي. اروپا د خپلې راشه درشه بنسټ پر زور او قوت او یرغلونو درولی دی. نو پر دې اساس یوازې هغه چاته د چاپلوسۍ درناوی کوي چې زور او ځواک او پرتم لري[.] نو هر څوک چې له دوی سره د دوستۍ او درناوي راشه درشه وغواړي، او یا یې لــه شـــر او ضـــرر نـــه خونــدیتوب غواړي[،] نو ورته بویه چې تر ټولو دمخه پیاوړې او ډېرې بشپړې او سمبال لښـــکرې چمتو کړي. که سمندر لري زرغره والې جنګي بېړۍ په کــې لاهــو کـــړي. پــه خپلــو اوبتلونو سره سمندرونه وڅیري، د هوا نس د خپلو الوتکو ډګر وګرځوي، چې سلام ته یې څوک علیک ووایي، او سر یې په امان کې پاتې شي. که څوک له دې ګڼــې ډلـــې سره د ټرون هوډ لري، او یا ترې د ټرون او هوکړې، او یووالي او ملګرتابه د پلي کېدنې هیله لري[،] ورته بویه چې خپلې تورې له کلکو او تېرو پولادو ورغوي، خپل توپونه تر هسې کچې چمتو کړي چې د دوستانو غم وخوړلی شي، خپلې توپکې داسې ســمبال کړي چې د هرکلي دنده له لېرې واټنه ترسره کړی شي، او لنډه داچې له ځانه داسې یو ډاینامیټ جوړ کړي چې که چا پرې وار وکړ وچوي او نور هم له ځانه سره وچوي.

که د روس پردولت د جاپان ویجاړوونکی سوک نه وای راغلی[،] د ملګرتابه ټرونونه او د وفاوالۍ ټلوالې یې نه کولې. ایران غریب چې دا څیزونه نه درلــودل[،] نـــه یـــې چـــا کیاني تاج او تخت ته پام وکړ، او نه یې چا د پخوانیو ټرونو او دوستیو پـــروا وســـاتله. روسانو خپل عسکر مشهد ته ننه ایستل، د زیارتونو سپېڅلې سیمې یې په توپونو ور وویشتلې او وژنې او جنایتونه یې وکړل[،] چا ونه ویل چې ولې؟ ځکه دغــه پوښـــتنه باید پخپله ایران کړې وای. او ددې پوښتنې زړه یې هله کولی شوای چې زور او ځواک او پرتم په کې وای. زر ځله افسوس دی چې زموږ دغه ګران ګاونډي د هغوی په ټرونو او ژمن لیکونو تېروت او ډېر ګران وخت یې بې ځایه او بې ګټې له لاسه و ایست. کـــه څه هم ډېر یې وژړل، خو زر ځله افسوس چې خپل تېر او راتلونکي حال ته یې نظـــر

ketabton.com - The Digital Library

ونه کړ. عثماني [ترکیه]، ایران او افغان پر یوه نښتې لیکه سره پراته دي چې یوې وچې (د اوبو په منځ کې ټاپو) ته ورته والی مومي. څکه ددې ټاپو شاوخوا د اروپا یې مدنیت (!) د سیلاب اوبو لاندې کړې[،] داسې چې که د آسیا د لویې وچې نقشې ته پام وشي[،] تر یوې لندې کتنې وروسته زموږ ددې تشبیه ربښتینوالی جوتېږي. ددې ټاپو سر- یا یې وجود- عثماني دولت دی چې د څو زورورو دولتو په اوسپنیزو منګولو کې نښتی دی او که له خپلو دوستانو (!) سره یو سوال ځواب[،] یا څنګه او ولې کولی شي د پوهې زور او د پوهنې مټ یې دی. څکه دایوه پېړۍ کېږي چې د ذکاوت او عقل ډېر ځښتنان یې نژدې د اروپا تر کچې رسولې دي، او اوس مهال د اتو نهو لکو شاوخوا ښه سمبال او روزل شوي جنګیالي د توپونو او توپکو درلودونکي عسکر چمتو کولی شي، له څو سمندري زره غره والو او یو دوو هوایي الوتکو سره.

راغلو ایران ته چې د ټاپو په منځ کې پروت دی: دا دولت چې تل خپلواک او ودان و[،] له یوې پېړۍ را دېخوا له هغه پریمان نزاکت او روزنې او ادب پرته چې په خپل ځان پالونکي ژوندانه کې یې تر لاسه کړي[،] بل یې یو کار هم سم کړی نه دی. موږ دا خبرې د نیوکو په موخه نه کوو[،] چې له زړه سوي او افسوسه یې یادوو. څکه که ایران دا یوه پېړۍ د تمدن او پرمختګ لټون کړی وای[،] د پرمختګ اغېز به یې پر افغانستان هم راغلی وای. خو زر ځله افسوس چې له ځینو اغېزو پرته چې هغه هم د ښو او ناوړو شېبو په بخت پورې تړلي پاتې دي او د لټۍ او تنبلۍ له پاره تري یوه وسیله جوړه شوې[،] بل اغېز یې چا نه دی لیدلی. که پوهې او پوهنې په ایران کې چې زموږ همژبی او ګاونډی دی پرمختګ کړی وای[،] ټولیز اغېز به مو یې پر ځان هم لیدلی وای.

د افغانستان متبوع دولت چې د جوړېدو له مهاله یې لا تر وسه یوه پېړۍ نه تېرېږي او ډېر وخت یې په کورنیو جګړو او نښتو کې تېر کړی[،] بیا یې هم په خپلې فطري مېړانې او پیاوړی دیانت او زوروري هېواد پالنې چې په کې شته[،] دوه ځله ځان دیوه زورور دولت [او د] پیاوړو پردیو عسکرو له منګولو ژغورلی [او] د ملګرتابه او دوستۍ یو تړون یې [ورسره] کړی دی. او سره له دې چې داسې یوه کړکۍ او یا دروازه چې بهر ته پرانستل شي او له دغې کړکۍ او دروازې نه بهر په غړېدلو سترګو ووینې[،] چې موخه ترې سمندري بندرونه دي، او یا له بهر نه ورته څوک نظر راواچوي[،] نه لري بیا هم ددې ستر سپېڅلي ټولواک د تخت کېناستنې له بریالۍ ورځې راهیسې افغانستان د پرمختګ او تمدن پر واټ چټک پرمخ درومي. او پرله

ketabton.com - The Digital Library

پسې د خپل هېواد د کورني سمون زیار باسي. اوس مهال هاغه (سهارنی مړی) نه ده چې هر څوک یې آسانه تر ستوني تېره کړي. ځکه د پردي دین د عسکرو په وړاندې ټول ولس د افغانستان عسکر دي. ځوان زوړ، ښځه نر هر څوک چې وسله پورته کولی شي[،] عسکر دی. بې وسلې یا له وسلې ناخبره سړی په افغانستان کې یوه لویه نیمګړتیا بلل کېږي. له لس میلیونه وګړو نه چې لري يې[،] لږ تر لږه یو میلیون جنګي[،] زړور[،] غیرتي[،] هېوادپال سړي چمتو کولی شي. یو میلیون هېواد پال مسلمان سړي د غلیم له دوو میلیونو عسکرو سره چې ناحقه او یوازې يې د خاورې د لاندې کولو او د دین او ایمان د ویجاړولو او د بچیو او کورنیو د مریيانولو په حرص او تمه پر هېواد تېری وکړي[،] جنګېدلی شي، او بشپړ باور يې هم دا وي چې د ښتن په غوښتنه [باذن الله] بریالي به هم شي.

نو ځکه زموږ ځینو ملګرو چې له ملګرتیا او زړه سوي- نه له بُغض او کینې- افغانستان د روس د سباناري مړی ګڼلې، دا يې سمه اخیستنه نه ده. افغانستان ته ننوتل آسان دي، خو پښې په کې ټینګول او یا روغ بېرته وتل ترې خورا ګرانه چاره ده[،]هماغسې چې تاریخي بېلګې يې راښیي[،] خو هغه څه چې د غلملړلي حسرت او افسوس سبب ګرځي دادي چې دا درې اسلامي دولتونه چې موږ په خپل منځ کې نښتي ټاپو ته ورته بللي[،] د هغو سوریو له امله چې [که] د روس ویجاړونکی سیلاب يې په مشهد او کرمانشاه کې جوړ کړي[،] د نښلېدو مزي يې شکېږي چې په رېښتیا سره له غمه ډک خوږ [درد] بلل کېږي. ویجاړوونکي سیلاب د سوري جوړولو له پاره یو څه پسته [نرمه] ځمکه غوره کړې، ځکه په پیاوړو او زورور ډبرینو تړو کې يې دومره غوځه نه شوای کولی. خو که وويل شي: «تر هغو چې سره نښتی وو څه يې وکړل چې تر لېرې کېدو وروسته به يې وکړي؟» دا هم سمه پوښتنه ده چې له حسرت او پښېمانی پرته بل ځواب نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال اوولسمه ګڼه

# موعظه

د خپل شاهي نېک نيت په اړه پاچايي لنډيز
او د رعيت پر کړنو د پاچا د شخصي
اعمالو د اغېز بيان

څرنګه چې په حکمت او فلسفه کې ثابته ده چې د ټولو اختياري انساني چارو سته او سرچينه د انسان له هوډ او قصد او تکل پرته بل څه نه دي او دا ادعا هم د بيان اړتيا نه لري چې د بشر ځينې وګړی د خلقت او هستېدو له پيله نېک بنسته او نېک پايه پيدا شوي. او ځينې نور بد بنسته او بد پايه- چې د نېک بنسته او نېک فطرته له باطنه په اختياري چارو کې د خير هوډ او غوره قصد او د سمون تکل راوځي او د بد بنسته او فساد اخښلي له باطنه د شر هوډ او د بدو قصد او رټل شوې او رد شوې چارې راوځي- نو ځکه زموږ په محمدي شريعت عليه الصلواه والتسليمات کې د مکلف وګړي نيت او هوډ د مسلمانانو د کړو د ثواب بنسټ ټاکل شوی دی. هغسې چې په پاک حديث کې چې د پرله پسېوالي له پولې اوښتی او آن دا چې د سپېڅلي حديث دوه سوه پنځوسو[،] بلکې درې سوو[،] بلکې اوو سوو فنپوهانو راوړی چې هغه حضرت صلی الله عليه وسلم فرمايلي «اِنَمَاالّاَعّمالُ بالنِيات وَ اِنَمَاالّامّر مانوی فَمَنّ کانَتّ هجّرَتُهُ اَلَی الله وَ رَسُوله وَ مَنّ کانَتّ هجّرَتُهُ الی دُنیا یُصّیبُهَا اَ واّمـرَ اهٍ یَتزَوَجُهَا فَهجّرَتُهُ الی مَاهَاجَرَ اَلَیّه[»]- يعنې پرته له دې بل څه نه دي چې د حق تعالی پر درګاه د کړنو ثواب او منښت ددغو کړنو له نيتونو پرته نه دی- نو څوک چې له وطن نه وتل يې د خدای او د هغه د رسول پر لور او نيت يې د خدای او د هغه د رسول خوښي او د

ketabton.com - The Digital Library

هغوی د امر منل وي[،] نو هجرت يې د خدای او د رسول پر لور دی- يعنې منل شوی دی- او ثواب يې په برخه دی او هغوی چې هجرت يې د دونيا د ګټې پر لور دی او يا يې هجرت د يوې ښځې پر لور دی چې نکاح يې کړي[،] نه د خدای او د رسول د خوښی له پاره[،] نو هجرت يې د هغه څيز له پاره دی چې ورپسې له کوره وتلی دی[،] بې له شکه په حنفي مدني مذهب کې يوه قاعده ټاکل شوې چې لاثواب الِا بالنيَة يعنې په يوه چاره کې هم ثواب نه شته مګر دا چې له نيت سره تړلی وي.
او دغه راز د مبارکو حديثونو په روايت کې دا هم راغلي چې نيِة المُؤمنّ خيّرٌ من عَمَله يعنې د ايمان د څښتن نيت د هغه تر کړنې او عمل غوره دی او دا حديث که څه هم د حديثپوهانو په خبره يې رېښتيا والی نه دی ښودل شوی[،] خو ناسم هم نه دی بلل شوی- او پخوانيو علماوو د هغه د منځپانګې د سموالي په تړاو لومړی ويلي چې له عمل پرته نيت کول هم پخپله د عبادت په څېر دی- او اجر او ثواب ورته ټاکل شوی- د فزيکي کړنې خلاف چې عبادت والی او د ثواب وړوالی يې په نيت پورې تړل شوی- او په پاک حديث کې راغلي چې د نېکۍ له هوډ او نيت سره سم يې په عملپاڼه کې بشپړ حسنه ليکل کېږي او بيا هم په پاک حديث کې راغلي چې هرڅوک ويدېږي هوډ يې دا وي چې ويښ شو د تهجدو لمونځ به کوي[،] هغه ته د تهجدو ثواب په عملپاڼه کې ليکل کېږي[،] که څه هم چې د خوب له درندوالی تر سهاره ويښ نه شي او تهجد ترې ولاړ شي.

## بيـــــت

دوه مهاله د سجدې ثواب در رسي که پر نيمه شپه ونشو نو سهار له خوبه پاڅه

دويم دا چې د نيت ځای په زړه کې دی او زړه د الهي پېژندنې ځای دی نو ښکه هغه څه چې د پېژندنې په ځای کې وزېږي او له دغه کانه راووځي[،] تر هغه څه چې د بدن له نوروغړو تر لاسه کېږي[،] غوره او پاک دي- دريم دا چې نيت تر کړنې غوره دی او دليل يې دادی چې نيت پاتې کېږی او پايښت لري او عمل بې پايښته وي او له منځه ځي- او جنت ته د جنتيانو او دوزخ ته د دوزخيانو ننه وتل او پاتې کېدل د نيت له مخې وي- چې دايمي دی او که د عمل له مخې وای نو هومره به يې دوام درلود چې څومره يې د عمل او ژوندانه دوام و- څلورم دا چې په عمل کې ريا ګډېږي او له دې

ketabton.com - The Digital Library

امله زیانمنېدلی او خوسا کېدلی شي[،] ددې پر خلاف نېک نیت ته چې پټ دی ریا نه شي ور ننه وتلی او په روایتونو کې راغلي پرښتې چې د بندګانو اعمال آسمان ته وړي نو حق تعالی یې ځینو ته فرمایي اَلّق تلّکَ الصَحیّفَةَ اَلّق تلّکَ الصِحیفَةَ یعنې دا لیــک وغورځوه او هغه لیک وغورځوه[،] هغه پرښته ورته وایي ای څښتنه ستا بنده نېکــه خبره کړې او د خیر کار یې کړی او موږ اورېدلی او د هغه د ښېګڼو په کتاب کــې مــو لیکلی دی نو څنګه یې وغورځوو[؟] خطاب ورته وشي چې- لَمّ یُرّدبه وَجّهــیّ یعنــې هغه بنده پر دغه کار زما رضا نه ده غوښتې- او ځینو نورو پرښتو ته له کبریایي درګاه نه آواز وشي چې اکتُبّ لفُلانٍ کذا و کذا یعنې د پلاني بنده په عملپاڼــه کــې دا نېــک عمل ولیکه- پرښته ورته وایي چې ای څښتنه دې بنده دغه کار نه دی کړی نو څنګه یې د هغه په پاڼه کې ولیکم- خطاب ورته وشي چې هغه د خیر نیت کــړی او د هغــه تکل یې کړی- پنځم دا چې د خیر کړنې پوله او پای نه لري او د ټولو پوره کــول یــې مسلمان ته ګران او ستونزمن دي- او څرنګه چې د مسلمان نیــت پــر دې ټولــو اړه مومي ګرد ثواب ورته رسېږي[.] لنډه دا چې په غرِا شریعت کې د نېک تکل ارزښت او درنښت ناپایه دی په تېره بیا د ټولواکانو او پاچاهانو خوندي تکل چې د ځمکې پر مخ د اوسېدونکو له خوا غوره شوي- او د نــړۍ ســاتونکي او خونــدي کــوونکي دي- د بنیادمانو شپانه او د عالَم ساتونکي دي- د هغوی په نېک نیــت کــې د جهــان خیــر نغښتی دی- او هوډ او تکل یې د هېواد او وګړو له سوکالۍ ســره تړلــی- د آســماني روزیو برکت د هغوی د مهربانو نظریــو زېږنــده ده- او د ګټــو او ځمکنیــو حاصــلاتو خوځښت او وده د نړۍ ددې غوره کسانو د نېکو خیالونو ثمره- د بزګر له زوی سره د نوشیروان مشهوره کیسه او د دوو انار دانو کېکاږل ددې بیان شاهدي وایي- او خپلو ځایناستو ته د عادلو او عاقلو ټولواکانو وصیت هم له نړیوالو سره د همدې ښه نیت په تړاو دی- شیخ مصلح الدین شیرازي په بوستان کتاب کې راوړي[:]

اوریدلي مې چې شیرویه ته ټولواک ووی ... هغه دم چې یې سترګې له لیدو شوې پټې
هڅه کړه چې هر څه نیت کړې ... پام سمون ته د رعیت کړې

او څرنګه چې زموږ اسلام پناه او دینپالي مسلمان ټوالواک امیر بن الامیر بــن الامیــر اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیــب الله خــان- خلــدالله ملکــه و سلطانه و افاض علی العلمین بَرَهٌ و احسانَهُ د نېک هوډ له شرعي او عقلــي ښــېګڼو او

ketabton.com - The Digital Library

کمالونو خبر دی[،] نو پر چارشنبه د ۱۳۲۹ قدسي هجري کال د ذی القعده الحرام په سلخ [؟] کې شوکمار لاروهونکي د ويښ خاطر او کلک هوډ له برکته د ملکـي زړورو عسکرو په ګومارلو د پلازمېنې له غرنيو لمنو څخه راکوز او ونيول[،] د شرعي حـد د پلي کېدو له پاره چې د اکبر امام حق دی[،] په اوسپنيزو ځنځيرونـو او جغونـو کـې عادل حضور ته راوستل شول- تر شرعي ثبتونو او عقلي دليلونو وروسته يې مشر له خپلو ځلورو ملګرو سره له ربښتياوو ددې ډک آيـت د مضـمون لـه مخـې چـې [« انماجزا الذين يحاربون الله و رسوله و يسعون فی الارض فساداً ان يقتلوآا ويصلبوآ او تقطع ايديهم و ارجلهم من خلاف او ينفو من الارض[»] يعنې له دې پرته به بل څه نه وی هغوی چې د خدای او د هغه د استازي له دوستانو سره جګړه کوي او پر ځمکـه د فساد او تباهی هڅه کوي[،] سزا به يې له دې پرته بل څه نه وي چې کـه يـې څـوک وژلي وي او مال يې نه وي وړی نو وژل کېږي- يا که يې قتل کړی او مال وړی وي- [،] نو وژل کېږي او پر دار ځړول کېږي- يا که يې مال وړی او څوک نه وي وژلی نو لاس او پښې يې په سرچپه ډول پرې کېږي- يعنې ښی لاس او کيڼه پښه او که يـې قتـل او لوټمار نه وي کړی خو لارويان يې ترهولي او ډارولي وي- ايستل کېږي او لـه سـيمې شړل کېږي- او حضرت امام اعظم رحمة الله عليه شړل او ايستل تر بندي کولو غوره بللي [فرود آورده؟]- چې نور يې په ښار کې چاته ضرر ونه رسېږي همدمره[.] لنډه دا چې پر دار يې ددغو کسانو د ځړولو او پانسي کولو حکم وکړ- او ددغو غلـو نيـونکي سرتېري يې د غوره ډاليو او نغدو مرستو په ورکړه وپالل- تر دې وروسته ټولواک پـه خپلو سلطنتي خبرو کې چې په ځينو کې يې ددې ټکو دې ببوزلی ليکـونکي هـم د ناستې وياړ درلود[،] له حکمتونو ډکې پاچايي وينـا لـړی دې لـوړې مـوعظې تـه را ورسېده چې [: «] تاسې د افغانستان وګړی زما له توپونو مه وېرېږئ- او زما له توپکه مه وېرېږئ- او زما له تورې ترهه مه کوئ- خو له نيته مې ووېرېږئ چـې زمـا نيـت ستاسې د ټولو په خير دی او نه يې پر خلاف.»]- تر دې وروسته يې د سلطنت مقامې وينا لړی دې ځای ته را ورسېده چې ويې فرمايل- په افغانستان کې به يو وايي چـې زه عاقل يم او بل به وايي چې په حساب پوهېږم او هنر لرم- بل به وايي چې زه پوهه لرم- ددې خيالونو په دفعه کولو کې د غيب عالم او لوړ عالم امر ته تسليميدل غـوره

ketabton.com - The Digital Library

او وتلي دي چې په دې ډول په فکرونو کې پر غيبي حکم او لاريبــي امــر د اعتــراض فاسد خطر را نه وتوکېږي:

زما د هغه فضول پر رندۍ او مينې عيب دی چې اعتراض يې پر اسرارو د عالم غيب دی
د ايمن وادۍ شپون به هله مراد ته رسي که يو څو کاله ناست خدمت ته د شعيب دی

اوس نو دا بېوزلی او نيمګړی د اسلام پالي روڼ ضميره او دين تخميــره دې پاچــا يــو دليل چې پخپله مې ليدلی او په غوږونو اورېدلی او په خپل کمزوري خاطر کــې مــې پرې غور کړی[،] خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم- دويم هغه دلايــل چــې ددې اسلام پناه ټولواک د نېک نيتۍ په اړه د خاصو او عامو غوږونو ته رسېدلي[،] په قلــم سپړم او پر ژبه اوروم.

خو هغه دليل مې چې پخپله ليدلی او اورېدلی په مخکنيو کلونو پــورې [،اړه مــومي- د.ج.] چې لا د جنت مېشتي ټولواک خدای بښلي حضرت ضياءُ الملة والــدين [اميــر عبدالرحمان خان- د.ج.] د تخت کيناستنې لومړنی پېر و او په دوبي کــې بــه يــې د مرحوم بابرشاه په بڼ کې د اوسېدو پرتم خپراوه او له برمه ډک دربار پــر ورځــو بــه سرداران او خانان په هماغه بڼ کې پاچايي سلام ته ورتلل او د اوســني اعليحضــرت ټولواک د اوسېدو ځانګړی ځای په هغه بڼ کــې و چــې اوس د چهلســتون پــه نامــه يادېږي- او د چهلستون مانۍ پر جوړېدو لاهغه مهال لاس نه و پــورې شــوی- او زه فقير خبر نه يم چې حضرت اسلام پناه ټولواک به هغه مهال د تکليف منګ [بلــوغ- د.ج.] ته رسېدلی و او که نه- په هر حال دا بېوزلی او کمزوری ليکــوال يــوه ورځ پــه همدغه بڼ کې د اوس مهال د دينپالي حضرت پاچا سلام ته ورغلم- کله چې د سلام وياړ را په برخه شو[،] ځــای راتــه خــورا ښايســته لــه ورېمــو ډک او خوشــحالونکی وبربښېد[،] عرض مې وکړ چې دا بڼ او دا ځای څومره خوښونکی او پرتمين دی- پــه ځواب کې يې وفرمايل چې هو زما ځانګړی استوګنځی ښه دی- خو د خدمتګارانو او مزدورانو او عَمَلې کېږدۍ پر لمر دي- وروسته يې د بوســتان کتــاب دا درې بيتــه د تمثيل په بڼه وفرمايل:

اورېدل مې چې د مرګ پر پوله هان و هرمز ته داسې ووی نوشيروان
چې ملنګ شه پام کوه پر هر وګړي نه د خپل نس په رسۍ باندې تړلي
پر هېواد به يو کس هم هوسا نه وي که دې پام يوازې پر خپله هوسايه وي

ketabton.com - The Digital Library

دې فقير چې کله له حکمته دا ډک بيتونه د سلطان وزمه له خولې واورېدل[،] لـه خلوص نه په ډک زړه کې راته يو نېک فال او هيلـه منـدي پيـدا شـوه چـې کلـه د افغانستان د هېواد د چارو واګې ددې بختور او بريالي شاهزوی وړو لاسو ته ورشي[،] ښايي د څښتن د مخلوق او د وګړو او عسکرو هوسايي ددې کورنۍ د تېرو مهـالونو د ټولواکانو پرتله ډېره شي.

او له شمېر او قياس پورته بېشمېره زرګونه ځله شکر د ملکونو د مالـک چـې کومـه هيله مندي مې هغه مهال له اخلاصه په خپل ډک زړه کې موندلې وه[،] په خورا ښـه بڼه وځلېده- او هغه نېک فال مې چې له رېښتينولۍ په خپل ډک فکر کې پېژنـدلی و[،] په خورا بشپړه او ښکلې بڼه جهان ښکلوونکي ته راڅرګند شو- او [کله چـې] د اوسمهال اسلام پناه حضرت ټولواک د سلطنت او پرتم پلاز ته پورته شو[،] په نېکـه بڼه او مبارکه پايله د عادي وګړو او مخلوقاتو په پرمختګ او سوکالۍ کـې هڅانـد او خوځاند دی- اما هغه دليلونه چې ددې عادل پاچا د نېک تکلۍ په اړه د خاصو او عامو غوږونو ته رسېدلي دي(۱) دا چې له خپلې سپېڅلې پلازکېناستنې سره جوخت يې د تېرو کلونو د پاتو ماليو پيسې چې د خدای ښښلي خاقان [اميـر عبـدالرحمان خـان- د.ج.] له مهاله د درې مليان [ميليونو] کابليو روپيو ( ۳۰،۰۰۰،۰۰۰) په اندازه چې له يـو مليان (۱،۰۰۰،۰۰۰) انګرېزي سروزرو سره برابرېږي او لړودېږې پر وګړو پاتې وې[،] دا دومره ډېرې پيسې يې ټولو وګړو او انساني مخلوق ته شاهانه وبښلې او د افغانسـتان ټول وګړي او مخلوق يې له دې درانده کړاو او له وس پورته دې سـتونزې لـه ګـاللو هوسا کړل (۲) د پوځيانو پر مياشتنۍ تنخواه يې هره مياشت هر افسر او عسکر ته د تنخواه پنځمه يا څلورمه برخه ورزياته کړه چې د تېرو کلونو پرتله دې دولت ته (چې ای ربه تل يې ددې مهربان بختور ځوان پاچا تر سيوري لاندې ډېر کـړې) عسـکري مينه او هيله مندي ډېره شوې [څو يې- د.ج.] په تنخوا کـې يـوه مرسـته وي (۳) د افغانستان هغه وګړي [ــ] مخور او نامخور[،] نوميالي او بې نومه[ــ] چـې پـه پرديـو هېوادو کې فراريان وو[،] ټول يې له يوې مخې راستنېدو ته پرېښودل او تر رارسېدو او د سلطنتي پلاز تر ښکلولو وروسته يې پر هر يوه د تنخواوو او پيسو پېرزو وکـړه- آن دا چې د لارې د لګښت د يوې برخې ورکړه يې هم ورپېرزو کړه (۴) له عالمـانو او

ketabton.com - The Digital Library

شیخانو سره یې دومره د مهربانۍ او خوشحالۍ لاره غوره کړه چې ددې دوو سپېڅلو ډلو هره ډله دا دینپالی دولت خپل بولي- او ځان په دولت کــې شــریک ګڼــي (۵) د ښاري وګړو د هوساینې او زړه خپلونې له پاره یې[،] څرنګه چې په مخکنیــو افغــان سلطنتونو کې د ښاري وګړو د شپني خوځښت او تګ راتګ قاعده او رسم دا و چې په شپه کې تر ټاکلي مهال وروسته د عسکري ساز په غږېدو یا د توپ په ډز او یا د ډول په وهلو پسې پولیسو او شپې مشرانو هېڅوک د ښار او بازار کوڅو تــه وتلــو تــه نــه پرېښودل او له دې پلوه د شپني تګ راتګ پر مهال د ښار اوسېدونکي له سخت کړاو سره مخامخ وو- ناڅاپي ناروغ ډاکټر او درملنې ته نه شوای رسول کېدای- او د اوږدو ناستو مېلمنو نه شوای کولی خوب په خپلــو کورونــو کــې وکــړي- اوســني بختــور اعلیحضرت پاچا په ښار کې د شپې تګ راتګ ته داسې قاعده وټاکلــه چــې لــه هــر چاسره په لاس کې بله ډیوه وي[،] پولیس او شپې مشر دې تر سهاره د هغه مخه نــه نیسي چې بې له شکه په دې ځلاندې قاعدې سره د ناروغانو او ښــاري مېلمنــو او د شپې نورو تلونکو راتلونکو هوسایي تر پخوا زمانو لا ډېره شوه.

(۶) څرنګه چې له الهي تقدیر نه [د حبیب الله خان- د.ج.] د پاچایۍ پر لومړي کــال ددې شرعي سلطنت د ویښولو او تنبیه کولو له پاره د هیضې وبا ګډه شــوه- او دغــه راز څرنګه چې د افغانستان خواړه او ځواک ددې هېواد له کرنیزو حاصــلاتو او کرنــې څخه راوځي- او حضرت مطلق روزي رسوونکی او حق هستوونکی پرله پسې او تــل ددوی په کروندو کې دومره حاصلات زرغونوي چې دهېواد ژوندیو وګړو ته بس شي او له بهر نه د غلې راوړلو ته اړ نه شي- او په دې ډول ددې ترقي غوښتونکي نېک کاري او ښه نیتي اوسني اعلیحضرت ټولواک په څېر په پخوانیو پاچایانو کې [چا] دا وخــت ونه موند چې یا کرنپوهنې ته وده ورکړي او یا د پخواني افغاني قانون له مخــې د کــر کیلې چارې پراخې کړي چې ددې وطن د ځواکمنۍ حاصلات د هېواد د ګړو له اړتیــا ډېر او بهرنیو هېوادو ته صادر شي- او دا نېــک کــار هــم د اوس مهــال اعلیحضــرت ټولواک د وخت له لړوالي سره سره[،] سنجولی لویې ویالې یې د هېواد پــه څنــډو او سیمو کې ایستلې چې د تفصیل راوړل یې سراج الاخبار ته پرېښودل کېږي- لنډه دا چې پر هغه نېکمرغه کال قحطي نه وه خــو د غلــې دانــې لړوالــی و- او طبیبــانو او

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټرانو ددغې عامې ناروغۍ په برخه کې د هوا د بدلولو غوښه لارښوونه وکړه، د اوسمهال همایون بختي اعلیحضرت ټولواک د طبیبانو غوښه لارښوونه باطله کړه او ټول هماغه کال یې په ارګ کې تېر کړ - او دا ددې نېک هوډ له امله چې هسې نه محتکرین او غَلَه پلورونکي غلې دانې وساتي او بېوزلي او مسکینان د ماښام له پاره څه ونه مومي.

(۷) څرنګه چې د غلو دانو بیه په دې کلونو کې د پخوانیو کلونو پر تله ختلې او ژمی په پلازمېنه کې د واورې له امله د ژمي په ځینو شپو ورځو کې ښار ته د غَلِو دانو د راوړونکو قافلو د لارو د بندېدو یا یې د لارو د ګرانېدو وېره شته - او احتکاروونکي له خپل عادته اوښتونکي نه دي - که یو شمېر یې پر دار هم وځړول شي - نو ځکه اعلیحضرت سراج الملة والدین لارښوونه وکړه چې له حکومتي غلو دانو نه دې هره ورځ د اویا اوښانو د بار غنم اوړه کېږي او د اوړو پلورنکو بازارو ته ایستل کېږي او تر هغې بیې دې یې ارزانه چې غَلَه پلورونکي یې د ښار پر وګړو پلوري[،] وپلوري چې کونډې او یتیمان چې د یوې روپۍ نیمې روپۍ خاوندان دي[،] د محتکرانو له شره د ماښام له خوړو بې برخې پاتې نه شي.

## بیـــت

بنسټ د حق پیاوړی دی په دای چې بېوزلی لاس قوی دی پر خپل ځای

(۸) دې دینپالي ټولواک د مخلوقاتو د شفاعت کوونکي حضرت صلی الله علیه وسلم د دین له لارښوونو سره سم د وګړو د پاکلمنۍ د ساتنې او د ناموس د خوندي کېدنې په برخه کې دومره ځیرتیا او پام کارولی چې پلار یې له زوی سره تر دې پورته نه شي کولای - داسې چې په مخکنیو افغان سلطنتو کې د پلازمېنې کابل د ښځو برقعې پسولل شوې چین لرونکې او له سپین سان نه ګنډل شوې وې چې په کوڅه او بازار کې یې د تېرېدو پر مهال د سپین سترګو ځوانانو او بېباکو زلموټو ناولې سترګې ور اوښتې - اوسني همایون بختي او دینپالي ټولواک په شاهانه هوښیارۍ او ملوکانه ځیرکۍ دې ټکي ته پام شو [او] په نیلي رنګ د ښځینه برقعو د اړولو غوښ حکم یې وکړ [چې] د مسلمانو ښځو بېحاصله باطل شوی سینګار د دې دینپالونکي ټولواک تر حکم لاندې په خوندیتوب سره تېرېږي - او په کندهاد ښار کې د جنت مېشتي ستر

ketabton.com - The Digital Library

امیر دوست محمد خان د ورور پرتموال سردار کهندل خان د حکومت پر مهال د متقي او دين پالونکي قاضي ملا غلام کندهاري په فتوا چې ددې ټکو د فقير ليکونکي مورنی نیکه دی[،] په نيلي رنګ د ښځينه برقعو د اړولو لارښوونه د هغه سلطان وزمه سردار له حضوره شوې [او] دغه حکم تر اوس مهاله جاري او پلی دی.
دادي هغه اته ګوني دليلونه چې د افغانستان د دولت ټول وګړي ترې خبر دي- او که وغواړو چې ددې پاچا د ټولو ځانګړو ښېګڼو په تفصيل پسې ووځو[،] د سراج الاخبار له حکمته ډکو پاڼو د اوږدېدو سبب ګرځي.

**بیـــــت**

که سعدي کاندي دا جمله انشا نو به بل کتاب ترې شي املا

که سرې شته دی پر کور، نو دا يو ټکی يې ټکور.اوس ددې دينپالي ټولواک د شخصي کړنو د اغېز ر ښتونې کیسه د ګرانو لوستونکو له پاره ليکل کېږي او وړاندې کېږي- چې د سم روايت له مخې اوربدل شوي چې په کندهار ښار کې يوه بېوزلې کونډه ښځه شته په قوم کاکړه [؟] چې د عبادتونو او روژې او لمونځونو پر وخت دومره ټينګه او کلکه ده چې د خپل تېر ځلوېښت کلن عمر لمونځونه يې قضايي کړي دي- سره له دې چې د بلوغ له پيله يې هېڅکله هم فرضي لمونځ نه دی پرېښی- غالب ګومان دادی چې د ښځو د ځانګړي عذر په اړه يې چې د روژې او لمانځه مخه نيسي د وخت له ملايانو پوښتلي[،] خپل کړي لمونځونه يې د ښځو له پاره د لمانځه د جواز پر مهال نه دي بللي او کول يې ورته بې موقع بر ښېدلي[،] د ځلوېښتو کلو ټول لمونځونه يې له سره رانيولي او ادا کړي دي- په هر حال څښتن تعالی دې هغې ته ورته د افغانستان په ښځو او نارينه وو کې ډېر کړي- له هغه مهاله چې د احمدشاهي اشرف البلاد د بنسټ خښته ايښودل شوې[،] دا ډول کیسه چا نه ده اوربدلې او دا پر لمانځه او روژې او نورو عبادتونو ددې اسلام پناه او دينپالي ټولواک د ټينګوالي له اغېز پرته بل څه نه دي چې ددې ر ښتونې مقولې له مضمون سره سم چې (اَلنِـاسُ عَلی دَيّن مُلُوّ کهمّ) په وګړو کې يې ورو ورو اغېز کړی او کوي يې او په وګړو کې هر يو د خپلې باطني وړتيا له مخې همدغه اغېز منلی او مني يې.

ketabton.com - The Digital Library

 څښتن تعالی دې د چا له منت پر ته زمورږ دې اسلام پناه او دينپالي ټولواک ته د وګړو او خلق الله د روزنې او پالنې زياتېدونکی وس ورپه برخه کـړي چــې پــه افغانســتان هېواد کې د ديني او دنيوي کمــالونو خاونــدان ډېــر او ببشــمېره شــي- او د دولـت نېکمرغه ځوان حضرت ټولواک تل د دين او دولت پر غليمانو برلاسی او د دوستانو د روزنې له پاره د نورو د ګټو راوړونکی اوسي. دې دوعا ته دې زما او د ټولې دونيــا لــه خوا رب العباد ته آمين وي. د ليکلو نېټه سه شنبه[،] د ۱۳۳۰ کال د ربيع الاول ۲۹
[د فقير مخلص ښوونکي عبدالروف لاسليک]

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي لنډیز

دا خبره له هېچا پټه نه ده چې د (ستر پیتر) د وصیت لیک یو بند چې خپلو ځایناستو ته یې پرېښې دادی چې «د روس دولت دې تل هڅه کوي چې د نړۍ زېرمه او خزانه چې هماغه د (هندوستان) وچه ده[،] تر لاسه کړي او له دې لارې پر ټوله نړۍ واکمن شي»[.]

د همدې وصیت له مخې د پیتر ځایناستو یوه شېبه هم له دغه پرمختګه لاس نــه دی اخیستی، خو څرنګه چې ددغې خزانې څښتن د خپل سیال له دې تکله خبر و[،] لــه پنځوس شپېتو کلو راهیسې یې د ایران او افغانستان خورا پیاوړې کلاوې پرله پســې پخې کړې، او د هغوی د خپلواکۍ او واکمنۍ او شتوالي په پیاوړتیا او ټینګښت کې یې د زړه هڅه کړې ده. خو دا مهال برېښي چې د روس سیاست او پولیتیک لګیــا دی د بریتانیا پر سیاست غښتلی او برلاسی کېږي. ځکه د لښکر له استولو پرته او بــې لــه دې چې له سیال سره لاس ګرېوان شي[،] د خپل عملي حکمت په سیاست سره یــې بې له دې چې افغانستان ته لاس هم وروړي- له شمال نه د جنوب پــر لــور د خپلــو سیلابي اوبو د خوشې کولو له پاره دوه لوېې ویالې پرانستې دي. چې یوه له قفقاز نــه تر فارس خلیجه خپله اوسپنیزه لاره غزوي. او بل د مشهد له لارې پــر سیســتان او بلوچستان د خپلې اوسپنیزې پټلۍ پر اوسپنیزو ویالو د هندوستان له سروزرو او غَلِو ډکو زېرمو پر خوا ځکېږي. تر ټولو بده یې لا دا چې له اورونو ډک یوه بل سیند یعنــې (جرمن) هم چې له ډېرې مودې د شتمنیو دغې زېرمې ته تر شونډو لاندې موســکی موسکی کېده[،] خپل اورژبی ښامار د بغداد او بصرې له لارې راخوځولی دی. نو آیا د سیلاب او ښامار ملګرتیا به ددغې بېسارې خزانې د لاندې کولو له پاره بس نه وي؟ دا لا څرګنده نه ده خو څه چې جوت دی هغه د برتانیا پــر سیاســت د روس د تګــلارو برلاسي ده[.] د نړۍ یو شمېر سیاستپوهان وایي هغه مرســته او لاس نیــوی چــې د

ketabton.com - The Digital Library

برتانیا دولت د ۱۹۰۴ میلادي کال په جګړه کې له جاپان سره کړی و او پر آرام سمندر یې د سیلاب د اوښتو مخه ډب کړې وه[،] په کار وه چې د هغه کار بېلګې یې په ایران او افغانستان کې هم ترسره کړې وای. ځکه په آرام سمندر کې یې لار پرانستنه لـه دې امله چې له سترو سمندري ځواکونو څخه ګڼل کېږي، په خپلو اوسپنې ځیروونکو اورژبو نهنګانو ډب کولای شوه. په داسې حال کې چې پر وچه د نړۍ د هېوادونـو زور تولو ته ښکاره دی چې څه دی؟ نو اړینه وه چې د ایران دولت په خپلواکۍ او پیاوړتیا کې یې خورا ډېر زیار کړی وای.

په هر حال، تېر په هېر راتلونکې ته ځیر شو[.] دا خو ټولو ته ښکاره او جوته ده چـې افغانستان به تر هغو چې ساه په کې غړېږي چا ته پر خپله خاوره د تېرېدو هېڅ اجازه ورنه کړي او که د چا په ذهن او ګومان کې دغسې یو خیال ورځي چې د افغانستان د خپلواک دولت زور او پیاوړتیا او ویښېدل او پاڅېدل تر روس ډېر هندوستان ته زیان اړوي- دا بیا هم یو خیال او وهم ته ورته والـی لـري. افغانسـتان تـه خپلـه بشـپړه خپلواکي او خپل پوره زور او ځواک د سیلاب په وړاندې د درېـدو وړتیـا او پیاوړتیـا ورکولی شي او هېڅ پردی دولت یې په خپل مټ او عسکر او اورګاډي د خپلې دفـاع سپر نه شي ګرځولی[.] دا هم پخه ده چې که د شمالي ایر او ختیځ زمري، او [یا] زموږ په خپل تعبیر [که] له بلاګانو ډک شمالي سیلاب او اورژبي ختیځ نهنګ پـولې سـره شریکې شي او ګاونډیان شي او د افغانستان په څېر یو خپلواک دولت چې پر له پسې یې په ښه نیت د خپولاکۍ په ټینګښت او پرمختګ کې د زیار ایستنې اړتیا شـته- د جلا کوونکي ونډه ونه لري[،] ګومان دی چې د سمندرونو رانغښتونکی اورژبی نهنګ به ددې کورګډي سیلاب له مخې ژوندی ونه وځي. سیلاب[،] نهنګ د ایران د ویښتابه [او] د پرمختګ د وړتیا له زیانونو ډارولی او خپل سیال یې تېر ایستی دی. او پرهغـه ځای یې ورسره خپله پوله نښلولې ده. څوک پوهېږي چې یو مهال بـه د جـرمن لـه اورني سمندر سره لاس نه یو کوي او یوازې په ایران کې به په ګاونـډیتوب نـه پـاتې کېږي بلکې د خپل پلار وصیت به هم نه پر ځای کوي؟

**والله اعلم بالصواب** [الله پوهېږي چې سم څه دي- د.ج.]

ketabton.com - The Digital Library



د حبل المتین ګرانې ورځپاڼې چې یوه ارزښتناکه او لویه سیاسي او ادبي ورځپاڼه ده[،] په خوږه فارسي ژبه د (حق) په نامه د استانبول چاپ ورځپاڼې څخه د تخت تر نامه لاندې یوه مقاله په خپله ګرانه ورځپانه کې راخیستې[،] څرنګه چې دغه مقاله د عبرت یو لوست و کټ مټ یې راخلو:

له استانبول چاپ حق مجلې څخه د لوی ادیب سلیمان بېک د مقالې ژباړه له ایران نه عثماني هېوادو ته

غږ نه دی د شپېلۍ لمبه ده دا د اور
له دې اوره یې پرته غواړم سکور

ایران یو لښکر مشران لري. که ددې مشرانو نومونو او لقبونو او درجو ته پام وشي[،] نو ځان به په رښتیا د یوه بشپړ پیاوړي دولت په وړاندې ووینو. که د پلازمېنې (تهران) یوه بڼ ته ننه وځو نو هلته به له صمصام السلطنو، احتشام الدولو، منبع الممالکو، شیرالدولو، امیر بهادرجنګو، ارفع الممالکو، اتابک اعظمو، خزان الولو، نظام الملکو، علاء الملکو، سپه سالارو، افخمو، او بې شمېره عسکري آمرانو او له حساب وتلو ډیپلمانانو [ډیپلماتانو] پرته بل څه ونه وینو، داسې نه بولم چې د انګرېز باچا په ننني حکم کې چې د بشریت درېیمه برخه یې تر واکمنۍ لاندې ده[،] دا دومره شمېر وزیران چې د دومره لقبونو وړ وي، راشي، ایران د کاغذ پر مخ تر ټولو دولتونو ځان پورته ښيي. په کوم دولت کې یوازې د ایران له پاره نه بلکه د ټولو هېوادو له پاره پوځي مشران شته[؟]؛ کوم ملت صمصام او په سم تعبیر سره صمصامه لري[.] عجمستان [منظور ایران؟- د.ج.] دا ټول تر خپل انحصار لاندې راوستي دي.

خو له دې ټولو سره سره د روسیې عسکر او د کازاخانو [روسي ملېشو- د.ج.] ډلې له خنډ پرته مازندران او ګیلان او آذربایجان ته ننه وځي. نه پوهېږم دا ټول سپه سالاران او افخمان او صمصام السلطنه ګان او امیر بهادرجنګان ولې دا روسي جنرالان او لښکرې په یوه اشاره له منځه نه وړي او نه یې ورکوي؟ احتشام الدوله ګان دا حالت څه ډول د دولت له پرتم سره تالیفولی [ګډولی] شي؟ روسي چارواکي ته وا د خپل خارقوف [خارکوف] یا نوووغورد [نوفګورد] ولایتونو والیان دي چې په تبرېز او

ketabton.com - The Digital Library

قزوین کې پوځي حکومتونه اعلانوي او پر اشرارو عدالت پلی کوي او اعداموي يې. آيا نظام الممالکان به دې بې نظاميو ته څه ووايي؟

لندېه خبره دا چې د دارا او کيخسرو او جمشېد او نوشېروان سلطنت او د ساسانيانو او کيان پاچايي د روسيې د سترواليي او پرتم په وړاندې نه يوازې خپلواکي او کورواکي بلکې پېژندګلوي او شتوالی له لاسه ورکوي، که ښاغلی چارقوف (موسيو چارقوف) عاصم بېګ ته هرڅومره ډاډ ورکړي[،] او (موسيو سازانوف) بل سرادور [؟] ته د زړه په خوښه هرڅه ووايي: له دې نه داسې بر ښېي چې تر اوسه د ايران بېوزلې شهنشاهي د خپل تاريخ په دې وروستي پړاو کې د کلمو او تشريفاتو او يونيفورمو او د شير خورشيد [زمري او لمر - د.ج.] د نښانو سترواليي ته له خورا ډېر پام پرته دې ته په هېڅ ډول پام نه دی کړی چې لښکر نه شته، سرتېري نه شته، قانون نه شته، محکمې نه شته، اداره نه شته،... ته وا ايران په خپل ذات کې له تېرونو جوړه يوه ټولنه ده او اعليحضرت پاچا هم ددغو تېرونو د مشرانو مشر دی. په ايران هېواد کې هر وزير او هر والي د خپل نفس په هوا کې دی او هر مجتهد په خپل فکر کې[.] ددې پرځای چې کورني توپيرونه او اخلاقي کړکېچونه او د ويجاړ ايران ناپوهي ورو ورو له منځه يوسي او په اوسني حالت کې ددې ټکو له سترواليي پرته په ايران کې نور څه نه دي پاته او داچې روس دولت غواړي د ختيځو خوږو نهيلي د بزرجمهرانو او فردوسيانو او سعديانو له سپېڅلي هېوادو وباسي-

ketabton.com - The Digital Library



# د پېښور افغان ورځپاڼه

**یکشنبه د ۱۹۱۲ کال د مې ۵ چې د ۱۳۳۰ کال د جمادی الاول ۷ کېږي**

**د پنجاب د ایدیوکېټ ورځپاڼې نا سم بیان-**

**پنجاب ایدوکېټ:- څرنګه چې د وګړو ژوند له خطر سره مخامخ دی نو سرحدي صوبه دې له پنجاب صوبې سره ګډه کړی شي-**

**افغان:- ښخي ناسم- د صوبه سرحد وګړي په پوره آرامۍ ژوند تېروي او ښځي نه غواړي چې سرحدي صوبه دې له پنجاب سره ګده کړای شي- خبرې او سزا په کومه صوبه کې نه شته؟**

**پنجاب ایدوکېټ:ـ افغان ورځپاڼې لمسونه کړې چې د سرحدي صوبې مسلمانان دې د یو ځای کېدو د پرېکړې خلاف غونډې جوړې کړي او په یوه غږ دې مخالفت ورسره وکړي- دا لمسون د ډیره اسماعیل خان ولسوالۍ د پخواني ناظم سید لعل پادشاه له خوا شوی دی-**

**افغان:ـ له پنجاب سره د سرحدي صوبې د یوځای کېدو مساله د صوبه سرحد د ۲۲ لکو مسلمانانو د مرګ او ژوند مساله ده- نو ځکه بویه چې غونډې جوړې شي او په یوه غږ یې مخالفت وشي او د لمسوونکي لیک په تړاو [،] دروغ رښتیا به یې لالا ایدیوکېټ ته هغه مهال جوت شي چې ځواب یې له دغه سید لعل شاه نه وپوښتي- ایدیوکېټ څه ثبوت لري چې دا لیک د سید لعل شاه په قلم کښل شوی دی.**

**پنجاب ایدوکېټ:ـ سرحدي مسلمانان سرحد خطرناک ګڼي او په لوړ غږ وایي چې خپل ملکیتونه به وپلوري او پنجاب صوبې ته به د استوګنې له پاره ولېږدي چې په دوی کې یو د مردان خان هموتی او بل معاذ خان نمبردار[؟] دی[.]**

**افغان:ـ ښخي دروغ دي- د سرحد مسلمانان دا سرحدي سیمه د ځان له پاره تر الهي رحمت لږه نه بولي او یو یې هم دا نه غواړي چې سرحد پرېږدي په پنجاب کې استوګنه غوره کړي- او که فرض کړو چې دوه درې تنه صوبه سرحد پرېږدي او په**

ketabton.com - The Digital Library

پنجاب کې اوسېدل غوره وبولي[،] شوني نه ده چــې د دوه دري نفــرو خوښــه د دوه ويشتو لکو وګړو خوښه وبلل شي- آيا پنجابي ورځپاڼو د لالا لاجپــت راى او اجيــت سېنګ پر ايستلو ليکلي و چې ټول پنجاب په خطر کې دى او يا د پنجاب وګــړي لــه پنجاب نه زړه توري شوي دي[؟].

---

پنجاب ايدوکېټ:ــ د هر يپور تحصيلدار [د ماليې مامور، ولسوال؟- د.ج.] محمد حيات خان هندوان سخت په تنګ کړي او هره ورځ نوي شرارتونه کوي- خو شکر دى چــې شرارت خوښونکى بل ځاى ته تبديل شو-

افغان:ــ دا ټولې پلمې او تورونه دي- چې رېښتيا شي د پنجاب د ايدوکېټ ورځپــاڼې مدير د هغې سزا ياد (چې په دېره اسماعيل خان کې ددغه خان صاحب له خوا ورکــړ شوې وه) د غچ له پاره ناکراره کړى دى او ددغې سزا ياد دا مدير اړ کړى چې ددغــه تحصيلدار نوم بد کړي- بل دليل يې د هري پور د هندوانو خپل شــرارت دى چــې د مسلمان تحصيلدار تر لاس لاندې کېدل يې ښه نه ايسي- او رېښتيا خبره داده چــې نه يوازې د هري پور هندوان چې د ټول هندوستان هندوان د يوه خپلواک دولت هيله لري او بس-

ketabton.com - The Digital Library



# بیـــرغ

تر ټولو هغه ارزښتناک څیز چې د عسکرۍ درانده مسلک ته تل خپله سپېڅلې دنده وریادوي، او د هغوی ملي ویاړ او پت لوړوي[،] هماغه بیرغ دی چې لـه اعلیحضــرت پاچایي اشرف لوري څخه عسکري غونډونو او کنډکونو ته ښښل شوی او پېرزو شــوی دی.

بیرغ داسې یو سپېڅلی او درونـد امانت دی چې ترې را تاوو کسانو ته شتوالی ښښي[.]

بیرغ د دین او دولت په اجزاوو کې یو جز دی[.]

بیرغ د یوه ملت ښکارندویه نښه ده. بیرغ د وطن ستر ویاړ دی[.] نــو ځکــه بیــرغ د عسکري شتوالي او هستی یوه سپېڅلې او زړه ته نژدې نښه ده. هر عسکري تــولګی چې د خپل لوی بیرغ پت ونه شي ساتلی، او د جګړې پر ډګر یې د غلیم تښتولو تــه [پرېږدي،] هغه عسکري ټولګی داسې دی چې ګواکې پوپناه شوی او له منځه تللــی وي. نو ځکه د جګړې پر مهال تر هغو چې یو مټ [پوځي تــولګی- د.ج.] پــاتې وي[،] خپله جنډه پرېنږدو چې ولوېږي، او یا لا سمح الله [خدای مه کړه- د.ج.] د غلیم لاس ته ورشي. هغه تاریخي بېلګې چې سرښندنکو عسکرو د ناکاره غلــیم لــه منګولــو د خپل بیرغ د ژغورلو له پاره کړي[،] د جګړې د تاریخ د پاڼو تر ټولو غوره سینګار بلل کېږي.

بیرغ د عسکر د قهر او هیت [هیبت] د نېکمرغۍ جنډه ده چې لیدل یــې عســکر را ایشوي او خوځوي او د وطن ساتنې او د ملي پت ټینګونې ته یې پرله پسې پــر مــخ هڅوي. کله چې یو مورچل یا یوه کلا ونیول شــي[،] نــو لــومړی پــرې خپلــه جنــډه هسکوي چې د محاربې د کتاب تر ټولو غوره پاڼه د همدغې جنډې رپا جوړوي.

د دولتونو بېلوونکې نښه د هغوی بیرغ دی[.] د دولتونو ببــرۍ پــه خپلــو پــه جنــډو پېژندل کېږي. سفارتونه، کونسلګرۍ، حکومتي اداري په خپلو بیرغونو بېلېږي.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې د اسلام تاریخ د کتابونو پاڼو ته وکتل شي[،] د بیرغ لومړی کار بېدنه د کایناتو د حضرت ویاړ علیه افضل الصلواه و التسلیمات په ویاړلو غزاګانو کې تر سترګو کېږي.
د هغه حضرت صلی الله علیه وسلم په بختورو ځواکونو کې دوه درې ځلور ډوله بیرغونه وو چې د (عَلَمّ) او (لوا) او (رایت) په نومونو یادېدل. آن د هغه حضرت صلی الله علیه وسلم یو بیرغ (عقاب) [باز- د.ج.] بلل شوی و.
تر هغه وروسته په ټولو اسلامي دولتو کې بیرغ د پوځ یوه ارزښتناکه برخه بلل شوې همداسې را روان دی. د نړی نورو دولتونو هم تل په خپلو پوځونو کې بیرغونه کارولي، خپل بیرغونه یې درانده او سپېڅلي ګڼلي دي.
زموږ په سپېڅلي متبوع دولت (افغانستان) کې سره له دې چې تر ۱۳۰۶ هجري کال د مخه په عسکري تولګیو کې جنډې وې، آن د افغان حکومت په لومړیو کې هر سردار خپله جنډه او ډول [طبل] درلودل چې په هماغه سردار پورې یې اړه مونده، خو بیرغ په افغانستان کې نه یو نظم درلود، او نه کوم ځانګړی رنګ، او نه داسې یوه بېلوونکې نښه چې په دغې نښې سره وپېژندل شي او جلا شي، او نه یو داسې نوم چې سړی په هغه نامه وپوهېږي. هر رنګ چې به د کوم سردار خوښ شو او هر ډول چې به یې زړه غوښتل هغسې یې خپل بیرغ جوړاوه. آن د عسکري ځواکونو په تولګیو کې د بیرغونو له پاره کومه سمبال قاعده نه وه. په هر کنډک او هر مټ او هر غونډ کې په بېلابېلو رنګونو او نښانونو ډول ډول بیرغونه لیدل کېدل. ځانګړي نومونه یې هم نه درلودل. د ساري په توګه که به یوه سپینه جنډه چې په سره رنګ چلیپا [به یې درلوده- د.ج.] او یا ژړ بیرغ چې په زرغون رنګ به یې کوم انځور درلود[،] چا وپوښتل چې دا څه جنډه ده؟ ځواب به ورکړ شو چې دا د (منځني کنډک) [منزني کندک] او یا د (ښي مټ) [شی مت] بیرغ دی. حکومتي ادارې او موسسې هم د بیرغ له پرتمینو نښو بې برخې وې.
زموږ زړونو ته رانژدې ستر اعلیحضرت ټولواک ذات دا خورا ارزښتناکه مساله تر خپل پرمختګپالي همایوني نظر لاندې راوسته[،] تر دې پنځه کاله د مخه یې په خپل نفیس شاهانه نفس د بیرغونو د سمبالښت [چاره] سمبال او یوه کوټلې او وړ لار یې ورته وټاکله.

ketabton.com - The Digital Library

اوس مهال زمونږ په سپېڅلي متبوع دولت کې لاندې بیرغونه زمونږ د مهربـان خویـه پرمختګ لوریه اعلیحضرت ټولواک تر سیوري لاندې په پوره ویاړ او پرتم رپاند دي:
لومړی- (ځانګړی پاچایي بیرغ) دی چې ددغه نېکمرغه توغ رنګ سور او د محراب و منبر نښان یې سپین رنګه دی او یوازې په سره رنګ لـه دولتـي بیرغـه بېلېـږي[،] اعلیحضرت شاهانه ذات چې هر ځای تشریف ولري[،] پر هماغه ځای هسک وي.
دویم- (دولتي بیرغ دی) چې د جنډې رنګ یې تور او دولتي نښان چې له محـراب و منبره جوړ دی[،] سپین پرې انځور شوی دی. دا د دولت رسمي بیـرغ دی. پـر ټولـو حکومتي دفترونو او دولتي ادارو له سهاره تر ماښــامه رپانـد وي او ماښـام راکښـته کېږي.
دریم- سپېڅلی لوی عسکري بیرغ دی چې د (عَلَمّ) په نامه پېژندل کېږي. هر غونډ ته د اعلیحضرت ټولواک له ویاړلي لوري یو علم ښښل شوی دی. تر ټولو ســتر پـوځي بیرغ همدا سپېڅلی (علم) دی[.] د بریو نښه (علم) پخپله د وږښمین سپنسـي لـه ټوکر څخه وي چې دننه په افغانستان کې جوړېږي. لیکنې او ښانونه یې پـر ســپینو وږښمو د پاولي ګنډنې په دود جوړ شوي دي. د مبارک علم د جنـډې یـوه خـوا د (محراب و منبر) یو دولتي نښان او یوه د غونډ خپله نښه لري. پر پاسنۍ خـوا یـې د (لااله الاالله محمد رسول الله) پاکه کلمه او پر کوزنۍ خوا یـې (د افغانســتان خـدای ورکړی لوړ دولت) ټکي، او په منځ کې یې د (الله اکبر) پرتمینه کلمه، او د ښان پر سر یې چې د غونډ بېلوونکې نښه ده د (وَ یَوّ مئذٍ یَفّرَحُ المومنُوّنَ بنَصّرالله) مباک آیت او د محراب و منبر تر دولتي نښان لاندې د (یاایهَاَالَذّینَ امَنُواانّ تَنّصُرُالله یَنّصُرّکُمّ وَیّثبتُ اَقّدَامَکُمّ) مبارک آیت او د شریف علم پر څلورو ګوټونو دا بیت چې: به صدق ابـوبکر وعدل عمر به آزرم عثمان و علم علی [د ابوبکر پر صـدق او د عمـر پـر عـدل د عثمان په حیا او د علی پر علم- د.ج.] خپور لیکل شوی دی.
د درانده علم د جنډې پر دا بله خوا بیا یو دولتي نښان او د غونډ یو نښان شته[،] پـر پاسنۍ خوا یې (بسم الله الرحمن الرحیم) او پر کوزنۍ خوا یې د (اعلیحضرت ســراج الملة والدین امیر حبیب الله خان) نومیالی نوم، او پر منځ یې بیا د (الله اکبر) ویـاړلې کلمه او د دولتي ښان پر سر د (انَهُمّ لَهمُ الّمَنّوُرونَ وانِ جُنّدَناَ لَهُمُ الّغَالبُوّنَ) مبـارک

ketabton.com - The Digital Library

آیت او د غونډ د نښان پر سر د (نَصّرٌمنَ الله و فَتّحٌ قَرِیّبٌ وبَشِرالّمؤّمنیّنَ) مبارک آیت او تر دولتي نښان لاندې د (انَ اللهَ یُحبُ الَذینَ یُقَاتلُوّنَ فیّ سَبیّله) مبارک آیـت او د غونډ تر نښان لاندې د (صفًا كَانَهُم ّبُنّیاَنٌ مَرّصوّص) مبارک آیت او پر څلـورو ګوټونـو یې د څلورو نژدې پرښتو (جبرائیل، میکائیل، اسرافیل، عزرائیل) مبارک نوموته کښل شوي دي. دا ټولې لیکنې او نښانونه د پاولي ګنډنې په دود پر سپینو وریښمو کښـل شوې دي.

د عَلَمّ د څوکې سپوږمۍ له اوسپنې جوړه ده. د سپوږمۍ په منځ کې د محراب و منبر دولتي نښان له سرو سره پر ګډو شویو ژړو د شبکه کارۍ په دود انځور شوی دی او د سپوږمۍ پر دواړو خواوو د (وَ مَنّ یَتَوِلی اللهَ وَ رَسُوّلَهُ وَاَلَذیّنَ امَنُوّا فَانَ حـزّبَ الله هُـمُ الّغَالبُوّنَ) مبارک آیت حک لیکل شوی دی. دا ټولې لیکنې په عربي نسخ ډول خـورا ښایسته کښل شوې دي. د مبارک عَلَمّ لاستی له بانس لرګي [جوړ] او اوږدوالی یې له اوسپنیزې برچې د سپوږمۍ تر سره یوولس فوټه کېږي.

څلورم:- د (عقاب) سپېڅلی بیرغ دی چې تر عَلَمّ وروسته تر ټولو ستر عسکري بیرغ بلل کېږي. او هغسې چې عَلَمّ د یوه (غونډ) له پاره ټاکل شوی[،] (عقاب) د یوه (مټ) له پاره غوره شوی دی[.] د عقاب جنډه هم له تور وریښمین سپنسـي ټوټې څخـه ده[،] د محراب و منبر دولتي نښان یې له سپین کتان څخه دی. پر یوه خوا یې (طیبه کلمـه) او د (د افغانستان خدای ورکړي لوړ دولت) ټکي او پر بله لـوري یـې لـوړ (بسـم الله الرحمن الرحیم) او کوز د (اعلیحضرت سراج الملة والـدین امیـر حبیـب الله خـان) نومیالی نوم او پر څلورو څنډو یې د (الله اکبر) پرتمینه کلمه کښل شوې ده[.]

دې دوو مبارکو بیرغو ته د توپونو سلامي هم نیول کېږي[،] د ساري په ډول که عَلَمّ او عقاب له خپلو اړوندو عسکري ځواکونو سره له یوه ښاره بل ته ورسېږي[،] د اردلـي غونډ یعنې ځانګړو عسکرو عَلَم ته د توپ په (۱۱) ډزو، او ددغه غونډ عقاب ته د توپ په (۹) ډزو سلام کېږي.

پنځم- (رایت) د عسکري مبارک بیرغ نوم دی [،] لکه هغسې چې د هر غونډ له پاره عَلَمّ او د هر مټ له پاره عقاب ټاکل شوی[،]هر غونډ او هر مټ ته (رایت) هـم ټاکـل شوی دی. د هر غونډ او هر مټ عَلَمّ او عقاب او رایت په رنګونو او نښانو لـه یـو بلـه

ketabton.com - The Digital Library

بېلبېږي. پر دې سربېره د (کندکونو) او (ټوليو) له پاره د (بيرغ) او (علامې) په نامه هم کوچنۍ جنډې شته چې که خدای کول جزييات او تفصيلات بــه يــې د افغانســتان د خدای ورکړي لوړ دولت د پوځي ځواکونو په برخه کې وړاندې کــړو. او اوس د خپــل سپېڅلي ستر هوښيار او پر دين پوه ټولواک اعليحضرت (سراج الملة والدين) په بــې ريا دوعا دا وينا پای ته رسوو. او د خپل سپېڅلي متبوع دولت بريمن بيرغونه تل تــر تله په پرتم او بري سره رپاند غواړو.

ketabton.com - The Digital Library



# بهرنۍ پېښې

سیاسي لندیز

د نړۍ د پېښو پر پاڼو دا شپې ورځې د اروپا د سترو دولتونو د مهمــو خوځښــتونو او ډاروونکو تشبثونو عجیبه نکلونه او حکایتونه تر سترګو کېږي. او چې ددغــو نکلونــو منځ په ځیر نظر وکتل شي[،] همدا یوه نتیجه ترې رابرسېره کېږي چې ټول لوېــدیځ دولتونه د ختیځو هېوادو د غوړو او خوړو مړیو د تېرولو له پــاره پــه هڅــو او پلانولــو بوخت شوي دي. که څه هم په ښکاره د مثلث او مربع او مثنا[؟] ترونونه او پیوستون وینو[،] خو که رښتیاوو ته پام وشي[،] ټول د منځنیو پېړیودهمــاغو صــلیبیانو تــر جنډې لاندې یو موټی او پېیلي وینو چې ټولو یې که لوی دي که واړه په یوه خولــه د ختیځو اسلامي هېوادو پر وېش سلا یوه کړې ده. خو له دې یووالي سره سره[،] ددې مړۍ خوند او خوړوالي ددې سبب شوی چې په خوړلو کې یې له یو بل ســره رخــه او سیالي وکړي او په یوه دسترخوان راټول نه شي.

ایټالویانو چې له لوږې په جوع الکلب ناروغۍ [چې خوري او نه مړ یــږي- د.ج.] اختــه شوي وو. ددې خوندورې مړۍ په وړاندې صبر او حوصله بایللې[،] د نــس پــالنې پــه عجیبو خاپوړو یې پر دې مړۍ وردانګلي دي. خو مړۍ یې داسې دوه لاسي او وارخطا خولې ته کړې چې اوس یې په ستوني کې نښتې او ساه یې وربنده کــړې [او] لاس او پښې غورځوي[.] د طرابلس زړور غلیمان یې داسې پر ستوني ناســت دي چــې پــه بسمل وزمه لاس پښوغورځولو او رېږدېدلو یې د ســره ســمندرګي، او ســوریې، او د سپین سمندرګي څنډې او آن د استانبول تر درشله په خپلو حیواني وینو لړلي دي.

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم د مړی تښتوني نورو ملګرو یې د (بېطرفی) په نامه قاعدې له مخې چې په خپله یې د مړی د آسانې تېروني له پاره ټاکلې[،] په یوه ګوټ اوبو او یا له تخرګه پــه رانیولو مرسته کړی او تر شونډو لاندې او د وروځو په پیڅکه او د سترګو له کنجه یې ورته (دارو دې شه، دارو دې شه) ویلي، خو د پردې له شا را ونه وتل.

مراکو او قونغو [کانګو- د.ج.] هم د مړی تېروني دوو شریکانو په یوه عجیبه چل له یو بل سره تبادله او په آسانی له ستوني تېر کړل. چې په دې خوړو مړیو کې به یې څــه خوند لیدلی وي چې د (سَدَاَن) د جګړې ټوله خواري او سپکاوی ترې هېر شول، او په ځان پورې د (الساس او لورن) د نښلولو کړاوونه اوغمونه یې چورلټ هېر کــړي [او] د مړی په تېرولو کې ترې خواږه انډیولاان او د ډوډی یاران جوړ شول؟

حال دا چې شمالي اېږ سره له دې چې د مړی له نورو شریکانو سره یــې د رخــې لــه ډېروالي[،] د ایراني مړی په تېرولو کې وروسته زمري ته د یووالي لاس ورکړی و، کله چې یې نور وړی ولیدل چې تښتوني کوي او دی تر شا پاته دی[،] نو صبر او زغم یــې وبا یله، او وړاندې او وروسته ترونو او پیمانو ته یې هم ونه کتل[،] هماغه شېبه یې پــر مړی ور ودانګل، او د خپل ملګري او سیال سترګې یې په (خطاءالبصر) پېښې اختــه کړې[او] سیال یې چې څو لاس یا پښې وهلو ته ځان جوړاوه[،] دوه درې څلور ډېرې غوړې او تودې او خوږې مړی یې له ستوني تېرې کړې وې. زمری حیران پاتې شــو[،] له تسلیمی پرته یې بله لار ونه لیده[،] هرومرو به د ایران په جنوب کې د خپلې وسې په اندازه د یوې غوړې مړې د تېرولو هڅه کوي.

د مشهد د غوړې مړی تېرېدل به د زمري له پاره له خطرناکو پایلو پرته بله ګټه ونــه لري. د توپ په ګولی د اسلام د سپېڅلي زیارت ویشتل کېدل چې د رسول الله صــلی الله علیه وسلم د کورنی د یوه غړي سپېڅلی قبر دی. هسې یو غملړلی حالت نه دی چې د نړی پر مخ دې ټول مسلمانان ترې اغېزمن نه شي. تر ټولو بده یې لا داچې لــه خپل ټول مصنوعي ستروالي سره سره یې د جنایتونو ټیټوالي او د غلا او شــوکماری کرغېړنو کړنو ته هم لاس اچولی دی. د حضرت امام د ښکلو آثارو خزانه یې په داسې شوکماری چې د پاریس (ګرود) یان[؟] ورته حیرانېږي[،] غلا کړې، او د هغه متولیــان

ketabton.com - The Digital Library

**او خزانه وال یې له ځړولو او زندۍ کولو ډارولي او د رضایت لیکونه یې ترې اخیستي دي[.] څومره توره، څومره برم!...**

**ډېره موده کېږي چې په مورِ افغان ولس کې دایوه خبره همداسې خپره راروانه ده چې «د برتانیا دولت له دین او مذهب او معبدونو سره کار نه لري، پر خلاف یې روس دین او ناموس ته له هېڅ ډول سپکاوي ډډه نه کوي». او په رښتیا چې د مشهد په دې پېښه کې دا ټکی جوت شو. په هندوستان او نورو ځایو کې د برتانیا دولت بریالیتوبونه پخپله د همدې سیاسي تګلارو [برکت] دی[،] خو څه چې د پام وړ بلل کېږي دادي چې دا پېښه د برتانیا کونسل په خپلو سترګو په مشهد کې لیدلې ده[.] آیا د روس پردې جنایتکارو کړنو به کوم اعتراض وکړی او که نه؟**

ketabton.com - The Digital Library

**لومړی کال، اتلسمه ګڼه، ۶ مخ**

# د خواشینۍ یوه یادونه

یو شمېر هغه ورځپاڼې چې په انګرېزي ژبه په هندوستان کې خپرېږي[،] زمونږ د سپېڅلي متبوع دولت په اړه خپاره کړي ډېرئ خبرونه د خپلو ځینو سرحدي خبریالانو له خولې لیکي چې دا خبریالان خپل خبرونه له ځینو هغو مکارانو او اجیرانو څخه چې له افغانستان نه پېښور ته رسېږي د یوې خولې چیلم او یو دوه پیالو چایو په بدل کې تر لاسه کوي او د ورځپاڼو پر چلوونکو یې- چې ددوی پر بې بنسټه خبرونو مین دي[،] پلوري[.]

که څه هم موږ د دغو زړو کاغذګوټو دې بې بنسټه چټیاتو ته دومره ارزښت نه ورکوو. خو د خواشینۍ ځای دادی چې زموږ عام وګړي له دې امله چې ددې ډول کاغذګوټو پر اصلي موخو سم نه پوهېږي[-] د انګرېزۍ ژبې له کبله [-] ټولې دغه خبرې پخپله د انګرېز ځلاند دولت له لوري انګېري او له دې امله د عمومي نهیلۍ او ناسمې انګېرنې سبب کېږي. نو ځکه خپلو ټولو کورنیو او بهرنیو دیني وروڼو ته وریادوو چې د افغانستان د لوړ خدای ورکړي خپلواک دولت په اړه ددغو کاغذګوټو چټیاتو ته هېڅ ارزښت او اعتبار ورنه کړي، او د سرحدي بدخولو دغه خبرې یوازې په همدغو کاغذګوټو پورې تړلې وبولي او پر بلې خوا یې ونه شمېري.

ketabton.com - The Digital Library



# ځانګړې مقاله

›د یوې فابریکې [ماشین خانې] له لیدو څه عبرت اخیستل کېږي؟‹

په کایناتو کې ګورو: یو څیز هم جامد او بې خوځښته نه مومو[؛] ټول څیزونه یا پخپله یا په بله وسیله خوځېږي. برکت په خوځښت کې دی، خوځښت ژوند دی، دربېدل مرګ!

ددې ناپایو عالَمونو تر ټولو ستر هستوونکې د خپل ښېساري سپېڅلي ذات د بشپړ قدرت او حکمت د ننښو د ښودلو له پاره له مطلقې نېستۍ نه د (کایناتو ) په نامه یوه ښېسارې او بدیعي فابریکه [ماشین خانه] راهست یعنې خلق کړه. د (طبیعت) په نامه یو زیارکښ له اسرارو ډک ماشین کاروونکی یې د هغې پر څرخېدو او خوځښت ګومارلی دی. آسمانونه ددې فابریکې یوه وسیله او ماشین دی چې دلۍ دلۍ تاوېدونکي او خوځېدونکي څرخونه لري چې د پیدایښت له پیله د ورکېدو تر پایه یوه شېبه هم له تاوېدو او خوځېدو نه پاتېږي او نه به پاته شي. ځلاند لمر یې د (سیاراتوعالم) ته د یوه نغري او بُخار دېګ په توګه ګومارلی چې په خپله رڼا او راښکونکې تودوخه د سیاراتو عالم په ژوند ښنونکې تاوېدا او خوځېدا راولي. هغه ثابت ستوري چې پر ځای ولاړ بر ښېني بیا هم بې خوځښته او ثابت نه دي. بلکې هر یو یې خپله ځانګړې خوځېدا او تاوېدا لري چې موږه ته د واټن د لیرې والي، او د ناپایه فضا د وسعت او پراخوالي له امله پر ځای ولاړ بر ښېني. او څنګه یو واټن! داسې واټن چې ذهن، فکر، علم یې له اندازه کولو د ښېوسۍ اعتراف کوي. او څه وسعت او پراخوالی! چې وهم، قیاس، ګومان، هندسي حساب دا ټول په کې ورکېږي او پوپناه کېږي.

او لنډه دا چې کله آسماني جسمونو [اجرامو] ته نظر وکړو[،] یو یې هم بې څرخېدا او خوځېدا نه وینو، او بیا چې کله ځمکې ته وګورو هېڅ شی ولاړ او بې خوځښته نه

ketabton.com - The Digital Library

**مومو! وريځې غړومبېږي، باران اورېږي، بزګر تخم شيندي، تودوخه، اوبه، خاوره، هوا روزي، ژرنده اوړه کوي، ډوډۍ پخوونکي ډوډۍ پخوي، زيارايستونکي د تندي خــولې تويوي، حلاله ډوډۍ خوري. حضرت سعدي رح فرمايي[:]**

وربځ سيلۍ[،] لړه او لمر فلک په کار دي    چې مړۍ دې په لاس درشي بې لتۍ
ستا له پاره ټول تابع رسۍ پر غاړه    انصاف نه دی که ته ځې له دې رسی

**ويالې، ځړوبې، ژوي، بوټي، او آن کاڼي او ډبرې ټول په يوه خوځښت، په يوه تاوېدا، په يوه فعاليت، په يوه سنجونه [کې دي] چې حيرت! حيرت!**

**اوس موږ له ځمکنيو او آسماني خبرو تېرېږو د بشر په لاس يوې جوړې شوې فابريکې ته ننه وځو چې ووينو د هغې د څرخونو او ډول ډول آلو له تاوېدا څه عبرت اخيستلی شو.**

**لومړی: د (اعمالو د تقسيم) يعنې د کارونو د وېش قاعده چې د سياســي، اقتصــادي علومو په کتابو کې يې د کاغذ پر مخ لولو[،] په يوه فابريکه يعنې ماشينخونه کې دغه قاعده انځور شوی او مشخصه وينو. لومړی يو لوی نغری [آتش خانه] وينو چې اوبه په بړاس اړوي او له دغه بړاس نه په فشار سره لويې کټوې [دېګونه] ډکوي. او دا د کار د وېش لومړی پړاو دی چې که يې پر يوه دولت پلي او قياس کړو[،] د ډېرو ســکاره يــا سونتوکي يې (مال) او (عسکر) وينو. او د کېکاړلو او د بړاس د فشــار ځــواک يــې د (عقلي سياسي تدبيرونو) په بڼه وينو چې که دا درې خيزونه ورک شــي[،] فابريکــه هماغه شېبه درېږي او پرچاوېږي.**

**د بخار دېګ د کېکاړلو او فشار د خورا اغېزناک زور په مرسته بړاس په فابريکه کې د کارونو د شمېر پر بنسټ پر مختلفو څانګو ويشي. هره څانګه چې کــومې چــارې تــه ګومارل شوې وي هغه په خپل وار بيــا پــر ســلګونو څــانګو ويشــي او خپــل واک او صلاحيت په دغو څانګو کې په آزاد ډول چلوي. د ماشين د بړاس زور، په حکومت کې (تشريعيه) يعنې هغه ځواک ته ورته والی مومي چې د دولتي ادارې احکام د قوانينــو او لارښوونو په بڼه وضع کوي او د وېش قاعده يې د څرخونو تاوونکي او د کارځــايونو خوځوونکي ځواک، (اجراييه) ځواک يعنې هغه ځواک ته ورته والــی مــومي چــې دا قوانين په وړ چاپېريال کې پلي کړی چې هغه دولتی دايرې او څانګې دي.**

ketabton.com - The Digital Library

یوه ستن، یا د قطعو یوه پاڼه څومره کوچنۍ او بې ارزښته څیز دی. خو که د فــابریکو له خوا د کارونو د وېش قاعده نه وي[،] یوه ستن او د قطعو یوه پاڼه به سل تنه په یوه میاشت کې جوړ نه کړی شي. په داسې حال کې چې د فابریکو د کاري وېش له برکته لس کارګران په خپلو کاري وسیلو سره چې دومره پرمختللي هم نه وي[،] اتلس ډوله چارې ترسره کوي[،] اته څلوېښت زره ستنې جوړوي چې پر هر کس څلور زره او اته سوه ستنې راځي. او دغه راز په هغه فابریکه کې چې د قطعو کاغذ جوړوي[،] سره له دې چې پر هر کاغذ اویا ډوله عملیات تر سره کېږي[ او دېرش کارګر هره ورځ د قطعو پنځلس زره کاغذونه جوړولی شي چې که دا ټول اویا ډوله چارې د یوه کارګر پر غاړه وي[،] د ورځې به یو هم جوړ نه کړی.

نو کوم عبرت چې د یوې فابریکې د کار له وېش نه سړی اخیستلی شــي دادی چــې بنیادم ته بویه په خپلو ټولو چارو کې د کار د وېش همدا قاعده په پام کې ونیســي. د ساري په ډول د ورځې شپې د وختونو په لګولو کې د وېش قاعدې په پام کــې نیــول اړی ندي. هر آمر، هر سوداګر، هر کسبي چې د خپلې ورځې او شپې وختونه د وېــش پر قاعده وټاکي، نو ډېر به هوسا او نېکمرغه شي. ځکه هر څوک چې پر دې فانی نړۍ اوسي[،] د خپل ژوندانه له پاره اړ دی چې د نورو د ژوندانه له پاره کار وکړي او کــه د نورو د ژوندانه له پاره کار ونه کړي[،] پخپله ژوند نه شي کولای. که بزګر د اوبدونکي د لوږې د مخنیوي له پاره غنم ونه کري[،] اوبدونکی ورته کالي چمتو کولی نه شي. نو ځکه د بشري ټولنې ګرد وګړي هڅو او عمل ته اړ دي. که دا هڅه او عمل هرڅــوک د کارونو دوېش پر قاعده پر مهالوېش برابر کړي[،] نو وخت به یې کله هم ضایع نه شي. او چې وخت یې ضایع نه شي[،] له خپله عمره ګټــه اخلــي، او چــې لــه عمــره ګټــه واخلي[،] خیر به یې هم خپل ځان او هم خپلو هم جنسو ته رسېدلی وي.

د ماشین له لیدو موږ ته بیا دا عبرت هم رارسېږي: چــې لکــه هماغســې چــې ټــول څرخونه او آلې پر کار، او هېڅ څیز معطل او وزګار نه وینو، دغه راز ټولې دغه چــارې بې نظمه او بې قانونه هم نه وینو. ټولې هغه لویې او وړې خوځنده آلې چــې پــه یــوه فابریکه کې لیدل کېږي[،] ټول خوځښت یې د یوه سمبال قانون او قاعدې له مخــې چلېږي چې یو یې هم له دغه نه بدلېدونکي قانون څخــه چــې ورتــه ټاکــل شــوی،

ketabton.com - The Digital Library

سرغړونه نه کوي. او پر هماغه يوه بنه، او يوه پرله پسېوالي او يوه نظم خپلو ســمبالو خوځښتونو ته دوام ورکوي چې که نظام او قانون نه وي[،] د خوځښتونو همغږي او يو رنګي نه جوړېږي، او چې په کارونو کې همغږي او سمبالښت رامنځ تــه نــه شـــي او د ماشين هر څرخ او هره آله په خپل سر تاو شي[،] د هڅو او زيار پايله يې له سولېدو او له کاره لوېدو پرته بل څه نه شواى کېدى.

او لنډه دا چې د يوې فابريکې کتنه دومره عبرتونه راښيي چې لنډيز يې دا څو کرښې دي: خوځښت او هڅې، هاند او کړنې، قانون او انتظام، د کارونو وېش، د مهال وېش، د هڅو ګډوالى- يعنې د زيار يووالى چې ددې کارونو پايله او ثمره په فابريکو کې چې د جماداتو له ډلې ده[،]ډول ډول صنعتي [محصولات] کېږي. او که انسانان دا څيزونه په خپلو بشري کړنو کې پلي کړي. پايله او ثمره يې نېکمرغى، شتمنى او ښېګڼې کېږي. [پاى]

ketabton.com - The Digital Library



# د ځمکې د کُرِې تاریخ

**په ۱۷ ګڼې پسې**

**دویم پړاو- (ناعمه) موده ده چې (سیلوري) موده یې هم بولي. ددې مودې په کتلو او ډېرتوتو کې د بوټو او ژویو کلک شوي پاتې شوني (متحجرات) ډېر آسان لیدل کېدلی شي. په دې دوره کې (ناعمه) ژوي یعنې (پاسته بې هډوکو ځناور) لکــه چینجیــان او حلزونان او (مفصلیه ژوي) یعنې (پاسته بند لرونکي ځناور)، او (شعاعیه ژوي) یعنــې (ځلېدونکي ځناور) نوي په راڅرګندېدو دي. ددې پېر تر ټولو ډېر ژوي پوست بــدني ناعمه ژوي دي.**

**دریيم پړاو- د (سَمَک؟ موده) ده چې د (دووني؟ موده) یې هم بولي. ددې دورې ډېــر شوي [متحجرات] هم ډېر دي او دغه راز د مخکنیو پېرونو له ډېر شویو څخه لا بشپړ بوټي او ژوي په کې ورګډېږي. ددې دورې په ډېرشویو کې که څه هم مفصلیه او ناعمه او شعاعیه ژوي ډېر دي[،] خو کبان او په تېره بیا سینګړاوو [سکماهي] ډوله کبان په کې ډېر لیدل کېږي. د هغو بوټو او ژویو نښې چې په شمالي امریکــا پــورې ځــانګړې دي[،] ددې پېر په ډېرو کې موندل کېږي.**

**څلورم پړاو- (فحمي موده) یعنې د ډېرو سکرو دوره چې د (کــاربون دوره) یــې هــم بولي. د دې دورې په ډېروزمو کې د (زاحفه) ژویو یعنې هغو ژویو چې په تي لویېږي[،] لومړنۍ نښې رابرسېره کېږي. (ذوالمعیشتین ژوي) یعنې هغه ځناور چې هم پر وچه او هم اوبو ژوند کوي[،] او کوچنۍ حشرې لکه ملخ، او کورنۍ ګونګټې [مــادر کیــک] او نور، او (قشریه ژوي) یعنې پوستکي لرونکي ژوي لکه سنګ پشت او خرچنګ او نــور ددې دورې په ډېروزمو کې لیدل کېږي. د بوټو له ډلې (سراخسَــیه) لکــه خښــرۍ، او چام؟، او ځنغوزیو او نورو په دې پېر کې خورا وده کړې ده. د ډېرو سکاره ددې دورې د بوټو زېرنده ده. دغه مهال د ځمکې د مخ تودوخه د اوس مهال پر تله ځوځــو ځلــه**

ketabton.com - The Digital Library

پورته او ډېره وه. او د هغه مهال د محیط په هوا [اتموسفیر] کې د (کاربون) عنصر هم خورا ډېر و. له همدې امله د بوټو د لویونې ځواک هغه مهال ډېره وده کړې وه او هر ډول بوټي او ونې چې اوس لیدل کېږي[،] هغه مهال په سلګونه ځله تر اوسنیو بوټو لوی، پراخ او پنډ وو چې دا د ډېرو سکرو د کانونو په ډېرشویو کې بر ښېي. له کم ګُلو لویو لویو ونو نه د ځمکې پرمخ لوی ځنګلونه او زرغونې ښېلې جوړې شوې، چې د استوا له کرښې تر قطبونو پورې یې د ځمکې ټول مخ پوښلی و. هغه مهال د ځمکې دننۍ تودوخه نیمه پخه شوې او د ځمکې پر مخ یې پرله پسې لوی بدلونونه او پېښې رامنځته کولې. د اور له زوره ځمکه پر هر لوري بیا بیا چاودلې، د اورشیندو غرونو جهنم وزمه لهیب؟ د ځمکې د اتموسفیر هوا په بېراس اړولـه او لـوی توپانونـه یې راجوړول اودې توپانونو ټول دغه ځنګلونه خچ پچ کول او د ځمکې په ښلابښلو پوړیو کې یې ډوبول او بیا اوبه جذبېدې او په ژورو برخو او کندو کې راټولېدې او د تَبِرُد عمل- یعنې د ځمکې د مخ سړېدا له یوې پېړۍ نه بلې او له یوه پړاو نه بل ته ډېرېده او [ورسره] هغه ځنګلونه تر ځمکې لاندې پوړیو کې په تحجر یعنې ډبرکېدو اوښتي او د ډبرو سکاره ترې جوړ شوي دي.

پنځم پړاو- د (زاحفي؟ موده) ده- یعنې بې پښو ځناور چې پر ټټر ښکېږي. او ناعمه ژوي په دې پېر کې بشپړتابه ته رسېدلي دي یعنې ډېر ستر شوي وي[.] زاحفه ژوي چې په دې پېر کې د یادولو وړ دي[،] له دې څو ځیزونو د هغو له ډبروزمو پرته پخپله د هغوی کومه نښه نه ده پاته. په دې ډله کې د (ایخیتو سورس) په نامه یو سمندري ژوی و چې سر او غاښونه یې سیمسارې [تمساح] یعنې ناګو ته ورته وو او له لسو تر دېرشو ګامونو اوږدوالی یې درلود. بل یې د (پلاسیو سورس) په نامه خورا ستر ژوی و چې سر او غاړې یې مار ته ورته والی درلود. د الوتونکو له ډلې د (پته روداقتیل) په نامه خورا ستر وزرلرونکي ژوي موجود وو. په دې پېر کې سینګړاوان خورا ډېر لیدل کېږي[.] د لومړی ځل له پاره (ذات التدي) ژوي یعنې تي لرونکي ځناور ددې پېر په ډبروزمو کې تر سترګو کېږي.

شپږم پړاو- : (د ذات التدي پېر) یعنې د تي لرونکو [پېر] دی چې په دې موده کې د بوټو او ژویو ډېرې ساده ښېلګې له منځه تللې او پوپناه شوې دي[.] په دې دوره کې د

ketabton.com - The Digital Library

(سالمون) او (رينغا) په نامه سمندري کبان تر سينګراوانو ډېر ليدل کېږي. د ژويــو او بوټو لا بشپړې شوې بڼې او ډولونه ليدل کېږي. تې لرونکي ژوي تر نــورو ډېر بــړي او برلاسېږي. په دې موده کې د ذات التدي ژويو له ډلې د (پالوتري يوم) په نامه يو ستر او درونـد اوږد پوزی ژوی، او د (دينوتري يوم) په نامه يو ژوی چې د سر او خرطوم لــه پلوه هاتي ته ورته و. خو غاښونه يې کوزې خوا تاو شوي وو. او د (ماموت) په نامه يــو هاتي چې حمودي هاتي يې هم بولي. او د (مغاتربيوم) په نامه يو ژوی چې د لوی کوږ [کرګدن] له جنسه و[،] ددې دورې په ډېروزمو کې ليدل کېدل.

اووم پړاو-: (د بشر موده) ده او دا هماغه پېر دی چې موږ په کې يو. خــورا ســتر ژوي چې د ځمکې پر مخ واکمن ول[،] په دې اووم پېر کې ورو ورو له منځــه تللــي دي، او ځای يې تر هغو يو څه کوچنيو او ظريفــو ژويــو نيــولی دی. خــو د کاينــاتو د ســتر هستوونکي حکمت ددې پېرونو په اوږدو کې د ځمکې کُرَه اصلاح کړې او له يوه حال نه يې بل ته اړولې تر هغو چې ترې د اوسېدا يو وړ ټاټوبی جوړ شــوی. او د کاينــاتو د کتاب د تلپاتې څرخېدا د کليز [تقويم] پاڼو يوه خوندوره ښــکلا مونــدلې. د احســن التقويم پر همدې مهال يې د انسان شريفه بڼه را څرګنده کړې او د ځمکې کُرَه يې له خپلو ټولو شتو سره هغه ته ښښلې ده. که څه هم ددې پېر په لومړيو کې هم خورا ګڼ بدلونونه او پېښې د ځمکې د کُرَې پر مخ شوي، او ډارونکو توپانونو او زلزلو د ځمکې مخ خچ پچ کاوه[،] خو د تېرو پړاوونو کچې ته نه رسېده چې انشاءالله د اوسني پېــر پر بدلونو به وروسته په يوه ځانګړي فصل کې خبرې وکــړو. اوس بېرتــه د ځمکــې د کُرې د تاريخ څېړلو ته ورستنېږو د سپېڅلو آسماني کتابونو له رمزونو ډکو ويناوو په تطبيقاتو او د (ژه ئوژی [ژه ئو لوژی] فن) په تفصيلاتو کې يــو څــه تَوَغُّــل؟ او تتيــع [څېړنه] کوو.

## محاکمات او تطبيقات

که لږ پام وکړو او ځير شو نو د شريف تورات د (مخلوقــاتو د تکــوين ســفر) او د (ژه ئوژی [ژه ئو لوژی] فن) د پېرونو په وېش کې د ورته والــي معقــولې او بشــپړې لارې موندلی شو. ځکه دلته يواځينی ستونزې چې له سپېڅلو کتابونو سره د علومو [فــن]

ketabton.com - The Digital Library

په تطبيق کې زموږ مخه نيسي[،] هماغه د (يوم) يعنې ورځې ټکی دی. دا خو ښکاره ده چې (ورځ) د هغو ټوټو يوه ټوټه ده چې زمانې ترې جوړېږي.

اوس نو که د (يوم) ټکی چې په تورات کې فرمايل شوی[،] د (پېر) يا (پړاو) په مانا وبولو او د ځمکې د هر پاټکي موده چې د طبقات الارض فن [ځمکپېژندنې- د.ج.] موږ ته راښودلی[،] له يوې ورځې سره چې د مخلوقاتو د تکوين سفر بيان کړی[،] تطبيق کړو[،] نو توپير به مو تر څه ځايه لېرې کړی وي.

هغه علامه يوه چې (د ستورپېژندنې) ويوکي [الغتونه] يې تنظيم کړي[،] د (يوم) په تغيير کې يې روښانه او ثابته کړې او ويلي دي چې د (يوم) مانا يوازې دې ته ځانګړې نه ده چې له ختيځ نه د لمر تر ختلو او لوېديځ ته تر لمر پرېوتلو او بيا تر لمرخاته پورې وغزېږي[،] نه[،] چې د (يوم) ټکی يو عام او پراخ تعبير دی چې د مهال او زمانې د يوې برخې نوم دی. لکه د ساري په ډول (يوم القيامه) يعنې د (قيامت ورځ) د ورځې په مانا نه راځي. چې له لمرخاته تر لمر پرېواته او بيا تر بل لمرخاته وي. بلکې يو اوږد او تلپاتې مهال دی چې څلرويشت ساعته ورځ يې په وړاندې د يوې ثلاثې تر درېيمې برخې هم لږه برېښي.

سربېره پر دې ځينې نور داسې تمثيلات؟ هم شته چې ورځ د لمر تر ختلو او لوېدلو بهر باسي[،] لکه د ساري په توګه: «د قيامت يوه ورځ د دونيا له زرو ورځو سره برابره ده»[،] يا دا چې «ليلة القدر تر زرو مياشتو غوره ده»[،] يا دا چې «د څښتن تعالی هره ورځ په يوه شاٴن کې ده». دا ورځې چې فرمايل شوې[،] هېڅکله هم هغه مشهورې او جوتې ورځې نه دي چې موږ يې پېژنو[.] د لوی څښتن سپېڅلی قدرتونه او حکمتونه په ورځ کې نه بلکې په هره شېبه، او هره ګړی، او هره پېړی، او هره زمانه کې په بل شاٴن او بله بڼه رابرېښي او څرګندېږي. د زرو تعبير هم دغه عدد چې تر نهه سوه نهه نوي وروسته راځي[،] نه دی بلکې د تمثيل؟ په ډول راغلی دی. او بل دا چې څه اړتيا! که چېرې هغه څيز چې (ورځ) بلل کېږي[،] له لمر خاته تر پرېواته يا له لمر خاته تر لمر خاته موده وای[،] د تورات شريف د مخلوقاتو د تکوين سفر کې بيا څه ډول په يوه ورځ کې د هغې ورځې د پيداکېدو خبر ورکول کېدلی شو؟ په يوه ورځ کې د ورځې د پيداکېدو مانا داده چې دغه خلق شوی څيز يعنې ورځ د خپل خلقت د

ketabton.com - The Digital Library

مودې له پاره د مهال ظرف ګرځي چې پر داسې مهال له مظروف نه دمخه د ظرف لـه پيداکېدو خبرول اړينېدل. په داسې حال کې چې په شـريف تـورات کـې د لمـر او سپوږمۍ او ستورو پيداکېدل پر څلورمه ورځ بيان شوي دي چې دلته هم له ظرف نـه دمخه د مظروف پيداکېدل اړينېدل. نو ځکه ورځ همدا لمر خاته او پرېواته نه دي.
اوس نو پايله دا راخېژي چې کوم مهال او زمانه چې شريف تورات ورځ بللې[،] دغـه مهال او زمانه د (ژه ئوژۍ [ژه ئو لوژۍ] فن) يعنې (ځمکپېژندنې) پېر يا پړاو ياد کړې دی. او د شريف تورات هره ورځ د ځمکنيو پاټکو [طبقو] له يوه پاټکي سره چـې پـه يوه پړاو تعبير شوی[،] سمون خوري.
اوس به لږ د ځمکې د شپږګونو طبقو او د تکوين المخلوقات د سفر د شپږو ورځو پـه اړه چې تر څه ځايه مو يې د تطبيق هڅه وکړه[،] عقلي فلسفي محاکمات [ارزونـې] هم وکړو [او] د ځمکې د کُرَې په اړه به خپلې خبرې ورسره پای ته ورسوو.
ځمکپېژندنه لومړۍ ورځ د ځمکې لومړی پـاټکی [طبقـه] - چـې د ځمکـې د مـخ پوستکی په کې راټوکېدل پيلوي يعنې [خالي موده] ګڼي چې البته شريف تورات هم هغه مهال له هرڅه نه د ځمکې تشوالی ښيي او دا چې د رڼا او تيارې پيداکېدل هم پر دغه ورځ فرمايل شوي دي[،] او د لمر او سپوږمۍ او نورو آسماني ستورو پيداکېدل پر بله ورځ بلل شوي، هم په بشپړ ډول له علم سره سـمون خـوري. ځکـه د ورځـې د شتوالي له پاره د لمر هرومرو والی اړين نه پرېوزي، لکه په وربځو او لړو کې[،] سره له دې چې د ورځې رڼايي شته[،] خو لمر نه برېښي. او بل که يو څه په ځير سره وکتـل شي نو په عقل سره جوتېږي چې همداسې به وي. ځکه د پيدايښت په پيـل کـې، د ځمکې کُرَه يو جَوال؟ اور و چې د اتموسفير هوا يې له بړاس او پنډو او کېکـاږلو لـړو جوړه وه. نو پر داسې يوه مهال البته چې له داسې يوه اورنې بړاس نه هاخوا لمـر نـه شوای ليدل کېدلی. خو د ورځې رڼايي او د شپې تياره وه. ددې پړاو له منځه تر دويم پړاو پورې چې د آسمان په پيدا کېدو سره له لاندينۍ خوانه د پاسنۍ خـوا د اوبـو د جلا کولو ورځ ده، هغه بې شمېره زمانې چـې تېـرې شـوې[،] هاغـه پېـر دی چـې ځمکپېژندنې د (تشې مودې) په نامه انګېرلې د ه.

ketabton.com - The Digital Library

دويمه ورځ د ځمکپېژندنې هماغه دويم پېر دی چې دغه پوهه يې (سيلوري موده) بولي. په دې پېر کې د ځمکې د مخ د لا ډېرې سرېدا او پنډېدا له امله[،] د چاپېريال براس په اوبو اوښتی او يو ځلي پر مځکه راتوی شوی دی، او څرنګه چې د ځمکې تودوخه هومره چې اوبه وساتلی شي نه وه[،] پر ځمکه راتويې شوې اوبه بېرته په براس اوښتې او پورته ختلې[.] په دې پېر کې بيا بيا د ځمکې پر مخ سرتاسري توپانونه پېښ شوي او سختو زلزلو، ډول ډول لوړې او ژورې رامنځته کړې، او د ځمکې د مخ د سرېدو او پنډېدو سبب شوې، او ورو ورو د ځمکې پر مخ د اوبو درېدل هم شوني شوي دي.

درېيمه ورځ هماغه پېر دی چې اوبه او وچې رامنځته شوې، سمندري ژوي پيدا شوي، او بوټي راټوکېدلي، او ځمکه لا پنډه شوې[،] خو بيا هم له ګډوډيو او خڅ پڅ کېدنې، او توپانونو او د پاټکو له جوړېدو وزګاره شوې نه ده چې دا پېر ځمکپېژندنې د (دوويی؟ موده) بللې ده.

څلورمه ورځ هماغه دوره ده چې ځمکپېژندنه يې (د کاربون موده) ګڼي. په دې دوره کې له دې امله چې ځمکه ښه سړه شوې او کلکه شوې او سمندرونه، او ډنډونه، او ځنګلونه، پيدا شوي او د ځمکې کُرِې د اتموسفير هوا چې تر دې مهاله له يوه پنډه براس او خورا کېکاړلو ډول ډول غازونو جوړه وه[،] ورو ورو له دغه پېړوالي او پنډوالي راوتلې او لمر او سپوږمۍ او نور آسماني توکي راښکاره شوي دي چې په دې ډول د شريف تورات د تکوين المخلوقات د سفر څلورمه ورځ له پوهنيز تطبيق سره خورا ښکلی تاويل مومي.

د تکوين المخلوقات د سفر پنځمه ورځ د ژه ئولوژۍ پوهې د (زاحفې له مودې) سره سمون خوري چې دغه مهال ډول ډول ژويو او رنګارنګ بوټو په خورا سترالي په بېسارې وده او لوېيدا پيل کړی دی.

شپږمه ورځ هماغه پېر دی چې تې لرونکي ژوي رامنځته شوي او خورا ستر ژوي د ورکېدو پر لاره سم شوي او ځای يې تر هغوی کوچنيو او ظريفو ژويو نيولی دی چې په وروستي پړاو کې يې د انسان شريفه بڼه هم راښکرګنده شوې او اووم پړاو ته چې همدا اوومه موده ده ورننوتی دی.

ketabton.com - The Digital Library

د (ځمکې کُرِې د تاريخ) په اړه مو همدومره معلومات در ته وړاندې کړای شــول. او دا هم ووايو چې د هغو کلونو او پېړيو او زمانو پر پراخوالي او شمېر چې له يوې دورې نه تر بلې تېرې شوې دي[،] د کون او مکان جل و علی له جناب هستوونکي څخه پر تــه بل څوک نه پوهېږي. يوازې د پوهې له مخې دومره روښانېږي چې يوازې د ډېــرو پــر زمانې د بوټو د زمانې اوښتلو زرګونه زره کاله نيولي دي. نــو د بشــري معلومــاتو پــر نيمګړتيا او کمزورتيا اعترف، او د عظيم الشاٴن خالق پر ستروالي او پخواني والي او يووالي د زړه او ژبې اقرار کوو [او] د شاعر په ژبه وايو چې:

له پيله او له پايه د نړۍ مورږ خبر نه يو

ددې زاړه کتاب د سر و پای پاڼې شکېدلې

[پای]

ketabton.com - The Digital Library



# د اعلیحضرت پاچايي

## پرمختګپالنې:

که خپل تېر او اوس ته لږ د انصاف په سترګه، او د اوصاف په ر ښتيا وګورو[،] په خپل شخصي او هېوادني حال کې به دومره ښکاره او جوت توپيرونه ووينو چې له حيرانتيا به ورته حيران، او له شکر نه به شکرته په ترانو سر شو. ډېرې لرې زمانې ته به نه ځو. يوازې ددې څو کلونو يوه برخه چې په خپلو سترګو مو ليدلې[،] بيانول غواړو.

دا بېوزلی محرر پر ۱۳۲۰ هجري کال زموږ د ستر عدالت پالي سپېڅلي ټولواک اعليحضرت (سراج الملة والدين) له وياړلي لوري څخه د اعلان شوې عمومي ښښې له مخې. تر شل کلنې پردېسی وروسته له شريف شام نه خپل ګران سپېڅلي هېواد ته راستون شوم چې دا زموږ زړونو ته د رانژدې ټولواک د نېکمرغه پاچايی دويم کال و. اوس خپل فکر لږ راټولوو او دغه حالت ورو ورو هومره چې په حافظه کې پاتې شوی[،] د ګرانو لوستونکو له پاره انځوروو، او بيا د سړني بختور کال حال تر يوه ځايه راوړو او بيانوو:

که څه هم هغه مهال له پلازمېنې کابل نه زما تر وتلو دمخه لوړې نوې جوړې شوې ودانی نه وې، او وروسته رامنځته شوې دي. [خو] سترګې ور اوښتې، خو شمېر يې لږ، او د جوړونې او معماری ښې يې له ستروالي او پرتم، او لوړوالي سره سره چې لرل يې[،] د منځنيو پېړيو سترو ودانيو ته ورته والی درلود. زموږ سپېڅلي هوښيار اعليحضرت پاچايي ذات د خپل شاهانه جلوس [پلاز ختنې] له پيله په خورا شدت سره د هېواد د ودانيو جوړونې ته همايونې هڅې کړې [چې] اوس هم پلازمېنه او هم ولايتونه د نوې ښې په خورا لوړو زړه پورې ودانيو ښکلې شوي او رغېدلي دي.

د سپېڅلي ارګ په ودانيو کې چې کومې ودانيزې سمونې د اعليحضرت شهرياري په پرمختګپال پېر کې رامنځته شوې[، يوه يې هم] د (شمالي برج) د ودانی بدلون دی

ketabton.com - The Digital Library

چې په خورا لوړه او ښکلې بڼه ودانه او ښکلې شوې ده. او په کې د ناستې خونې او پرتمین دالانونه او ښایسته برنډې د معمارۍ په دومره ظریفه بڼه، او د فرشونو، او د صنعتکارۍ په داسې سینګارونو جوړ او پسولل شوي چې د طبیعت ټول خاوندان او د بصیرت ګرد څښتنان ورته ګوته پر غاښ نیسي.

له شمالي برج وروسته شاهانه (ګلخانه) راځي چې د شمالي برج مخې ته د سپېڅلي ارګ پر ډګر جوړه شوې ده. دا جنت وزمه ګلخانه داسې یوه ګلخانه ده چې له هره لوري پرې آیینه لرونکي چوکاټونه راګرځېدلي دي. او یوه ډېره ښایسته پاچایي ماڼۍ له ټولو لوازمو او بیتوتت [؟] سره ترې جوړه شوې ده. دا که څه د ودانۍ د ښکلا له پلوه وي او که د ګلونو او ګلبوټو له نظره[،] یوه بشپړه پاچایي ګلخانه ده.

ددې پاچایي ګلخانې مخې ته یو ښایسته او زړه راښکونکی جامع جومات جوړ شوی چې محراب او منبر او د دیوالونو د پاسنۍ برخې مخ یې پر خورا ښایسته سماقي؟ ډېرو چې په طبیعي ډول په انځورونو او طبیعي څېو پسولل شوې او د افغانستان له خپلو کانو څخه دي[،] سینګار شوی او مخ یې د مرمر پر سپینو ډېرو چې زه؟ یې له تورو ډېرو څخه ده[،] پوښل شوی دی. د اړتیا پر مهال په ټول جامع جومات کې خورا ښایسته غالۍ غوړول کېږي، او د شپې له خوا په خورا لویو لامپو روښانېږي.

په همایوني پرتمین حرمسرای کې چې د (علیا حضرتې سراج الخواتین) صاحبې معظمې کور دی[،] هم خورا ډېرې ودانیزې سمونې راغلې دي. د سپېڅلي ارګ په بڼ کې هم ډېرې سمونې شوي او ډېرې ودانۍ جوړې شوې دي چې ددغو سمونو او ودانیو له امله اوس پر دغه بڼ د باغ ارم رخه راځي. د سپېڅلي ارګ بڼ د تېر پرتله له لوېدیځ لوري خورا پراخ شوی. ډېرې په زړه پورې طرحې او چمنونه په کې کښل شوي، سړکونه او واټونه یې ټول پاخه او ډېر ښایسته دي.

د (ستورې) بې عیبه ماڼۍ چې د صیف؟ پر موسم د اعلیحضرت ټولواک د اوسېدو ځای وي[،] یوه ډېره لطیفه او د ښایسته ترکیب درلودونکې عالي ودانۍ ده چې د هوسایۍ هر ډول عالي خونې او د استوګنې دالانونه، او دهلېزونه، او کوریدورونه، او برنډې په کې شته.

ketabton.com - The Digital Library

د سپېڅلي ارګ پر شمالي لوري (شمالي برج) ته مخامخ د ارګ له کلا بهر د (دلکشا) د بې عیبه ماڼۍ خورا عالي ودانۍ په پوره ویاړ او پرتم جوړه شوې، او مخامخ ورتــه د ساعت خورا نفیس لوړ او ښایسته منار درول شوی چې انشـاءالله د (دلکشــا مــاڼۍ) تفصیلات او جزییات به په یوه ځانګړي فصل کې راوړو. او (د ساعت برج) پــه اړه مــو هم په تېرو ګڼو کې یادونه کړې وه[،] اوس به لږ له سپېڅلي ارګ نه بهر ووځــو [او] د خپل مشهور او په زړه پورې ګران ښار پرنورو څنډو به ورپېښنه وکړو وبه ګورو چــې د سراجیه پېر کومې ودانیزې نښې را څرګندې شوې دي:

زموږ ګران ښار پر خورا یوه عجیبه ځای کې دی. پر ژمي په داسې سختو ســړو کــې راښکېلېږي چې د قطبونو کنګلونه سړي ته وریادوي. خو که اووه اتــه ســاعته لاره د ختیځ پر لور ووهل شي او له کابل نه ووځو- د ساري په توګه تر (کوګا منډه)- نو ځان به په یوه ښایسته لطیف او تاوده پسرلي کې ومومو چې هغه کنګل په کې په ویلېدنه اوړي. او د دوبې پر موسم چې هوا بېسارې تودېږي[،] همدا چې دوه درې ســاعته لار ووهل شي[،] د ساري په توګه تر پمقانه پورې لــه داســې جنــت وزمــې هــوا ســره مخامخېږئ چې هره زړه راښکونکې وږمه يې مړاوو زړونو ته نوی ژوند ورکوي.

(پمقان) د یوه لوی غره پر لمن چې پخپله له پمقان سره تړاو لري، او  د هندوکش غره له څانګو څخه بلل کېږي[،] پروت دی[.] له کابل نه د پمقان سیمې لوړوالی نژدې دوه زره قدمه او د سمندر له مخ نه (۹۰۰۰) قدمه لوړ؟ دی چې د غره ذروه؟ يې تل په واورو پټ وي. نو ځکه پمقان د کابل دولتي صیفیه شمېرل کېږي. که څه هم په پمقان کې د اعلیحضرت خدای ښښلي خاقان [امیر عبدالرحمان خان] له بختور پېر نه یوه حکومتي ودانۍ له یوه بڼ سره چې (سیوری بڼ [سایه باغ]) نومېږي[،] موجود و[،] خو څرنګــه چې دغه ودانۍ د پمقان په کلي پورې نښتې او پر یوه نسبتاً ټیټ ځای پرته وه. او هم يې د جوړېدو بڼه د نویو ودانیو پر اصولو او قاعدو نه وه[،] نو ځکه زموږ ستر سپېڅلي اعلیحضرت ټولواک ذات نژدې یو یو نیم میل پورته خواته پــر یــوه ډېــره زړه پــورې ښکلې ځمکه او د ښایسته منظرې درلودونکي پاک ځای له پاسه د (سهیل) په نامــه یوه زړه خوشحالوونکې ماڼۍ جوړه، او بیا يې له دغه ځایه همدغومره لوړه د درې پــه منځ کې د (بیت الصیف) په نامه یوه ښایسته ماڼۍ ودانه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

که چېرې د ښايستې (سهيل) مانۍ د شمالي لوري له برنډې نه شاوخوا سيمو ته نظر واچول شي[،] انسان دداسې ښکلو طبيعي منظرو په وړاندې ځان ويني چې له ليدو يې سترګې اړولی نه شي. له يوې خوا د عجيبو او له هيبته ډکو سترو غرونو لړۍ چې پر يو بل پېچلي او د آسمان پر لور هسک شوي دي. له بلې خوا د ډول ډول شاعرانه منظرو لطيفې تابلوګانې! د پمقان درې پاکې خوندورې او رڼې اوبه د سهيل د بختورې مانۍ ختيځ لور ته د نژدې سلو قدمونو په واټن له لطافت نه په ډک شور او زوږ ځړوبې او خوټېدنې جوړ کړې او په منډه مخ په ځوږ بهېږي. له ونو او اوبو ډکو ځړوبو او زرغونو کليو او کورونو منظرې چې د سترګو په وړاندې پر داسې يوه حالت چې ته وا د يوه ډېر لوړ بام له سره ورته ګورئ[،] داسې نظرونه د ځان پر لور ورکاږي چې قلم تر دې غوره تابلو او تر دې زړه راښکونکې توټه انځورولی نه شي! په تېره بيا د (چهاردهي) د جنتي حوزې روضه؟ چې له ورايه د يوې زمردي ټوټې په بڼه بر ېښي او داسې يوه ښايسته منظره د سترګو په وړاندې دروي چې انسان ورته حيرانېږي. ته وا د خلقت معجزه ګر انځورګر د خپل جادوګر قلم پر څوکه د ټول طبيعت د معجزه کاريو، او د انځورګرۍ د ټولو بڼو د خارقه والي په ابداع کې د انځور يوه تابلو کښلې ده. او پر هغې يې له هرې خوا د ښايسته غرونو چوکاټ راګرځولی او د بې عيبه سهيل مانۍ د برنډې مخې ته يې راځړولې ده.

د (بيت الصيف) مانۍ چې تر (سهيل) هم پورته ودانه شوې يوه بله ډېره لوړه منظره راځلوي. د (ستاره) مانۍ چې د پمقان کلي پر جنوب ختيځه خوا د (ببک توت) په نامه پر يوه لوړ ځای پرته ده[،] هم د پاچايي صيفيو؟ له ذوقه ډکو او ښکلو ځايونو څخه بلل کېږي. په چهاردهي حوزه کې هم د (چهلستون) په نامه يوه وياړلی عالي ودانۍ چې د (هندکي) او (سپوږمۍ بڼ [مهتاب باغ]) په نامه بشپړه عالي ودانۍ، او (بربڼ [باغ بلند]) او (بابر بڼ) او نور هم زموږ د مشهور بېساري جنت وزمه او زړه راښکونکي ښار د شاوخوا سيمو له خورا عالي او خوشحالوونکو پاچايي مانيو او بڼونو او ودانيو څخه بلل کېږي چې هره يوه يې يا د موقعيت او ودانۍ، او يا د عبرتناکو تاريخي پېښو له پلوه د خورا ډېرو تفصيلاتو وړ ده.

ketabton.com - The Digital Library

**موږ د عظیم الشان پالونکي ذات له دربار نه د خپل ستر سپېڅلي ټولواک پرله پسې روغتیا او عافیت، او د سلطنت او پرتم پایښت د زارۍ او نیاز په دواړو لاسو غواړو چې تر مهربان او ودانۍ پالونکي پاچایي سیوري لاندې یې په خپل هېواد او صادق پاچایي ملت کې د پرمختیا او ودانۍ او هوسایۍ او نېکمرغۍ لا ډېرې ډېرې نښې یوه په بلې پسې راڅرګندې شي.**

## د لوړ والي او د واټن د لېرې والي جدول

| د سمندر له سطحې د کابل خپل لوړوالی ۷۰۰۰ فوټه | له کابل نه د پمقان د سلام خانې لوړوالی چې د خدای ببنلي خاقان پر مهال ودانه شوې ۱۶۸۰ فوټه | سهیل | | بیت الصیف | | د ببکتوت دسیمې ستاره | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | له کابله لوړوالی۲۰۰۰ فوټه | له کابله واټن ۹ کروهه او له څلورو دوه برخې | له کابله لوړوالی ۳۰۰۰ فوټه | له کابله واټن ۱۰ کروهه او ۲۱۶۰ زرعه | له کابله لوړوالی ۱۵۸۰ فوټه | له کابله واټن ۱۰ کروهه او ۱۴۴۰ زرعه |

څلور زره زرعه یو کروه کېږي

[دا مطلب تصویري رپوټ ته لږ ورته والی لري او ځکه یې یوه نسخه هغه ځای ته هم کاپي شوه]

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي لنډیز

که څه هم موږ د نړۍ په یوه هجرا [بېطرفه؟] سیمه کې پراته یو، او د مطبوعاتي نړۍ د سیاستونو په شطرنج لوبه کې ښکېل نه یو. خو یو مشهور متل دی چې (ننــدارچي چال ښه ویني). په تېره بیا که پر لوړ بام وي!

یو مهال و چې د اروپا سیلانیان او کاشفان د نړۍ د پراخولو له پاره پر هر لوري خپاره شول. که څه هم د انګریز لوړ دولت تر نورو وروسته پیل کړی[،] خو ډېرې غــوړې او خوږې مړۍ، او د نړۍ ډېرې شتمنې او پیاوړې خزانې یې لکه (هند)، (اوستریا [ښایي آستراليا])، (کنادا)، (مصر)، (جنوبي افریقا) [،] (جبل طارق)، (قبــریس)، (مالطــه) [،] (عدن) او نورې یې وتښتولې چې نورو بې له دې چې لــه خــولې یــې د رخــې نــاړې وبهېږي[،] ددې ډول یوې خوندورې مړۍ، او دې ډول یوې شتمنې خزانې څښتنان او وږ نه شول. نو ځکه یې د سیالانو د سیالۍ، او رخې حس له ډېرې مودې راهیسې پــه اورشیندنې پیل کړی دی.

لومړني کس چې له خولې یې د هند مړۍ د تښتونې تکــل وکــړ د فرانســې مشــهور امپراتور (ناپولیون بوناپارت) و چې د مصر په نیولو یې د فلسطین پر خاوره ورودانګل. او که یې د سیال تدبیرونه او شاه چالونه اغېزمن نه وای راختلي او ټولو هېوادو ورسره جګړې نه وای پیل کړي[،] دغسې به د عراق او ایران پر لور خوځېده، او له روس سره به یې په لاس یو کولو د هند لویه وچه له منګولو ترې ایستلې وای.

تر دې وروسته له شتمنۍ او سامانو ډکې دې خزانې له پاره بل پخوانی ســیال د روس دولت دی چې له دوو دریو پېړیو ورو ورو په څو ښو او چلونــو او پــه یــوه طریقــه او آهنګ ځان ورنژدې کوي[.] د فرانسې ګام او اقدام د روس د چلونو پر تلــه ډېــر اوم [خام] او بې بنسټه بریښېده. د بد نصیبه هند پر ســر د دوو ســیالانو دا ســیالي یــوه بربنډه او ښکاره خبره ده چې د بیان اړتیا یې نه شته.

ketabton.com - The Digital Library

خو په دې ورځو کې یو بل سیال وینو چې په خورا ډاروونکې او زوروره بڼه او په تـول هیبت او قوت د سمندر له مخه او له تله او له هوا یې د پزې لاندې یعنې د (بر یټانیـا) پر ټاپو یوه خورا ډاروونکي برید ته تیار او چمتـو دی. او کلـه چـې خپـل خطرنـاک ګوزارونه د هغه پر حیاتي غړو وکړي[،] هغه مهال به په ډېره آسـانۍ سـره د فـارس خلیج، او د آرام سمندر له ځمکې او هوا پر دغه خزانه ورولوېږي. دا ډارروونکی سیال د آلمان دولت یعنې جرمن دی. دا هم ټولو ته جوته ده چې د برتانیا ځلانـد دولـت د هغې سیاسي تګلارې له مخې چې له ډېره مهاله یې له اسلامي دولتو او ملتو سـره د ښه چلند، او مینې او عدل په برخه کې غوره کړې[،] په ختیځ کې تل په خپلو هڅـو کې بریالی شوی دی. حال دا چې د جرمن دولت له دې پلوه هم د برتانیا دولت یو لوی سیال بلل کېږي. په دې اړه پخپله دا بېوزلی محرر یوه موضوع چې پخپله مې لیـدلې او په غوږونو اورېدلې بیانوم:

پر ۱۳۱۷ کال په سوریه [شام] کې پردېس وم. د جرمن اوسنی پاچا او ملکه ایمپراتور (ګیلیوم) او ایمپراتوریچه (اوګوستا) سوریې ته راغلل. مـوږ دلتـه د هغـو ولولـو او د هرکلي د مراسمو او درناوي په اړه چې عثماني دولـت دغـو ګرانـو مېلمنـو تـه پـه استانبول او بیت المقدس او سپېڅلي شام کې کـړي وو، نـه غږېـږو. یـوازې د یـوې پرتمینې او ویاړلې مېلمستیا چې د بلِـت ښـاروالۍ لـه خـوا د جنـاب اعلیحضـرت ایمپراتور په ویاړ جوړه شوې وه[،] یوه برخه راوړو: مېلمستیا د ښاروالۍ په ودانۍ کې جوړه شوې وه. د سوریې او عربستان ډېرئ عالمانو او ساداتو او شـیخانو او لویـانو او مشرانو په دې غونډه کې ګډون کړی و. د ملت له خوا سربېره پر نورو ډالیـو او تحفـو چې وړاندې شوې[،] یوه چپن او خولۍ او د سر ورېښمینه کړۍ چې د اوبدنې په خورا لوړه کچه پر ورېښمو او تیلې [زري] ګنډل شوي وو[،] ورکړ شـول. او لنـډه دا چـې اصلي مطلب دلته دی چې د خوړو پر مهال په داسې حال کې چې یوه پیاله یې ډکـه کړې او یوه بلیغه وینا یې د اسلامي ملت په ستاینه او له دې نجیب ملت سره په خپله مینه کې وکړه[،] ویې ویل: (دا د دوستۍ هغه جـام دی چـې د درې سـوه پنځـوس میلیونو مسلمانانو په مینه یې پورته کوم). بله ورځ یې د عربي ملت ګرانبیه چپن پـر غاړه او خولۍ او کړۍ پر سره کړل او د ستاینې او آفرین د زرګونو هوراګانو پـه مـنځ

ketabton.com - The Digital Library

کې د (سلطان صلاح الدين ايوبي) زيارت ته چې اوځار [مشهور] مجاهد او د صليبيانو د بر يدونو تمبوونکی دی[،] ولاړ او پر خپل لاس يې [د ګلانو] يــوه ښــکلې او قيمتــي ګېډۍ چې ځانګړې يې له ځانه سره راوړې وه[،] د هغه پر سپېڅلي قبر کېښوده.
اوس چې د جرمن دولت دې چلونو ته ګورم[،] جرمن راته تر روس خطرنــاک ســيال بر ېښي. نو دا اړينه کېږي چې د بر يتانيا ستر دولت پر داسې حساس مهال تر پخــوا لا ډېر د اسلامي دولتونو او ملتونو د زړونو خپلېدو لار غوره کړي. او د اسلامي دولتونو د خپلواکۍ د پياوړتيا هاند وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



# په هند کې زموږ دیني ورونه زموږ په اړه څه احساسات پالي؟

زموږ ګرانې ملګرې (مسلمان) ورځپاڼې چې په امرتسر کې په اردو خپرېږي[،] د خپل ۴ ټوک په ۱۵ ګڼه کې د (افغانستان) تر سرلیک لاندې یوه لوړه او اوږده مقاله خپره کړې چې هره کرښه یې په هند کې زموږ د دیني ورونو د ورورګلویزو او خیر غوښتونکو احساساتو د ښودلو یوه لویه هینداره موږ ته راښیي. څرنګه چې زموږ پاڼو د هغې ټولې مقالې د راخیستلو ځای نه درلود[،] پر ځینو برخو مو یې بسنه وکړه.

## افغانستان

څرنګه چې موږ مسلمانان یو کریم څښتن موږ په (انماالمومنون اخوه) [مومنان سره ورونه دي] مزي سره پېیلي یو- پر همدې سبب که په چین کې مېشت کوم مسلمان په خوږ او کړاو اخته کېږي[،] د افریقا مسلمانان له هغه سره په خواخوږۍ ناکراره کېږي او که د اروپا د کوم مسلمان د پرمختګ یا هوسایني خبر راشي[،] د ګردې نړۍ مسلمانان خوښ او خوشحالېږي- لنډه داچې د ګردې نړۍ مسلمانان که سپین پوستکي دي او که تور پوستکي او که د امریکا وي او که د آسیا د یوه ټبر وګړي او د یوه جسم غړي ګڼل کېږي.

او څرنګه چې په ټبر کې سره نژدې وګړي د ټبر له سره لېږې وګړو ډېر حقونه لري او تر نورو ګاونډیو خلکو د ډېرې برخې وړ وي[،] نو ځکه که موږ د هند مسلمانان د خپل ګاونډي افغانستان د مسلمانانو له حالت سره مینه ښیو[،] دا یوه طبیعي خبره ده او له همدې امله موږ د هند مسلمانانو په پلازمېنه کابل کې د سراج الاخبار افغانیه د خپرېدو هرکلی په خورا خوشحالۍ سره کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

**په څه دليل؟**

**يوازې په دې دليل چې ددغې ورځپاڼې له لارې به په افغان ورونو کې د ويښتابه روح غزونې وکړي[،] سراج الاخبار افغانيه به په هغوی کې پوهه خپره کړي- د افغانستان ډېرئ وګړو ته به چې د پوهې او هنر لاره يې نه ده موندلې[،] لارښــوونه وکــړي او د شرعې مخالف دودونه او بدعتونه به چې د ناپوهۍ له لاسه په کــې پيــدا شــوي[،] د هغوی له زړو پاک کړي [او] رېښتونی اسلام به خپور کړي- يعنــې دا ورځپاڼــه بــه د افغانستان مسلمانانو ته مذهبي چوپړ هم وکړي او دغه راز به د دنيوي پرمختګ ټکي هم هغوی ته برسېره کړي [او] د يوه عزتناک ژوندانه د کولو لارې به روښانه کړي.**

**الحمدلله**

**موږ د دغو هيلو د پوره کېدو لارې چارې وينو- سراج الاخبار افغانيه د لــوړې کچــې مطالب ليکي او سره له دې چې دغه ورځپاڼه يو نوی او نازک ګل دی[،] خو د ځواک او تدبير له پلوه يې خپلې چارې په خوار سم ډول ترسره کړي[،] په واکمنو کړيو کې يې د ورځپاڼې د لوستلو شوق اچولی هغوی يې ځانته ورمات کړي او هيله ده چې د اغېز کړۍ به يې وروسته پراخه شي- خو که چېرې موږ ددې ورځپاڼې پــه راوتلــو کــې د ويښ مغزي واکمن [،] د افغانستان د دولت او هېواد د ټولواک اعليحضرت سراج الملة والدين د احسان شکر ونه کړو نو له شک پرته به ناشکري شوې وي- چې د هغــوی د شاهانه هڅو له برکته د پوهې وړانګې ځلېدلي او همدا رڼا به وروسته افغانستان د نور تون وګرځوی- که خدای کول- د ستايل شوي اعليحضرت سپېڅلی نوم د افغانستان په علمی تاريخ کې په زرو د ليکلو وړتيا لري او راتلونکي نسلونه به د ســتايل شــوی اعليحضرت سپېڅلی نوم په خورا ادب او درناوي يادوي. او دې هڅو ته به چې شاهانه اعليحضرت يې د افغانستان د پوهې او پوهنې په وده کې کوي[،] په درناوي سره کتل کېږي او ستايل شوی اعليحضرت به څښتن او د څښتن مخلوق ته نژدې شي[،] ځکه چې مبارک ذات يې د خپلو رسمي شاهانه فرايضو پر ادا کولو په ټول وس بوخت دی.**

**افغانستان څه ډول پر مخ تللی شي؟**

**موږ په تېرو ګڼوکې ليکلي چې د اسلام د ودې رازونه په دې کې نغښتې دي چې دوی ځانونه پاخه مسلمانان کړي او مجيد قرآن په ډېر ځير سره ولولي او حکمونه يې پلي**

ketabton.com - The Digital Library

کړي- د شريف قرآن دقيق ټکي د منلي رسول صلی الله عليه وسلم په حديثونو حل کړي- او بد دودونه او ناوړه عادتونه چې د جهالت او له نورو ولسونو سره د ګډوالی له امله ورغلي[،] له يوې مخې پر ېردي او دې ته ځير شي چې زموږ نيکونو کومې چارې کړي چې د پرمختګ بلی ته پرې ختلي وو او د ټول عالَم ښوونکي بلل کېدل- او کوم لاملونه دي چې موږ يې تباه او ورک کړي او د خوارۍ کندې ته غورځولي يـو- دغـه دليلونه په شريف قرآن او نبوي (ص) حديثونو کې په تفصيل ليکل شوي خو افسوس چې موږ هغه لورته نه ځير کېږو او شا مو ور اړولې او د خپلې تباهی لاملونه مـو جـوړ کړی دي- خو دا خبره چې د سراج الاخبار مدير.

جناب محمود طرزي صاحب

په دې راز پوه دی[،] سرې ته ډاډ ورکوي او د (پوهې او اسلاميت) لومړنی کتاب چې د دوی پر زورور قلم ليکل شوی[،] که څه هم يو لنډ مضـمون دی خـو د افغانسـتان د پوهې حالت ته په پام سره موږ دغه مضمون يو غنيمت بولو.

ketabton.com - The Digital Library



# د نړیوالې جګړې اړین والی

که یو ځل د اروپا لویې وچې ته وکتل شي[،] داسې یو عالَم تر سترګو کېږي چې سړی له تعجبه خندوي او له حیرانتیا ډوبوي. څنګه به عجیبه نه وي؟: داسې یوه لویه وچه وینو چې د تمدن له ستروالي او د ودانۍ لـه پراخـوالي، او د پـوهنې او صـنعت لـه ډېروالي، او د چټک تلونکو نقلیه وسیلو پر مټ د خپلو ښارونو له ترلوالي او نژدېوالي یوه خورا لوی ښایسته پرتمین ښار ته ورته بریښي. پاریس، لندن، برلین، پترسبورګ، روما، ویانه، او نورې اروپایي پلازمېنې ددغه ښار جلا جلا ناحیې جوړوي. له یوه ښاره بل ته تګ دومره آسان دی لکه سړی چې له یوې ناحیې بلې ته ځـي. او کـه دا ټولـه لویه وچه د پوهې او پوهنې یوه ښوونځي ته ورته وبولو[،] لـوی ښـارونه یـې ددغـه ښوونځي د ګڼو ټولګیو په څېر بللی شو. او که یې چېرته د صنایعو یو مرکز وبولـو نـو لوی ښارونه یې د بېلابېلو صنعتونو جلا جلا دستګاوې شمېرلی شو چې نـورې لـویې وچې له ستنې نیولې د لویو پلونو تر اوسپنیزو میلو، او له سپنسین مـزي نیـولې بیـا ددغو پلونو د ځوړند ساتلو تر اړینو اوسپنیزو مزو پورې ددغـه لـوی صـنعتي مرکـز محتاجې دي. نو له دې پلوه داسې بلل کېږي چې د اروپا لویه وچه واکمنـه او نـورې لویې وچې یې تر لاس لاندې دي. یا دا چې دغه لویه وچه د اړتیاوو پـوره کـوونکې او نورې اړې دي.

هو، په لومړي سر کې دغسې بریښي. خو که ریښتیاوو ته ځیر نظر وشي سرچپه پایله راوځي، او له دې امله ده چې سړی له تعجبه په خندا او له حیرانۍ په ډوبېدا کېباسي. اوس په دې تړاو د خپل نیمګړي فکر له مخې یو څه تفصیل او توضـیح خپلـو ګرانـو لوستونکو ته وړاندې کوو:

ketabton.com - The Digital Library

لومړی[،] مساله له دې پلوه راځېږو او ارزوو چې هو، موږ اروپا د تمدن یــو ښــار[،] د پوهې او هنر یو ښوونځی[،] د نړۍ یو صنعتي مرکز بللــی شــو[،] خــو دا لویــه وچــه هېڅکله هم واکمنه او نورې وچې یې تر لاس لاندې نه بولو. آن دا چې دغه لویه وچه د ذلت او خوارۍ تر کچې نورو وچو ته اړه او محکومه مومو.

حضرت (سعدي) چې اروپاییان یې د ختیځ (فیلسوف[)] بولي[،] له حکمتــه دا ډکــه قطعه فرمایلې چې:

**قطعـــــــــه**

له ښکو که خالي یې وزره خوب به کاندي تر سر لاندې پر ډبره

که ترخنګ یې ها میئنه ملاسته نه وي پر ټټر به لاس مندي خپل نابېره

خو لاکن

دا زموږ خېټه ده کنده مړښت نه لري دا پلنډه

نو پر دې بنسټ اروپا چې هرڅه لري، خو په افسوس سره چــې دا حریصــې پلنــډې خېټې یې هېڅکله هم هغه تمدن، او هغه پوهه او هنر او هغه صنعتونه ډکولی نه شي. ځکه دا هېڅ دي او خېټې ته اوږه او غوړي او سابه او نور ځمکني محصولات پــه کــار دي.

د (لَه بُون) په نامه یو اوڅار اروپایي فیلسوف چې په ټولنیزو پوهنو کې یې لــوی لاس درلود[،] داسې وایي:

«که په یوه هېواد کې د کر وړ ځمکه د وګړو د اړتیا هومره وي د هغه هېــواد د وګــړو شمېر ډېرېږي او نور پراخېږي.

«که د یوه هېواد د ځمکو حاصلات د هغه هېواد د وګړو له شمېر سره یو شان او برابــر وي[،] د هغه هېواد د وګړو شمېر پر خپل پاتې وي نه ډېرېږي او نه لږېږي.

«خو که د یوه هېواد د وګړو شمېر تر حاصلاتو ډېر وي[،] حال یې خراب او ویجاړېږي. قحطي او لوږه ترې ساه باسي. او تر هغو چې یوه وژونکې وبا او یا ویجاړوونکې جګــړه پېښه نه شي. او ډېر شوي وګړي ورکم نه کړي، او ځمکني محصولات یې له وګړو سره برابر نه شي[،] له تیټوالي او خوارۍ به ژغورون ونه مومي»[.]

ketabton.com - The Digital Library

اوس مو چې د ختیځ او لوېدیځ ددې دوو فیلسفوفانو منظوم او منثور کلام پــه ځیــر وکوت[،] یو ځل چې د اروپايي ځمکو احوال ته نظر وکړو [نو] دا لويه وچه به د وګړو د ډېروالي او د ځمکنيو محصولاتو د لږوالي له پلوه داسې بې انډوله او بې تناسبه ومومو چې د ودانۍ بنسټ به يې راته وروست او بې ټيکاوه، او پر لوګي او باد ولاړ وبرېښي.
نو د انډول د موندنې، او له ځمکنيو محصولاتو سره د وګړو د شمېر د برابرونې له پاره په دغه لويه وچه کې د يوې لويې خونړۍ جګړې پېښېدل له اړينو طبيعــي غوښــتنو څخه بلل کېږي. ولې به اړين نه وي؟ آيا دا پرله پسې کلونه چې يې د وژنو او جنګونو، د نښتو او جګړو دا دومره حيرانوونکي اختراعات کړي[،] دا به همداسې شړ او وزګــار پر ځای پرېږدي؟
هېڅ به نه آزمايي چې د اروپايي دولتونو دا درياناتونه؟ د جګړه ييزو بېړيو ډلې، زغره وال [ګاډي]، ګرووازورونه، تورپېدوګان، او اوبتلونه چې په خورا ډېر لګښت او د زړه په وينو جوړ شوي او چمتو شوي[،] په لويو سمندرونو کې څــه پــايلې درلــودلی شــي؟ الوتکې، بالونونه، له هوا نه پر سمندري او ځمکني ځواک [ويشتل کېدونکي] بمونه څه اغېز ښندلی شي؟ آيا د دولتونو د ستر درستيز نقشې او پلانونه چې هر يو يې وايــي (زه يم بل نه شته) د ازمېښت ډګر ته رانه شي او د دومره منظمو او بشــپړو اروپــايي پوځونو د ځای پر ځای کولو ښوونيز او روزنيز اصول جوت نه شي چې کوم يو يې غوره دی؟ او که وويل شي چې دا دومره ځمکنی او سمندري او هوايي ځواک يې پر کمزورو ختيځو دولتونو د کارونې له پاره چمتو کړی[،] دا خبره کومه ګټــه نــه لــري. ځکــه د شدت او قوت کچه د مقاومت له کچې راځرګندېږي. د ساري پــه ډول کــه ۳۵ او ۳۸ سانتي متري ګولۍ د ختيځو ښارونو د اومو خښتو پر کلا وغورځوي[،] ددغه تــوپ د ځواک ځومره والی او د صنعتي فن مهارت ښکاره او جوتولی نه شي. پر هر حال بويــه چې د درياناتونو پر ټينګو پولادي زغرو وکارېږي چې د ځواک څرنګوالی يــې جــوت شي.
هو، هو، په اروپا کې يوه عمومي جګړه ډېره اړينه ده. او دغه راز هرومرو کېدونکې ده. هرومرو بايد وشي. او که نه نو بې وزلي اروپاييان د محصولاتو او خوړو له نشتوالي لــه

ketabton.com - The Digital Library

منځه ځي. ښکاره ده چې د ژوندانه اوږدېدل پر خوړو ترلي دي. او چې ځمکني محصولات د وګړو شمېر ته بس نه وي[،] نو يو بل به سره وخوري!

که اوس لږ د آسيا د لويې وچې په تېره بيا هغو هېوادو پر لور چې د اسلام د مبين ملت وګړي په کې خپاره دي[،] يو نظر وکړو د هغوی په ځمکنيو محصولاتو کې يو لوی فيض او برکت وينو چې په ډېرو ځايونو کې محصولات تر وګړو ډېر، او يا سره برابر او انډول دي. له يوې خوا[دا سيمه] پر اوږدو له اتلانتيک نه تر لوی سمندره پورې خپره ده، او له بلې خوا د سايبريا له څنډو د آرام سمندر تر ټاپوګانو پورې په پسور غزېدلې ده چې مسلمان وګړي يې تر ډېره ددې ځمکې په منځنيو برخو کې خپاره دي. دا سيمه د نړۍ له خورا غورو سيمو څخه بلل کېږي. د نيل، او مراکو ښېرازه او د کر وړ وادۍ[،] د حجاز او يمن او فلسطين، عربستان، شامونو[،] اناتول[،] عراق، ايران[،] افغانستان، هند، ترکستان، د چين ځينې برخې، او د آرام سمندر ځينې ټاپوګان په دې سيمه کې راځي. د خاتم الانبيا محمد مصطفی صلی الله عليه وآله وسلم مرقد، د حضرت مسيح عليه السلام وطن، د موسی عليه السلام او نورو سترو انبياوو د بعثت ځای په همدې سپېڅلې سيمه کې دی. پاکه او روغه هوا، رڼې او خوندورې اوبه، رڼه او پراخ آسمانونه، ځلاند وړانګين لمرونه پر همدې سيمه ځلېږي، لګېږي او چلېږي.

وايي: د هند يو لمرپالی هندو (لندن) ته تللی و. يوه انګرېز پوښتلی و چې: ولې لمر پالې؟ ويل يې:

- که مې ستاسې دا لمر ليدلی وای هېڅکله مې نه پاله[،] خو که تاسې زموږ لمر ليدلی وای[،] په ښکاره به مو د لمر پالل پيل کړي وای.

هو، هو، د لندن ښار يوې لويې فابريکې ته ورته دی چې نژدې پنځوس لکه کارګر لري. نو دداسې يوې فابريکې لوګي کله سرې پر بېړدي چې لمر ووينې. پر هغه راګرځېدلې هوا د لوګي له بړاس او د سکرو له ذرو سره اخښلې او ګډه شوې او خپل ټول ځيزونه او محتويات يې په يوه زړه بدوونکي تور سربښناک لنده بل کې ډوب کړي دي. که د هند، اناتول او مصر د خزانو او شتمنيو فيض او برکت نه وای[،] ددغې

ketabton.com - The Digital Library

ستري فابريکې پنځه ميليونه کارګر به لکه د زنګ د اوسپنې په خوړلـو او يـا لکــه د کَوَي د وربښمو او ټوکرانو په زبېښلو اړ واى!

په اروپا کې د عمومي جګړې د اړينوالي يو دليل د همدغې يـادې شــوې ګټــورې او برکتي سيمې پر سرد هغوی سيالي او رخه ده. هغسې چې اروپـا د صــنايعو لــه لارې خپلې اړتياوې پوره کوي[،] آسيا هم د هغوی د بې هنره پلنډو پلنډو خېټو په ډکولــو سره چې ژوند يې ورپورې تړلی دی[،] د هغوی لاس نيسي. او چې د حضرت ســعدي له حکمتونو ډکه قطعه راسره انځور کړو دا ټول صنعتونه هېڅ شي. او خېټه داسې شی نه دی چې په هېڅ ډکه شي. نو پر دې بنسټ د اروپا لويه وچــه واکمنــه او د اړتيــاوو پوره کوونکې نه بلکې محکومه او د آسيا لويې وچې ته اړه ده. له دې امله اروپا غواړي چې دا ستره خزانه له يوې مخې په اروپا پورې وتړي. خو وس يې نه رسېږي. ســيالی، رخې، د قحطۍ د کلونو وړسترګېوالی يې ناچاره دا پايله راباسي چې يو بل پر سر سر ووهي. که نن راونه وځي، سبا راوځي، او که سبا راونه وځي ســل کالــه وروســته بــه راووځي! لنډه داچې له هره پلوه د اروپايي دولتونو د عمومي جګړې پېښېدل داســې عجيبه پېښه ده چې د حيرانوونکو اختراعاګانو پرمختګونه يې له يوې مخې د پــردې له شانه د رېښتيا ډګر ته راباسي. نو ددې عجيبې پېښــې کېــدل اړيــن دي. چــې د (مريخ) کُرې اوسېدونکي هم د ځمکې کُرې د اوسېدونکو پر حيرانوونکو اختراعګــانو آفرين ووايي!.....

**قطعه**

| | |
|---|---|
| د (سولې) نارې څه له چټي کاندي | ای انسانه ته په سوله کې شوې پاتې |
| د (محمود) په څېر خبرې د جګړو کړه | چې قلم ته دې د ژوند اوبه شې ماتې |

ketabton.com - The Digital Library



# د همايوني اعليحضرت

## پرمختگپالنې

په خپلو تېرو گڼو کې مو د خپل ستر ټولـواک د پرمختگمـل پېـر د ځینــو ودانیــزو پرمختیاوو په اړه څه ناڅه لیکلي و. په دې گڼه د مازیگرني چکر له پاره د (حضــوري چمن) په نامه د خپل گران زړه ته نژدې ښار د یوې ښایسته سیمې یو څه حال بیانوو: (حضوري چمن) زموږ د ښایسته ښار په ختیځه خوا کې پروت، د خورا ښــې فضــا او ښایسته هوا زړه پرانستونکی چمن دی چې تر همدې څو مخکې کلو پورې د چمن له نامه پرته یې بله هېڅ ښېگڼه نه درلوده. خو زموږ د ســتر ترقیپــال ســپېڅلي مینــه خپرونکي مراحم صفته اعلیحضرت ټولواک په ودان پالنې پاملرنې سره په څو کلونو کې د آرَم د چمن یوه ښېلکه، او د نړۍ یوخورا ښایسته تفریحځای گرځېدلی دی.

دلته موږ د حضوري چمن پر تېر حال څه نه وایو[،] یوازې یې د اوس مهال پر یوه تَنَزِه یا د مازیگرمهال پر یوه چکر او څه خوراک خبرې کوو:

هر څوک که سوداگر دی، یا کسبگر، که مفلس دی یا شتمن په هر حال په ځلرویشتو ساعتو کې له خپل کاره تر وزگارېدو وروسته په آزاده هوا کې یوه چکر او هوســاینې، ساه اخیستنې او چای څښنې ته پوره اړتیا لري. په متمدنو هېوادو کې د وگړو د چکر او سات تېرۍ مساله په یوه پراخه کچه په پام کې نیول شــوې[،] ددې ډول انســاني اړتیاوو د لیرې کولو له پاره په ډول ډول بڼو او نومونو ځایونه او سیمې جوړې شوې او پرانستل شوې دي[،] گلپونه [کلپونه]، قهوه تونونه، لوستځایونه، کافــه شــانتوزونه؟، تیاترونه، سازځایونه، سینموتوگراف خونې [سینماگانې]، بڼگي، سیل ځایونــه، د آس ځغلونې او نورو سیالیو ډگرونه او نور داسې څیزونه شته چې دا څیزونــه د انســان د روحانیاتو او معنویاتو د هوسایۍ له پاره د کرنې، او صــنعت هــومره چــې د انســان د جسمانیاتو او مادیاتو چوپړ کوي[،] گټور پرېوځي. دا گومان دې نه کېږې کوم څیزونه

ketabton.com - The Digital Library

چې دلته یاد شول [ګنې] د حکومت له خوا جوړ برې[،] نه بلکې حکومت ددې ځیزونو له پاره یو قانون راوباسي، د هماغه قانون په چوکاټ کې پخپله د ولسي شــرکتونو او کمپنیو له خوا په پوره آزادۍ او نظم جوړ او پرانستل کېږي.

زموږ په ګران هېواد کې دا ډول ځیزونه چې یوازې په اروپايي مدنیت پورې ځــانګړې دي[،] هېڅ نه شته. او ورسره ورسره یې د شتوالي اړتیا هم نه لیدل کېږي. ځکه اوس مهال زموږ هېواد- دارالعلومو [پوهنتونو] او ښوونځیو او کتابتونو، او صنعتي سیمو، او شرکتونو او دا ډول نورو ځیزونو ته چې د وګړو د شتمنولو او وسمنولو او عقلي روزنې چوپړ وکړي[،] خورا ډېره اړتیا لري. نو ځکه زموږ زړونو ته نژدې اعلیحضرت ټولــواک ذات له یوې خوا د خپل شاهانه هېواد د پوهنیزو او صنعتي تاسیساتو په برخه کــې د ټولي نړۍ هومره ارزښتناکه شاهانه پاملرنه کړې[،] له بلې خوا یــې د خپــل هېــواد د وګړود خوښۍ او خوشحالۍ له پاره هم د (حضوري چمن) پاک هوساځای د سړکال له پیل راهیسې په یوه زړه پورې بڼه، او خوشحالوونکې طریقــه پــه ډېــر خونــدور ډول اړولی دی.

زموږ دا ستر پرمختګپال سپېڅلي پاچا اړ دی چې د خپل شاهانه هېواد د پرمختګ او تمدن په ټولو اړخونو کې په خپل نفیس ځان پخپله لګښت وکــړي. او د پرمختــګ د ټولو نښو ښوونکی پخپله د دوی شاهانه ذات شي. ځکه زموږ د ګران هېواد وګــړی لا تر اوسه په خپل هماغه لومړني سوچه والي او نګه والي ژوند تېروي. د ساري پــه ډول د (شرکتونو) جوړېدل چې د یوه هېواد د شتمنۍ او وسمنۍ په مهمو سببونو کې بلــل کېږي[،] زموږ خلکو ته له یوې مخې نا روښانه او تت پاتې دي. شرکت، چې په پیرنګۍ ژبه یې (کمپني)، او یا (کومپاني) بولي[،] هسې یو نا آشنا ټکی دی چې وفــات شــوې ملکه ویکټوریا یې [«] کمپني صاحبه[»] بلله. او دا [مفهوم] هم له دې ځایه راغلــې و چې د هند انګرېز حکومت هند ته د ننه وتو په پیل کې د (کمپنۍ) یعنې (ســوداګریز شرکت) په نامه هېواد رالاندې کاوه. آن کله چې یې لومړی ځل لښکرې پر افغانستان راسمې کړې وې[،] هلته هم د کمپنۍ په نامه وې چې ملکه ویکټوریا هم پــه همــدې نامه اوځاره شوې او دا نوم پرې همداسې پاتې شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

اوس ووینئ چې (کمپنۍ) یعنې سوداګریز شرکتونه څومره ستر ارزښتونه لـري چــې یوه ښکاره بېلګه یې همدا د هند د پراخې وچې لاندې کول دي چې یو لــوی انګریــز شرکت د خپل دولت تر څار او وزر لاندې جوړ شوی عسکر، توپ، توپک، بېړۍ، او نور نور یې چمتو کړي د هند په ځېر له مال او ولسه ډک یو هېواد یې ترلاسه کــړی دی. که یو شتمن کس وغواړي چې له کابله تر کندهاره د اوسپنې یوه ســوداګریزه پټلــۍ وغزوي، او د اورګاډي ډبې پرې روانــې کــړي[،] او ســلګونه تــم ځایونــه او زرګونــه کارکوونکي او نور ګڼ کارونه یې له خپلې پانګې سمبال کړي[،] نو اصل پانګه به یــې څومره ستره وي؟

په داسې حال کې چې هېڅکله د یوه واحد کس پانګه دا ډول لوی تشبثات پوره کولی نه شي. که دا ډول کارونه کېږي نو (شرکت) یې کوي د علامه (ابن خلدون) په خبــره (تَكَثُر ايادي) یعنې [«] ګڼ لاسونه[»] بلل کېږي. لنډه دا چې د شــرکتونو او کمپنیــو ګټې هغه څه نه دي چې پر یوې بېلګې او دوو بېلګو پای ته ورسېږي. افســوس چــې زموږ په ګران هېواد کې د شرکتونو د جوړېدو حس زموږ د هېچا په حواسو کې هم لا نښوتی نه دی.

لومړی ځل چې د شرکت نوم واورېدل شو، او بنسټ یې کېښودل شو[،] هغه د (موټر ګاډي شرکت) و چې پروسږکال اعلیحضرت پاچایي ذات له هغه وروسته چې د هېواد مخورو ته د شرکت د ګټو په اړه یوه لوړه وینا واوروله[،] د ټولو سترګې یې د هغې پــر ګټو پرانستې او هماغه شېبه یوه لویه پانګه راجوړه شوه شرکت ترې جوړ شــو چــې انشاءالله ګټې به یې وروسته جوتې شي.

بل یې همــدا کــوچنی محــدود شــرکت دی چــې د شــهریاري اعلیحضــرت ذات د پرمختګپالو هڅونو له مخې سږکال له څو بېلا بېلو کسانو څخه جوړ شــوی دی. ددې شرکت له جوړولو زموږ د حقیقیپوه ترقیپال اعلیحضرت ټولواک ذات خیر غوښتونکې موخه دوه څیزونه وو: یو دا چې په وګړو کې د شرکتونو د جوړولو حس راویښــول دي او د ګټو عامول. بل ورو ورو د مدني نظام او انتظام کړی ته یې د ټولو شاهانه رېښتینو وګړو ننه ایستل دي. او وګړي څېز په څېز د تمدن له نښو سره روږدي کول.

ketabton.com - The Digital Library

اوس مازیگر مهال دی. له دېرې لیکنې په طبیعت کې هم ستړیا او ستوماني راغلې[،] نو ځکه په کار ده چې ښایسته حضوري چمن ته ولاړ شو او یو مازیګرنی چکر ووهو. که له خپل بېوزلي کور نه چې په (ده افغانانو) سیمه کې دی[،] تر دغه چمنه پلي ولاړ شو[،] هم به روغتیایي چکر شوی وي او هم به د واټن د لرِوالي له امله ستړیا نه وي. دادی نو د لیکنې قلم ږدو او د ګرځېدنې قدم اخلو:

د ده افغانانو د بازار نیمایي او د مبارک ارګ د یوې برخې د منځ سړک او (بُستان سرا) [اوسنی زرنګار پارک- د.ج.] په چتکۍ سره وهو او د (سرک ده) په نامه له یوه سړک نه د (ارګ بازار) له یوې برخې د (چارسوق) تر لویې قُبِې لاندې پر یوه ښکلي پلن او زړه راښکونکي سړک چې (سرک کلان) بلل کېږي چې د مبارک ارګ د خپل دیوال او د شاهانه کوټوالي عسکرو [پولیسو] د چونیو ترمنځ پروت دی[،] په مزله پیل کوو. پر دې سړک پنځه دقیقې ځو پر یوه ښایسته سیوري لرونکي طراوت ښېونکي سړک چې (سرک جدید) بلل کېږي تر (قومي باغ پله) [پُل قومی باغ] [رسېږو]، پر هغه اوړو پر یوه خورا پراخ سیده واټ چې دواړه خواوې یې روانو ویالو[،] ګلبوټو او مینا شویو شمعدانو چاپېر کړي، او تر اوږدو واټنو همداسې غزېدلی پروت دی، او زموږ د ګران ښار له خورا وتلو واټونو څخه ګڼل کېږي[،] مزل کوو. کله چې د (عیدګاه) د شریف جامع جومات له مخې تېر شو[،] کینې خوا ته تاوېږو د ښایسته سړک د غړې د ویالې له پله د ښکلي چمن د پلیو پر لار قدم ږدو[.] ددې سړک له پیله تر پایه چې اوږدوالی یې د چمن له اوږدوالي سره سم دی[،] ځای ځای کنابې یعنې اوږدې لرګینې رنګ شوې پنځه نفري څوکۍ ایښودل شوې چې وګړي پرې په پوره آزادۍ کېني او په چمن کې له توپلوبو، او له ښایسته هوا [او] له طراوته ډکو وږمو، او له غوږپالونکو او هوش وړونکو عسکري نغمو نه ګټه اخلي. او د خورا سپېڅلي الهي ذات د ناپایه نعمتونو شکرانې چې د وطن خپلواکۍ، او مهربان پاچا افغانستان ته وربښلي[،] پر ځای کوي.

موږ د پاکۍ ځلوونکي چمن د څنډو په دې ننداره بسنه نه کوو او چمن ته ورګډېږو. ځکه هلته راته ځینې ملګري سترګې په لاره دي[.] په چمن کې د استوګنې دوې ښې سمبالې او سینګارې ودانۍ لیدل کېږي چې د شرکت له خوا د ګټې په موخه د

ketabton.com - The Digital Library

سیلانیانو له پاره جوړې او چمتو شوې دي. یوه یې ځانګړې او بله یې د عامو وګړو لـه پاره پرانستې ده. پر یوې څوکۍ کېنو. په ښو کالیو کې یو مودب خدمتګار[،] لیســته یعنې هلته د شته خوراک او مشروع څښاک فهرست راوړي او زموږ مخې ته یــې پــر مېز ږدي. که یوازې واوسو هر ډول خواړه او څښاک چې زړه مو غواړي په هغه ټـاکلې بیه چې د هر څیز له پاره په دې فهرست کې لیکل شوي[،] راغواړو. او که کوم ملګری مو رابللی وي[،] د هغه د خوښې خواړه او څښاک هم راغواړو [او] په پوره خوشــحالۍ په غړېدو او د غم او خپګان په لیرې کېدو پیل کوو. که د خپلې ناستې له دې ښایسته ځایه شاوخوا ته نظر واچوو. د چمن هر لوری د رندۍ په ښادیو او خوښــیو کــې ډوب مومو. یوې خواته یوه کړۍ وینو چې د (حبیبیې ښوونځي) زده کوونکي پــه کــې پــه خورا خوشحالۍ د (کرېکټ) په لوبه بوخت دي[.] پر یوه بله خوا- یعنــې د ځــانګړې ودانۍ لور ته ستر شهزادګان او ورســره ملګــري چــارواکي، او د ټولــواک ځــانګړي خدمتګاران د (تېنېس؟) لوبه کوي. پر یوه بـل لــوري د هېــواد د افغــاني هنــدوانو د ښوونځي زده کوونکي وینو چې په خورا شوق او خوښۍ د (فوټبال) په لوبه خوښي او خوشحالي کوي. پر یوه بل لوري د عسکري موزیک ډله د ملي وطني نغمو پــه تــرنم زړونو ته ښادۍ ښښي. بل لور ته ماهر داربازان په خپلو ماهرو او چابکو خوځښــتونو د لیدونکو زړونه په خوښیو کېباسي. اعلیحضرت ټولواک ذات هره ورځ حضوري چمــن ته تشریف وړي، او په خپل سپېڅلي دیدار د خپلو شــاهانه اتبــاعو او وګــړو زړونــه خړوبوي.

اوس لږ ځیر نظر اچوو. وګورو چې یو کوچنی محدود شرکت څه کوډې کولی شي[ـــ] څومره شوق[،] څومره ولولې، څومره ښادۍ څــومره خوښــۍ! حــال دا چــې ورســره جوخت[،] شرکت پخپله هم ګته تر لاسه کوي. څرنګه چې د مــدنیت پــالنې دا ټــول پرمختګونه زړونو ته د رانژدې اعلیحضرت ټولواک (سراج الملة والــدین) د مهربــانې پاملنې له برکته زموږ په سپېڅلي هېواد کې رامنځ ته کېږي[،] واجبه ده چې د دوی د همایوني عمر او بخت د اوږدېدو او د برم او پرتم د ډېرېدو دوعا یې د زړه له کــومې د متعال څښتن دربار ته وړاندې کړو.

[څرنګه چې ددې لیکنې یوه برخه تصویري ده، نو یوه نسخه یې د تصویري ریوټونو برخې ته کاپي شوه]

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي لنډیز

په دې ورځو کې چې کله د ورځپاڼو له مخونو د اروپا سیاست تـه نظـر وشـي[،] پـه دولتونو کې یوعجیبه خوځښت او هڅې لیدل کېږي[.] غالباً د ایټالویانو په وړانـدې د عثمانیانو درېدنې او ټینګار به ترڅه ځایه دولتونه وېرولي وي! البته چـې بایـد ویـې وېروي: ځکه کوم تصور چې یې د عثماني اسلامي ملکونو د لاندې کولـو د تجربـې د آسانوالي او ګرانوالي په اړه درلود[،] له ځینو ستونزو سره مخامخ شو چې پایلې یـې [دهغې] ګرانوالی برسېره کړ.

هو که د انصاف په سترګه وګورو ښکاره به شي چې دا د لوېدیځ طرابلس جګړه داسې یوه جګړه نه ده چې دولتونه په اوږدو سوچو کېنباسي. یوه ډله پوځي سرتېري د دفاع له ښو وسلو پرته، او د عربو یو لغړ او بې وسایلو ټولګی نژدې دا یو کـال د یـوه سـتر اروپايي دولت په وړانـدې چـې هـر ډول پـوځي چمتـووالی او لـوی لرواتڼـي کـلا ویجاړوونکي سمندري توپونه او اور شیندي متراليوزونه، او بم غورځوونکې الوتکې او زغره والې بېړۍ او سره و سپين ورسره دي[،]داسـې ټینګـار او کلکـوالي او هـومره غیرت او زړورتیا کوي چې یوازې یې اروپا نه چې ټوله نړۍ ګوته پر غاښ کړې ده. نـو ځکه یې د خپلو کارونو د سمون په برخه کې سوچونه [پیل کړي*] لکـه درې ګـوني اتحاد چې د ادریاتیک سمندرګي په ټاپوګانو، او دوه ګونې ټلـوالې چـې د انګریـز او فرانسې دولتونه دي[،] له بلـه لـوري پـه سـپين سـمندرګي کـې پـه ارزښـتناک چمتووالي[؟*] او سترو اقداماتو پیل کړی دی.

په اروپا کې دا اندېښنې او د چمتووالي پيلېدل لسو [دوو*] څيزونو رامنځته کړېدي: یو د اسلامي هېوادو د خوندورې مړۍ د تېرولو تمه او حرص[،] بـل ورسـره جوخـت ددغې ګټورې مړۍ پر سر خپلمنځي رخه او سیالي.

اوستریا، ایټالیا، المانیا- یعنې جرمن چې د درې ګوني اتحاد غړي دي[،] د سیاست په شطرنج لوبه کې خپل یو آس بې سره ځغستا ته خوشـې کـړی[،] د خپلـې ملګـرې

ketabton.com - The Digital Library

اوستریا د وزیر د مخته کولو په وړاندې یې چې د بوسنیا او هرسک [هېرڅوګووینیا*] دوه رُخونه یې وخوړل[،] زموږ له دیني ورونو عثمانیانو څخه یې د لوېدیځ طرابلس ځینې څنډې او د سپین سمندرګي ځینې ټاپوګان لاندې کړل. د اتحاد بل ملګري یې یو بل پراخ لرلیدونکی چال سنجولی دی. خو په ترسره کېدو کې یې مخې ته یو بل خطرناک سیال ولاړ دی چې تر هغو یې له ده سره سپینه کړې نه وي[،] خپل دغه چال لوبولی نه شي چې دا سیال یې هم انګرېز دولت دی[.] دې سیال د خپل چلباز سیال د خوځښتونو د مخنیوي له پاره له فرانسې سره چې ازلي غلیم یې و[،] لاس یو کړی [او] د راتلونکو پېښو په تمه په سپین سمندرګي کې یو لوی هیبتناک سمندري ځواک راټولوي.

څرنګه چې درې ګونی اتحاد له دریو بشپړو قوتونو یعنې آس، رُخ او وزیر نه جوړ و[،] تر هغو چې عثماني دولت خپل پاچا کلا ته ننه ایسته[،] لومړي رُخ ترې د بوسنیا او هرسک دوه پیاده ګان ووهل داسې یو کېشت یې ورکړ چې د کلا جوړولو ته یې وخت ونه موند [او] د بویکوتاژو [؟*] په چالونو او د لږ بدل په اخیستلو یې د هغه خطرناک کېشت مخه ونیوله.

او بیا چې یې تر څو غوښتل په میدان کې خپلې دانې یو څه سمې کړي[،] لیونی غاښ لګوونکی څنګلي سرکش اس د وزیر او رُخ په زور په ځغستا شو [او] د لوېدیځ طرابلس او بنغازي او درنې دوه درې خورا مهم پیاده ګان یې ووهل. خو چې هلته یې ځینې داسې قوتونه چې په شمېر کې یې راوستي نه وو ولیدل[،] له بې غیرتې سرتیټی پرته یې نور څه منګولو ته ورنغلل سرسام په سپین سمندرګي کې د لغتو په غورځولو او د خولې په لګولو ورګډ شو[.] او دا منډې او ترپکې یې د وزیر یعنې جرمن په زور وې. خو وزیر پخپله د شپږو دروازو په یوه خونه کې ایسار شوی چې خپل سمندري ځواک له یوې خوا هم سپین سمندرګي ته ایستلی نه شي. مګر دا چې پر بالتیک سمندرګي، او شمالي سمندرګي او مانش [انګرېزان یې «انګلېش چنل یعنې انګرېز کانال» بولي. دا د سمندري اوبو هغه ټوټه ده چې برتانیا له فرانسې جلا کوي*] تېر شي د جبل الطارق له لارې سپین سمندرګي ته ننه وځي چې په دې کې به هم څومره ډېر سرونه ورژېږي. هغه لار به چې د فرانسې او انګرېز ملکونو له منځه

ketabton.com - The Digital Library

تېر بېږي څنګه وهي؟ مګر دا چې د درې ګوني اتحاد سـمندري ځـواک د دوه ګـوني ايتلاف له سمندري ځواک ډېر او برلاسی شي.
له دې سره جوخت پخپله په درې ګوني اتحاد کې هم ځينې فرعي توپيرونـه ليـدل کېږي چې سړی حيرانوي. د ساري په ډول کله اورو چې يوه ايټالوي جنرال له درد او جوشه ډکه وينا کړې او وايي: «چې تر کومه به زموږ هغه ځمکې چې اوستريا نيولې د هغې په لاس کې وي[؟] پر موږ فرض ده چې دغه ځمکې چې ښکاره زمـوږ حـق دی ددغو غاصبانو له لاسه وباسو»[.] دا وينا پر اوستريا دومره اغېز کوي چې هماغه شېبه د پولو په ټينګولو او د عسکرو په لېږلو پيل کوي. مساله نازکه بڼه غوره کوي. جنـرال له دندې ګوښه کېږي. پر لانجې خاورې اوړي. اوستريا د بوسنيا او هرسک په مسـاله کې روسيه تېرباسي او د (سلاو) توکمو حقونه تر پښو لانـدې کـوي. روس وروسـته پوهېږي چې تېرايستل شوی دی. د چل په لټه وځي. خو دا خبره به هم وکړو چـې د روس يواځينی چال په اروپا کې نه چې په آسيا کې دی[،] کله چې خپل سيالان هلته بوخت ويني[،] شېبه په شېبه د خپل پلار د وصيت پر پلي کېدا بوختېږي نو وګـورو چې څه به کېږي!...

ketabton.com - The Digital Library



# په حضوري چمن کې د اورلوبې ننداره

په خپله تېره ګڼه کې مو د (ملي یووالي جشن) د مراسمو پــه اړه معلومــات وړانــدې کړي وو. خو څرنګه چې دا پېښه زموږ د ورځپاڼې تر چمتو کېدو وروسته شوې وه[،] د ځای د نشتوالي له امله د اور لوبې پر نندارې چې د یکشنبې پر شپه د رجب المرجب پر ۲۱ تر سره شوه [،] ونه شوای غږېدلی. نو ځکه اړینه وبلل شوه چې د هغې ګټــورې شپې حال هم تر څه ځایه خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړو:

«چې خبره د ملګرې په هر څه ده، ډېره ښه ده» هو! د (ملي یــووالي) ټکــو د یــادولو خاطره د سړي پر حواسو د شوق او مینې داسې لمبه نه پورې کوي چې سړی دې یې له بیا یادولو ژبه راوګرځوي!

دا سپېڅلی جشن هرکال یوه ورځ او څلور شپې روان وي. لومړۍ ورځ یــې هماغــه د دربار او د ټول ملت د منلو بریالۍ ورځ ده چې په خپله تېره ګڼه کــې پــرې وغږېــدو. شپه یې او دوه راوروسته شپې یې هماغه وې چې یادې شــوې. اوس ددغــه مبــارک جشن چې موږ د افغانستان وګړي یې ډېر سپېڅلی بولو[،] د وروستۍ شپې یــو څــه حال راوړو:

د (ملي یووالي) د خوشحالونکي جشن دا څلور شپې که وویشل شي[،] دوه شپې یې یعنې لومړۍ او څلورمه یې د حکومت له خوا د ولس په ویاړ، او دوه منځنۍ شپې یې د ولس له خوا د حکومت په ویاړ جشن جوړېږي. هر کال د سپېڅلي جشن دا څلورمــه شپه د رڼاوو او د ډول وړانګینو اورلوبو په نندارې راټوله وي چې په تېــرو کلونــو کې د خوښیو د شپنۍ ناستې مجلس [د ارګ*] په شــمالي بــرج کــې جوړېــده، او د اورلوبو له پاره شمالي برج ته څېرمه د مبارک ارګ بڼ بېل شوی و. په سږني نېکمرغه کال کې زموږ مهربان ټولواک اعلیحضرت ذات د اورلوبو له پــاره ښایســته حضــوري چمن بېل کړ چې دا شاهانه فکر پر دوو بنسټونو ولاړ و: یو دا چې وګړي په یوه پراخه

ketabton.com - The Digital Library

سیمه کې د اورلوبې له ننداري ګټه واخلي[،] بل دا چې ددې څو وروستیو ورځو سخته تودوخه چې زموږ پر ګران ښار راغلې د خوښیو ددغه چمن په پراخه ساحه کې لږه واوري او راتیټه شي. ورسره جوخت دمازیګرني چای څښلو د سوداګریز شرکت ګټه هم په کې راځي.

د هغو خبرپاڼو له مخې چې د همایوني اعلیحضرت د حضور د جناب ملکي ایشیک آقاسي له خوا ددغې شپې په مجلس کې د ګډون له پاره د حضور د دربار پر ټولو غړو ویشل شوې وې[،] د پرتمین جشني د محفل بلل شوي آزاد او مختار پر ښبودل شوي وو چې له دوو لورو ورشي. هغوی چې د مازیګر پر څلورنیمو بجو د مازیګرنۍ چای څښنې شرکت ودانۍ ته په رسمي کالیو کې فراکیت[؟*] وموږمي[،] هم به د لوبو ننداري او هم به چکر ووهي او بیا به د ماښام پر اوو بجو چې د اورلوبو د بلولو پیل دی[،] د اورلوبو د ننداري محفل ته ورسېږي. هغو کسانو ته چې مازیګر مهال راځي[،] د شرکت له خوا چای او خواړه او مېوه چمتو کېږي چې دوی یې پېري او خوري. او هغوی چې پر اوو بجو د اورلوبې د ننداري محفل ته رسېږي او د ننداري له پای ته رسېدو وروسته په عمومي ډول د اعلیحضرت په شاهانه ملګرتیا هغه جشني مجلس ته چې په سپېڅلي ارګ کې په خورا ښکلا او سمبالښت چمتو شوی ورځي[،] له احسانونو ډک ټولواک پر رنګین دسترخوان هر ډول خواړه او خوندور پاک مشروع څښاک [کوي] او د ناپایه شکر مړۍ ترې پورته کوي.

په دې ډول نو رابلل شوي د اورلوبې د ننداري محفل ته په ورتګ کې آزاد وو[،] له څلورنیمو بجو یې په ورتلو او ټولېدو پیل کړی و. په خپله تېره ګڼه کې مو د حضوري چمن څرنګوالی بیان او د مازیګرنۍ [د چمتو کوونکي] شرکت او هلته د کېدونکو لوبو حال درکړی و چې دلته یې د بیاځلي راوړو اړتیا نه وینو. ماښام مهال لوړ دربار ته ټول بلل شوي د همایوني اعلیحضرت مجلس ته حاضر شول. او د ښار او د شپږ کروهي د شاوخوا زرګونو اوسېدونکو د ښایسته چمن مخ پوښلی و.

شاوخوا پر اته نیمو بجو د اورلوبو بلول پیل شول. ډول ډول او عجیبې او نالیدلې اورلوبې ولګول شوې [او] بشپړه خوښي او خوشحالي ترې تر لاسه شوه.

ketabton.com - The Digital Library

شاوخوا پر لسو بجو اعليحضرت همايوني ذات د موټر په سپرلۍ د ارګ پر لور تشريف يووړ [او] هغه پرتمين او خورا لوړ مجلس يې چې د (صُفه ٔ هشت رُخ) [اتــه مخيــزې چوترې*] په نامه يوه ځای کې جوړ شوی په خپل بختور تشريف وياړلی او ســرلوړی کړ. دغه مجلس ته بلل شوي کسان ورو ورو راټوليدل، غونډې، خبرې اترې او خوښۍ پيل شوې[،] ميوې، خوږې، چايونه، خواږه د پاچايي نعمــت لــه رنګــين دســترخوانه وړاندې کېدل او وړيا خوړل کېدل. ددې شاهانه محفل د څراغونو رڼاوو ته سترګې ور اوښتې او زړونه يې خوشحالول. محفل تر دريو بجو په خوښيو او خوشحاليو سره اوږد شو[،] وروسته د تلو اجازه وشوه[.] له خوښيو د ډک (ملي يووالي) جشــن وروســتۍ شپه بشپړه شوه. د خپل يوازيني هستوونکي له دربار نــه غوښــتنه لــرو چــې دا لــه خوښيو ډک سپېڅلی جشن دې بې شماره ډېر کلونه زموږ د عادل ټولواک په روغتيا سره پر ځای او ټينګ پاتې وي[.] آمين

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي لنډیز

سبحان الله! د ژوندانه دا جنګي جدل- یعنې د پایښت [بقا*] تنازع [مبارزه*]- بشریت ته لکه یو لوی غم چې وي! نه یوازې بشریت ؛ چې ټول طبیعي عالم د بقا د تنازع له پاره په دې مبارزه کې پر وژنو او جګړو اخته او جګړو او مبارزو ته چمتو وینو!

ځمکني داړونکي ژوي، هوايي ښکاري مارغان[،] سمندري خوړونکي نهنګان له هوسیو او کوترو، او کبانو سره له پلرونو څخه په میراث پاته څه کینه، او څه سيالي، او څه بېلتون لري، او د ځمکې پر میراث یا بل څه یې ترمنځ کومه دعوه رامنځته شوې چې د پیدایښت له پیله تر دا اوسه یو بل ښکاري، داړي او خوري؟

نه نه!... نه یې ترمنځ کینه شته او نه دعوه! بلکې دا (د ژوندانه د بقا) یوه مبارزه ده او بس. داسې موږ لېوه په ونه وینئ چې پر پسه وروځغلي، داسې باښه به چې مړی ورکړ شوي وي ونه ومومئ چې پر مرز [کَرَکٌ] وزرې خپرې کړي. داسې موږ سینګړاوو [سګ ماهي*] به ونه وینئ چې پر نورو کبانو خوله پرانیزي.

هغه څاروي چې ښکار نه کړي هم معصوم نه بلل کېږي. ځینې یې واښه او نورې نباتي بنې چې یو ډول ژوندون لري، او زرګونه ماشي او حشرې وربانديې ناستې وي خوري، مرغۍ، کوترې، او نور هم چینجیان، او ژوندۍ حشرې او هګۍ چې ژوند ترې زېږېدلی شي له ستوني تېروي، لوی کبان په هر حال له ځانه پر وړو کبانو ژوند تېروي[،] نو ځکه دا د ژوندیو موجوداتو په نړۍ کې یوه ستره اړینه جګړه بلل کېږي چې په طبیعي کایناتو کې د حضرت احدیت د ازلي لم یزلي حکمت له مخې هم د مخلوقاتو د ژوندون او ورسره جوخت یې د فنا او مړینې له پاره یو نه بدلېدونکی قانون ټاکلی دی.

موږ د خپلې ورځپاڼې په ۱۹ ګڼه کې د (جګړې د اړینوالي) تر نامه لاندې یوه ځانګړې مقاله لیکلې وه. دلته تر خپل (سیاسي لنډیز) لاندې دغه اړتیا د (بقا د تنازع) له پلوه ارزوو:

د وربښمو چینجی به مو لیدلی وي. وړې بې روحه هګۍ په یوه ځانګړې تودوخه ساه مومي او خوړل پیلوي. چې څومره لویېږي هومره ډېر خوړل کوي، او چې څومره

ketabton.com - The Digital Library

خوري هومره ډېر ورېښم جوړوي او پر ځان يې په راګرځولو نوي حجمونه چمتو کوي، او ورو ورو وزرې کوي او هواته الوزي چې دا يې د ژوندانه وروستۍ وده، او د عمر د زوال پيل دی.

په دې ډول نو اروپاييانو ته اروپا د ورېښمو چينجي له غوزې نه هم تنګه شوې او تر فشار لاندې راغلې ده. آسيا [او؟*] افريقا يې له اور او لوګي ډکې ګډوډۍ اخته کړې دي. د اتلانتيک سمندر له څنډو تر فارس خليجه يې پر ټوله اسلامي خاوره يوه مرګونې تبه راوستې ده. د نژدې لوېديځ هېوادونه او د سپين سمندرګي د غاړې ټول افريقايي هېوادونه، او ددغه سمندرګي ټول ټاپو ګان، او بالقانونه او ايلی روم او د سره سمندرګي ټولې يمنۍ څنډې، او د عمان د سمندرګي عربي څنډې تر فارس خليجه پورې د اروپاييانو د بقا تنازع د حرص او تمې په لمبو ښکېل شوي دي.

د (بقا د تنازع) يا د شخصي ګټو تر لاسه کول يوه پرده ده چې سترګې يې له هرڅه پټوي، او ټولې انساني ښېګڼې يې د خورا متمدنو دولتو په نظر کې لـه منځـه وړي او ورّکوي.

په خيال کې در ونه ګرځي چې د اروپايي دولتونو تړونونه د زړه له کومې او رېښتونې دي. د هر تړون تر شا يو نفاق، او د هر راښکون او محبت په منځ کې يو څَوّ [کمين] او سيالي نغښتې وي. خو که له دې سره سره ټولې دغه کينې او سيالۍ څنګ ته نه کړي او خپل سياسي بېلتون ته د سياسي يووالي جامې وانه غوندي[،] پـه خپلـو مـړۍ تښتونو به بريالي نه شي چې دا پخپله يوه نـوې سـيالي او خـورا ډېـره نـوره کينـه رامنځته کوي. او د ګټو پر سر دغه سيالي بيا پخپلـه د بېلتـون تـر پـردې لانـدې د دوستۍ تړونونه رامنځته کوي، او دغه بېلتون زېږوونکي تړونونه بيا بل ډول حـرص او تمه راپاروي چې د بقا د تنازع ددې اخ و ډب نتيجه په هر حـال يـوه ورځ رېښـتونې مرګونې جګړې ته وتلی شي.

انګرېز ايټاليا ته خورا نعمتونه او ښېګڼې وځلول چې لـه درې ګـوني اتحـاده يـې را جلاکړي[.] تر دې به بل نعمت څه وي چې پر سره سمندرګي يې چـې د هنـد دروازه بلل کېږي واکمن کړي. په مصر کې يې د لوړ عثماني دولت په تړاو د بېطرفۍ تګـلاره بشپړه ټينګه کړه، خو د ايټاليا له دولت سره يې په ډېرو برخو کې د پټو سترګو چلند وکړ. او کله چې يې وپوښت ولې؟ ويې ويل: هغې هم د (ترانسوال) په جګړه کـې زمـا لاسنيوی کړی و!

ketabton.com - The Digital Library

ددې ټولو چلونو او رولونو يواځينى استاد (جرمن) دى چې تر ټولو ډېر (د بقا تنــازع) ته اړ شوى دى. ځكه چې په خورا يوه تنګ ځاى كې تر فشار لاندې ايسار دى. د بهر وتلو ټولو لارې ورته د خپلو سيالانو په منګولو كې ايسي. اوس مهال پر وچه لــه هــر ډول ځواک سره [د مخامخېدو*] وس لري، خو په اصل كې بويه چې په سمندري زور كې هم پر خپلو سيالانو برلاسى شي. له همدې امله ده چې شــپه او ورځ د هغــه پــه پياوړتيا بوخت دى، او ورسره جوخت د سياسي تړونو تر منځ نوې نوې سياســي بــې اتفاقى اچوي.

فرانسه د پخوانيو خطرناكو او خونړيو جګړو له كينو او بُغضونو سره ســره چــې اوړده كلونه روان وو او د فرانسې د بدمرغيو يواځينى سبب انګرېزان شول او د تاريخ پاڼې ددغو پېښو د غچ شاهدې دي[،] بيا يې هم دغه كينې او بُغضونه د سياسي نفــاق پــر بنسټ درولي [او] اوس يې د سياسي اتحاد په جامو كې راځلوي.

درې ګونى اتفاق چې په حقيقت كې يې بايد (درې ګونى نفاق[)] وبولو: د خپلمنځــي كينې او بُغض او سياليو ترخنګ د بقا په تنازع يا د مادي ګټو په لاسته وروړو كې پــر داسې ځنځيرونو سره نښتي دي چې د مړى تښتونې حرص يې جلا كېدل لــه دغــې ډلې نه د يوه په وركېدو پورې تړلي دي. هو كه كه ايټاليــا ماتــه او نســكوره شــوه[،] جرمن او اوستريا سملاسي د ايټاليا ملكونه په خپلو كې سره ويشي او نوم يې د نــړى له نقشې وړَكَوي. او چې جرمن يو ځل پر ايټالوي ځمكــو ســپين ســمندرګي تــه لار ومومي. دا به يې د بري پر ډګر او د بقا په تنازع كې د برلاسى لــومړنى ســوبه وي. او لنډه دا چې كه ښه وروكتل شي ټول دولتونه به د (بقا په خورا خطرناكې تنازع) كــې دوه لاسي ورګد ومومو چې وګورو كوم يې د هابل په تېرايستنې سره غوړه او خــوړه مړى تښتولى شي.

ketabton.com - The Digital Library



# د برکتونو روژه

د روژې له برکتونو ډکه سپېڅلې میاشت چې د نړۍ او په هغه کې د ټولــو موجوداتــو خورا ستر هستوونکي ډېر سپېڅلي ذات په کې د عظیم الشاٴن قرآن په نازلولو یــو درنښت او سپېڅلتیا ورکړې ده، په ډېرو خوشحالیو او له ټولو انتظارونو سره د خپــل راتګ پېرزو راوکړه.

روژه راغله د سلطان دېره توده ده

خواره بس کړه چې راغلې مائده ده

د هغو ښېګڼو او خوندونو انځورول چې د صیام له مغفرتونو ډکه میاشت یې لري[،] که څه هم ددې خوار لیکونکي له مات وزمه قلمه په ځلونو پورته دي[،] خو څرنګه چــې زموږ دا دوه ویشتمه ګڼه د روژې له مبارکې میاشتې سره هم مهالــه شــوې ده[،] نــو اړینه ده چې د خپل عاجز قلم تر وسه د ښېګڼو ددې میاشتې په اړه یو شمېر ادبــي او اخلاقي آثار وپلټو او ولیکو چې زموږ د ورځپاڼې لومړني مخونه ویاړ او درنښت وومي. څرګنده دې وي چې روژه نیول- یعنې له یوه ټاکلي مهاله تر بل ټاکلي مهالــه چــې د دین لارښوونکو ښودلي د هېڅ شي نه خوړل او نه څښل او نه څکول- پر ټول ژغورل شوي محمدیه صلی الله علیه وسلم امت د قرآن کریم پر درانده آیت چې په (بقــره) سوره کې نازل شوی (فرض) ګرځېدلي چې ددې امت لــه وګــړو څخــه هېڅــوک لــه ناروغانو او مساپرو او نورو چې بیا یې هم بریدونه د دین لارښوونکو ټاکلي[،] له روژه نیونې څخه وتلي نه بلل کېږي. ددغه درانده قرآني آیت مانا او پایله داسې ده:

«ای د ایمان څښتنانو! روژه، لکه هغسې چې تر تاسې دمخه امتونو فرض شــوې وه[،] پر تاسې هم فرض شوه. څو مو نفسونه په هغې له ګناهونو وساتل شئ.»

سره له دې چې د روژې پر فرضیت چې څه مهال رافرض شوه؟ توپیرونــه شــته. خــو پردې یوه ټکي د ټولو نظر یو دی چې د (قبلې تر بدلېدو) وروســته د هغــې د فــرض

ketabton.com - The Digital Library

کېدو کریم آیت د نزول ویاړ موندلی دی. د پورتني درانده آیت له سپېڅلې پایلې نــه په ډاګه برېښي چې د محمدي صلی الله علیه وآله وسلم تر سپېڅلي دین د مخه پــه نورو مخکنیو دینو کې هم روژه فرض وه[،] آن علما په دې کې د نظر یووالی لري چې د حضرت ابوالبشر آدم صفی الله علیه السلام په شریعت کې هم روژه فرض وه.

مطلق یوه سپېڅلي حضرت ذات جل و علی پر هر مهال او هر زمان د نړۍ د ولسونو د ټینګښت او پایښت له پاره د هغه مهال او هغه پېر د غوښــتنو لــه مخــې د همــدغو ولسونو اوامتونو د ژوندوني اړتیاوو اندول آسماني دینونه ټاکلي او دا هــم د حضــرت الهي د احکامو په غوښتنو کې راځي چې انسان هومره چې ګام په ګام د پرمختګ او بشپړتابه پر خوا تللی او وار په وار یې نېکه لاره او روزنه غوره کــړې، ورســره ســم د بشري اړتیاوو یوه برخه له منځه تللې پر ځای یې نورې اړتیاوې رامنځتــه شــوې دي چې د دینونو نوی والی هم پر همدې بنسټ د لوړ سبحاني حکمت له مخې اړین شوی دی. نو په دې ډول د آدم علیه السلام له پیدایښته د پرتمین الهي اســتازي حضــرت محمد آخرزمان صلی الله تعالی علیه وسلم تر پیغمبر کېدو پورې د بشر بېلابېلو ډلــو ته د حضرت باري تعالی جل و علی له لوري ګڼ استازي او د لوړ درنښــت شــریعتونه راستول شوي دي. او په دې ډول د محمدي ځلا صلی اله علیــه وســلم تــر بختــورې راڅرګندېدنې پورې انسان د هرډول لوړېدنې او پوهنې بشــپړ وس او وړتیــا چــې د خبرو ځای په کې نه شته[،] موندلی، او خپلې لومړنۍ ښوونې او روزنې یــې بشــپړې کړې او د بشپړتابه ددغې ځلا چې په برېښېدو یې تر ابده بلې ځلا ته اړتیــا پاتــه نــه شوه[،] د راڅرګندېدو وړ وګرځېد. نو دلته و چې پر دغه بختور مهال د نبوت د هغــه سالار او د رسالت د پلاز د هغه ښایست[،] د رسولانو د ویاړ خاتم الانبیا علیه افضــل التحایا د پېغمبر کېدو غړ خپور شوی چې دده غوره سپېڅلی شــریعت د شــریعتونو بشپړوونکی، او په کې راغلي حکمونه یې د انسانانو د هــر ډول اوســنیو، او تېــرو، او راتلونکو اړتیاوو او نېکمرغیو منونکی او ژمندوی دی. او څرنګه چې د محمدی صــلی الله علیه وسلم د رانه شریعت بنسټ پر بشري طبیعت او انساني فطــرت ولاړ دی نــو ځکه دا سپېڅلی شریعت او دا نبغ واټ چې پر پېیلتابه یې فخر او ویاړ کوو لــه هــېڅ ډول شک او شبهې پرته د قیامت تر ورځې تینګ او پر ځای دی، او بل شــریعت تــه

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ اړتيا نه شته. خو څرنګه چې نور شريعتونه د زمان پر غوښــتنو ولاړ وو[،] نــوي کېدل يې اړين راختل.
دلته ده چې د روژې د فرض والي اساس او بنسټ هم بشري طبيعت غوره کــړی دی. څکه که بنيادم کال دولس مياشتې پر همدا يوه ډول او يوه بڼه په خوړلو او څښــلو او جسمي غوښتنو بوخت شي[،] څناور طبيعت يې مستېرې [او] د نفساني خونــدونو او شهوتونو لپاره يې غوښتنې او هڅې لا ډېرېږي. او پر بدن سترېا او لتي راڅي[،] ناوړه اغېز يې ذهني څواک هم څپي او د ماناوو پوهېدو او رېښتياوو تــه د رســېدو لار نــه ورکوي او په دې توګه انسانيت چې په خپله بڼه کې اصل بلل کېږي[،] د پرښته والــي له لوړې ځوکې د څناورتوب ژورې کندې ته لوېږي. لکه هغسې چې جناب (ســعدي) چې د عارفانو په مخکښانو کې راڅي[،] فرمايي:
**شعر**

تش ته څکه له حکمت يې
چې په نس تر پزې ډک يې

له هغو هوښيارانو چې د اسلام په نعمت وياړلي او د ايمان پر ســپېڅلی بــاور درانــده شوي او په نعمت پالل شوي[،] پټه نه ده چې روژه د عبادتونو سرلارې ده. پر روحاني ګټو سربېره چې لري يې، جسماني ښېګڼې يې هم خورا ډېرې دي. يــو عــرب شــاعر وايي:
تَنَقَّل فَلَذاتِ الهوا فی التَنَقَلُ
نو دا څومره خوند او نعمت دی چې سړی بشپړې دولس مياشتې په پوره آزادۍ سره سهار، غرمه، مازيګر، ماښام خوري او څښي [او*] نابېره يوه مياشت راشي چې په هر ډول ورځ کې بېخي نه څه خوري او نه څه څښي. خو ورسره جوخت پر هر ډول شپه د خوړلو آزادي لري. دا د ژوندانه تَنَقُّل [اوښتون*] دی چې خورا خوندونه لري.
د حضرت نبوي صلی الله عليه وسلم په سپېڅلي حديث کې راغلي چې: «روژه يوازې د څښتن د خوښۍ له پاره نيول کېږي. څکه هغوی چــې روژه نيســي بشــپړ د ځــان ښودنې له ککړتيا پاک وي.» دا هم جوته ده چې تر ټولو غوره عبادت له ځان ښــودنې

ketabton.com - The Digital Library

پرته عبادت دی او څرنګه چې په رزوژه کي ځان ښودنه نه شته نو ځکه په عبــادتونو کې تر ټولو غوره ده.

په دې ډول نو د پېرزوګانو رمضان له خپلو ټولو لوړو نېکمرغیو او پېرزوینو سره مــوږ ته د راتګ ویاړ رابښلی دی. (سراج الاخبار افغانیه) د زړه له کومې خپلو ډېرو ګرانــو لوستونکو او درنو هېواوالو ته مبارکي وايي او د خپل ویاړل شوي پر رېښــتیاوو خبــر ستر سپېڅلي متبوع دینپال اعلیحضرت ټولواک د عمر او بخت د اوږدېدو او د روغتیا او پرتم او برم د ډېرېدو په بې ریا دوعا دا مقاله پای ته رسوي.

ketabton.com - The Digital Library



# عظیم الشان قرآن

**او د هغه له پاره د اعلیحضرت تولواک چوپړونه**

**د محمدي صلی الله علیه وسلم د ژغورل شوي امت غړي تر ټولو سـپېڅلي حضـرت واجب الوجود ذات جل و علی پر داسې ناپایه درنښت او بخت هسک اوسرلوړي کړي چې د نړۍ ټول امتونه یې په رخه او حسد کې دي. په شریعتونو کې یو شریعت هم د راټه محمدي صلی الله علیه وسلم شریعت هومره د رېښتیاوو، او نیـاو [عـدالت*]، او آزادۍ، او برابرۍ لارښوونه نه ده کړې. د اسلام سپېڅلي دین د راڅرګندېدو له هماغه پیله د نړۍ نیونې او له ټولې نړۍ نه د یوه دولت، یوه حکومت او یوه غوره مدني فاضل ستر ملت د جوړونې له وړتیا سره راغلی دی او که د عظیم الشاٌن قرآن په ماناوو کې په ځیر لرلیدونکی نظر او د پوهې او پوهنې په زور څېړنه او پلټنه وشي[،] د ا مفهـوم په کې ښکاره او جوت او د بیان له اړتیا پرته راڅرګندېږي. او که چېرې ددې سپېڅلي الهي قانون حکمونه پر هغه د ایمان څښتنانو ګام پر ګام منلي او پلي کړي وای[،] هېڅ شک نه شته چې تر دې دېر پخوا دا غوره پایله راڅرګندېده. ځکه کریم قرآن حـق، نیاو، نېک اخلاق[،] وروړګلوي[او] برابري چاردود ټاکلي. او کینه او رخه او بُغض او بې کاري او بېخبري یې په غوځ ډول بنده کړې[،] اقدام، تشبث[،] زیار او کار یې لارښود او مشران ټاکلي او سستي[،] لټي، ځای پر ځای ناسته[او] غفلت یې بند کـړي[،] پـر درواغو، غیبت، [او] بدو یې لعنت ویلی[،] د ځیزونـو پـه پیدایښـت کـې څېړنـه او پلټنه[،] او له اغېز نه اغېزمن شوي ته لار ایستل[،] او له ګردو ځیزونو کار اخیستل[،] او ددغو کارېدنو شکر او ثنا ادا کول یې په واجبونو کې راوستي. توره او قلم یې د دین د اوچت الوت دوه ستر وزرونه ګڼلي [دي]. نو که دا عظیم الشاٌن قرآن له خپلو دې ټینګو سپېڅلو حکمونو سره نړۍ ښکېلوونکی نه وي[،] نور به کوم حقوق، کوم قانون او کوم دستور پر نړۍ د خپرېدو وي؟**

ketabton.com - The Digital Library

دا ټکی یوازې هماغه ستر سیاسي لاربنود موندلی و او بس چې په لویو هڅو یې پیــل کړی او خپل ولس ته یې یا د هغه د منلو او یا ورکېدو ارشاد کړی و. خو له دې خبر نه و چې دې ګوتڅنډېنو ددغې ټینګې سپېڅلې رسۍ پر نیوونکود هڅاندۍ له پاره خورا لږ اغېز هم ونه کړ او تر شونډېو لاندې یې موسکاوې وکړې. ځکه چې د عظیم الشاٌن قرآن د حکم له مخې یې د قیامت تر ورځې د هغه پر ټینګوالي ایمان راوړی دی.

که وغواړو چې د نړۍ او په هغې کې د شتو موجوداتو د حضرت پیــداکوونکي د ســتر قرآن ښېګنې او لوړتیاوې بیان کړو نو بویه چې پر ابد او ازل او پر ټولو ناپایه کاینــاتو وغږېږو چې دا هم له تصوره لوړه خبره ده. ځکه دا هرڅه د کتابونو ددې سترې مور پر لومړني مخ راغلي دي[،] نو ځکه دلته موږ پر همدومره یوې سریزې بسنه کــوو[او] د نیاومن او دینپالي ټولواک اعلیحضرت (سراج الملة والدین) د هغو لوړو هڅو یوه برخه چې ددې مبین کتاب د ساتندویې چوپړۍ په لړ کې یې کړې[،] د خبر بــدو لــه پــاره وړاندې کوو او په دې تړاو د هغه لیک متن چې د اطلاعاتو ادارې [وزارت*] لــه خــوا زموږ په عاجز نامه ادارې ته رارسېدلی[،] کټ مټ د خپلو خوښیو او ویاړ پر پاڼو راوړو. او د همدې لیک لوستل به ګرانو لوستونکو ته جوته کړي چې زموږ ســتر زړونــو تــه نژدې سپېڅلی دینپال مهربان ټولواک ذات په دې برخه کې څــومره د نــړۍ هــومره ارزښتناکې شاهانه هڅې کړې او لا کوي یې:

## د لیک متن

د سراج الاخبار ښاغلی وړ ستر دروند سر مدیر محمود بېګ خان لــه خبــرو د پــاک څښتن په خوندیتابه او ساتنه کې [او] د اسلام پر شتمنۍ دروند او سرلوړي اوسئ[.] د لوړ همایون ټولواک له پلرینو پېرزوینو څخه د اطلاعاتو ادارې له اړوندو چارو څخه یوه چې د بیت القرآت مدرسې دي- د ۱۲۲۳ [۱۳۳۰*؟] کال د رمضان المبارک پر ۲۸ نېټه د [هغوی*] د پېروزوینو له حضور نه د حضرت نایب السلطنه صــاحب پــه نامــه فرمان صادر شوی و- دا چې لوړ پرتمی ګران نبکمرغــه او د بختونــو څښــتن نایــب السلطنه سردار نصرالله خان چې څښتن دې یې وساتي[ــ*] خرنګه چې اعلیحضرت سراج الملة والدین پرله پسې د حضرت خاتم النبیــین د مبــین دیــن د پرمختیــا او ښېګنې په هڅه کې دی[،] نو ځکه زموږ لوړ سم بر ښښېدونکي نظر ددې غوښتنه وکړه

ketabton.com - The Digital Library

چې بويه د ټولواک په هڅو او هاند سره د افغانستان د خدای ورکړي دولت د خـاورې په ښارونو کې د حضرت الهي د کلام حافظان ډېر شي او ګټه يــې خـاص او عـام تـه ورسېږي[،] نو په دې حال کې سملاسي چې کوم څه موږ منظور کړي او اړيــن بللــي دادي چې مدرسې جوړې او پرانستل شي او پاخه او سم حافظان د حکومت لـه خـوا وګومارل شي او په هر ولايت کې د وګړو او ښوونکو او طالبانو شمېر روښانه او لګښت او تنخواه ټاکلې وي[.] سملاسي په پلازمېنه کابل کې څلور تنه ښوونکي حافظـان او څلوېښت تنه طالبان که بينا وي يا نا ليدونکي منظور شــول[،] تنخــواه او لګښــت او پالنه مو يې په لاندې ډول تجويز کړه چې د سلطنت له لوري پر مدرسې ولګېــږي او حافظ محمد حسن دې چې کله په کابل کې وي[،] يو ځل په اوونۍ کې دغې مدرسې ته د ارزونې له پاره ورشي. راته ګران [سردار نصرالله خان*] ته اوس په کار ده. چــې ډېر ژر ددغې چارې ولکه ډېر ژر په پورته بنه د امين الاطلاعات [د اطلاعاتو وزير؟*] لوړپرتمي صادق ناظر محمد صفر خان تر څارنې لاندې چې دغه ناظر د څلاند حضور [ټولواک*] له خوا ددغو مدرسو مسوول او پلټونکی ګومارل شوی[،] چمتــو کــړي او تاسې هم پرله پسې د مدرسې حال اخلئ او دغه ناظر ته لارښوونه شوې چې پــه دې اړه معلومات که د اطرافو وي او که د پلازمېنې په دوو دوو مياشــتو کــې حضــور تــه وړاندې کړي   همدومره

## د حافظانو د لګښتونو جدول

| | |
|---|---|
| د مدرسو منظوري لومړی ځل درې کاله[،] دويم ځل شپږ کاله له همايوني حضوره لارښوونه شوې چې په دې موده کې [ترې*] بشپړ حافظ جوړ شي[.] څومره نېکمرغه دی[هغوی چې*] بــری ليــک تــر لاســه کړي[.] هغه نغدې پيسې او جنس دې چې حافظانو ته ټاکل شوي کال پر کال له دولته تــر لاســه کــړي. همدومره | |
| هر طالب ته دې تر هغو چې په مدرسه کې لوست کوي ورکړ شي | |
| د سان کميس او تر کميسه لاندې جاکټ | ۳ جوړې |
| جوتي [؟*] | ۱ جوړه |
| منديل [نرى څادر؟*] | ۲ دانې |
| ماهوتي خولۍ | ۱ دانه |
| پسرلنۍ پنبه لرونکې چپن | ۱ دانه |

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| کابلی پوستین | ۱ دانه |
| د میوې له پاره نغدې پیسې | ۱۲ روپۍ |
| د شپې او ورځې خواړه لکه پلو او ښوروا او ډوډۍ او نور حواله دي | |
| د مدرسې فرش د اړتیا هومره لکه تغر او خاف[؟*] او توشک منظور دي | |
| د ژمي په دریو میاشتو کې شپږ خرواره سکاره د طالبانو د لګښت له پاره ورکول کېږي | |
| تېل او څراغ او ګوګړ او پنبه او کوزه او د اوبو مسین کټوری [جام*] ټول منظور دي | |
| د بسترو د جوړولو له پاره دوه تنه د شریف قرآن د حافظانو د چوپړ په موخه چې دولس تومانه تنخواه لري[،] مقرر دي | |
| څلورو ښوونکو ته د کال ۱۸ تومانه چې ۴۸ پاخه تومانه کېږي مقرر دي له خوړو سره | |
| دوو پخوونکو ته ۱۸ تومانه مقرر دي چې ددغو طالبانو خواړه ورپخوي | |
| د مدرسې د پاکولو له پاره خدمتګار د صفایۍ له دفتر نه مقرر دی | |
| آن چې پکی [په برنۍ اصطلاح پنکهی*] او جارو د دولت له خوا ټاکل شوي ورکول کېږي چې په ټولیز ډول د طالبانو خاطر ټول وي | |

د څښتن د سیوري حضرت اعلیحضرت د فرمان تر صادرېدو وروسته د حضرت نایب السلطنه صاحب د سپارښتنې له مخې سملاسي د حافظانو یوولس مدرسې په یوولسو ولایتونو کې منظور شوې[،] په دې ډول[:*] د جلال آباد ښار- د غزني ښار- د کندهار ښار- د فراه ښار- د پشت رود ښار- د هرات ښار- د میمنې ښار- د بلخ ښار- د بدخشان ښار- د خان آباد ښار- پلازمېنه کابل- په هره دغه مدرسه کې ښوونکي او د طالبانو خدمتګاران او لګښتونه او خوراک او کالي او نغدې پیسې او جنس [په*] یاده شوې [ښه*] منظور او مقرر او د لوړ همایون د فرمان له مخې اجرا شوي او دي[.] ددغو مدرسو دټاکنې موده د مهربان حضور له لوري نهه کاله غوره شوې[،] اوس یې پوره پنځه کاله تېر شوي او په دې موده کې یو سل او شپاړلس رسېدلي حافظان له دغو مدرسو نه د قرآن د حفظ له شتمنۍ او له نغدې تنخواه او جنس سره وتلي دي او که څښتن غوښتل ددې نېکمرغه سیچقان ئیل کال [له ترکي ژبې څخه د «موږک کال» په مانا*] تر پایه به نور دېرش حافظان هم بشپړ شي.

هغه کسان چې د حافظۍ لوستونه یې بشپړ کړي په دې ډول دي[:*]

## د ولایتونو او پلازمېنې د

ketabton.com - The Digital Library

## حافظانو د شمېر نوملړ

| | |
|---|---|
| د جلال آباد مدرسه د مشرقي د لوی حاکم ښاغلي سردار محمد عظیم خان تر پالنې لاندې | ۲ تنه |
| د غزني مدرسه د ملکي ډګروال ښاغلي امیر محمد خان تر پالنې لاندې | ۴ تنه |
| د کندهار مدرسه د نایب الحکومه او ملکي نایب سالار ښاغلي سردار محمد عثمان خان تر پالنې لاندې | ۱۳ تنه |
| د پشت رود مدرسه د میرزا علي جان باز تر پالنې [،] د حاکم محمد علي خان تر څارنې لاندې | ۱ تن |
| فراه د حاکم فتح الله خان تر پالنې [،] د حاکم عبدالرحمان خان تر څارنې لاندې | ۱ تن |
| هرات د ملکي جنرال نایب الحکومه ښاغلي محمد سرور خان تر پالنې لاندې | ۲۲ تنه |
| میمنه د حاکم ښاغلي عبدالرحیم خان تر پالنې لاندې | ۱۰ تنه |
| بلخ د نایب الحکومه او ملکي نایب سالار مرحوم سردار عبدالله تر پالنې لاندې او اوس د نایب الحکومه سردار عبدالوهاب خان تر څارنې لاندې | ۱۴ تنه |
| بدخشان د حاکم ښاغلي محمد اسحاق خان تر پالنې لاندې | ۱۰ تنه |
| خان آباد د حاکم ښاغلي محی الدین خان او مخکني دفتري[؟*] میرزا محمد اسلم تر څارنې لاندې | ۱ تن |
| پلازمېنه کابل د اطلاعاتو د ښاغلي امین [وزیر؟*] صاحب تر پالنې لاندې | ۳۸ تنه |
| د وګړو ټول شمېر | ۱۱۶ تنه |

څرنګه چې د شریف قرآن یادول ګران کار دی[،] په دې موده کې چې یو سل او شپاړلس حافظان راوتلي[،] ویل کېږي چې [دا*] د حضرت اعلیحضرت له برکتونو د ډک ذات د پاملرنې له امله چې هر کال یې د دولت له خوا د زرګونو روپیو لګښت منظور کړی[،] موخه یې د شریف قرآن د پوړیو لوړتیا او د حافظانو په ټېر کې دننه د رباني کلام ساتنه ده [چې ورسره*] د وطن بچیان د دین په لویه شتمنۍ سرلوړي کوي[،] پلار به هم پر خپل اصلي زوی دومره مهرباني ونه کړي[.] دا خبرې په دوعا پای ته رسوو چې ای څښتنه ژوندی دې وي د افغانستان ځوان او نېکمرغه پاچا او تل دې وي د افغانستان له سعادتونو او نېکمرغیو ډک دولت اللهم امین د ۱۳۳۰ کال د رجب المرجب میاشتې پر نهمه ولیکل شو[.]

د اطلاعاتو دفتر د چارواکي

میر محمد یوسف عرض

ketabton.com - The Digital Library



# د روژې د بختــورې میاشتې هرکلی او د عظیم الشان قرآن د ختم مراسم

د تېرې سه شنبې پر پنځو بجو چې د شعبان المعظم ۲۹ وه[،*] که د حضوري چمــن لور ته په چکر یا ننداړو وتلي وای[،*] د یوې خورا لوړې ســپېځلې پرتمینــې دینــي منظرې په لېدو به گوته پر غاښ پاتې واست. له تېرو دوه دریو ورځو په دغه خوښــې زېږوونکي چمن کې یو لږ چمتووالی او ارزښتناک سمبالښت لیــدل کېــدې. ددغــې ورځې پر پنځو بجو مو د چمن مخ تر عادي حالت ډېر ځلاند او پــرتمین او وړانگــین وموند. د دودیز مازیگرني کېږدی کوټ ترڅنگ یوه خورا پــرتمین ډېــره لویــه منــا [سایبان*] درول شوې چې دغه منا پر فرشونو او څوکیو او رنگینو دسترخوانو پسولل شوې وه، او پر ها بله خوا هم ډېرې ښې منظمې او غوره کېږدی په ښه ترتیــب درول شوې وې[،*] د چمن له مازیگرنی سیمې گرد سیمي دیوال تاو شوی پر هــر لــوري د برې طاق ته ورته مصنوعي دروازو چې پر گلنارو [سرو*] او سپینو ټوکرانــو ســینگار وې[،*] احاطې ته د ننه وتونکې لار کار ورکاوه. د غوره چمن په دې تاو شوې ســیمه کې د ملکي او پوځي څوکیو د خاوندانو او عالمانو، او اشــرافو او مخــورو پــه گــډون درندې څېرې چې ټول د فراک کېټ په یو رنگ او یو ډول رسمي کالیو کې وو[،*] لوړ رونق او غوره منظر جوړ کړی و. او په ولس کې چې ننداړې ته ورتــول شــوی و یــوه تلوسه او اندېښنه وه! چې دا به څه وي؟ څه به کېږي؟ ټولې پوښتنې او ځوابونه! اوس نو که موږ د یوه پلار او د هغه د کوچني زوی خبرو ته غوږ شو نو موضوع روښانېږي: زوی د کوچینوالي په پاکې مینې او بې باکی دې ټولو رسمونو او سینگارونو ته گــوري وایي:

- پلاره دا دومره تیاری، او جوش او شوق د څه له پاره دي؟

ketabton.com - The Digital Library

پلار- زویه! د اسلام پاچا د دولت له ټولو غړو او مخورو، او د رېښتيني ولس [لــه استازو*] سره د روژې د سپېڅلې مياشتې په تمه او هرکلي چــې د پاچايــانو د پاچا، او د کون او مکان د هستوونکي اطاعت دی[،*] دلته راټول شوي دي.
هو، هوا دې خبرو ددې چارو ځرنګوالی د نظر خاوندانو ته تر څه ځايه روښانه کړ.
خو دا ټوله ښکلا او سينګار، او دا ټول شوق او بې بــاکي، او دا ټــولې کېــږدی او شکّری، او دا ټولې رڼاوې او ځلاوې دداسې يوې بختورې مياشتې د هرکلــي لــه پاره دي چې زړه سواند ذوالجلال هستوونکی پر دې بختوره مياشت روژه نيونې ته د مسلمانانو پر لاربنوونه ستړې نېکمرغی او ګټــې وربښــي. د افغانســتان د مسلمانانو ستر دينپال او نياومن ټولواک خپل ټول دولتي شخصيتونه او هيوادني مخور او نېک باوره ولس او سرښندونکي سرتېري د حضرت رب العــزت ددغــې پرتميني لاربنوونې اطاعت ته په رسمي ډول رابولي!
تېرکال مو د سراج الاخبار افغانيه په لومړی ګڼه کې چې د خپرېدو لومړنی پيــل يې و[،*] د روژې د مبارکې مياشتې په لومړيو لسو ورځو کې د عظيم الشــاْن قرآن د ختم پر مراسمو معلومات وړاندې کړي وو. پر دې نېکمرغه کــال ســراج الاخبار افغانيه د خپل ستر سپېڅلي پاچا د اعليحضرت ذات پر روغتيــا زرځلــه شکر او ثنا وايي [او*] د خپلې دې ګڼې پاڼې چې ددې ګرانې ورځپاڼې د عمــر د لومړني کال وروستی ګڼه راځي بيا له ښېګڼو ددغو ډکو مراسمو پــر ځرنګــوالي ښايسته کوي:
زموږ ستر هوښيار او پر دين ټينګ پاچا اعليحضرت ذات پر خپلې دې پاچــايي بلنې او مېلمستيا د روژې د فرضوالي د حکمونو پــاکوالی او ســتروالی د افغــان دينپالي او پر احکامو بلد ولس سترګو ته ورځلوي. دا لوړه پاچــايي بلنــه خــورا فضايل او ښېګڼې لري. لومړی له خپلو ټولو شاهي اتباعو سره په ګډه پــه خــورا مينه او خوښی د الهي فرمان د منڼې هرکلی؛ بل له مغفرتونو د ډکــې روژ ې پــر لومړيو لسو ورځو د مسلمانانو له يوې لويې ډلې سره په ګډه د حضرت خيرالانام عليه افضل الصلواه والسلام په سنتو تراوو [تراويحو*] کې د حضرت ملک العلام د سپېڅلي کلام ختمول؛ دريېم د اسلاميانو د يوه ستر پرتموال او برموال او لــه

ketabton.com - The Digital Library

شرفونو ډک پاچا له خوا خپلو ټولو رېښتينو وګړو ته له سخاوت او احسانه د يوې ډکې مېلمستيا جوړېدل، [؛*] ځلورم له عادي وګړو، او مشرانو، او چارواکو سره په ګډه پر يوه ځای روژه ماتی،[؛*] او بيا په ګډه د عيدګاه ستر جامع جومات ته تلل او په يوه خورا لويه جمعه کې د ستر قرآن له تلاوت سره د تراويحو ســنت لمانځه ادا کول. پر دې معنوي سپېڅلتياوو سربېره يو حساس سياسي او ټولنيز ټکی هم په کې شته چې د پوهې د څښتنانو مخې ته لکه د لمر روښانه دی.

اوس لږ ددې سپېڅلو مراسمو له پاره پر نيول شويو ترتيباتو او سمبالونو غږ بږو: لومړی به هڅه وکړو چې دغه سيمه درته انځور شي[.*] د ښايسته چمن نــژدې شاوخوا پنځه جريبه ځمکه د يوه سيمې ديوال په غېږ کــې چــې څــوک تــرې ننوتلی نه شي، او خنډ او ډال يې هم ترمنځ نه وي چاپېر شوې[.*] دې تاوشوې سيمې ته د برې طاق په څېر له دريو دروازو نه چې يادونه يې وړاندې وشوه[،*] د جنوب او شمال او ختيځ لورو څخه ننوتل شوني دي. د تاو شوې سيمې شمالي خوا ته يو نېغ تجير درول شوی چې مخې ته يې خــورا پســولل شــوې او غــوره کېږدۍ په يوه نېغه ليکه او منظم ډول د مېلمنو د هوسايۍ او اوداســه لــه پــاره درول شوې دي. زموږ مهربان پاچا اعليحضرت ذات له هغې ډېرې مهربانۍ چــې پر خپلو ملګرو شاهي خادمانو يې لري[،*] امر کړی ټول هغه څيزونه چې ګــران مېلمانه ورته اړتيا ولري چمتو شي[او*] هره کېږدۍ د بلل شويو د هوســايۍ لــه پاره په فرشونو او څوکيو او ميزونو او څراغونو او سګرټو ښکلې شوې او په کــې چمتو شوي دي. هرې کېږدۍ ته تشناب او د اوداسه خونه هم چمتو شوې ده. د اعليحضرت باچايي ذات د هوسايۍ کېږدۍ د نورو کېږديو د ليکــې پــه منځنــۍ برخه کې لکه شوې ده. او پر ښۍ او شمالي خوا يې د سترو شهزادګانو کېږدۍ او تر دوی وروسته د نورو درنو څېرو کېږدۍ درول شوې دي.

اوس چې دلته د کېږديو يادونه وشوه. ددې کېږديو د ځانګړتياوو له انځورولو مو چې د اعليحضرت پاچايي ذات له خوا اختر شوي[،*] ډډه ونه شــوای کــړای. څرنګه چې زموږ هوښيار زړونو ته رانژدې ټولواک تل د خپــل شــاهانه هېــواد د حالت پلټنه او کتنه په همايوني پام کې ساتي. او ډېرئ وختونه په ګرځېدو کــې

ketabton.com - The Digital Library

وي[،*] نو يې وړ وبلله چې د دوی د خيريت سفرونو کېږدۍ داسې سمبال شـي چې د هوسايني د اړتياوو ټول شرايط ولري. نو ځکه يې په شاهانه ښکلا څو ډوله زړه وړونکې او ظريفې کېږدۍ طرحه او ډيزاين کړې[،*] لارښوونه يې وکړه چې د پلازمېنې کابل په مبارک صنعتي پارک کې دې توليد شي.

خو لکه چې اوربدل شوي چې ها پلانکي باچا خپله کېږدۍ په زرو اوبدلې او مزي يـې ورته له ورېښمو، ستنه يې ورته له ملغلرو، او ديرَکونه او قُبـه يـې ورتـه لـه سـرو او سپينوجوړه کړې[، خو*] دا په زري تارونو له اوبدل شويو او په ملغلرو له پېيل شـويو کېږديو څخه نه ده. بلکې له خورا کلک او ټينګ جيم ټوکر څخه چې واورې او باران او سيلۍ ته ټينګه شي[،*] جوړه شوې او تر دې هم ډېر يې د لېږد پر مهال سپکوالی په پام کې نيول شوی دی[.*] ځينې دا ډول کېږدۍ د ګردې منا [مدوَر سايبان*] په بڼه دي چې په جلا جلا لو يوالي او ستروالي تولېديږي[،*] د ساري په ډول هغه خورا لويه منا چې په دې مبارکه مياشت کې د روژه ماتي له پاره د احاطې په منځ کې دربـدلې نژدې دوه سوه پنځوس تر درې سوو څوکيو په کې ځايېږي. دا ګـردې کېـږدۍ دوې ښېګنې لري چې هم دوبنۍ او هم ژمنۍ کېدلی شي. د ساري په ډول که بې تجيره وي دوبنۍ او که يې پر شاوخوا تجير راتاو شي نو يو لوی ژمنی دالان ترې جوړېږي. نورې داسې کېږدۍ جوړې شوې چې ورننه وځې نو ځان به درته هېڅکله په کېږدۍ کې ونه ايسي[،*] معمولاً به يو خورا ښايسته مستطيل مربع دالان ووينئ چې د هوسايۍ پـر ټولو وسايلو سمبال شوی وي.

او لنډه دا چې د رمضان د روژه ماتي پر دې سيمه پر پنځو ځايونو د پاچايي نعمتونـو رنګين دسترخوان غوړېدلی [دی*]. لومړی ځای تر يوې لويې منا لاندې دی چې پـه منځ کې جوړه شوې[،*] کتار په کتار په کې مېزونه او څوکۍ ايښودل شوې دي چې د منځنۍ برخې بر سر يې پر ځانګړې پاچايي دسترخوان ښکلی دی[،*] دويم او درېيم ځايونه د (عصريې شرکت) لومړۍ او دويمه درجه کېږدۍ دي چې د سترې پاچايي منا پر ښۍ او شمالي لوري جوړې شوې چې د ميز پر سر دسترخوانونه او څوکۍ پـه کـې سمبال شوې دي. څلورم او پنځم ځايونه[،*] د ښايسته چمن پر مـخ پـر غوړېـدلو فرشونو دسترخوانونه چمتو شوي چې لومړی ځای د عام ولس، او دويم ځای بريمنـو

ketabton.com - The Digital Library

منظمو عسکرو ته ځانګړی شوی دی. پر دې پنځو سیمو سربېره چې دننه په احاطه کې دي[،*] یوه بله دېره پراخه سیمه هم تر دغې احاطې بهر د ببوزلو او اسکېرلو او مساپرو له پاره بېله شوې چې هلته پر دغو ورزړو د ډېر سخي پاچا د همت له شکَری خورا ډېر خواړه پېرزو کېږي.

د شعبان میاشتې له وروستیو نه د چمن ټول مخ او تاوراتاو واټونه یې د ښار او شاوخوا سیمو له زرګونو وګړو ډکېږي[،*] د ملکي او عسکري څوکیو خاوندانو او علماوو او درباري مخورو او خانانو د فراک کېټ په رسمي کالیو کې پخپله د چمن مخ د ګلبڼ د رخې وړ ګرځولی و.

د ماښام تر لمانځه لس دقیقې دمخه کجورې [خُرما*] او یا د روژه ماتي نُقُل پر رابلل شویو ویشل کېدل، ټول خاص او عام وګړي د لمانځه ځای ته چې تر احاطې بهر په چمن کې جوړ شوی دی راټولېدل[،*] د مسلمانانو کتارونه د ټینګ بنسټ بېلګې ښیي[،*] د روژه ماتي توپ له ډز او د محمدي صلعم د آذان له کېدو سره سم روژه پر یو څه ماتېږي او د ماښام لمونځ په یوه لویه جمعه کې چې له زرګونو مسلمانانو او د عظیم الشان هستوونکي له بندګانو جوړه وه[،*] ادا کېږي. تر لمانځه وروسته ولسي خلک له ختیځې دروازې، او چارواکي او اشراف او اعیان له جنوبي دروازې احاطې ته ننه وځي [او*] هرڅوک پر خپلو ځانګړو ځایونو د خپل ستر زړه سواند[،*] د شفقت ښښتن[،*] مهربان او ولینعمت ټولواک د پېرزو او احسان مېزونو ته په خوړو بوختېدل.

په رښتیا چې د ماښام له لمانځه نه په راستنېدو د «انساني سېلاب[»*] دې منظرې چې یو د جنوب او بل له ختیځ لوري دغې احاطې ته ننوت[،*] سړی ددې بختور حالت ستروالي او برم او پرتم ته د خورا سپېڅلي ذوالجلال پیدا کوونکي د ناپایه نعمتونو په شکرونو کې ډوباوه چې د هغې پېرزو له امله چې پر افغان او افغانستان یې لري داسې یو دینپال[،*] نیاومن [او*] ولسپال ټولواک یې ور په برخه کړی چې له خپل صادق ملت سره په ګډه د الهي امر هرکلي ته راځي، له خپل ملت سره ګډه روژه نیسي، له ملت سره یو ځای لمونځ کوي، له ملت سره یو ځای روژه ماتوي[،*] پخپله مېلمه پال شي او ولس د الهي امر پر ځای کولو ته ورمېلمه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

څومره نېکمرغي! څومره نعمت!
لنډه دا چې چې تر خوړو وروسته[،*] هر څوک اوداسه او د تراویحو لمانځه ادا کولـو ته پاڅېده، او پوځ پوځ او ډله ډله وګړي د عیدګاه په ستر جامع جومات کې چــې پــه خورا لویو ګیسي څراغونو- یعني د استلین په غازو رڼــا شــوی و[،*] ټولېــدل [او*] کتارونه درېدل. تر ټولو ستر ښتن ته د برم او پرتم له خاوند یوه مسلمان پاچا سره په ګډه د عبادت له پاره ددې زرګونو مسلمانو وګړو ننداري د هر مسلمان وګړي زړه د ایمان په پاکې رڼا له احساساتو ډکاوه او ځلاوه. څومره پرتمین دیــن! د څــومره ښــې عقیدې څښتن پا چا او ملت!
په دې ډول د نړۍ او په هغې کې د شتو موجوداتو د حضرت خالق د ستر قرآن خــتم له مغفرتونو د ډکې روژې میاشتې په لومړیو لسو ورځو کې که خدای کــول پــای تــه رسېږي.
څرنګه چې مونږ دا له عاجزۍ ډکه مقاله ددې اړتیا له مخې چې وخت یې تېر نه شي او خپله ورځپاڼه مو تر شریف ختم دمخه لیکلې او خپره کړې[،*] کــه خــدای کــول د شریف ختم د شپې څرنګوالی به ددغو خورا سپېڅلو مراسمو له نورو جزییاتو سره په خپله څلرویشتمه ګڼه کې خپاره کړو، اوس په همدې درې دعاییه فردونو خپله مقاله پای ته رسوو:
الهي ته دا ټولواک زمونږ بېدار
چې لاربنود دی د ولس په هر یو کار
هم و دین ته خدمت کړي او هم دونیا ته
لکه اوبه د میني دی د ملت یار
ته ساته دی له بلاوو او فلک یې
پر غلیم د وطن ټول کړه را ګوزار
آمین

ketabton.com - The Digital Library



**ځانگړې مقاله**

# پوهنـــه ـ ښوونځي

هغه دولتونه چې د حکومتو بنه یې تړلې [بشپړه شوې*]، او د (کاري وېش) پـر قاعده یې په دایرو [وزارتو*] ویشل شوې ده[،*] (د پوهنې دایره) یې چې د یوه خپلواک وزیر تر څارنې لاندې وي[،*] ددغو دولتونو له مهمو برخو څخــه گڼـل کېږي. د ساري په ډول لکه چې د کورنیو چارو وزیر د هېواد په خاوره کې دننــه پر ټولو چارو څارنه کوي، او خپلې ټولې کوچنۍ او لــویې چــارې د منــل شــویو قوانینو او نظم له مخې ترسره کوي، او د ټولو کورنیو چارو مسوول وي[.*] دغــه راز د پوهنې چارو وزیر پر ټولو هغو چارو چې په دولت کې له پوهې او پــوهنې او د هېواد په وگړو کې د هغې په خپرولو پورې اړه مومي[،*] څارنه کوي او لومړني، او رشدیه [منځني*]، او اعدادیه [؟*] او لوړ ښــوونځي جــوړ او پرانیــزي. ټــول مطبوعات او چاپخونې چې په هېواد کې رامنځته کېږي، او ټول لیکلي آثار چې دوی یې خپروي، د پوهنې ادارې تر څار لاندې وي. د پوهنې لوی مجلس او وزیر یې په خپله په پلازمېنو کې وي، او په ټولو ولایتونو کې ادارې او څانگې لــري. د ښوونځیو پروگرامونه چې په هندي اصطلاح یې نصاب بــولي[،*] د پلازمېنــې د پوهنې د لوی مجلس له خوا د هر ولایت له حالــت ســره ســم جــوړېږي. هــېڅ ښوونځی یا چاپخونه، یا لیکنې د پوهنې ادارې له رسمي اجازې پرتــه پرانســتل کېدلی او جوړ ېدلی او خپر ېدلی نه شي. په ځینو هېوادو کې تیاترونه او اوپــه را گانې [Operas *] هم د پوهنې [وزارت*] تر نظر لاندې وي.

د هر دولت د پوهنې مجلس د دولت سیاسي لورو او د هېواد او وگــړو بنســټیزو اړتیاوو ته په پام سره په هماغه بڼه خپلو عمومي ښوونځیو ته پروگرامونه ټاکي.

ketabton.com - The Digital Library

د ساري په ډول د (بریتانیا) د لوړ دولت د پوهنې مجلس هغه پروګرامونه چې په (اوستراليا) لویه وچه او یا (کناډا) او یا (جنوبي افریقا) کې خپلـو مسـتعمرو تـه جوړ کړي[،*] هېڅکله هم په لندن کې د دوی د ښوونځیو له پروګرامو سره ورته والی نه لري. ځکه په مستعمرو او تر ښکېلاک لاندې سـیمو کـې يـې د دولـت پولیتیک [کړنلاره*] هېڅکله دا نه غواړي چې ددغو ځایونو وګړي آن د خپلـې آزادی، واکمنی، مالکیت، او ملت حقونه زده کړي. بلکې هغوی ته باید داسې زده کړه ورکړ شي چې ناخپلواکي او بل ته غاړه ایښودنه او محکومیت يې تـر نظـره غوره راولي او وېې وروزي.

په یوه کتاب کې مې د یوه فرانسوي سیلاني له خولې واورېدل چې لیکل شـوي وو: «په اوستراليا کې ګرځېدم. د ځنګله له منځه له یوه کلي نه بل ته تلم. د لارې په اوږدو کې مو د یوې ونې ترڅنګ د اوستراليا د خپلو بومي وګړو یو هلک ولید چې ویده شوی دی. شاته له پراته بکس او د تمرین له سلېټې تختـې يـې چـې ورسره وه بر ېښېده چې د ښوونځي زده کوونکی دی. په زړه کې مې انګرېزانو ته ستاینه او مننه راغله چې د پوهې او پوهنې نښې يې په داسې ډاروونکو وحشي ځایونو کې هم خپرې کړې دي. تلوسه او اندېښنه راولوېده. صبر مې وکـړ چـې هلک راویښ شي، او پوه شم چې چېرته او څه لولي. له څه ځنډ وروسته مـې دا هیله پوره شوه. کوچنی له خوبه پاڅېد. او ژر ودرېده غوښتل يې چې روان شـي چې زه يې خواته ورغلم او په مینه مې وپوښته:

- د ښوونځي زده کوونکی يې؟
- هو!
- څه لولې؟
- جغرافیا.
- ماشاءالله! آفرین! نو په نړۍ کې څو لویې وچې شته؟ زده کوونکي- پر پنځو لویو وچو د نړۍ پر وېش او د هغوی پر نومونو پوره خبرې وکړې. ډېر خوښ شوم. او چې ومې پوښته «په اروپا کې څو حکومتونه شـته؟» زده کـوونکي راته حیران حیران وکتل ويې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

- پر دې پوښتنه دې پوه نه شوم. زه په نړۍ کې يو حکومت پېژنم چې هغه د انګرېز حکومت دی.

ومې ويل- فرانسه، جرمن، روس او نور نه پېژنې؟

ويې ويل- ولې يې نه پېژنم، هغوی هر ټول[،*] د انګرېز دولت ولايتونه دي.

له دې مرکې پوه شوم چې خبره چېرته ده. او موخې يې څه شی او څه شی دي!...»

دا د هغو ښوونځيو د پروګرامونو يوه بېلګه ده چې د (پـې بليـک استريکشـن)[؟*] يعنې د دولتونو له خوا پر وګړنيزې پوهنې د څار [اداري*] له خوا د خپلو هېوادونـو د حال او احوال او وړتياوو په تړاو جوړ برې. ددې فرانسوي سيلاني لـه بېلګـې نـه پـر انګرېز دولت هېڅ ډول نيوه که نه راځي. آن دا چې دغه دولـت خپـل ټـول هنـر او مهارت ښودلی دی. داسې چې په هند کې يې همدا دود او اصول جـاري کـړي دي. د ساري په ډول د مسلمانانو يا هندوانو له پـاره داسـې لـوړ پـوځي ښـوونځي چـې د انګرېزانو د کچې افسران او ارکانحربان ترې راووځي نه شته. نو ولې؟ ځکه تګلاره يې ددې غوښتنه لري چې لـوی افســران دې تـل انګرېـزان وي. دغـه راز د پنجـاب د ښوونځيو په پروګرام کې ديني سياسي فلسفه، او عقلي روزنيز علوم او کان پېژندنـه او لوړه انجنيري او نور هغه څيزونه چې يوازې يې ځان ته بېل کـړي[،*] نـه ليـدل کېږي.

نو پر همدې بنسټ د هر دولت پوهنه د هغه هېواد د تګلارې، او احوال او طبيعت لـه مخې د خپل هېواد د ښوونځيو پروګرام يعنې نصاب ټاکي چې پـر دې بنسـټ د يـوه دولت د ښوونځيو پروګرام بل دولت کټ مټ منلی نه شي. او که ويې مني نو داسې به برېښي لکه سوالي کالي يې چې کله ډېر تنګ او کله ډېـر ارت وي[،*] اغوسـتي وي چې وجود ترې ښځي ګټه نه شي پورته کولای. زموږ په ګران هېواد افغانسـتان کـې زموږ د پوهې او پوهنې د څښتن اعليحضرت ټولواک تـر بختـورې پـلاز کېناسـتنې دمخه د نوی بڼې د ښوونځيو ښځي نښه نه وه. د دوی تر پوهنپـال شـاهانه سـيوري لاندې په لوړه شاهانه سلطنتي پلازمېنه کې پر نويو قاعدو او اصولو ښونځي رامنځته شول. لومړني ښوونځي پر هر لوري جوړ او سمبال شول چې د ا د هېواد د نېکمرغيـو او پرمختګ له پاره د خير يو لوی فال بلل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د هېواد په خاوره کې دننه اطرافي ولايتونه هم د پوهې او پوهنې عامېدو ته خورا اړتيا لري. خو زر ځله افسوس چې زموږ په ډېرو وطنوالو کې لا تر اوسه د نويو پوهــو د زده کړې او حاصلولو تلوسه او مينه پيدا شوې نه ده ، او تر اوسه يــې د خپــل ژوندانــه د مېوې يعنې خپلو بچيانو د ښوونې او روزنې ارزښت او درنښت بشپړ پېژندلی نــه دی. وگړی هر څه له حکومته غواړي[،*] حال دا چې لږ څه ورته پخپله هم لاس او پښــې خوځول په کار دي. د ساري په ډول که د کندهار، او هرات، او بلخ، او غزني، او جــلال آباد وگړي پر دې پوهېدلی شوای چې له پوهې او پوهنې نه دولت او وطن ته څه گټــه رسېږي او د خپلو بچيانو پر راتلونکې يې غور کــړی وای[،*] هــر ولايــت د يــو دوو ښوونځيو لگښتونه او خرڅونه پورته کړي وای [او*] د هغو د بنسټ، او نظم او اصــولو او پروگرام په اړه يې له خپل سپېڅلي متبوع دولــت نــه د سمبالښــت او لارښــوونې غوښتنه کړې وای[،*] هېڅ شک نه شته چې دولت په دې تړاو ډېر گټــور تجويزونــه سنجولی شوای. د پوهنې او ښوونځيو د قاعدو پراخول يوازې په دولت نه چې ډېر په وگړو پورې اړه مومي. هرڅوک چې بچی لري لومړی څيز چې په اړه يې فکر کــوي د بچيانو ښوونه او روزنه ده. که چېرې خپل همدا سوچونه په يوه غوره او منظمه بڼه په مهارت وکاروي[،*] او هغه پيسې چې هرکال يې د خپلو بچيانو د ښوونې او روزنې له پاره پر کاليو او د ملا پر تنخواه او خوړو او نورو لگوي[،*] په خپلمنځي پيوســتون را ټولې کړي [او*] د دولت په څارنه او سمبالښت يې پــر بشــپړو لومړنيــو او منځنيــو مسلکي ښوونځيو ولگوي[،*] البته چې خورا لوړې او غوره پايلې به رامنځته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ل
ومړى كال، درويشتمه ګڼه، ۸-۹ مخونه

# سياسي لنډيز

سياسي نړۍ لكه د زنګي ويښته سره پېيلې ده، ته وا د ځمكې كُـرې خپلـه ټولـه مركزي تودوخه خپلو استوګنو ته وربښـلې چې وينـې يـې ورخوټـولې او غريـزې تودوخې ته يې داسې ځواک او وس وركړى چې د طبيعي قوتونو په وړاندې يې ځانونه وسله وال كړي دي!
سره له دې چې د مركزي جاذبې طبيعي ځواک له ځمكې نه د ځمكنيو موجوداتـو د بېلوالي ټينګ او كلک قواعد ټاكلي، خو بشريت دومره ياغي شوى نه دى چې دغـو حكمونو ته غوږ ونيسي! سره له دې چې د اوسپنې يوه ټوټه[،*] د لرګې يوه څانګه، لږ سرب او نور ځمكني څيزونه چې كه د يوې چنې هومره درندوالى هم ولـري[،*] لـه ځمكې پورته كېدلى نه شي. حال دا چې بشر د ځمكنيو معـدني او نبـاتي جسـمونو منونه منونه د الوتنې په وسيلو اړولي [او*] يو لوى دروند جسم تر دوه زرو مترو يا تر دې هم ډېر له ځانه سره له ځمكې جلا كوي او لرې يې بيايي! كـه څـه هـم طبيعـي قوانينو څو څو ځله له دوه زرو متـرو يـا تـر دې هـم لـه پورتـه يـا ټيـټ لـوړوالي راغورځولي[،*] خو چېرته! د بشر سرغړونه او طغيان هسې پوړۍ ته نه دى رسېدلى چې ددغو غورځونو او غوږتاوونو پروا وكړي! يو چې ولوېږي لس نور پورته ځي.
د ديو خوى رقيب له خوانه مې پناه په لوى ښتن ده
ښايي روڼ ستورى دغسې پر كوچنوټي پېرزو وكړي
تر دې هم بتره دا چې غواړي د آسيا او افريقا لويې وچې په اروپا واړوي! څومره زړهٓ، څومره تېرى!... نو دا اروپا پر څه اروپا او آسيا پر څه آسيا شوې ده؟ هېڅ شک نه شته

ketabton.com - The Digital Library

چې طبیعت د ځینو قوانینو له مخې چې ټاکلي یې دي[،*] هغه اروپا او دا آسیا جوړه کړې ده. لکه دا چې په آسیا کې کجـورې [خرمـا*] او هېـل، او دارچینـي او نـورې خوشبویی، او مېوې، او هاتي، او کوړ او اوښغاړی [شتر مرغ*] موندل کېـږي[،*] پـه اروپا کې یې پرته له دې چې یوه نیمه بېلګه د ځارویو یا بوټو په کوم بڼګي کې ولیدل شي نوره یې نښه هم نه شي موندل کېدای. دغه راز هغه ځیزونه چې په اروپا کې شته بېوزلې آسیا یې په خوب هم لیدلی نه شي[.*] د ساري پـه ډول سـره لـه دې چـې اروپاییان د ګڼو ښځو پر ودولو آسیاییان غندي[،*] په خپل هېواد کې یې یو نارینـه چې زور او زر ولري[،*] له یو میلیون ښځو سره تار جوړولی شي. په داسې حال کـې چې په آسیا کې د یوې ښځې مېړه، د خپلې مېرمنې د پړونې یوې پېڅکي تـه هـم د نامحرم نارینه په نژدې کېدو نه راضي کېږي[،*] اروپاییان د بال [د نڅا*] په مراسمو کې خپلې مېرمنې پر لغړو ټېرونو، مټو، شا او سر له یو بل سره د (فادریل) په نامه یوې نڅا کې تي پر تي او غاړه پر غاړه یو بل ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې د آسیا په ځینو ښارونو کې د (الکئول) - یعنې د شرابو په نامه ککړه زهرجنه ماده د درملو له پاره هم نه موندل کېږي[،*] د اروپا په کوڅو کې لکه ویالې بهېږي! په داسې حال کې چې که د آسیا د بېدیاوو یوې تورې کېږدۍ ته کوم وږی یا تږی ننه وځي[،*] د کـور ښښتن ترې خپله ټوله هستي نه سپموي[،*] که د اروپا په کوڅو کې یـو څـوک لـه تندې یا لوږې بې حاله ولوېږي[،*] اروپاییان په دې تلوسه او اندېښـنه چـې: «صـبر وګورم له تندې د سړي ساه څنګه وځي؟» کېوزي او ددې پر ځای چې پر یـوې مـړی ډوډۍ یا یوهٔ کټوري اوبو یې لاسنیوی وکړي[،*] په خورا تلوسه او مینه یې د سـاه وتلو ننداره کوي!

په دې ډول نو اروپا په خپل دې ډول بغاوت چې د طبیعي ځواکونو په وړاندې یې پیل کړی[او*] په دې ډول مدنیتو سره غواړي له آسیا نه اروپا جوړه کړي. تر دې هم بتره دا چې له آسیا نه د اروپا د جوړولو لار یې هم پر کنـدهار، او هـرات، او کوشـک، یـا مشهد، او تهران او بغداد غوره کړې ده.

آفرین پر دې باطل تصور[،*] آفرین پر دې ناشوني خیال!

دا دې ته ورته دی لکه چې یو ګاوندی بل ته ووایي. «زه غواړم ستاسې د کور دالانونه او پس خانې، او دهلیزونه وشکوم او د نورو ګاونډیو کورونو ته د تېربدو یوه اوسپنیزه لار وباسم»[.*] لږ شک هم نشته چې دغه ګاوندی به دا کورګډي ونه مني. خو د کور څښتن به که دغسې یوه لار د خپل کور له پاره ګټوره او اړینه وبـولي[،*] دغــه ډول لاره د هغو قاعدو او اصولو له مخې چې ګټور ورته برېښي او کور یې ورسره د ورانېدو پر ځای ودانېږي[،*] پخپله جوړه کړي. خو تر هغو چې ساه په کې غړېږي د نـورو لار به په خپلو کورونو کې پرانیزي.

ketabton.com - The Digital Library



# نېکمرغه کوچنی اختر

د حضرت واجب الوجود جل وعلی دربار ته دي زرګونه بېشمېره او بې حده حمدونه او ثناوې وي چې ددې نېکمرغه کال بختوره روژه په خورا خوښۍ او ښادۍ تېره شوه [او*] بختور نېکمرغه کوچني اختر د خپل راتګ پېرزو راوکړه.

سل شکره چې دا راغی، سل حیفه چې ها ولاړه

په حق سره چې د سږني نېکمرغه کال د بختونو روژه په هغه ډول روژو کې وه چې هره شپه یې لکه د خوشحالیو د یوه بختور اختر په بڼه تېره شوه. لومړۍ لس شپې یې لکه د بختور اختر ګڼل کېدې چې نړۍ نړۍ عبادتونه، او عالَم عالَم فیضونه او برکتونه په کې ښکېل او اخښل شوي وو. د روژه ماتي پر خوښۍ او خوشحالۍ، او د هستوونکي خورا سپېڅلي ذات د لیدنې د هیلو پر خوښۍ[،*] یوه بله پرتمینه او لوستروالي ډکه خوشحالي هم موږ ربښتینو افغان وګړو ته رازیاته شوې وه چې هغه زموږ د هوښیار[،*] نېک کردار[،*] مهربان[،*] سپېڅلي ټولواک د لیدنې نېکمرغي وه چې د خپلې لوړې پلازمېنې له ټولو وګړو سره یې په ګډه روژه ماتی، او په ګډه ورسره د خپل څښتن د طاعت له پاره د عبودیت او بندګۍ څرګندونه وکړه. د اعلیحضرت (سراج الملة والدین) امیرالمسلمین او ظل رب العالمین تر دینپال سیوري لاندې د روژې د مغفرتونو میاشت د ځمکې او آسمانونو د یواځیني خالق په خورا ډېرو عبادتونو او طاعتونو، او د حضرت محمد الامین، صلواه الله علیه بمَلاَء السموات والارضین د متینې شرعې د حکمونو په خورا خوښیو او خوشحالیو کې تېره شوه او کوچنی اختر راغی. دا بختوره ورځ مسلمانانو ته یو لوی نعمت دی. او د اسلام په سپېڅلو ورځو کې ګڼل کېږي.

د حضرت پیغمبر صل الله علیه وآله وسلم یو شریف حدیث له ابن مسعود[سعود؟*] رضی الله تعالی عنه نه روایت شوی چې په فارسي کې یې مضمون په شدل ډول

ketabton.com - The Digital Library

داسې کېږي: «کله چې زما امت په صيام مياشت کې روژه نيســي او د اختــر پــه ورځ لمانځه ته ځي حضرت حق تعالی جل وعلی خپلو درنو ملايکو ته په خطاب کې وايي: «ای زما پرښتو! هر کارګر چې کار وکړي د خپل دغه کار اجر غواړي، زما بنده ګانو هم چې په صيام مياشت کې روژه نيولې او د اختر لمانځه ته تللي، خپل اجر غواړي. تاسې شاهدانې اوسئ چې ما هغوی وبښل».

نو ځکه د صيام روژه او د اختر له مغفرتونو ډک لمونځ دغه ډول نېکمرغۍ او د ښښنې پيغامونه لري. په تېره بيا چې د حضرت رب الانام دا عبادتونه د اسلام له يوه پوهــوال او دينپال ټولواک سره ، په يوه آزاد او خپلواک اسلامي هېواد کې، له شل دېــرش زرو مسمانانو سره په ګډه، پر يوه ځای او يوه مقام پای ورسېږي او بشپړ شي.

ددې نعمت ارزښت بايد وپېژنو. الهي شکر پر ځای کړو. يو بل تــه غبــږه ورکــړو، پــه روغبړ او لاس ورکولو سره د مينې او يووالي د برېښنا جــذبوونکې او دفــع کــوونکې لمبې يو د بل زړونو او ځيګرونو ته ورواستووو. ټول په يوه خوله او يــوه ژبــه د خپــل هېواد او خپلواکۍ پايښت د زړه له کومي د احکــم الحــاکمين جــل و علــی د خــورا سپېڅلي ذات له دربار نه وغواړو. د خپلو اسلامي ورونو او هېوادو حالت ته چې د خپلو هېوادو له خپلواکۍ او استقلاله بې برخې دي[٭] د عبرت نظر واوو. پر خپل حــال او احوال زرګونه ځله ثناګانې ووايو، د خپل آزاد او ســپېڅلي ټولــواک د اوږده عمــر او روغتيا دوعا چې د وطن د خپلواکۍ ښبګنې يې لکه د يوه زړه سواند ښوونکي موږ ته راښودلې، د رېښتينولۍ پر ژبو جاري کړو.

د هغه سپېڅلی دين ټول روښانه احکام چې د عالَم حضرت هستوونکي موږ په هغــه سره د دواړو نړيو د نعمتونو درلودونکي ګرځولي يو[٭] لکه هغسې چې خــورا ګټــې اُخروي ګټې په کې نغښتې. زرګونه ګټور سياسي او ټولنيز ټکي هم په کې پــټ دي: د ساري په ډول د هر محل اوسېدونکي د ورځې پنځه ځله د خپلو محلونــو پــه جــامع جوماتونو کې سره ټولېږي. خپل يواځينی هستوونکی په ګډه يادوي. د آخــرت ســتر ثوابونه ګټي. او ورسره جوخت له دې ټولېدنې نه د الفت او مينې او پېژندګلوۍ پايلــه راوځي چې د يووالي او ورورګلوۍ سپېڅلي ټکي ترې جوړېږي. د اوونۍ يو ځل د ښــو محلونو وګړي د ښار په يوه لوی جامع جومات کې سره ټولېږي. د جمعــې لمــونځ پــه

ketabton.com - The Digital Library

لويه ډله ادا کوي. يو خطيب يې په وعظ او نصيحت سره روغې لارې ته سموی. له ښېگڼو ډک دې کار سره د آخرت د نعيمو جنتونو وړ گرځي. هم مهاله ورسره په يوه لا پراخه کچه د يووالي او ورورگلوۍ خبره پخېږي. په کال کې يو ځل د ښار او ورخېرمه کليو وگړي په يوه لوی عيدگاه جومات کې سره ټولېږي. ټول د روژې د فطر صدقه بېوزلو ته ورکوي[،*] د مسلمانو وگړو يوه لويه ډله د بې اړتيا ښځينه دوه گونی لمونځ په جماعت کوي، خطيب خطبه وايي. ولس ته د خپلواک اسلامي سلطنت او امارت شتوالی په يوه دبده او پرتم ورياديږي. روغبړونه کېږي [،*] لاسونه ورکول کېږي[،*] د توپونو ډزې کېږي. عسکري موزيک هرې خواته ملي نغمې غږوي [،*] پوځي عسکر په خپلو خورا پرتمنيو رسمي دريشيو کې د عيد گاه په ستر جومات او شاخوا کې د درناوي له پاره پر ليکو درېږي. عسکري او ملکي چارواکي او مخور او مشران او اشراف ټول په خپلو بشپړو رسمي کاليو کې شريف جومات ته ورټولېږي. د اسلام پاچا، او د حضرت خيرالانام د مبين دين ټينگوونکی په بشپړ برم او پرتم تشريف راوړي. د مسلمانانو د تکبير نارې د رب العالمين د خورا سپېڅلي ذات دربار ته لوړېږي.

ای سپېڅلی نجيب ولسه! او ای غيرتي او ټينگ قومه! موږ د اختر دې څو ورځو او د روژې هغو څو مبارکو ورځو ته په عادي او بې غوره نظر ونه گورو، او يوازې يې له سات تېريو ډک يو عبادت ونه بولو. ددې ستر الهي نعمت ارزښت او قدر چې پر موږ پېرزو شوی وپېژنو. ځکه چې موږ د وطن د خپلواکۍ ښځينتنان يو، او د واکمنۍ ښځينتن خپلواک ملت يو، زموږ ټول ديني، مدني، سياسي حقونه آزاد دي[،*] زموږ سپېڅلي زړونو ته رانژدې خيرغوښتونکی ټولواک زموږ د خپلواکۍ او واکمنۍ د ساتنې له پاره خپلې ناپايه همايوني هڅې کوي او په عمومي دربارونو کې زموږ د خپلواکۍ دوعاوې کوي. څومره نعمت! څومره نېکمرغي! څومره خوښي! څومره خوځښت!

يو ځل د خپلو شمالي او جنوب ختيځو گاونډيو مسلمانو ورونو حال ته نظر وکړو: هغوی د خپلو ديني مراسمو هغسې آزادي چې موږ يې لرو نه لري. د ساري په ډول په روسي ملکونو کې څوک د جومات خطيب کېدلی نه شي مگر دا چې روسي ژبه يې زده وي. قرآن لولي، خو د جهاد آيتونه يادولی نه شي. پوځ ته ورځي، خو د نورو د گټو

ketabton.com - The Digital Library

له پاره. په سرکونو کې کار کوي. خو د پرديو د ګټو له پاره[،*] زده کړې کـوي. خـو د نورو د ګټو له پاره نو ولې؟ ځکه زموږ دغه وروڼه د هېواد آزادي او واکمني نه لـري. د بل ولس او بل هېواد تر لاس لاندې او کېوتي دي چې نه په جنس، او نه په دين، او نـه په ژبه، او نه په رنګ کې هغوی ته هېڅ ډول ورته والی او تړاو نه لري. څومره فلاکـت! څومره مصيبت!

نو ځکه بايد موږ يوه شېبه هم بې شکره ونه اوسو. ځکه موږ د خپلواکی، او اسـتقلال، او واکمنۍ نعمت لرو. که لمونځ کوو نو په خطبه کې د خپل مسلمان پاچا سپېڅلی نوم آزاد يادوو، که عسکری ته ځو نو د خپل ځان او خپل هېواد د ګټو له پاره ځو، که پـر سړک له سهاره تر ماښامه کار کوو د خپل ځان او خپل هېواد د ګټې له پاره يې کـوو. موږ ته اړينه ده چې ددې نعمت د شکر او ستاينې تر څنګ[،*] ددې نعمت د سـاتنې له پاره هم ويښ، هوښيار، او له غفلت او لويۍ په څنګ واوسو[.*] د عظـيم الشـاْن قرآن پر حکمونو، او پر خپل دين او ايمان ټينګ شو. ټولواک، وطن [او*] ملت يو او يو وجود وبولو [او*] له خپله ځانه يې راتېر وبولو، او ډېر يې سپېڅلي وګڼو. د يـووالي او اتفاق تخم په خپلو زړونو کې د خپل وطـن او دولـت د سـاتنې لـه پـاره وکـرو او د پرمختګ او لوړتابه او آزادۍ حاصل راټول کړو. له بدو چارو او ټيټوالي چې ټولواک، او ملت او وطن زيانمنوي[،*] ډډه وکړو.

زموږ هوښيار سپېڅلی ټولواک زموږ او زموږ د وطن پر دين، او نـاموس، او شـرف، او سعادت، او پرمختګ او آزادۍ د زړه سوي لوی وزر او خپله مهربانه [او*] د مرحمتونو پلرنۍ غېږ پرانستې[،*] شپه او ورځ د هغو د خوندي کوونکو او لوړوونکـو وسـيلو د چمتو کولو له پاره خپلې پاچايي هلې ځلې کوي. موږ هم ځانونـه ددغـې مهربـانۍ او عاطفې وړ کړو [او*] په همت او غيرت او زيار کې زړونو ته د خپل راتېر پرمختګپـال سپېڅلي ټولواک پر پله سم شو، او د هېواد او خپلې ملي آزادۍ د ساتنې له پاره پـه مال او ځان، او زړه او وجدان زيار وباسو او په دې څيزونو سره د خپل هېواد د پـاکې سپېڅلې خاورې او خپلواکۍ د غليمانو په سترګو کې چې د نړۍ د ودانولو، او په خپل مدني صنعتي ځواک له اروپا سره د آسيا د نښـلولو پـه پلمـه يـې لـه هـره لـوري

ketabton.com - The Digital Library

ښکېلاکګر نظرونه را سيخ کړي[،*] د نهيلۍ او کوزګورۍ غشـــي وتېومبــو، او د هيلــو غشي يې د زيان او خوارۍ پر خاورو وغورځوو.

هو هو! که مور ځانونه په رغاونې او ځواک سينګار او سمبال کړل[،*] د پلمه کوونکــو پلمې او د حريصانو د هيلو کنډولي به پر ډېرو مات شي.

څرنګه چې تر يوې بختورې او نېکمرغې روږې وروسته يوه وړانګين او ځلاند بختــور اختر ته ورسېدو[،*] نو څکه د نعمت د يادولو او د نعمت د شــکر د ذکــر پــه موخــه؛ (سراج الاخبار افغانيه) د بختور کوچني اختر د مبارکۍ په کارولوسره د يوې کــوچنۍ موعظې ددې څو کرښو د وړاندې کولو زړه وکړ. نور نو د خپل ستر زړونــو تــه راتېــر سپېڅلي پرمختګپال زړه سواند اعليحضرت تولواک د عمر او د برم او پرتم د ډېروالي بې ريا دوعا د بختور کوچني اختر پر دې بريالۍ ورځ چې له خورا ارزښتناکو اســلامي مهالونو څخه دی[،*] د بنده ګۍ پر ژبو جاري کوو چې د پرتمين زړه سواند ملوکانــه ذات له روغتيا سره[،*] ملت او هېواد خورا ډېرو پرمختګونو او لوړتياوو او نېکمرغيــو او بريو ته د رسېدو [قريرالعين؟*] وياړ تر لاسه کړو. آمين.

پر دې ورځ د بريالي دربار د مراسمو په اړه به که څښتن تعالی غوښتل په راتلــونکې ګڼه کې خبرې وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال، څلرویشتمه ګڼه، ۳-۵ مخونه
د سراج الاخبار افغانیه

# د لومړي کال پای

د (محمود طرزي) عاجز قلم د رښتنولۍ په نارو، او پر ماتغاړو ټکو، او له ګرانښت په ډکو وجداني کرښو سره په خورا ویاړ او خوشحالۍ او بشپړ شوق او نړه والي د **(سراج الاخبار افغانیه)** د ګرانې ورځپاڼې د لومړي کال بشپړېدل په خپلې دې څلرویشتمې ګڼې سره اعلانوي.

دنده سپېڅلې وي. د دندې هر څښتن چې تر خپلې وسې د خپلې دندې په سر ته رسولو بریالی شي[،*] د کار دغه څښتن ته دا په نړۍ کې تر ټولو لویه خوښي او تر ټولو بختور بخت دی او بس.

دنده سپېڅلې وي. وظیفه [دنده*] تنخواه، او د دوعاوو ویل نه دي[،*] د دندې هر څښتن چې خپله دنده یوازې د هماغې دندې له پاره ترسره کړي[،*] پر دندې ټینګ بلل کېږي. او که بنسټ یې پر نورو غرضونو ودرول شي[،*] له دندې بهر ګڼل کېږي.

له خاورو سره ددې برابر تر ټولو خوار د عاجز قلم دنده به نو په عاجزۍ هېواد ته د قلم له چوپړ پرته بل څه وي! نو ځکه یې د خپل ستر سپېڅلي پوهنپال پلوي، او خورا زړه سواند او مهربان زړه ته راتېر پالونکي[،*] له پوهې او دین خبر ټولواک اعلیحضرت (سراج الملة والدین) په سیوري کې د بل چا له لیکنۍ مرستې پرته په یوازې ځان خپله یو کلنه لیکنۍ دنده په خورا بري تر سره کړه.

زموږ ستر پوه او پر دین ټینګ پرمختګپال ټولواک تر خپلې بختورې پاچایي پلازکېناستنې [جلوس*] راهیسې هماغسې چې یې د مدني ودې خورا ګڼ وسایل چمتو کړي[،*] په خپل شاهانه هېواد کې یې دغه راز د پوهې او پوهنې د ښکلي یار د را ځلولو کلکه هیله هم درلودلې [او*] په دې برخه کې خورا ډېرې بریاوې او بریالیتوبونه تر لاسه شوي دي. دې خوار له خاورو سره برابر بنده هم د ټولواک له دې

ketabton.com - The Digital Library

پوهنپالې هیلې نه په ګټې اخیستو[،*] پروسـږکال د روژې د مبـارکې میاشـتې پـر پنځلسمه د یوې هېوادنی ورځپاڼې د خپرېدو له پـاره عـرض کـړی او غوښـتی او د پاچایي اجازې په ترلاسه کولو بریالی شوی وم. او د تبرک له پاره د هغـوی پـه نامـه [تبرکاً باسمه؟*] د (سراج الاخبار افغانیه) د ګرانې ورځپاڼې لومړی ګڼه د ۱۳۲۹ کـال د شوال المکرم پر ۱۵ د خپرېدو پر ډګر راوځلېده.

مطبوعات د وطن د احساساتو روښانوونکي دي، د ملت ژبـه ده، د تمـدن سـاه ده، د سرېتوب بنسټ دی[.*] بېسیم او سیموال ټلګراف هېڅکله هم یوبل ته د ملتونو پـه پېژندلو، او د پیغام او خبر په رسولو، له بشر سره د بشر په غږولو کې له ورځپاڼې سره سیالي نه شي کولای. پر دغو وسیلو یو څو کرښې له یو دوو کسانو سره غږېدا شونې کېږي. خو ورځپانه د اسرارو داسې یوه خزانه ده چې پـاڼې پـاڼې خبـرې کـوي، کـه ورځپاڼه نه وای نو د ټلګرافونو او ټېلېفونو خبرونه به چا پر نړی خپرول؟ هغه ملت چې ورځپاڼه نه لري هرڅوک یې په اړه هر څه ویلی شي، خو پخپله نه د ځان په اړه او نه د نورو په تړاو د غږېدو وس لري. د غرض هغه څښتنان چې ورځپاڼې لري نړی ته د هغه ملت او هېواد په اړه چې ورځپاڼه نه لري د خپل غرض له مخې خپل ټول احساسـات [او*] فکرونه خپروي[.*] همدا ورځپاڼه ده چې د غرضوالو غرضـونه برسـېره کـوي [او*] د خپل دولت او ملت او وطن ساتنه کوي. ورځپاڼه ده چـې هېـواد[،*] ملـت او وطن د بهر له عمومي حاله خبروي او د وطن غلیمان ژړوي او دوسـتان خوشـحالوي. کله پر پوهې غږېږي[،*] کله پر فن. کله پر صنعت خبرې کوي کله د زمانو [زَمَن؟] پر حال! (سراج الاخبار افغانیه) لومړنی ورځپاڼه ده چې زموږ په سپېڅلی متبوع دولـت کې د مطبوعاتو د نړی په سرابستان؟ کې د ژوندانه د ودې وړ ګرځي. که څه هم اورو چې د خدای بښلي (امیر شېرعلیخان) پر مهال هم یوه ورځپاڼه خپره شـوې وه، خـو موږ یې د یوې ګڼې په لیدو هم بریالي نه شو. زموږ موخه د ورځپاڼې له لومړني والـي داده چې د افغانستان تر بیا خپلواکېدو راوروسته دا لومړنی ورځپاڼه ده چې راوځي.

افغانستان د جوړېدو له مهاله د نوي والي او ټېنګښت درې پړاوه وهلي دي. یو یـې د جوړېدو له مهاله چې د درانې احمدشاه له خوا وشو د سدوزي دولت تر ړنګېدو او پـر افغانستان د انګرېزانو تر ښکېلاکه غزېدلی دی. د نوي والي بل پړاو هغه دی چې جنت

ketabton.com - The Digital Library

مېشتي ستر امير اعليحضرت (امير دوست محمد خان) په افغانستان کې د محمدزيو دولت جوړ او انګرېزان پسې واخيستل او ويې شړل چې دا هم پر افغانستان د انګرېزانو تر دويم ښکېلاکه راغزېدلی دی. درېيم د اعليحضرت جنت مېشتي پاچا (ضياءالملة والدين) له خوا د وړانګين دولت جوړېدل دي چې انګرېزان يې شړلي او مخنيولي او د افغانستان د لوړ خدای ورکړی دولت بنسټ يې ايښی دی، چې د خورا سپېڅلي الهي ذات جل و علی له درباره يې تر بې شمېره پېړيو د ټينګښت غوښتنه لرو.

په دې ډول نو سراج الاخبار افغانيه لومړنۍ ورځپاڼه ده چې د افغانستان د ځواکمن پرتمين دولت تر جوړېدو [وروسته*] او د احساسانو د څښتن يوه ټولواک لکه اعليحضرت (سراج الملة والدين امير حبيب الله خان) په پوهنپال پېر کې يې چې څښتن دې يې دولت تر قيامته پر ځای وساتي[،*] په لومړي ځل د دولت او ملت او هېواد د چوپړ پر سپېڅلې موخه په لوړه پلازمېنه کې د خپرېدو پر ډګر وړانګې راخپرې کړې دي. او دادی بشپړ يو کال وشو چې په خورا بري خپلو خپرونو ته دوام ورکوي.

د تېر کال له ۱۲ ګڼې سره مو لوستونکو ته د ډالۍ په توګه د (پوهه او اسلاميت) په نامه يوه رساله د خپلو ګرانو او د درناوي وړ لوستونکو نظر ته وړاندې کړه ژمنه مو وکړه چې که څښتن غوښتل په هرو شپږو مياشتو کې به يو ځل دغه ډول رسالې چې د اسلامي نړۍ پر ايقاظ؟ او انتباه؟ ولاړې وي[،*] د ديني چوپړ په ډول وړاندې کړو. په دې ډول نو دا ځل بيا د خپلې ژمنې په پوره کولو بريالي شو او تر دې نامه لاندې چې:

# نو څه کول په کار دي؟

يوه خواره رساله له خپلې دې ۲۴ ګڼې سره د خپلو ګرانو لوستونکو پام ته وړاندې کوو. دا کار د اعليحضرت د پاچايي هڅونو او پوهنپالو پېرزوينو له اغېز پرته بل څه نه دي چې پر دې ګرانې ورځپاڼې يې يو ځانګړی همايوني پام ساتلی دی.

نو (سراج الاخبار افغانيه) ته به تر دې غوره درنښت، او تر دې بره نېکمرغي څه وي چې لومړنی پېرونکی يې ستايل شوی همايوني ذات شي!

ketabton.com - The Digital Library

او راوروسته بیا ټولو درنو څېرو، او په پوځ کې د کرنیلی [ډگرمنی*] او په ملکی ډگر کې تر همدغې پوړۍ زموږ د گران هېواد سترو مخورو په رسمي ډول [رساً؟*] په دې گرانه ورځپاڼه کې گډون کړی دی. او د گډون بیه یې مخامخ پر خپلو تنخواوو حواله کړې چې له هېڅ کړاو او ستونزې پرته اداري ته رارسېږي خو په خواشینۍ سره گورم چې د اصنافو او سوداگرو او نورو گرانو وطنوالو له ډلې څخه لږ گډونوال را په برخه شوې دي او ددې لامل د پوهې او پوهنې د خوند له نه څکلو او د نـړۍ لـه احوالـه د خبرېدو د مینه والو له لړوالي پرته بل څه نه دي. په داسې حال کې چې موږ له خپلـو گرانو هېوادوالو تر دې لوړې هیلې درلودې او لرو یې. میرزا صائب اصفهانی فرمايي:

چې څوک واوري د ویلو کمی نه شته

چوپه خوله غنچه، بورا کړه په خبرو

هو هېڅ شک نه شته چې د لوستونکو تلوسه، او د اورېـدونکو اورېدنـه د لیکوالـو او مولفانو د شوق او غیرت دوې پخې وزرې دي چې په مرسته یې خورا لوړ الوت کـولی شي[،*] د ساري په ډول که مو د هېواد د سوداگرو په ډله کې یـو دوه گـډونوال پـه برخه شوي وای[،*] نو به مو پر ډېرو گټورو سوداگریزو مسالو هم خبـرې کـړې وای. دغه راز که مو خپل شتمن ځمکوال د خپلې ورځپاڼې مینه وال او اورېدونکي لیـدلي وای[،*] پر کرنه او حراثت؟ به مو هم ځینې زړه پورې او گټور څه لیکلي وای.

خو له دې سره سره [مع ما فیه؟*] تر هغو چې ساه مو په ځان او قلم مو په لاس کـې دی[،*] د خپلې سپېڅلې دندې د سرته رسولو زیار به چې د هېواد سـپېڅلی قلمـي چوپړ دی. کوو. او دا ژمنه هم کوم که څښتن غوښتي وي[،*] د پاچايي اعلیحضرت د پوهنپالې پاملرنې تر سیوري لاندې به (سراج الاخبار افغانیه) په خورا نژدې وخت کې د نوي والي له ډېرو نښو سره چې اوس یې درته څرنگوالی نه سـپړم[،*] د پـوهې او پوهنې پر بازار خپله ځلا وښندي.

دا ټکی هم یوازې د عذر په بڼه او نه د لویۍ او ویاړ له پاره د نظر خاوندانو ته وړانـدې کوو چې له یوه کال راهیسې د (محمود طرزي) عاجز قلم ددې گرانې ورځپاڼې ټـولې لیکنۍ چارې[:*] د سرمقالو، او سیاسي لنډیزونو انځورول، او د نړۍ د پېښو ژباړې او د هېواد په ننگه مقالې، پر عجیبو موضوعگانو ځانگړې مقالې، او علمي او فني مقالې،

ketabton.com - The Digital Library

او هنري تاليفات، او د ځينو يون ليکونو ژباړه، او عسکري، او روغتيايي چارې، او د نړۍ د شتمنپوهنې او د پاريس غميزې ژباړه، د نړۍ د نوميالیو مېرمنو تاليف، او پر دې سربېره د پوهنې [په اړه*] لـه مانـاوو ډک اووه بيتـي غـزل دا ټـول پـر غـاړه اخيستي[،*] له مرستندوی او مر ستيال پرته يې پر خارقه اوسپنيزه څوکه لکه غشی د سرمحرۍ دنده ترسره کړې ده.

ورسره ورسره يې د مديريت دنده هم په عاجزۍ سمبال کړې چې پـه يـوازې سـر د يوې شپاړلس مخيزې ورځپاڼې د ليکنيو چارو سرته رسول په آسانو چـارو کـې نـه راځي.

که چېرې په کې نيمګړتيا او تشه وبرېښي [نو*] ښل او سمح[؟*] يې د مهربـانيو د څښتنانو ښونکي نظر ته په پرېښودو (سراج الاخبار افغانيه) د زړه له کومي د کايناتو د خورا سپېڅلي عظيم الصفات هستوونکي ذات دربار ته د خپل ستر سپېڅلي مکرم ساتونکي او زړونو ته راتېر پالونکي د اوږده عمر او روغې ستې دوعا کـوي. و مـن الله التوفيق

ketabton.com - The Digital Library

لومړی کال، څلرويشتمه ګڼه، ۱۰-۱۲ مخونه
**سياسي لنډيز**

# افغانستان - او - د اورګاډي اوسپنيزه پټلۍ

څه موده وشوه چې نړيوالې ورځپاڼې د انګريزي ورځپاڼو له قولــه د اروپــا او آســيا د اوسپني پټليو د وصلېدو يعنې له لندن سره د وچې له لارې د هندوستان د نښــلېدو خبرې کوي او نقشې جوړوي، او فکرونه بيانوي. ځومره ستر نوښت، څومره ګټور ګام!.. تر دې نو غوره څه دي! په تېره بيا د هغوی له پاره چــې د داءالبحــر [دوارالبحــر؟*] يعنې د سرګرځېدو ناروغي ولري او له دې امله لندن ته له تلو بې برخې شوی وي! که څه هم موږ خپله د سرګرځېدو ناروغي نه لرو[،*] خو بيا هم د لندن د تګ له پاره تر ټولو غوره اورګاډی ګڼو. ځکه چې موږ د وچې خلک يو د سمندرو نه يو!
که د اورګاډي دا پټلۍ پر يوه لوی ځوړند پله چې يوه پښه يې د بمبئي پر ښکر او بله پښه يې د جنوبي افريقا د هيلو په ښکر او بله پښه يې د برتانيا په لېورپول کــې وای، او له دغې لارې هند په اورګاډي له لندن سره نښلېدای[،*] ډېر به خوښ شــوي وای. ځکه هم به مو د اوبو ننداره کوله او هم د وچې او دغسې به لندن ته رسېدلي وای. نو دې تمدنپالنې او د دغه ډول تمدنخپرونې پلمو ته دا ډول ځوړندې اوسپنيزې پټلــۍ کله دومره لرې دي!... قاه! قاه! قاه!...
بيا هم که چېرې د اوسپنې پټلۍ دغه نقشه له کراچۍ نه د بصرې خلــيج ترڅنــګ د بغداد له پټلۍ سره نښلېدای څه مو په کې نه ويل. او له کابله مو په يوه ورځ په مــوټر کې ځان د پېښور اورګاډي ته رساوه مخامخ مو د لندن ټکټ رانيوه. خو څرنګه چــې ددغې ليکې په نقشه او پلان کې د غرض ځينې ځښتنان چې له اروپا سره د آسيا له نښلولو پرته نور له خيانته ډک ښکېلاکګر مقصدونه هم لري[،*] د پښنګ، او کندهار، او هرات، او مشهد او تهران لاره يې غوره کړې [او*] مسالې ته يې يوه بله خطرناکــه بڼه هم ورکړې چې د لندن د ليدلو هيله راته په وژونکو زهرو لړي. ځکه خبره زموږ د هېواد مرګ او ژوند ته رارسېږي او زموږ واکمني ګواښي.

ketabton.com - The Digital Library

څرنګه چې موږ افغان ورځپاڼه لیکونکي یو. او زموږ ورځپاڼه هم د افغانستان ورځپاڼه ده، او د خپل سپېڅلي متبوع اعلیحضرت تر پوهنپال سیوري لاندې د هېواد د دفاع له پاره خپل نظریات په آزادۍ انځورولی شي[،*] په دې اړه مو د خپلو عاجزو افکارو له بیان نه ډډه ونشوای کړی. فکر داسې یو څیز دی چې تر انحصار لانــدې نــه شــي راتلای. هرڅوک د خپل فکر مسوولیت لري. له نورو افکارو سره پیوستون نه لــري. د یوه ورځپاڼه لیکونکي خبرې هېڅکله دولتي سند نه شوای بلل کېدی بلکې یــوازې د خپلو پاڼو له پاره د عمومي افکارو د تجارت [؟*] له مخې لیکل کېږي:

## افغانستان او اورګاډي

«د اورګاډي ښېګنې»

هېڅوک له هغو ښېګڼو سترګې نه شي پټولای چې اورګادي يې انساني نړۍ ته راوړي. نور هر څه یوې خواته: یو لاروی پردېس چې غواړي له کابله هرات ته ولاړ شي[،*] په دې شرط چې هره ورځ لار ووهي[،*] په پنځه دېرشو ورځو کې په زرګونو کړاوونو، او خواریو، او بې خوبیو او شوګیرونو او ناکراریو به خپلې موخې ته ورسېږي، او چې ښار ته ننه وځي[،*] د ښار وګړي به يې د بڼې له لیدو وترهېږي. سر او مخ، او ویښته یــې په دوړو او غبار کې ډوب؛ ونګه د لمر له ځلا لکه مس، هغه څاروی چــې دی لېــږدوي لکه غڼه.

اوس به په اورګاډي کې یو مزل انځور کړو: د ماښام اووه بجې د چکر په کالیو کــې، او یو بالاپوش پر مټ اچولی، او یو بکس په لاس نیولی د یوې اوونۍ له پاره له کوره مخه ښه اخلي، او په یوه ګاډي کې کښني او سټېشن - یعنې د اورګاډي تمځي ته ځــي. لــه ګاډي کوز ېږي یوې ښکلې رنې او له ګنې ګونې ډکې یوې ودانۍ ته ننه وځي، د دویمې درجې قماري یعنې سګن ګلاس [سېکنډ کلاس= دویمه درجه*] ټکــټ پېــري یــوې سمبال او هوسا خونې ته چې د هوسایۍ هرډول وســایل لــري ننــوځي، یــوه کړکــۍ راکښته کوي او پر یوې هوساڅوکۍ کښني او اورګاډی خوځېږي. کله چې خوب ورشي لکه په زانګو کې چې وي[،*] کرار ویده شي. که د اوداسه او مخ لاس مینځلو وخــت شي[،*] تشناب ته ننه وځي او په خورا هوسايۍ خپلې اړتیاوې پوره کوي. د دوډۍ پر مهال اورګاډی د خوړنځي په درلودونکي یوه تمځي کې نیم ساعت درېږي او سپرلۍ د

ketabton.com - The Digital Library

تمځي په خوړنځي کې په خورا آزادۍ او هوسایۍ خواړه خوري. او لنډه دا چــې لمبــه وزمه اورګاډی په دې ډول په دوه درې ورځو کې خپلې پردېســې ســپرلۍ پــه خــورا هوسایۍ لکه سړی چې چکر ته وځي[،*] له کابله هرات ته رسوي. او هم یې په خورا ښایسته بڼه او سات تېری رسوي. هم یې پر هره شــېبه او دقیقــه، او هــر ســاعت د شاوخوا په زړه پورې نوې او عجیبې او غریبې منظرې او ښارګوټي او ښــارونه لکــه د یوې پانوراما [پراخې منظرې*] په څېر مخې ته راولي او تېــروي. بېــدیاوې، دښــتې، وادۍ، ژورې، لوړې لکه د بر ېښنده ځــلا تېر بــږي[.*] اوس د کرنــې او ســوداګرۍ او صنعتونو له نظره د اورګاډي ګټې او ښېګڼې څېړو او ارزوو: د ساري پــه ډول څرنګــه چې د افغانستان لوړ خدای ورکړی دولت داسې ځمکې لري چې د خاورې څرنګــوالی یې کرنې ته خورا جوړ دی. دغه ډول داسې غرنی ســیمې هــم لــري چــې د ځمکــې ځانګړتیا او څرنګوالی یې د کرکیلې وړتیا نه لري. او که پر کوم کال- خدای مکــړه- اوربښت لږ وشي قحطي او ګراني پرې راځي د هغې سیمې وګړي له منځه ځي. نو کــه اورګاډی وي په لږ وخت کې خواړه او غَلِّه له ښېرازو سیمو نه لږو ښــېرازو ســیمو تــه لېږدېږي[،*] د سیمې اړتیاوې له منځه ځي. که اورګاډی وي نو د کندهار انار، او انګور او وچې خوبانۍ [شکرپاره*] په چټکۍ سره جلال آباد ته او د جلال ګني او نــارنج او لیمو په خورا چټکۍ کندهار ته رسوي [او*] یوه لویه تبادله ترسره کېږي. د کنــدهار وچې مېوې لکه ممیز او تور ممیز او انځر او نور که چېرې په ښایسته ډبلیو کې په ښه بڼه کېښودل شي، او په اورګاډي کې بهر ته ورسول شي[،*] البتــه چــې پــه وړینــو جوالونو کې او د اوښانو پر شا له لېږدولو نه یې بیه او ګټه ډېرېږي.

اوس به لږ غوندې له عسکري پلوه د اورګاډي ښېګڼو ته پام وکړو: د اورګاډي ښېګڼه د جرمن او فرانس په وروستۍ جګړه کې رڼه وځلېده. ځکــه جــرمن د ګڼــو لیکــو د درلودو او د ښه نظم او سمبالښت له برکته د جګړې تر اعلان یوه اوونۍ وروسته شپږ لکه عسکر په پنځلسو ورځو کې د (تجمعات سوق الجیش) [یرغل ته په چمتو*] بڼه سمبال او پر پولې ورواړول. حال دا چې فرانسویانو د خپل اورګاډي د ګډوډۍ له امله په دغه موده کې یوازې دوه سوه زره عسکر چمتو کړای شول چــې پــه دې ډول یــې پایله د هغوی ماتې شوه. د اورګاډي د نشتوالي بلا بل ځل په خورا ډاروونکــي ډول او

ketabton.com - The Digital Library

ډېره غملړلې بنه د روس او عثماني په جګړه کې وآزمایل شوه. په داسې حال کې چې روسانو د اورګاډي پر مټ تر لسو لکو عسکر پر پوله واړول[،*] عثماني دولت پر هغو سرتېرو برسېره چې پر پوله او شاوخوا سیمو کې یې درلودل[،*] د لېږدوونکو وسیلو د نشتوالي له امله [نور*] هېڅ عسکر ونه شوای رسولی او مات شول. د جاپان په جګړه کې د روسانو د ماتې یواځینی [دلیل*] چې که بیا هم بنه نظر وشي[،*] اورګاډی دی.

او لنډه دا هغه هېوادونه چې اورګاډي پرې اوړي ورځ تر بلې غوړېږي، د وګړو شتمني یې ډېرېږي. د وګړو شمېر یې لوړېږي. که اورګاډی نه وي هېواد ویجاړ، ولس بېوزلی، د وګړو شمېر لږ وي. دا ټولې پخې خبرې، ټولې سمې او ټولې سهي. خو یو مشهور متل دی چې وایي:

«چاړه که د سرو وي سړی یې په نس نه منډي»

## د اورګاډي زیانونه

«ښېګڼې چې دې کړې راته بیان د اورګاډي [نو*] بدګڼې یې هم راته ووایه»[.*] لومړی به دا ووایو چې د واکمنۍ په مهمو حقونو کې یو دادی چې هېڅ دولت د بل دولت د واکمنۍ په چارو کې د لاس وهنې حق نه لري. د ساري په ډول د افغانستان دولت هېڅکله هم ددې حق نه لري چې خپل ملګري ګاونډي هېواد ته ووایي څرنګه چې زه کومه کړکۍ یا روزان نه لرم چې بهر ترې وګورم نو ځکه غواړم د اوسپنې یوه پټلۍ د ګرمسېر او بلوچستان له لارې پر کچ او مکران د عمان تر سمندرګي وغزوم او هلته یو سمندري بندر ومومم چې د نړۍ له لیدلو او راکړې ورکړې او پیوستون او راشه درشه نه ګټه واخلم.

دغه ډول د هغه ملګری ګاونډی دولت هم دا حق نه لري چې ورته ووایي څرنګه چې زه غواړم هند له اروپا سره ونښلوم نو له دې امله خپله د اوسپنې پټلۍ پر کندهار او هرات تر مشهده غزوم. او که چېرې له هره لوري دا ډول وړاندیزونه وشي نو بربښي چې د یو بل د واک او واکمنۍ پر حقونو تېری کوي چې ددې پایله هم همدغه ډول ځواب یعنې یو د بل د واکمنۍ حق نه پېژندل راوځي. که فرض کړو چې دا ډول یو وړاندیز افغانستان ته وشي[،*] هغه حقونه چې د یوه دالي حکومت پر غاړه

ketabton.com - The Digital Library

پر بوزي[،*] هماغه شببه له منځه ځي. ځکه که د روسيې دولت هــم هماغــه شــببه وواييي چې زه له (کليف) نه د کابل پر لاره پېښور ته د اورګاډي پټلۍ تېــروم[،*] نــو څوک يې مخه نه شي نيولای. ځکه د دولتونو د حقونو يوه قاعده داده کوم امتياز چې يوه دولت ته ورکول کېږي[،*] بل دولت يې هم د کارولو حق لري. له دې سره جوخت نور حقونه هم تر پښو لاندې کېږي. د ساري په ډول افغانستان دا حق هــم تــر ګوتــو کوي چې د نورو دولتونو له فارن سکرترانو [د بهرنيو چارو له مسوولينو*] ســره هــم سياسي اړيکي او معاملې پيل کړي. ځکه دا شرط پر دې تړلی دی چې د برتانيا ځلاند دولت به د افغانستان په کورنيو چارو کې لاس نه وهي. او که يې يو ځل د اورګــاډي د پټلۍ په ځبر د لاس وهنې يو ګام پورته کړ[،*] ټول شرطونه او ژمنې ګډوډ بېږي.
يوه انګريز پوه چې (هربرت سپنسر) نومېږي د جاپان يوه پوه ته چې بارون [سردار*] (کانکو) نومېږي[،*] يوه نصحيت پاڼه ليکلې او ددغې نصيحت پاڼې په يوه ماده کــې يې يادونه کړې چې د اوسپنې د پټلۍ امتياز يا نور امتيازونه له خپلو وګړو پرته نــورو پرديو ته ورکول ډېر زيانوونکي دي. په تېره بيا هغو دولتونو ته چې تر دوی زورور دي. او په دې تړاو عثماني دولت، او ايران او چين، او مراکــو او زنګبــار او ماداګاســکر لــه عبرته ډکې هغه بېلګې دي چې پرديو دولتونو ته د امتياز حق د ورکولو له املــه يــې څومره ناروا‌وې او څومره زيانونه او څومره تاوانونه ليدلي دي.
د انګريز پوه دا سياسي نصيحت چې چا ګام پر ګام پلی کړی هغه د افغانســتان لــوړ دولت دی. ځکه دا نصيحت د افغانستان له اوس او راتلونکي او مزاج سره سمون لري. که زموږ متحد دولت د افغانستان له دې طبيعي او عادتي طبيعت او فطرت نــه ګټــه واخلي [نو*] هېڅ شک نه شته چې لا به ډېره ګټه وکړي. او که په خپل سر ددې ډول يوه کار نوښت وکړي[،*] افغانستان ته يې له زيان او ضرر پرته بــه پخپلــه د چــارې ترسره کوونکی دولت هم لوی زيان ووينې چې تر ټولو خطرناک ضرر به يې د حايل له منځه تلل او د پرديو د بريدونو او لاس اچونو له خطر سره د هندوستان مخامخېــدل وي . بل دا چې زموږ ملګری متحد دولت به- چې هغه مهال به زموږ دوست او متحــد نه وي- تر څو چې په خپل دې نوښت بريالی کېږي ميليونه سره زر او زرګونه وګــړي

ketabton.com - The Digital Library

له لاسه ورکړي وي. او [څوک؟*] پوهېږي چې دا مهال یې څَوګر او وړ شېبې ته منتظر سیال د پخوا پر تله تر ده ډېر بریالی او د برخې خاوند نه شي.
له افغانستان نه یې د انګریز او روس دولت په منځ کې یو ډالي دولت جوړ کړی دی، د افغانستان له لوړ دولت سره د انګریز اوچت دولت ملګرتوب او ژمنه او تړون پر هند د روس د بریدونو د مخنیوي له پاره دي[.*] په دې کې شک نه شته چې د افغانستان دولت تر وسه وسه خپله دا دنده ترسره کوي[،*] خو د خپلو مادي او معنوي ګټو ساتل او خوندي کول ورته تر هرڅه لومړیتوب لري او د خپلې واکمنۍ او خپلواکۍ شتوالی، او حق تر بل هرڅه ارزښتناک بولي. په داسې حال کې چې پر کندهار او سیستان او هرات تر مشهده او تهرانه د انګریز دولت د اوسپنې پټلۍ تېربدل د افغانستان د لوړ سلطنت دوه ستر او ارزښتناک ولایتونه ناڅاپه له پلازمېنې شکوي [او*] زموږ د سپېڅلي هېواد ښکلی بدن څیروي چې د تېر دا څېرل هماغومره خوّږ، هماغومره غم او هماغومره کړاو او بدمرغي وطن ته راوړي چې له کلیف نه یې د کابل پر لار پېښور ته د اورګاډي پټلۍ تېرول لري. - یعنې د ملک وېش او تجزیه رامنځته کوي چې رېښتونې مانا یې له منځه تلل او ړنګېدل دي. البته چې افغانستان به ددغه ډول غملړلي حالت د نه لیدلو له پاره ښځي د ځان وژنې پر هوډ ودرېږي چې کله داسې پوخ او ټینګ او د غره په څېر داسې درونډ جسم له شتوالي بې برخې کېږي [نو*] ډېر به تر ځان دمخه کړي ایسته نو خدای کریم دی!.. نو هله به بیا ګورو چې هند ځان د خپل زورور سیال له منګولو څرنګه ژغورلی شي؟

## افغانستان ته

## د اورګاډي پټلۍ اړینوالی

په نړۍ کې داسې هېڅ څه نه شته چې جامع المحسنات وي. یعنې ټولې ښېګڼې په کې یوځای شوې وي او ټوله ګټه ګټه وي او هېڅ زیان په کې ونه برېښي. هرڅیز هم د ګټورتوب او هم د زیان اړخ لري. څرنګه چې د اورګاډي ښېګڼې او بدګڼې مو تر اوسه بیان کړې[،*] اوس نو په کار داده چې لږ یې پر اړتیا او اړینوالي هم خبرې وکړو:
څرنګه چې په اوسني مهال کې اورګاډی د دولتونو تر ټولو خطرناکه وسله او د هېوادونو او ملتونو د ودې او شتمنۍ او ودانۍ یواځینۍ وسیله ده[،*] نو ځکه که د

ketabton.com - The Digital Library

اورګاډو اوسپنيزې پټلۍ د يوه دولت د بدن حياتي رګونه وګڼو نو وړتيا يې لري. او که د يوه هېواد د وجود ذاتي شريانونه يې وبولو نو پر ځای دي[.*] بې اورګاډي هېواد يوه بې وينې جسم ته ورته دی چې ټول غړي يې له کاره لوېدلي. نو ځکه پــه افغانســتان هېواد کې د اورګاډي د اوسپنيزو پټليو تېرېدل اړين دي. نن ورځ يــو ځــواک هــم د موجود نوي نظــام د يرغليــزو عســکري خوځښــتونو مخــه نــه شــي نيــولای. ان د (پورارتور)[«پورت ارتور»*] پخې مورچلې چې د ميليونو روپيو په لګېدو جوړې شوې وې[،*] د جاپان د پوځي ځواکونو بريونو ته ټينګې نه شوې.

يوازې اورګادی د يوه هېواد د نيول کېدو لامل نه شــوای کېــدی. د پــردي دولــت د اورګاډي د اوسپنيزې پټلۍ ويجاړول ډېر آسان کار دی. نو ځکه افغانستان تــه خپــل اورګاډی په کار دی نه د بل دولت.

نن ورځ زموږ غليمان پر خپلو اوسپنيزو لارو خپل سلګونه زره عسکر په خورا چټکۍ زموږ پر پوله ټولولی او پر خاوره مو تېری کولی شي. موږ که هرڅومره وس وکــړو پــه دې لېږدوونکو وسيلو[،*] پر آسونو او اوښانو يا کراچيو يــو غونــډ عســکر تــر يــوې مياشتې دمخه خپلو لوېديځو او شمالي پولو ته نه شو رسولای چې پايله يې ماتــه ده. حال دا چې زموږ تر ټولو ستر پالونکی جل وعلی په خپل کريم قرآن کې فرمايي چې (پر غليم مو هغسې تجاوز او تېری وکړئ چې پر تاسې يې تجاوز او تېری کــړی دی). نو څرنګه چې د غليم د تجاوز او تېري وسيله اورګاډی دی[،*]افغانستان هېــواد تــه اورګاډی اړين دی.

نن ورځ د اورګاډي د اوسپنيزو پټليو ښېګڼې او ګټــې او منفعتونــه د نــړۍ پــه ټولــو متمدنو ولسونو کې په يوه خوله منل شوي دي. که څوک پرې سترګې پټې کــړي[،*] ته وا چې پر ښکاره څيزونو يې سترګې پټې کړې دي چې دا د منطق خلاف کار دی او د پرمختګ او تمدن د وړتيا نشتوالی څرګندوي. خو هغه څه چې تر دې هم ډېر ګټور او ډېر ښه او ډېر نافع دي هغه د هېواد د شتوالي، او موجوديت، او ملــي واکمنــۍ، او استقلال او خپلواکۍ ساتل دي چې پر دې هم د نړۍ ټول متمدن ولسونه يــوه خولــه دي. که څوک پر دې هم سترګې پټې کړي نو د عقل او منطق خلاف بــه روان وي. نــو ځکه افغانستان ته اورګاډی ډېر اړين او لازم دی خو ورســره جوخــت د افغانســتان

ketabton.com - The Digital Library

واکمنۍ او خپلواکۍ او آزادۍ ته پام هم چې پر دې وسیلو د یوه ډالي دولت حقونــه او دندې ترسره کولی او د دوستۍ او پیوستون پر ترونو ټینګ پاتېــدلی شــي[،*] هــم خورا اړین او خورا لازمي بلل کېږي او که نه نو له اورګادۍ نه به لکه د هنــد ایالتونــه افغانستان ته څه ګټه ورسېږي؟

نو پر دې بنسټ که ښکېل هېوادونه د (اورګاډي او افغانستان) موضوع د سیاست لــه دې خنډې وځېږي او و ارزوي[،*] شک نه شته چې ددې چارې د ژر سمبالښت پــه تړاو به ګډ ټکي او د پلي کېدو وړ نظرونه وموندل شي.

والله اعلم بالصواب

ketabton.com - The Digital Library

# لړ لیک

سرلیک ........................................................................ مخ
لومړۍ خبرې ........................................................................ ۱
(لارې او پلونه) ........................................................................ ٤
و من الماءٍ کل شیً حی ........................................................................ ۸
د منني وړاندې کول ........................................................................ ۱۰
((نصیحـــــت)) ........................................................................ ۱۲
(بسپنه) ........................................................................ ۱٤
ملکي روغتون ........................................................................ ۱۷
نصیحـت ........................................................................ ۲۰
پالنځی (دارالیتاما*) ........................................................................ ۲۳
نصیحت ........................................................................ ۲٦
د همایوني وینا متن ........................................................................ ۳۰
اوسنۍ جګړه ........................................................................ ۳٤
له تُرکي ورځپاڼو څخه ........................................................................ ۳۷
ټیلیفون او موټر ........................................................................ ٤۳
د درونتې پل ........................................................................ ٤٦
قلمي مصاحبه ........................................................................ ۵۰
وحشت او مدنیت ........................................................................ ۵٤

ketabton.com - The Digital Library


د جلال آباد نهر سراج ........................................ ٥٩
نوي سرېکونه ........................................ ٦٣
د فکرونو سمول ........................................ ٦٩
د تمدن یوه نښه ........................................ ٧٦
د نړیوال سیاست لنډیز ........................................ ٧٧
د پوهې او پوهنې ستایل او د افغانستان له برمه ډک تېولواک منندویي .............. ٧٩
بهرنۍ پېښې ........................................ ٨٥
د لمقان قلعة السراج [د لغمان سراج کلا] ........................................ ٨٨
اسلامي یووالی ........................................ ٩٢
له طبیعي ځواک سره د مبارزې له پاره د انساني یووالي اړتیا ........................ ٩٦
صنایع او د پلازمېنې کابل صنعتي سیمه [ماشین خانه] ........................ ١٠٣
بهرنۍ پېښې ........................................ ١١٠
موعظه ........................................ ١١٣
سیاسي لنډیز ........................................ ١٢٣
د پېښور افغان ورځپانه ........................................ ١٢٧
بیـــرغ ........................................ ١٢٩
بهرنۍ پېښې ........................................ ١٣٤
د خواشینې یوه یادونه ........................................ ١٣٧
ځانګړې مقاله ........................................ ١٣٨

ketabton.com - The Digital Library

د ځمکې د کُرې تاريخ ........................................................ ۱۴۲
د اعليحضرت پاچايي.............................................................. ۱۴۹
سياسي لنډيز ..................................................................... ۱۵۴
په هند کې زموږ ديني ورونه زموږ په اړه څه احساسات پالي؟ ........................ ۱۵۷
د نړيوالې جګړې اړين والی ....................................................... ۱۶۰
د همايوني اعليحضرت ........................................................... ۱۶۵
سياسي لنډيز ..................................................................... ۱۷۰
په حضوري چمن کې د اورلوبې ننداره ............................................ ۱۷۳
سياسي لنډيز ..................................................................... ۱۷۶
د برکتونو روژه .................................................................. ۱۷۹
عظيم الشان قرآن ................................................................ ۱۸۳
د روژې د بختـورې مياشتې هرکلی ................................................ ۱۸۸
او د عظيم الشان قرآن د ختم مراسم .............................................. ۱۸۸
پوهنــه ـ ښوونځي................................................................ ۱۹۴
سياسي لنډيز ..................................................................... ۱۹۸
نېکمرغه کوچنی اختر ............................................................ ۲۰۱
د لومړي کال پای ................................................................ ۲۰۶
افغانستان- او- د اورګاډي اوسپنيزه پټلۍ.......................................... ۲۱۱

ketabton.com - The Digital Library



# مننه او کور ودانی


د افغانستان ملي تحریک د کابل د صنعتکارانو ټولنې او د هغې له مشر هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد نصیر انصاف ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

ketabton.com - The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۰

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*